ناول: د دوزخ ثخه یو سړی دویم پړاو.

لیکوال: امیر عشیری.

ژباړونکي: خواجه_زي.

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ناولونه

خواجه زي خپروندویه اداره

HTTPS://T.ME/PASHTOONOVELS0

@shuhab09

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسمِ اَاَاللّهِ اَاَالرحمٰنْ اَاَالرحِيم"

هغه شپه چې سوباتای د هغه پر مخ څپېړه ووهله، د بالخاش وینه په جوش راغله. د وینو پرده یې د سترګو مخې ته راغله. خپل ګوتې یې سره کلکې کړې او لړ یې لاسونه پورته کړل.

یوه شپه یې سترګې پټې کړې او له ځانه سره یې وویل: زه باید لیونتوب ونکړم. لا هم د دې دوزخیانو څخه د غچ اخیستو وخت نه دی راغلی. د دې څپېړې حساب به پر خپل وخت ورڅخه واخلم.

نفس یې تازه کړ او ویې ویل: هو، تاسو زه وژغورلم او زه به هیڅکله خپل تېر هېر نکړم. هره امر چې تاسو راکړئ، زه به یې عملي کوم.
سوباتای، په خپل ځانګړي زیرکانه انداز کې وویل: نو ایا  ته به هغه و وژنې؟"
بالخاش په کلک او قاطع لهجه وویل: هو، او که زه بریالی نه شوم، تاسو یې ووژنئ.
سوباتای- ایا ته به د هغه سره د جګړې میدان ته ښکته کیږې او جګړه کوې؟
بالخاش- هو، یوه سخته او وینه بهېدونکې جګړه به ورسره وکړم.
سوباتای- باید همداسې وي، ځکه هغه ستا د وژلو اراده درلوده، خو پر ځای یې یوه بېګناه نجلۍ ووژله.

بالخاش- ما باید هماغه وخت کله چې هغه مې نابېره خپل په خیمه کې ګیر کړو مړ کړې وایې او جسد مې دباندې غورځولی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای، لنډ وخندل او ویې ویل: لا هم ناوخته نه ده. هغه به ډېر ژر له منځه لاړ شي. ستا په وړاندې هغه یو ناپوه او احمق جنګیالی دی. د تورې وهلو هنر نه لري، خو زما له زیرکو مامورینو څخه و. اوس چې د مرګ په درشل کې دی، زه پرې هېڅ افسوس نه کوم. آن ته هم، چې ما ته دې خپله وفاداري ثابته کړې، که کوم ورځ کوم خلاف عمل ترسره کړې، زه به دې بې له شکه ووژنم.

یوه شېبه چوپتیا خوره شوه...
سوباتای له خیمې ووت.

بالخاش هم ورپسې روان شو. د خیمې بهر څو تنه ساتونکي ولاړ و. سوباتای د ساتونکو مشر ته وویل: قا آن مېدان ته یوسئ!
بیا یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: له ما سره راځه.

په هماغه نسبتاً پراخ مېدان کې، چې څو ورځې وړاندې د اولجای وینه پرې تویه شوې وه، د کمپ سرتېري د یو بل یو په یو جنګ ننداري ته د لمر لاندې راټول شوي وو. بالخاش، چې د نومیالي مغولي جنګیالي، اولجای، په وژلو یې د نه ماتېدونکي اتل نوم ګټلی و، د هر چا پام ځان ته اړولی و.کله چې سوباتای او بالخاش مېدان ته داخل شول، ټول سترګې د اترار د ځوان پر لوري واوښتې. د کمپ سرتېرو ترمنځ شور ماشور خپره شوه، یوه سړه درنه شور ماشور، چې ډېر ژر مرګونې چوپتیا ځای پر ځای کړه.

د مېدان په منځ کې قا آن د دوو ساتونکو ترمنځ ولاړ و. د مرګ سیورې یې پر مخ خپور و. د دې یو په یو جګړې پایله د ده لپاره پرته له مرګه بل څه نه وه. دوی هغه د مغول خان په حکم واژه، قا آن د سوباتای حضور ته راوستل شو. له سختې وېرې یې پښې پر ځمکه کشولې. داسې ښکارېده چې تر دې وړاندې چې وسله راواخلي ساه به ورکړي.
سوباتای هغه ته وکتل او ویې ویل: که ته بریالی شوې نو امر کوم چې بې زینه اس باندې د دې وتړې او په دښته کې دې خوشې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سوباتای دا خبرې، د قا آن لپاره د امید څرک و. تر دې دمه یې فکر کاوه، که پر بالخاش بریالی هم شي نو دوی به هغه ژوندی پرېنږدي. خو اوس یې د ژوند هیله پیدا کړه. یوه نوې ځواک یې ترلاسه کړ. هغه بالخاش ته وکتل، خو څه یې ونه ویل...

د سوباتای په امر، دوارو ته توره ورکړل شوه...

له هماغه شېبې څخه ښکاره وه چې بالخاش په ټوله ځواک سره جګړه کوله، ترڅو د «آدینه ګل» قاتل په وینه کې ولمبوي. هغه له دوو لارو جنګېده: یو د انتقام لپاره او بل د ژوندي پاتې کېدو لپاره.

ناڅاپه د بالخاش پښه وښوېده، لږ شاته ولاړ او په شا پرېوت...
قاآن له کینې او غوسې سره موسکا وکړه، د توري څوکه یې د بالخاش سینې ته ونیوه، او په چټکۍ سره یې ګامونه واخیستل، ترڅو خپل پیاوړی سیال ووژني. دا یوه خطرناکه شېبه وه.خو بالخاش په ځمکه چابک تاو شو... قاآن، چې په تیزۍ سره را روان و، ونه توانېد خپل تعادل وساتي، د توري څوکه یې ځمکې ته ننووت. مخکې له دې چې خپل ځان راټول کړي، بالخاش په بې‌سارې چابکتیا له ځمکې راپورته شو. هغه قاآن ته د فرصت ورکولو پرته، د خپل توري څوکه یې د هغه په تشي کې ښکته کړ او ژور زخم یې ورکړ.

هغه له غوسې او کینې ډک و، توره‌یې له زخم را وایسته، پورته‌یې کړه، او په یوه چټک حرکت‌یې د قاآن پر اوږه ووهله. د قاآن له ستوني څخه د درد سخته چیغه راووتله، او په یوه شېبه کې خاوره د وینې رنګ واخیست.

د «آدینه ګل» قاتل نور د پورته کېدو وس نه‌درلود، خپل سریې لږ پورته کړ، او بیا پړ مخ پر ځمکې پرېوت. د هغه له تشي او اوږې څخه وینه په شدت روانه وه. چوپتیا د یو تور وریځې په څېر چاپېریال ونیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د قاآن د جسد څنګ ته ودرېد، خپل په وینه لړلې توره‌یې د مړي پر سر وغورځوله، او بیا بغیر له دې چې څه و وایې خپل سر یې ښکته ونیو او د جګړې له میدان ووت.

ناڅاپه، د کمپ خاموش ماحول د جنګیالیو شور او چغو ما ته کړه، ټولو په یوه غږ د بالخاش نوم اخیست.

خو بالخاش له دې شور او ستاینې بې‌پروا، د خپل خیمې پر لور روان و. په دوه ورځو کې هغه د دوو مغولو ژوند ور ختم کړی و. بالخاش هغوی خپل د وطن دښمنان بلل، او د انتقام لپاره‌یې لا ډېرې نقشې په ذهن کې لرلې.

***

لمر لا نه و لوېدلی چې د مغول خان د سوداګرو یوه کاروان د قبچاق کمپ ته ورسېده.دا هماغه کاروان و چې سوباتای یې د راتګ انتظار کاوه. د هغوی په منځ کې د مغول خان یو شمېر جاسوسان هم وو چې د سوداګرو جامې یې اغوستي وې.
هغوی د خوارزم د سیمې پر لور روان شوي وو. چپه نویان، چې د مغول خان له دوو لویو جاسوسانو څخه یو و، دا کاروان تر هغه ځایه مشری کړې وه.
شپه پوره تیاره شوې وه چې بالخاش د سوباتای خیمې ته وغوښتل شو،بالخاش د قاآن د وژلو وروسته خپل خیمې ته تللی و او تر هغه وخته ترې نه و راوتلې تر دې چې د سوداګرو د کاروان د راتګ خبر یې واورېد. هغه پوهېده چې هغوی د څه لپاره راغلي دي.

په داسې حال کې چې د خپلې نوې دندې په اړه یې فکر کاوه، د سوباتای د خیمې پر لور روان شو...
کله چې دننه شو، سترګې یې پر چپه نویان ولګېدې.

بالخاش یوازې یو یا دوه ځله چپه نویان لیدلی و، خو سمدلاسه یې هغه شپه په یاد شوه چې تازه اترار ته داخل شوی و.په نیمه شپه کې، چپه نویان د یو مامور سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای د هغه کور ته ورغلې وو هغه شپه د بالخاش د یو نوی او د خطرو ډکه د ژوند پیل و. هغه یوه داسې شپه وه چې هېڅکله به یې هیره نه کړي.

چپه نویان په داسې حال کې چې یو شیطان موسکا یې پر شونډو وه، وویل: کښینه، بالخاش... ستا د زړورتیا شهرت تر هر ځایه رسېدلی دی.
بالخاش، پرته له دې چې څه ووایي، د دوی مخې ته کښېناست.
سوباتای ورته وویل: سبا سهار به ته زموږ د سوداګرو له کاروان سره اترار ته روان شې، او له هغه ځایه...
بالخاش د هغه خبره پرې کړه او ویې ویل: په اترار کې خلک ما پېژني، او که مې قدم هلته کیخود نو د غایرخان مامورین به سمدلاسه ما ونیسي.

چپه نویان لنډ وخندل او ویې ویل: ته به د سوداګرو په جامه کې لاړ شې، او ګومان نه کېږي چې څوک به دې وپېژني.
سوباتای وویل: ته به په اترار کې تر دوو ورځو زیات تم نه شې. یو ګروپ زموږ سوداګر له هغه ځایه د خوارزم پلازمېنې ته روان دي.
بالخاش په ناراحتي وپوښتل: زه باید څه وکړم؟
سوباتای وویل: کله چې د سوداګرو له یوې ډلې سره، چې زموږ یو شمېر مامورین هم ورسره دي، د خوارزم پلازمېنې ته ورسېږې، ستا ماموریت به هلته پیل شي، مغول خان غواړي د خوارزم د سلطان د پوځیانو په اړه معلومات تر لاسه کړي.
بالخاش تندی تریو کړ او ویې ویل: داسې ښکاري لکه چې مغول خان د خوارزم پر ځمکه نظر لري او د یوې سترې حملې پلان جوړوي؟!

چپه نویان په زیرکانه خندا سره وویل: مغول خان غواړي له خوارزم سلطان سره دوستانه اړیکې ولري. ستا او زموږ د جاسوسانو ماموریت یواځې د مغول خان د ډاډ لپاره دی، ځکه موږ ته خبر راغلی چې سلطان خپل پوځیان له هرې خوا راټول کړي. موږ غواړو ډاډه شو چې هغه زموږ پر خاوره د یرغل نیت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای وویل: زما د ګران ورور چپه نویان خبره ومنه بالخاش! هغه د مغول خان له کمپ څخه راغلی، او هر څه چې وايي یواځې او یواځې حقیقت دی او بس.

بالخاش داسې وښودل لکه چې د هغه دوو لویو جاسوسانو خبرې چې له مکر او دوکې څخه ډکې وه منلې دي، هغه وپوښتل: څه وخت باید حرکت وکړو؟
چپه نویان وویل: سبا سهار، کله چې لمر د قپچاق دښته روښانه کړې نو زموږ د سوداګرو کاروان به د خوارزم پر لور حرکت کوي. کله چې کاروان اترار ته ورسېږي، دوه ورځې وروسته به ته زموږ د پنځو کسانو او یو شمېر سوداګرو سره یوځای د پلازمینې خوارزم خوا ته ځې. له هغه ځایه وروسته به ټول ستا اطاعت کوي.

بالخاش یو پوزخند و واهه او ویې ویل: که چېرې هغوی ما وپېژني او زه ونیول شم، نو څوک به هغوی ته لار وښيي؟
سوباتای وویل: زما په اند ته د همدا اوس څخه له یو سخت وېرې سره مخ شوی يې بالخاش؟!
چپه نویان په خندا وویل: زه په بالخاش بشپړ باور لرم. هغه ورو، ورو زموږ له زړورو او غوره مامورینو څخه ګرځي.
بالخاش په ارامه او خونسردۍ سره وویل: زه به هڅه وکړم هغه دنده چې ماته سپارل شوې، سر ته ورسوم.

سوباتای خپل لاس د بالخاش پر زنګانه و واهه او له یوې شیطانک خندا سره یې وویل: او که بریالی شوې نو له آدینه ګل څخه لا بالاتره یوه ښکلې ډالۍ به دې انتظار کوي.

چپه نویان پداسې حال کې چې نظر یې په بالخاش و، وویل: دا ځوان پرته له خان سلطان له مینې د بل هېڅ ښځې یا نجلۍ مینه نه قبلوي.
بالخاش- زه چمتو یم خپل ژوند د هغې لپاره قربان کړم.
سوباتای په کراره خپل سر وخوځاوه او وې ویل: ځان قربان کول او ځان مړ کول بې ګټې دي، باید د عقل له مخې عمل وکړو کېدای شي یو وخت داسې راورسیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مورډ وکولای شو خان سلطان د غایرخان د حرم سراي څخه وژغورو، خو تر هغه وخته ډېر مهم کارونه مخې ته لرو نو باید صبر وکړې، د غایرخان څخه د غچ اخیستلو وخت هم راځي.

سوباتای لږ شېبه چوپتیا وکړه او بیا یې وویل: نور څه کار نه لرو ستا سره،کولای شې خپل خېمې ته لاړ شې او په ارام سره استراحت وکړې.

بالخاش له خپل ځایه راپورته شو او د دوی له خېمې ووت.
کله چې د خپلې خېمې په لور روان و، دا فکر یې وکړ چې څنګه د مغولي سوداګرو کاروان له منځه یوسي؟ ده احساس کړی و چې مغول خان د خوارزم پر خاوره د یو ستر برید لپاره ځان چمتو کوي، د ځان سره یې وویل: هر څنګه چې وي زه باید د خوارزم سلطان د چنګېز خان له نقشه خبر کړم.

د شپې تر ډېره پورې د حل لارې په فکر کې و. کله چې به یې احساس وکړ چې یوازې دا کار نشي کولی، نو د خپګان وربځ به یې پر څېره خپره شوه او مایوسه به شو خو بیا هم پوره ناامیده نه و. فکر یې کاوه چې خامخا به کومه لاره پیدا کړي. ناڅاپه ورته د ایلي نوم ور یاد شو او د ځان سره یې وویل: که زه وکولای شم ایلي چمتو کړم چې راسره مرسته وکړي، نو یو لوی بریالیتوب به ترلاسه کړم.
د دې هیلې له امله چې د ده لپاره د امید څرک و، خوب پرې راغی...

***

هغه ورځ سهار، له دې مخکې چې د مغولي سوداګرو کاروان د اترار ښار په لور وخوځي، چېه نویان خپل پنځه تنه کسان چې دنده یې لرله د اترار وروسته د خوارزم پلازمېنې ته د بالخاش سره یو ځای لاړ شي، بالخاش ته معرفي کړل.
هغوی ټول په دې سره ژمن شول چې تر مرګه به خپل دندې او ماموریت په اړه چا ته خبره ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قبچاق دښت د لمر په وړانګو کې ځلیده چې د سوداګرو کاروان، د تګ لپاره چمتو شو

بالخاش د سوداګرو په جامو کې ځان برابر کړی و، او کله چې د حرکت امر ورکړل شو، نو پر خپل آس سپور شو او د کاروان سره د قیچاق له کمپ نه ووت...
د هغه د ذهن څخه ایلي نه وتله. هغه د یوې پټې دندې لپاره هغه ټاکلې وه خو یوازینۍ اندیښنه یې دا وه چې ایلي به له ده سره مخالفت وکړي...
خو د دې با وجود له یوی خبری څخه ډاډه و، او هغه دا چې ایلي که د ده خبره ومنې هم نه بیا به هم د ده راز هیڅکله فاش نه کړي او چا ته به څه ونه وایې.
ایلي د هغه سره مینه لرله، او بالخاش د دې مینې او علاقې څخه یو دم ډاډه و، او دا یې خپل یو ملاتړ باله.

دریمه ورځ د ماښام نږدې مهال و، چې د هرسبان ښار سیورى د شفق په رڼا کې ښکاره شو...

ټول کاروان ستړي ستومانه و خو بالخاش ځان ستړی نه احساساوه... هغه یو بل هدف درلود. کله چې دا فکر ورته راتلو چې ښایي ایلي ورسره هم نظره نه وي، اندېښمنېده...

هوا تیاره شوې وه چې هرسبان ته ورسېدل. ډېر وخت نه و تېر شوی چې د مغولو د سوداګرو کاروان د راتګ خبر په ښار کې خپور شو او خلک د دوی د لیدو لپاره هغه کاروان سرای ته ورتلل چې د ښار ترڅنګ و...

کله چې ټول په خپلو کوټو کې ځای پر ځای شول، بالخاش هغه کوټې ته لاړ چې پنځه مامورین چې د ده تر قوماندې لاندې وو هلته استوګنه درلوده، او په تاوده او دوستانه انداز یې ورته وویل: نن شپه تاسو ټول زما مېلمانه یاست.
د هغوی نه یوه په خندا وویل: ولې د هرسبان د مړکوونکو شرابو ذکر نه کوې!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- د دې ځای شراب دومره نه دي چې داسې زورور سرې لکه تاسو له پښو وغورځوي... کولای شئ وازمويئ.

يوه نسبتاً ځوان سړي چې د بالخاش ترڅنګ ولاړ و، وخندل او ويې ويل: داسې ښکاري چې موږ ټول د بالخاش مېلمانه يو.

بالخاش خپل لاس د هغه سړي پر اوږه کېښود او ويې ويل: د دې ملګری په خبرې باور وکړئ. نن شپه شراب زما له طرفه دی. بايد معلومه شي چې زموږ څخه کوم يو د نورو څخه ژر د شرابو په نشه کې راځي؟ د اوږده سفر ستړيا بايد دَ شرابو په جامونو د بدن څخه وباسو، ځکه چې اوږد مزل مو کړی دی.

ډېر وخت لا نه و تېر شوی چې بالخاش د پنځو پټو مأمورينو سره يو ځای د هرسبان د شرابخانې پخوا روان شول.شرابخانه د نورو شپو په څېر ډکه وه. د مشتريانو د خندا غږ له دباندې اورېدل کېده... کله چې دوی شرابخانې ته ننوتل، د بالخاش سترګې د "ايلي" په لټه کې وې. غوښتل يې چې هغه د دې ګڼه ګوڼې او شور ما شور منځ کې پيدا کړي.

يو له هغه مامورينو څخه وويل: بالخاش، ته له دې ګڼاه ډک ځای سره تر موږ ښه آشنا يې لرې،يو مناسب ځای وښيه چې هلته په آرام سره شراب وڅښو.

بالخاش يو کونج وښود او ويې ويل: هلته کېنو.

ټول لاړل او هلته کښېناستل، لږ وخت وروسته، د دوی په قوي لاسونو کې د شرابو ډک جامونه وو. لومړی جام يې د مغول خان د سلامتۍ لپاره وڅښل شو. کله چې دويم جام اوچت شو، بالخاش له خپل ځايه پاڅېد او ويې ويل: تاسو مشغول اوسئ، زه همدا اوس بېرته راځم.

هغه له شرابخانې ووت، په زينو پورته شو، او د ايلي د کوټې دروازې خوا ته لاړ دروازه يې ووهله د ځوانې نجلۍ غږ له کوټې راپورته شو او ويې پوښتل: څوک يې؟
- زه يم... بالخاش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي په بیړه له تخت څخه کښته شوه، دروازه خلاصه کړه او ځان یې د بالخاش غیږې ته واچاوه،د څو شېبو لپاره دواړو یو بل د احساساتو څخه په ډک انداز ښکل کړل بیا دواړه کوټې ته ننووتل.

بالخاش- زما سره ډېر وخت نشته... مېلمانه مې ښکته ناست دي.
ایلي- د ډېر سترېیا له امله خپل کوټې ته راغلم چې لږ استراحت وکړم...
یو څو شېبه چوپه شوه او بیا یې وپوښتل: تاسو کله هرسبان ته را ورسېدئ؟
بالخاش- شپه شوې وه چې د سوداګرو د کاروان سره دلته راورسېدو.
ایلي پوښتنه وکړه: کوم خوا ته روان یاست؟
بالخاش- اترار ته؟
ایلي- ته هم هلته ځې؟
بالخاش- بله چاره نشته، سوباتای دا ډول امر کړی دی.

ایلي داسې چې خپل نظر یې د بالخاش څخه نه اخیست موسکا په شونډو وویل: نو له همدې امله د سوداګرو جامې دې اغوستي؟
بالخاش- واوره چې څه درته وایم، ته باید زما سره مرسته وکړې.
ایلي- څنګه مرسته؟
بالخاش- ته باید نن شپه اترار ته لاړه شې او غایرخان ته خبر ورکړې چې سلطان له خطر سره مخ دی.
ایلي تندی تریو کړ او ویې ویل: غایرخان؟ هماغه کس چې ستا وینو ته تږی دی؟

بالخاش- زما مطلب د خوارزم خاوره ده، مغول خان د خوارزم په خاوری د برید نقشه جوړه کړې ده، او ډېر ژر به زموږ وطن په اور او وینو کې ولمبېږي.
ایلي- ته غلط شوی یې بالخاش.
بالخاش- نه، زه نه یم غلط شوی، زه تا ته د یو تریخ حقیقت خبره کوم.
ایلي- ته لا هم نه غواړې چې دا خبره ومنې که سوباتای نه وای غایر خان به ته له

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه ورېي واى، زه ستا له نقشې سره موافق نه يم. که هغوى يوه شي چې ته د خرابکارۍ اراده لرې، نو د سايان په څېر به دې حساب خلاص کړي.

بالخاش په قهر سره وويل: سوباتاى ماته ماموريت راکړى چې له اترار څخه د خوارزم پلازمېنې ته لاړ شم او د هغه لپاره نظامي معلومات راټول کړم.زه يقين لرم چې مغول خان د يوه ستر بريد نقشه جوړوي. ته بايد ما سره مرسته وکړې او دا راز غاير خان ته ورسوي. غاير خان د هغه وسايلو سره چې لري کولاى شي دا خبر په چټکۍ سره سلطان ته ورسوي تر څو له همدا اوس څخه خپل پوځ د چنګېز خان د يرغل پر وړاندې چمتو کړي.
ايلي- ته له اور سره لوبې کوې بالخاش!
بالخاش- خو زه يو وطنپال يم، هېڅکله به خپل وطن ته خيانت ونه کړم.

ايلي- دا فکر به دې اول کړې واى.
بالخاش- لا هم ناوخته نه ده، زه چمتو يم چې ووژل شم خو خپل خاورې ته خيانت و نه کړم.
ايلي- ته پخپله پوهېږې يوازينى مرسته چې زه کولاى شم ستا سره وکړم هغه دا ده چې دا راز به سوباتاى ته و نه وايم، او داسې فکر به وکړم چې تا ماته پدې اړه هېڅ څه نه دي ويلي.

د بالخاش مخ د غوسي څخه سور شو او ويې ويل: نو چيرته ده هغه ډېره مينه چې تا يې دعوا کول؟ اوس پوه شوم چې ته يوه پسته او دروغجنه ښځه يې!
ايلي- ته همداسى فکر وکړه.
بالخاش- زه ډاډمن يم.
ناڅاپه ايلي په لوړ آواز وخندل او ويې پوښتل: ايا ستا ملګرى پوهيږي چې ته دلته راغلى يې؟
بالخاش په همغه قهرجن لهجه وويل: دا ستا کار نه‌دى چې يوه شې هغوى زما له راتګه خبر دي که نه. ما له تا مرسته وغوښته خو تا رد کړه. ته يوه خيانت کوونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه یې چې له دښمن سره اړیکه لري، که چیرې چانس پیدا شي له تا به هم انتقام واخلم دا دې په یاد کې وساته.

ایلي په بې پرواۍ سره د خپل کمیس ګریوان خلاص کړ او ویې ویل: څه ته انتظار یې؟ همدا اوس کولای شې د خپل خنجر څوکه زما په سینه کې ښخ کړې، دا هماغه سینه ده چې څو ځله دې شونډې پرې کیخودلې وه او ښکل کړې دی وه.
بالخاش په کلک او قاطع لهجه وویل: که ته نر وای نو یوه شېبه به مې هم ژوندی نه وایې پرېښی او همدا سینه به مې درته له وینو څخه سره کړې وای.

بیا یې یوه سخت څپېړه د ایلي په مخ ورکړه او پرته له دې چې نور څه وواییي، له کوټې ووت. د ایلي د خندا غږ د کوټې په فضا کې خپور شو چې د بالخاش تر غوږ ورسیده او غوسه یې نوره هم ور زیاته کړه.

بالخاش پرېکړه کړې وه چې دا ماموریت به یوازینې ځان ترسره کوي. هغه احساس کاوه چې د خوارزم خاوره د یو لوی، وحشي جګړې له خطر سره مخ ده. هغه د مغولو له وحشت او بې رحمۍ سره آشنا و او پوهېده چې دوی څومره کینه‌اخیستونکي او سرسخته خلک دي.بېرته شراب‌خونې ته ستون شو. ملګري یې د زیات شراب څښلو له امله نشه وو، ځان یې نه پېژانده، لیونۍ مست وو.

بالخاش څو شیبې هغوی ته وکتل، او که څه هم ډېر غصه و، خو مسکا یې په شونډو خپره شوه او ویې ویل: بلاخره دا احمقان شرابو را چپه کړل.
د ایلي غږ یې له شا واورېد: ستا ملګري ډېر ژر خپل ځانونه هېر کړل.

بالخاش پرته له دې چې ورته وګوري وویل: کاشکې کولای مې شوای چې دوی ټول ووژنم...

ایلي پوزخند ووهه او ویې ویل: د دوي وژنه ډېره اسانه ده، هغوی لاندی زیرزمینې ته یوسه هلته یې ووژنه او جسدونه یې ښاه ته واچوه. زه هم، د هغه میني له امله چې درسره لرم چوپ پاتې کېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش مخ د هغې خواته وګرځو او ویې ویل: لاړه شه! زموږ ترمنځ نور هېڅ نشته، هر څه چې وه پای ته ورسېدل، نور زما و مخ ته مه راځه.

ایلې بې پروایي سره اوږې پورته کړې او لاړه،هغې ډېر ژر بدلون موندلی و، او دا خبره د بالخاش لپاره د حیرانتیا وړ وه، هغه هېڅکله فکر نه کاوه چې دا ژوره مینه چې د دواړو ترمنځ پیدا شوې وه، دومره ژر به سړه شي. بالخاش مخکې له دې چې دلته راشې او د ایلۍ سره مخ شي ځان سره فکر کاوه او ګمان یې کاوه چې هر خبره چې وکړې ایلۍ به یې پرته له څه ویلو ومني! خو د شرابخونې نجلۍ خپل وفاداري د مغول خان پر وړاندې ثابته کړې وه.

شپه نیمه شوې وه چې د بالخاش ملګري په هوښ راغلل، هغوی داسې حال کې چې راسته چپه کیدل او ټیلې خوړلې د شرابخونې له دروازې راووتل، بالخاش ډېر په سختۍ وکولی شول چې هغوی د کاروان د استوګنې ځای، کاروانسرای خوا ته ورسوي.

هغه شپه تر سپېدو بالخاش نه شو ویده. ټول وخت یې دا فکر کاوه چې څنګه به سلطان محمد خوارزمشاه د چنګېزخان د جګړې له پلانونو خبر کړي؟هغه د ماوراءالنهر له وطنه اندېښمن و. هغه ته خپل د وطن څخه نور هېڅ څه معنا نه درلوده.ایلې، د شرابخونې هغه نجلۍ چې کله ناکله یې ورسره مینه کوله، اوس ورته د خیانت سمبول ښکارېده. هغه ترې کرکه لرله. بېشکه که هغه یو سړی وای، نو بغیر د کوم تردید څخه به یې هماغه شپه همغه کوټه کې مړه کړې وایې.

د سهار خوا وه چې بالخاش ته خوب راغلو او ویده شو کله چې ویښ شو، لمر راختلی و او ټول خلک د کاروان چمتووالي ته بوخت وو. ورځ لا نیمایي ته نه وه رسېدلې چې د سوداګرانو کاروان د هرسبان له دروازې ووت. ورو ورو د ښار سیوری د کاروان تر شا ورک شو. هغوی د اترار ښار پر لور روان وو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د اترار ښار د برج ساتونکو د مغولو د سوداګرانو د کاروان د راتګ خبر دارالحکومې ته ورکړ، غایرخان امر وکړ چې کاروان دې په یوه مناسبه کاروان سرای کې تم شي.بالخاش، سره له دې چې خپل ټاټوبي ته ستون شوی و، خو د خوښۍ احساس یې نه درلود. دا ځای ډېر خطرناک و، که یو چا پېژندلای وایې نو زندان ته د تلو مخکې مړ کاوه.

بالخاش، سره له دې چې خطر یې ډېر نژدې محسوساوه، خو د هغه ملي غرور او وطنپالنه دومره پیاوړې وه چې پرېکړه یې وکړه، سره له دې کرکې او کینې چې د غایرخان سره یې لرله، شپه مهال د مغولو د سوداګرانو د مشر په توګه دارالحکومې ته لاړ شي او غایر خان د چنګېز خان له پلان څخه خبر کړي.

غرمه تېرېدله چې کاروان اترار ته ورسېد. بالخاش تقریباً ډاډه و چې د خپل بڼې په بدلولو سره به څوک یې و نه پېژني، حتی غایرخان به هم ونه توانېږي چې خپل تښتېدلی بندي وپېژني. هوا لږ څه تیاره شوې وه. فکر یې وکړ چې د خان سلطان کور ته ولاړ شي او د هغه د حال څخه خبر واخلي، خو سمدلاسه دا فکر ورغی چې کېدای شي د غایرخان جاسوسان، د یوه ناپېژندل شوي کس په توګه، د هغه د راتګ خبر غایر خان ته ورکړي. نو له دې کاره تېر شو، او کله چې هوا نوره هم تیاره شوه، له کاروانسرای څخه ووت او د دارالحکومې پر لور وخوځېد.

چې د دارالحکومې مخې ته ورسېد، ساتونکو یې مخه ونیوله. بالخاش خپل غږ بدل کړ او ویې ویل: زه د مغولو له سوداګرانو څخه یم او د اترار له امیر سره د لیدو غوښتنه لرم ساتونکو یو بل ته وکتل. بالخاش وویل: ما د خپل مشر خوا ته ویسې زه د هغه سره یو څه خبرې لرم.
یو ساتونکي ورته وویل: له ما سره راځه...

هغه یې د محافظینو رئیس محمد مهدی ته یووړ. بالخاش بیحد اندېښمن و، که محمد مهدی هغه پېژندلی وای نو کار یې خلاص و. خو محمد مهدی، سره له دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بالخاش مخ ته ولاړ و خو ونه توانېده چې تښتېدلی بندي وپېژني.
بالخاش وویل: زه د مغول خان له لوري د اترار امیر ته یو پیغام لرم.

محمد مهدی سخت فکر وکړ او بیا ویې ویل: امیر د اوس لپاره په حرمسراء کېدی.
بالخاش- ورته ووایئ چې د مغولو د سوداګرو مشر غواړي له هغه سره خبری وکړې، بېشکه چې هغوی به ماته اجازه راکړي.

محمد مهدي چې د بالخاش خوا ته په ځیر کتل ویې پوښتل: د مغول خان د استازی نوم څه دي؟
بالخاش- محمود یلواج.
محمد مهدی- خو ستا له څهرې نه ښکاري چې د مغولو له قومه اوسیږې؟!
بالخاش- همداسې ده زه له بل قومه یم، خو له ډېرو کلونو راهیسې د مغول خان په خاوره کې سوداګري کوم.

محمد مهدي یو دم سوچ کې لاړ، د بالخاش زړه ناآرامه شو شک یې وکړ چې کیدای شي محمد مهدی هغه پېژندلی وي او ښایي د ده د نیولو لپاره کومه پټه دسیسه جوړوي.نو کرار یې لاس د خپل خنجر خواته یووړ ترڅو که برید پرې وشي، ځان چمتو وساتي.

محمد مهدي وویل: همدلته پاتې شه، زه به ستا پیغام غایر خان ته ورسوم.
د محمد مهدی په دی خبره بالخاش راحت ساه واخیسته او په یو کوچني تخت باندې کښېناست چې ښکلی غالۍ پرې هوار وه.هغه په خپله خوښه داسې ځای ته راغلی وو، چیرته چې هره لحظه ممکنه وه چې وپېژندل شي، او ورباندې حمله وشي. هغه د یو داسې سړي د ملاقات لپاره راغلی وو، چې د ده راتلونکې مېرمن یې په زور ورنه اخیستې وه.

هغه د زندان ورځې راپه زړه کړې، هغه شکنجې چې ورکړی شوی وه او بیا هغه شپه یاد ته ورغله چې د سوباتای جاسوسانو له زندانه خلاص کړی وو.هغه هره لحظه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد مهدي د بېرته راتلو په تمه وو.هغه یوه خطرناکه نقشه جوړه کړې وه.بله چاره نه وه د وطن لپاره یې باید قرباني ورکړې وای.څو دقیقې وروسته، محمد مهدي راغی. شونډې یې په مسکا پوښل شوی وه مخامخ بالخاش ته ودرېد او ویې ویل: غایر خان د مغول خان استاز د آیینو په تالار کې د لیدلو لپاره بللی، له ماسره راځه.

بالخاش د محمد مهدي سره یوځای د آیینو تالار پخوا روان شو.
دا چې هلته ورسېدل، بالخاش وویل: مغول غواړي چې د ده او د حضرت سلطان خوارزمشاه ترمنځ اړیکې تل د دوستۍ پر بنسټ وي.

زوړ ساتونکي چې د تالار مخې ته ولاړ و، دروازه خلاصه کړه او پرده یې پورته کړه. بالخاش تالار ته دننه شو. چې کله یې غایر خان د تالار په منځ کې ولید، د هغه د زړه غوسه او کینه راوپاریده له مجبوریته یې سلام وکړ، او بیا یې په درنو او ورو قدمونو وړاندې لاړ. غایر خان چې تندی یې تریو کړی و او لاسونه یې تر شا ونیول، په سړه لهجه ترې وپوښتل: د مغول خان پیغام باید ډېر مهم وي چې تر سهاره مو هم صبر ونه کړ؟

بالخاش شاته وکتل، او بیا یې ورو وویل: دا یو محرم(راز داره) پیغام دی.

غایر خان د زوړ ساتونکې خوا ته وکتل چې د تالار دروازې ترڅنګ ولاړ و او اشاره وکړه چې بهر ولاړ شي بیا یې د بالخاش خواته وکتل او ویې ویل: اوس کولای شې د مغول خان پیغام ووایې.
بالخاش- زما نوم محمود یلواج دی. زه د مغولو له قوم څخه نه یم. له کلونو راهیسې د هغوی په خاوره کې تجارت کوم. مغول خان راته ځانګړې مینه لري، او له همدې امله یې زه د خپل سوداګر کاروان مشر ټاکلی یم او ستاسو هېواد ته یې رالیږلی یم. زما زیږېدلی ځای سمرقند دی، خو کلونه کېږي چې هلته نه یم تللی.

غایر خان یې خبره ورپرې کړل او ویې ویل: پیغام څه دی؟
بالخاش- زموږ کاروان له ځان سره قیمتي مالونه راوړي، او دا چې زه یوازې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې په دې ناوخته وخت کې تاسو ته راغلم، دا یوازې د وطن‌دوستۍ له مخې و.
غایر خان- نو د مغول خان پیغام یوازې یوه پلمه ده؟
بالخاش- همدغه شان ده قربان.
غایر خان- نو بیا د دې ملاقات موخه څه ده؟
بالخاش- زه راغلی یم چې یو مهم راز درسره شریک کړم.
غایر خان- دا مهم راز څه دی؟

بالخاش- ما د خپل خلکو څخه وګڼئ او زما په خبرو باور وکړئ، د مغول خان خپل پوځ د ماوراءالنهر پر وړاندې د یرغل لپاره چمتو کوي، هغه سوداګر چې نن ستاسو ښار ته راغلي دي، ټول د هغه جاسوسان دي. دوی د سوداګرو په جامو کې ما سره دې خوا ته راغلي، تر څو د خوارزمشاه له پوځونو معلومات راټول کړي او بیا پلازمینې او نورو ښارونو ته ولاړ شي.

غایرخان د دې خبری په اورېدو سره حیران شو، څو شېبې سوچ کې ولاړ و، او بیا یې وویل: که چیرې کوم چل ول ستا په خبرو یا کار کې وو، که ته د مغول خان د رښتیا استازی هم اوسیږی وژنم دې.

بالخاش په ټینګه او قاطع لهجه وویل: هیڅ چل نشته دا هر څه حقیقت دي. زه په لاره کې د دې راز څخه خبر شوم. اوس باید ژر لاس په کار شئ.
غایر خان- ستا په اند له دې جاسوسانو سره څه باید وشي؟
بالخاش- باید په یو بهانه ټول ووژنئ.
غایرخان په شیطنت سره وخندل او ویې ویل: له دې نه ښه پلمه بله شته؟ و وایو به چې دا کسان غلو وژلي؟!

بالخاش ورو ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: دا یوه منل شوې بهانه ده ټول به ووایي چې غله هغوی د قیمتي مالونو له امله وژلي او شتمنۍ یې لوټ کړي ده.
غایر خان په هوښیارانه لهجه وویل: تا سره باید څه وکړم یلوچ؟
بالخاش د یو کمزوري موسکا سره وویل: له سوداګرانو څخه یوازې یو تن ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې کیږی او هغه زه یم.
غایرخان یو معنا لرونکی خندا وکړه او ویې ویل: او دا یو تن چې ته یې، ته به مغول خان ته کیسه کوی؟

بالخاش- هو، زه به ووایم چې غلو پر کاروان برید وکړ.
غایر خان- ولې دې مغول خان ته خیانت وکړ او ما ته دې دا مهم راز وویل؟
بالخاش- ځکه چې زه مغول نه یم، زما زیږیدلی ځای سمرقند دی،دا کافي نه ده؟
غایر خان- ولې نه، زه تا له خپل خلکو څخه ګڼم.
بالخاش- نو بیا زما کار ته د خیانت نوم نه ورکول کیږی.
غایرخان- زما په نظر، ته باید بیرته د مغول خان حضور ته ولاړ نه شې، دلته پاتې شه.

بالخاش احساس وکړ چې په لومه کې لویدلی دی، او غایرخان غواړي په چل او فریب سره د هغه د تیښتې مخه ونیسي.
غایر خان- ته څه فکر کوې یلواج؟ زه به سوداګران ووژنم، او ته به په زندان کې وساتم.
بالخاش- ښه انعام دې ما ته په پام کې نیولی دی!
غایر خان- بله لاره نه لرم.

ناڅاپه بالخاش خپل لاسونه د کمیس لاندې ویوړل او خنجر یې راوویست او غایر خان یې ناببر راګیر کړو.د خنجر څوکه یې د هغه تر ستوني لاندې کېښود او ویې ویل:که غږ دې پورته کړ خنجر به دې په ستوني کې ننباسم.
غایرخان- خو ته نشې کولای زما له منګولو وتښتې، ساتونکي به دې ونیسي.
بالخاش- زه نه غواړم چې تا ووژنم، یوازې دومره کوم چې وتوانیږم له دارالحکومې ووځم.

او د دې سره سم یې د خنجر په لاستي سره غایرخان ته له شا څخه یو ګوزار ورکړ.
غایر خان د ضربې له امله ځیګروي وکړ او بې‌هوښه شو. بالخاش هغه د تالار یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنډې ته کش کړ، او بیا یې د تالار دروازه خلاصه کړه. د ده له وتلو طریقه داسې وه لکه له غایر خان سره چې خدای پاماني کوي. کله چې یې دروازه بنده کړه، مخ یې زوړ ساتونکي خوا ته واړاوه او ویې ویل: امیر امر کړی چې ته باید ما تر دارالحکومې پورې رهنمای کړې.

زاړه ساتونکي بې له ځنډ او شک نه مخکې شو، او بالخاش ورپسې روان شو. ټول پام یې شاوخوا ته و. بالخاش دواړه لاسونه یو بل ته رانږدې کړل او ګوتې یې د خپل بل ستوني دننه واچول. په ښي لاس کې یې یوه چاقو(خنجر) نیولې وه، او هر وخت تیار و چې که حالات بدل شي، زوړ ساتونکي د ځان لپاره سپر وګرځوي.

محمد مهدي د دارالحکومې مخې ته ولاړ و. بالخاش د هغه خوا ته مخ واړاوه او ویې ویل: له مهمان‌نوازۍ مو نړۍ مننه. امیر زه په عزت ونازولم او ډېر ژر به یو فرمان صادر کړي چې باید سمدستي پرې عمل وشي. بیا یې له زاړه ساتونکي سره خدای پاماني وکړه او روان شو. چې لږ څه له دارالحکومې واوښت، نو خپل قدمونه یې ګړندي کړل. هغه پوهېده چې ډېر ژر به غایرخان له بې‌هوشۍ راووځي، او د سوداګرانو کاروان به له خطر سره مخ شي.

بالخاش په تیزۍ سره د اترار له کوڅو تیر شو. هغه نور نه غوښتل کاروان‌سرای ته ورشي، ځکه هغه ځای یې د ځان لپاره خطرناک باله. خپل لاره یې بدل کړ او د خان سلطان د پلار کور ته لاړ، څو هلته پټ شي سره له دې چې هغه کولی شو په هماغه شپه له اترار بناره ووځي، خو دا کار یې ونه کړ، ځکه هغه نقشه چې د سوداګرانو د وژلو لپاره یې جوړه کړې وه، لا نه وه پوره شوې. نایمان، چې د خان سلطان پلار و کله چې یې سترګې په بالخاش ولګېدې، حیران شو. هغه فکر وکړو چې خوبویني. څو ځله یې سترګې خلاصي او پټې کړل باور یې نه کېده چې دا ځوان سړی چې د مغولي سوداګرو کالي یې پر تن دي، هماغه بالخاش وي.

نایمان چې د خوښۍ اوښکې یې په سترګو کې ځلیدې او شونډې یې په موسکا وې، ویې ویل: نو ته ژوندی یې؟خدای ته شکر، تا زما زړه روښانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې بالخاش په غېږ کې ونیو او پر تندي یې ښکل کړ. په داسې حال کې چې سترګې د بالخاش په سترګو کې ګنډل شوې وه وویل: خپل حال راته ووایه غواړم پوه شم چې دا دومره وخت چې خپل د پلرني خاورې څخه لرې وې څه دې کول؟ اوس راته روښانه شوه چې د غایر خان په زندان کې ستا د وژل کېدو خبر د دروغ خپور شوی و هغه هم د خیانت په تور.

بالخاش یو کمزوری مسکا وکړ او ویې ویل: زه هغه ورځې ته سترګې پر لار یم چې پخپلو لاسونو غایر خان د خیانت په جرم ووژنم. هغه یو پست او چټل سړی دی.
نایمان- آرام اوس بالخاش، لومړۍ ځل هم تا ناڅاپي اقدام وکړ نږدې وه چې خپل ځان دې مرګ ته ورکړی وایې.
بالخاش- خو بل ځل ضرور کامیاب کیږم.
نایمان- څه پلان لرې؟
بالخاش- اوس نه شم کولی چې څه ووایم خو کله چې وخت راورسیږي پوه به شئ.

هغوی دواړه د کوټې په منځ کې ولاړ وو او خبرې یې کولې.
نایمان ورته وویل: ولې نه کښېنې؟
بالخاش- زه باید تر سبا شپې پورې دلته پټ شم. که فکر کوئ چې زما شتون به تاسې او ستاسې کورنۍ ته خطر جوړوي نو ښه ده چې تر څو هوا تیاره ده، بل ځای ته لاړ شم.
نایمان خپل لاسونه د هغه پر اوږو کېښودل او ویې ویل: کله چې تا خپل ژوند زما د لور لپاره په خطر کې واچوه او د مرګ مخکې ولاړې نو دا زما دنده ده چې تا په خپل کور کې پټ کړم. زما او زما د کورنۍ په اړه فکر مه کوه. موږ ټول ستاسو سره علاقه لرو.

دوی دواړه د کوټې په فرش کښیناستل نایمان وویل: ستا پشان هوښیار سړی هسې خپل ځان په خطر کې نه اچوي، زه ګمان کوم ته د یو خاص مقصد لپاره اترار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلې یې او که زه غلط نه یم نو تا د مغولو د تجارانو جامه د دې لپاره اچولې ترڅو غایر خان و وژنی.

بالخاش وخندل او ویې ویل: که تاسو زما څهره کور ته د راتلو څخه مخکې لیدلی وای نو هیڅکله به مو پیژندلې نه وای. ما خپل احتیاط له لاسه نه دی ورکړی، ما خپل بڼه په بشپړه توګه بدله کړې وه.
نایمان- نو ته د مغول خان سوداګرو لپاره کار کوې؟
بالخاش- هو همداسی ده، زموږ کاروان له لمر لوېدو مخکې اترار ته راورسېد.
نایمان- څنګه دې ځان تر هغوی ورسوې؟
بالخاش- ما هیڅ بل انتخاب نه درلود، هر چیرې چې تللې وایې زه یې پیژندلم.

نایمان تندی تروش کړو او ویې ویل: مغولان زموږ دښمنان دي.
بالخاش- زه هم د دوی دښمن یم.
نایمان- زه نه پوهیږم چې ته څه وایې؟!
بالخاش- غوره دا ده چې د دې په اړه خبرې ونه کړو، د خان سلطان په اړه راته ووایست.

نایمان په سوچ کې لاړ بالخاش احساس وکړ چې ښایي د خان سلطان سره څه پیښ شوي وي داسې حال کې چې د نایمان تروش تندی ته یې کتل ویې ویل: څه شوي دي؟
نایمان- کوم مهم خبره نه ده زویه.
بالخاش- خو زه داسې احساس کوم چې تاسو غواړئ له ما څخه یو څه پټ وساتئ.

نایمان سر پورته کړ او وې ویل: زه درته دا ډاډ درکولی شم چې خان سلطان ژوندی ده خو ...
خبره یې لا نه وه ختمه کړې چې بالخاش وویل:خو څه؟ کوم خبره زما څخه پټوی؟
نایمان لږ خپل ځای بدل کړ او ویې ویل: نه غواړم خفه دې کړم.
بالخاش- زه له مخکې څخه خفه یم، هیڅکله مې له ذهن څخه هغه نه ده ووتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نایمان- خان سلطان يې بل ځای ته وړلې، داسې ځای ته چې ډېر کیلومټر د دې ځای څخه لیرې دی.

بالخاش خپل سر شاته کړ، دیوال ته تکیه شو او داسې چې سترګې یې د مخامخ دیوال خوا ته نیولې وه پوښتنه وکړه: تاسو له کومه پوه شوئ چې هغه یې له اترار څخه ایستلې ده؟
نایمان- څو ورځې مخکې یې دلته راوستلی وه تر څو خدای پاماني وکړي. پټپله یې دا خبره وکړه.
بالخاش- وې نه ویل چې چیرته یې وړي؟
نایمان- نه، هېڅ یې ونه ویل،ښکاره وه چې خپله هم نه پوهېده.
بالخاش- خو زه پوهېږم.
نایمان- نو بیا ولې څه نه وایې؟

بالخاش خپل سر مخکې راوړ او ویې ویل: غایر خان خپل تر ټولو ښکلې انجونۍ ترکان خاتون ته استوي، هغه چې د سلطان محمد مور ده. بې شکه خان سلطان هم هغې ته استول شوی.

نایمان وویل: نو ته ګومان کوې، خو باوري نه یې؟
بالخاش ورو سر وښوراوه او ویې ویل: زه یقین لرم چې خان سلطان هلته استول شوی.

نایمان په داسې لهجه سره چې ډېر غم او درد پکې احساسېده وویل: که ستا دا شک سم وي نو نور د خان سلطان د ژغورلو هیله نشته، او ته هم باید د غایر خان د وژلو فکر له سره وباسې.
بالخاش د غوسې او کینې نه په پټه مسکا وویل: خو زه به ترې سخت انتقام واخلم. هغه ورځ چې زه احساس کړم چې د خان سلطان ژغورل ناممکن دي، هغه ورځ زه ژوندی نه یم چې دا درد وزغمم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان سلطان پلار ورته وويل: زويه، زه نه پوهېږم ته څه پلان لرې، خو ته باید ډېر پام وکړې. غایر خان يو کينه‌کښ او بې رحمه سړی دی، لا هم د دې فکر نه دی وتلی چې تا ووژني. ته خپله ځان د هغه په جال کې اچوې. که د هغه جاسوسان پوه شي چې ته اترار ته راغلی يې او زما په کور کې پټ شوی يې، دا ځای به د وينو په سیلاب بدل کړي.

څو شېبې چوپتيا وه... بيا بالخاش وويل: سبا شپه به اترار پرېږدم.
نايمان له ځايه پورته شو او ويې ويل: ته ارام ته اړتيا لرې دا کوټه ستا ده. زه ډاډه يم چې سهار چې کورنۍ ته معلوم شي ته دلته يې، خوشاله به شي. زه اوس خپلې کوټې ته ځم.

نايمان د کوټې دروازه خلاصه کړه او بهر ووت، او بالخاش يې يوازې پرېښود.

***

کله چې غاير خان هوښيار شو او سترګې يې پرانېستې، نو زوړ ساتونکي او محمد مهدي يې د خپل سر څنګ ته وليدل، هماغسې چې د تالار پر فرش ناست و.
کوشش يې وکړ چې په ذهن کې هغه څه بيا راژوندي کړي چې پرې تېر شوي وو.
چې د محمود يلواج نوم يې په ياد شو، ژر له ځايه ودرېد.
محمد مهدي ته يې وکتل او وپوښتل: ايا هغه ونيول شو؟
محمد مهدی وويل: که د هغه له بې‌ادبۍ او بې احترامي څخه خبر وای نو پر خپل لاسونو به مې وژلی وای.

غاير خان د غوسي څخه وينه په رګونو کې په جوش راغلل، مخ يې سور شو. محمد مهدی چې د ډېر ويرې څخه يې زنګونونه لړزيدل په رپيدونکي غږ وويل: اجازه راکړئ زه د څو ساتونکو سره يوځای د هغه کاروانسرای ته ولاړ شم چې د مغولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګران پکې اوسيږي، يلواج له هغه ځايه راوباسم او د کاروانسرای مخې ته يې ووژنم.

غاير خان مخکې شو، څو شيبې يې محمد مهدی ته په ځير وکتل، بيا يې يوه کلک څپيړه د هغه په مخ و وهل او ويې ويل: که ستا لځای بالخاش دلته وايې نو دا احمقانه خبرې به يې نه وايې کړې. ته بې‌مغزه يې او فکر کوې چې يلواج، يو کم عقل او احمق سړی دی چې پر ما د بريد وروسته نيغ په نيغ به کاروانسرای ته ولاړ شي او د سوداګرانو په منځ کې پټ شي؟ هغه يو ډېر هوښيار سړی دی، ما داسې انسان تر اوسه نه و ليدلې، بې‌شکه هغه له ښار څخه وتلی دی او اوس په چټکۍ سره د مغولو خان لښکر خوا ته ځي.

زوړ ساتونکي چې تر هغه وخته چوپ و، وويل: هغه وخت دروازې بندې وې، زه باور لرم چې هغه په ښار کې پټ شوی دی او کله چې ورځ راشي او دروازې خلاصې شي، نو يلواج به له خپل پټ ځايه راووځي او له ښار څخه به وځي.
غاير خان په غوسه وخندل او ويې ويل: زه نور له يلواج سره کار نه لرم د هغه شجاعت مې خوښ شو هغه زموږ د خلکو څخه دی، له ماوراءالنهر څخه دی. هغه ته د هغو رازونو او خبرو له امله چې ما ته يې ښکاره کړل، بخښنه ورکوم.

محمد مهدی او زوړ ساتونکي يو بل ته وکتل بيا يې خپل سترګې د غاير خان پر خوله وګنډل او په بې‌صبری سره منتظر وه چې وګوري يلواج کوم مهم راز امير ته ښکاره کړی؟

غاير خان په سوچونو کې ډوب و او ورو ورو ګامونه يې اخيستل. محمد مهدي لږ جرئت وکړ او ويې ويل: زما په اند يلواج د بالخاش په اړه ځينې خبرې فاش کړې دي.
غاير خان پوزخند وکړ او ويې ويل: بالخاش؟! هغه زما لپاره مهم نه دی،يلواج راته د مغولي سوداګرو په اړه وويل،هغه ويل چې دا ټول د مغول خان جاسوسان دي او د جاسوسۍ لپاره زموږ هيواد ته، يعنې ماوراءالنهر ته راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړ ساتونکي د دې راز له اوریدو سره یو ځل وارخطا شو او ورو یې وویل: دا ډېره ویرونکې خبره ده.

محمد مهدي وویل: باید دا ټول زندان ته واچوو او مالونه یې مصادره کړو.
غایر خان وخندل او ویې ویل: زموږ زندانونه د دې وحشیانو لپاره ځای نه لري، خو مالونه یې چې ډېر قیمتي دي، باید مصادره کړو. البته هغه وخت چې د کاروانسرای ځمکه د دوی په وینو سره شوی وی.

بوډا ساتونکي په اندیښنه وپوښتل: تاسې غواړئ چې هغوي ټول ووژنئ؟
غایر خان د هغه خواته لاړ او ویې ویل: د سهار له سپېدو دمخه باید دا کار پای ته ورسوو.

بوډا ساتونکي چې یو دوراندیش سړی و، ویې ویل: کېدای شي یلواج بله موخه ولري، غوره دا ده چې دوی د کاروانسرای په حجره کې بندي کړو، او که دا ثابته شوه چې د یلواج خبرې رښتیا دي، بیا پرې پریکړه وکړو. د مغولي سوداګرو وژل د ماوراءالنهر په زیان دي او مغول خان به غوسه شي.

غایر خان چې یو ضدی او یوازې د خپل فکر تابع او جاه‌طلب سړی و، په لوړ آواز وخندل او ویې ویل: موږ باید دا فرصت له لاسه ورنکړو. زه د سلطان استازی یم او باور لرم چې کله سلطان ته دا خبر ورسېږي، چې مغولي سوداګر چې د جاسوسۍ لپاره زموږ هېواد ته راغلي وو، وژل شوي دي، نو پر ما به افرین ووایط.

محمد مهدی ته یې لږه شیبه وکتل بیا یې ورته وویل: اوس سمدلاسه له خپلو غوره اس سپرو ساتونکو څخه یوه ډله کاروان‌سرای ته بوزه، او بې له ځنډه مغولي سوداګر ووژنه او د دوی مالونه له هغه ځایه را وباسه.

محمد مهدی بوډا ساتونکي ته وکتل، داسې ښکارېده لکه هغه هم له مغولي سوداګرو د وژلو ویره لري.غایر خان ورته وکتل او ویې ویل: ولې ولاړ یې؟ زه همدلته پاتې کیږم تر څو د دوی د وژل کېدو خبر واورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد مهدی بله چاره نه درلوده، د غایر خان امر ته یې غاړه کېښښوده.
له تالاره بهر ووت.

بوډا ساتونکي چې د دې وژنې پایلې ته اندېښمن و، له غایر خان څخه وغوښتل تر څو د مغولي سوداګرو په وژنه کې برخه ونه کړي.
غایر خان د هغه مخې ته ودرید او ویې ویل: وېرېدلی بوډا سړی! ته نور له عمره پاتې نه یې، ښه ده چې خوله بنده وساتي او د وحشي مغولو ملاتړ ونکړې.

بوډا ساتونکي له وېرې ولړزېد او ورو ورو له تالاره ووت،غایر خان په بې‌صبرۍ سره د محمد مهدی انتظار کاوه، چې د مغولي سوداګرو د وژنې خبر ورته راوړي.

په همدغه وخت کې، د "نایمان" د خان سلطان پلار په کور کې یو سړی یوازې په بستر پروت و، او د خپلې هوښیارې دسیسې په فکر کې و. هغه بالخاش و د مغول خان جاسوس چې لا یې هم خپل ملي غرور نه و هېر کړی. هغه پر داسې لاره روان و، چې هر وخت کېدای شو، راز یې "سوباتای" یا "چپه نویان" ته ښکاره شي او هغوی یې ووژني.خو ویره له بالخاش نه تښتېدلې وه.هغه یو عجیبه زړورتیا ښودله. د وطن دپاره یې دښمن په منځ کې یوه پټه او خطرناکه مبارزه پیل کړې وه.

شپه له نیمایي تیره شوې وه چې محمد مهدی له خپلو غوره اس سپرو سره ناڅاپه،

د مغول سوداګرانو په کاروانسرای باندې برید وکړ، له هماغې لمړۍ شېبې څرګنده وه چې سوداګران به تر تېښتې وړاندې ووژل شي. د غایرخان سرتېرو په بې‌رحمۍ سره وژنه کوله. دوی د مغولو د تېښتې لارې بندې کړې وې.او ډېر ژر د کاروانسرای ځمکه د مغولو په وینو سره شوه. محمد مهدی چې ډاډه شو له سوداګرانو څخه یو تن هم ژوندی نه‌دی پاتې، امر یې ورکړ چې د هغوی مالونه دې هغه ځای ته ولېږدول شي چې مخکې ټاکل شوی و. خپله په بیړه د دارالحکومې خوا ته لاړ او غایرخان ته یې د مغولو د سوداګرانو د وژلو خبر ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایرخان داسې خوشحاله شو چې لاسونه یې سره ومښل او ویې ویل: باید له محمود یلواج څخه مننه وکړو، هغه یو وطن‌پرست سړی دی. کاشکې دلته وای او دا خبر یې اورېدلې وای.

هماغه شپه، یو تن چټک اس سپور د ښار له دروازې تېر شو هغه یو لیک لېږدوه چې غایرخان د سلطان محمد په نامه لیکلی و، او پکې یې د مغولي سوداګرانو د وژنې کیسه لیکلې وه. سپور به دا لیک پلازمېنې ته رسول.

غایرخان د دغه برید له پایلې خوښ و او بریالی ښکارهېده. هغه لا هم د محمود یلواج د زړورتیا فکر کولو، او د خپل حرم خوا ته روان شو. بوډا ساتونکي یې پسې ورو ورو ګامونه اخیستل. دواړه چوپ وو.د حرم سرای دروازې ته چې ورسېدل، غایرخان بغیر له دې چې و وایې د بوډا ساتونکي څخه جلا او پر زینو پورته شو. بوډا ساتونکي چې د ناوړه پېښو وړاندوینه یې کوله، ورو ورو د هغه ځایه لرې شو ..

د لمر له راختو سره سم د مغولي سوداګرانو د قتل عام خبر ژر خپور شو خلک ډلې ډلې د هغه کاروانسرای خوا ته روان وو، چیرې چې وژنه شوې وه...

بالخاش تازه له خوبه پاڅېدلی و چې دا خبر یې واورېد. هغه خوښ و او مطمئن ښکارېده، ځکه پلان یې بریالی شوی و. زړه کې یې د غرور احساس زیات شوی و... ټول ورځ یې په خپل کوټه کې تېره کړه. تر دې چې لمر لا نه و لویدلی او د ښار دروازې نه وې بندې شوې، هغه له اترار ښاره ووت او په چټکۍ سره د "هرسبان" پر لور وخوځېد. تلوار یې درلود چې ژر هلته ورسیږي. غوښتل یې داسې وښیي چې ګواکې د غایرخان د جنګي سپرو له حملې تښتیدلې دی.

بالخاش د هماغې شپې په سبا، تر نیمې ورځې مخکې هرسبان ته ورسېد. شپه او د ورځې یوه برخه یې پرته له استراحت کولو پر لاره تېره کړې وه. دا وېره ورسره وه که په هرسبان کې تم نشي نو اس یې د اوږد مزل او لوږې څخه مړ شي هغه له ایلي نومې نجلۍ، چې د هرسبان شرابخانه کې وه بد راتلل نو ځکه هلته ولاړ نه او د ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باندې دمه وکړل، لږ وروسته له نیمې ورځې خپل سفر ته دوام ورکړ، له هغې تنګې لارې چې د هرسبان له شماله تېرېده، ښار یې شا ته پرېښود.

بالخاش بیرې درلوده، غوښتل یې ځان ژر د سوباتای کمپ ته ورسوي او هغوی ته د سوداګرو د ډلهییزې وژنې خبر ورکړي. هغه د مغول خان د جاسوسانو دنده افشا کړه او د سوباتای پراخ او حساب‌شوی پلان یې له منځه وړی و، چې هدف یې د سلطان محمد خوارزمشاه د پوځونو په اړه استخباراتي معلومات راټولول وو. باور یې درلود چې سوباتای به پر ده شک ونه کړي. هغه د کاروان یوازینی ژوندي پاتې شوی غړی و، چې په هوښیارۍ سره یې غایرخان د دوی پر ضد راوپاراوه او ټول یې ووژل.

خو که بالخاش پوه شوی وای چې د مغول خان د جاسوسي استخباراتو په وړاندې د هغه دا پټه مبارزه به بدې او خطرناکې پایلې ولري، نو شاید هغه بلې لارې ته مخه کړې وای، او بې شکه چې نن شاید تاریخ بل ډول وای.

کله چې سوباتای ته وویل شول چې بالخاش بېرته راغلی، د حیرانتیا له امله یې خوله پرانیستې پاتې شوه. اټکل یې وکړ چې باید له سوداګرو سره کومه جدي پېښه شوې وي. لږ وروسته، بالخاش چې د سفر دورې یې پر شونډو او څېره لګېدلې وې او پوره ستړی ښکارېده، د سوباتای خیمې ته داخل شو. سوباتای په داسې حال کې چې تندی یې تریو کړی و، وویل: له څهرې دې ښکاري چې ډېر ژر دې ځان دلته رارسولې!

بالخاش لږ سا واخیستله او ویې ویل:هو، همداسې ده، قربان...زه یوازینی کس یم چې له سوداګرو کاروان څخه ژوندی پاتې شوی یم.
سوباتای- روښانه خبرې وکړه.
بالخاش- د غایر خان سپاره کاروان‌سرای ته راغلل او ټول سوداګر یې ووژل.
سوباتای- یقیناً زموږ سره خیانت شوی دی.
بالخاش- زما هم همدا نظر دی، ځکه برید یې ناڅاپه وو.
سوباتای- د خپل ځان په اړه ووایه، ته څنګه ترې ووتې؟
بالخاش په آرامۍ سره وویل:زه د خان سلطان د پلار لیدو ته تللی وم، کله چې بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروانسرای ته راغلم، هغه ځای په وینو سور وو نو زه هم ډېر تم نه شوم او ژر مې ځان د اترار ښخه راوویست.

سوباتای د بالخاش خبرې واورېدې او قهر شو، یو قوي او کلک سوک یې د هغه پر سینه وواهه او د قهر له امله یې څهره بدله شوې وه، وویل: احمقانه کار دې کړی.
بالخاش- که ما کاروانسرای نه وای پرېښودلې نو بې شکه زه هم وژل کیدلم او بیا به هیڅوک نه وای پاتې چې دا خبر تر تاسو را ورسوی.
سوباتای غاښونه پر یو بل کېښودل او په غوسه یې وویل: غایر خان فکر کوي چې د سوداګرو په وژلو یې بریا ترلاسه کړې، خو زه به داسې سزا ورکړم چې د هغه راتلونکي نسلونه به یې لا هېر نه کړي، هغه پخپلو لاسونو خپله قبر وکیندلو.

سوباتای لږ خاموش شو بیا یې د بالخاش خوا ته مخ کړو او ویې ویل: اوس ته کولی شې له غایر خان ښخه خپل غچ واخلې. یو ویرونکی غچ چې ډېر ژر به راورسیږي.
بالخاش- خو خان سلطان د هغه په حرمسرا کې نشته.
سوباتای له یو پټ موسکا سره وویل: د هغه فکر له ذهنه وباسه د غایر خان د غچ اخیستلو فکر وکړه، زه به هغه تا ته در وسپارم، تر څو په ډېر بد ډول یې ژوند ته خاتمه ورکړې.
بالخاش له فکر سره تندی تریو کړ او ویې ویل: زه باید پوه شم چې غایر خان به څنګه زما لاس ته راکوئ؟ هسې نه غواړئ هغه وتښتوئ؟

سوباتای له یو شیطان موسکا سره وویل: ډېر داسې شیان شته چې ته باید پرې پوه نه شې.که یوه ورځ موږ غایر خان له اترار ښخه لاس ترلی را وباسو، ممکن دا موږ واوسو چې هغه ته د هغه د کړنو سزا ورکړو.هغه زموږ د سوداګرو په وژلو سره، په اصل کې خپل قبر کیندلی دی.

بالخاش وپوښتل: تاسو څه کول غواړئ؟
سوباتای له خاص غرور سره وویل: موږ داسې کار کوو چې راتلونکي نسلونه یې هېڅکله هېر نکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش ورو سر وخوځاوه او ويې ويل: زه له همدا اوس څخه د يو ويرونکی جنګ تصور کوم.
سوباتای- ويرونکی جنګ؟!
بالخاش- هو، داسې جنګ چې په ماوراءالنهر کې د وژنو پيل دی.
سوباتای- مورِ هېڅکله د ماوراءالنهر پر خاوره د بريد نيت نه لرو.
بالخاش- خو ښکاري چې ستاسو د لوی يرغل نقشه پر ماوراءالنهر جوړه شوې هم ده.

سوباتای په تېز غږ وويل: زه نه غوارم چې د دې موضوع په اړه خبرې وکړې. خپل خيمی ته بيرته لاړ شه، چې خبر درکړم.

بالخاش د انديښنې سره د خيمی راووت، سوباتای خپه ښکاريده. د مغولو د سوداګرو وژل کېدل په اترار کې، د هغه نقشه چې غوښتل يې له ماوراءالنهر نه نظامي معلومات ترلاسه کړي، په بشپړ ډول ګډوډه کړې وه. هغه اړتيا درلوده چې بله لاره پيدا کړي، څو د مغول خان نقشه عملي شي. هغه يوازې په خپل خيمی کې ګرځېده او فکرونه يې کول. بالاخره د يوه نوي نقشه له امله، يو کمزوريموسکا يې پر شونډو خپره شوه او له ځانه سره ويې ويل: يقيناً چنګيز خان به زما له نقشې سره موافق وي.

شپه نيمايي ته رسېدلې وه، سوباتای لا هم ويښ و او د خپل تيار کړی نقشې په اړه يې مطالعه کوله. بالاخره يې پرېکړه وکړه چې له خپلو زړورو او چابکو مأمورينو څخه يو دانه د مغول خان قرارګاه ته چې د قپچاق په دښته کې موقعيت درلود، واستوي، تر څو چنګېز خان ته دا خبر ورسوي چې د هغه سوداګر د غايرخان په امر د اترار په ښار کې وژل شوي او مالونه يې لوټ شوي دي.

بالخاش چې له هر څه ناخبره و، لا هم د يوه ساتونکي په تمه و، چې راشي او هغه د سوباتای خيمی ته بوځي. هغه احساس کړی و چې د مغول خان ستر جاسوس د بلې نقشې په فکر کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه باور درلود چې ډېر ژر به د مغول خان پوځونه د ماوراءالنهر خاوره په یوه وېروونکې د جنګ میدان باندی بدل کړي. هغه د خپل وطن لپاره اندېښمن و او پدې فکر کې شو چې د سوباتای د قرارګاه څخه پټ وتښتی او له یو پټې لارې څخه ځان د ماوراءالنهر پلازمېنې ته ورسوي او سلطان محمد خوارزمشاه ته د چنګېز خان د نقشو خبر ورکړي.

بالخاش همداسی اوږد په بستر کې پروت و او د تیښتې نقشه یې په ذهن کې جوړه کوله، چې د خیمې څخه دباندې د قدمونو غږ یې واورېده. ګمان یې وکړ چې یو له ساتونکو څخه دی، چې د هغه خیمي ته نژدې کیږي.

– بالخاش! بیړه وکړه، سوباتای ته غوښتی یی!

بالخاش په بیړه پورته شو او ویې ویل: لږ وخت راکړه تر څو چی خپل کالي واغوندم، او له ځانه سره یې وویل: یقیناً سوباتای غواړي چی ما د ماوراءالنهر خاورې ته واستوي، چی هلته ورته جاسوسي وکړم. که زما شک سم وي، نو بیا به هېڅکله د دې دوزخي خلکو خواته رانشم.
کالي یې واغوستل او له خپل خیمې څخه راووت. او د مغولي ساتونکي سره د سوباتای د خیمی په لور روان شو نیمه لاره کې وپوښتل: ایا ته پوهیږی چې سوباتای زما سره څه کار لری؟

ساتونکي په سختو ټکو وویل: زه د کوم خوا پوه شم؟
بالخاش- ما فکر وکړو چې شاید ته پوه شې!
ساتونکي- زه د هېڅ شئ څخه خبر نه یم.
کله چی دوی د سوباتای خیمې ته ورسیدل، مغول ساتونکی ودرېد او ویې ویل: دلته ودرېږه، تر څو چی زه تا خبر کړم.
او خپله د سوباتای خیمې ته ننوت. څو شېبې وروسته بیرون راووت او وویل: ننوځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش دننه لاړ د مغول خان ستر جاسوس سوباتای د خیمې په منځ کې ولاړ و.
بالخاش- له ما سره مو کوم کار درلود؟
سوباتای- رانږدې شه، بالخاش.
بالخاش، پداسې حال کې چې د سوباتای جدي څېره ته یې کتل، ورو ورو ورنږدې شو، ودرېد او سترګې یې د هغه خولې ته وګنډل.
سوباتای د هغه مخې ته ودرید او ویې ویل: زما تر ټولو زبردست د جاسوسانو ډله د غایرخان لخوا ووژل شوه، او ته یوازینی کس یې یې چې له هغې ډلې ژوندي پاتې شوی یې. اوس دا ستا دنده ده چې د هغه کاروان د وژنې کیسه چنګیز خان ته ورسوی.

بالخاش چې د هغه خبرې واورېدې، نو ټولې نقشې یې له منځه لاړې. دا بلکل هغه څه نه وو چې ده یې ګمان کړی و. هغه خیال کاوه چې دی به د ماوراءالنهر د ماموریت لپاره غوره شوی وي، خو اوس یې ولیدل چې باید د مغول خان کمپ ته لاړ شي.

بالخاش- قربان، یو له مغول مامورینو ته دا ماموریت ورکړی، ځکه هغوی ته لارۍ معلومی دی.
سوباتای- خو ما ته انتخاب کړی یې، د شپې له پای ته رسېدو مخکې، ته باید له دې ځایه کیلومترونه لرې تللی اوسیږې.
بالخاش- مهرباني وکړی، ما د ماوراءالنهر ماموریت ته واستوی.
سوباتای په معنا لرونکي خندا سره وویل: زه وېرېږم که تا هغه ماموریت ته واستوم، شاید ووژل شې. رښتیا، یو سوال چې لا هم زما لپاره بې‌ځوابه پاتې دی، دا دی چې غایرخان څنګه وکړای شول چې پوه شې هغه سوداګران جاسوسان دي او هغوی قتل عام کړي؟

بالخاش، چې پخپله یو هوښیار او زیرک سړی و، احساس وکړ چې سوباتای ښایي پر هغه شکمن شوی وي. خو پرته له دې چې ځان له لاسه ورکړي، په قاطع او کلک لهجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې وویل: که یوه ورځ بریالي شو چې غایرخان ژوندي او لاس تړلی خپل کمپ ته راولو، نو هغه به پرته له شکنجې دې پوښتنې ته ځواب ووایي.
سوباتای- اممم نو ستا په نظر، باید دا پوښتنه له خپله غایرخانه وشي؟
بالخاش- بې‌شکه او که هغه شپه زه د خان سلطان د پلار لیدو ته نه وای تللی، نو زه هم د وژل شوو په منځ کې وم.
سوباتای- نو بیا د خدای شکر چې ته ژوندی پاتې شوې او کولای شې زما پیغام چنگیز خان ته ورسوې.

بالخاش- زه یواځې ولاړ شم؟
سوباتای- نه، زما یو تکړه او تیز اس سپور چې لاره یې لیدلی ستا سره ځي.
بالخاش- سمده نو بیا زه چمتو یم.
سوباتای- هر څه چمتو دي. زما ساتونکی به ستا لارښوونه درکړي.
بالخاش- کوم بل پیغام نه لرئ؟
سوباتای په اندېښمن ډول وویل: نه. خو دا په یاد ولره چې مغول خان یو هوښیار او زیرک سړی دی. او مخکې له دې چې هغه له تا وپوښتي، هڅه وکړه چې د خپلو سوداګرانو د قتل عام ټول جزئیات هغه ته ووایې. نور څه نه لرم ویلو ته کولی شې ولاړ شې.

بالخاش د سوباتای له خېمې ووت. هغه ساتونکی چې د خېمې مخې ته ولاړ و، د هغه خوا ته راغی او ویې ویل: له ما سره راځه، بالخاش.
بالخاش پرېکړه کړې وه، که سوباتای هغه یواځې دې ماموریت ته ولېږي نو دی به د ماموریت لځایه په کوم بله لارې ځان تر ماوراءالنهر ورسوي تر څو سلطان د چنګېز خان د خوارزم پر خاوره د برید له نقشې خبر کړي.خو ګومان یې کاوه چې سوباتای پر هغه شکمن شوی، او هغه یواځې نه لېږي.

بالخاش د هغو خلکو په منځ کې ژوند کاوه چې د هغه وینې ته تږي ول. تر هماغه شپه یې توانیدلی و، چې پرته له دې چې د هغوی شک را وپاروي، ډېری له هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووژني.هغه د یوه ورانکار مامور رول لوباوه، خو لا هم هغسې چې خپله یې تمه لرله، ماموریت یې نه و بشپړ کړی.

هغه پداسې حال کې چې په خپلو فکرونو کې ډوب و، د سوباتای د ساتونکي پسې روان شو، دوی هغه ځای ته تلل چیرته چې د مغول خان کمپ ته د تللو وسایل چمتو شوي وو. د سوباتای د خېمې څخه لږ څه لیرې شول، یو ځای ته ورسېدل چې دوه اسونه له ټولو توکو او زینونو سره تیار ولاړ وو. یو لنډ قد ځوان سړی د اسونو څنګ ته ولاړ و.چې له سترګو څخه یې هوښیاري او چټکتیا ښکارېده.

ساتونکي مخ بالخاش خوا ته کړو او ویې ویل: معرفي شه خپل د لارې د ملګری سره نوم یې سونک دی، دې به تا د مغول خان تر کمپ ورې.
سونک وخندل او وې ویل: بالخاش، زه تا ښه پېژنم، د کمپ ټول خلک ستا د زړورتیا او مېړانې خبرې کوي. سپور شه، تر څو د لمر له راختو مخکې له دې ځایه کیلومترونه لرې شوي ووسو.

او بیا پخپله په یو جست سره پر آس سپور شو،بالخاش هم پښه پر رکاب کېښوده او ځان یې پورته کړ او پر آس سپور شو. لږ وروسته دواړو خپل آسونو ته حرکت ورکړو. د آسونو د پښو غږ د کمپ چوپتیا او ارامي د څو شېبو لپاره ګډه وډه کړه. او بیا چوپتیا بېرته پرې خپره شوه.دواړه په بیړه سره سپاره روان وو.

دوی د چنګیز خان کمپ ته د رسېدو لپاره بېړه لرله. دا یو مأموریت و، بالخاش نور د تېښتې اراده نه لرله. وضعیت داسې و چې که یې د تېښتې لاره غوره کړې وای، امکان یې درلود چې سونک به ورته د تېښتې لاره بنده کړې وای. سونک یو تېز ذهنه او تکړه سوار و، چې د بالخاش په تعقیب کې و او یوازې د یوه آس واټن ترمنځ واټن ورسره و. بالخاش چې دا حال یې ولید، د تېښتې فکر یې له ذهنه وباسه. ده ګمان وکړ چې ګواکې د اترار پر لور روان دی.بالخاش نه یوازې د مغولانو د له منځه وړلو فکر کاوه، بلکې غایر خان او ایلي هم هېر کړې نه وو. د هغوی د غچ اخیستلو فکر ده ته ارامي نه ورکوله. یو یې د ناوړه کارونو له امله وژل غوښت، او بل یې د وطن سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیانت له امله.

***

شپې ورځې وروسته، کله چې له غرمې څخه څه وخت تېر شوي وو، درې سپاره له لرې څخه ښکاره شول. د هغوی شاته دوړه او خاوره هوا ته پورته کېده. ډېر وخت نه و تېر شوی چې دغه درې سپاره د کمپ مخې ته راورسېدل. د لارې دوړې یې پر جامو ناستې وې.

د هغوی د لمر وهلې څېرو څخه ښکارېده چې ډېر وخت کېږي بې له دمې یې اسونه ځغلولی دی. دوه تنه یې "بالخاش" او "سونک" ول، او درېیم کس د چنګېز خان استازی و، چې "بغرا" نومېده. هغوی یې د سوباتای خیمې ته بوت، سوباتای چې بغرا ولید، په زړه کې یې وویل: بالاخره مونږ بریالي کېږو.
بغرا د لارې له ستړیا دومره ستړی و، چې د درېدو توان یې نه درلود. پر ځمکه کېناست او سر یې د خیمې ستن ته تکیه کړ.

سوباتای، چې په شونډو یې موسکا وه، وویل: مغول خان دې روغ وي،زمونږ کمپ ته ښه راغلاست بغرا.

بغرا هماغسې چې سترګې یې سوباتای ته نیولې وه، ویې ویل: زه مغول خان له خوا د سلطان محمد خوارزمشاه لپاره د یو پیغام وړونکې یم.
سوباتای په یو هوښیارانه خندا سره وویل: زما ګومان هم همدا و چې مغول خان به داسې تجربه‌لرونکی سړی لکه ستا دې ماموریت ته راواستوي.
بغرا- مغول خان زمونږ د سوداګرانو د وژل کېدو له امله سخت غصه شوی دی. او زما له لارې یې سلطان ته پیغام استولی دی، چې غایر خان ورته وسپاري.
سوباتای، چې د خیمې په منځ کې د بغرا مخې ته ولاړ و، په لوړ آواز وخندل او ویې ویل: دا هماغه څه دي چې زه یې غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغرا په حیرانتیا سره وپوښتل: ستاسو مطلب څه دی؟
سوباتای- ته بریالی کېدلی نه شې.
بغرا- ته د کوم خوا خبر یې؟
سوباتای- غایر خان د ترکان خاتون، د سلطان محمد د مور، وراره دی. او ناشونې ده چې سلطان به د مغول خان پیغام ته مثبت ځواب ورکړي.

بغرا چې یو ساده او له چل و فریب څخه لرې سړی و، وویل: که ستا اټکل سم وي نو مغول خان به مجبور شي چې چوپ پاتې شي ...
سوباتای- ته ولې نه وایې چې هغه به مجبور شي حمله وکړي؟!
بغرا- خو د سلطان محمد پوځونه زموږ له پوځونو څخه څو چنده زیات دي.
سوباتای وخندل او ویې ویل: حتی د مغول خان هم هغه یو ځواکمن او بااقتداره سلطان ګڼي،خو د جګړې پر مهال به معلومه شي چې ریښتینی قدرت له چا سره دی.

هغه دواړه د لمر تر لوېدو پورې د سوباتای په خیمه کې په خبرو بوخت وو.
بالخاش د «بغرا» له ماموریت څخه خبر و او په دی هم پوهېده چې سلطان محمد به د مغول خان غوښتنه ونه مني، او بالاخره به هغه وېروونکې جګړه رامنځته شي کوم چې هغه یې وړاندوینه کړې وه.

یوازینی امید یې دا و، چې سوباتای به د «بغرا» سره یو ځای دې هم ماوراءالنهر ته واستوي. دا د بالخاش لپاره یو ارزښتناک فرصت و، تر څو وکولی شي خپل د تېښتې پلان عملي کړي او د انتظار پای ته ورسوي.خو کله چې د هغې شپې سهار راغی، او «بغرا» د تګ لپاره تیار شو، د بالخاش نوم یاد نه شو.
سوباتای درې تنه خپل مامورین د «بغرا» سره یو ځای واستول.

بالخاش تقریباً مطمئن شو چې سوباتای د مغولو د سوداګرو د وژل کېدو له امله شکمن شوی، او فکر یې کړی چې که هغه بالخاش د «بغرا» سره د سلطان محمد حضور ته واستوي، کېدای شي د مغول خان د استازي ژوند په خطر کې واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د مغول خان د استازو کوچنی کاروان روان شو، سوباتای خپل مخ بالخاش ته واړاوه او ویې ویل:

زه وبړېدم که تا خوارزم ته واستوم نو باید ستا د وژل کېدو خبر ته منتظر پاتې شم. نو ځکه ما غوره وبلل چې تا همدلته وساتم، ځکه زه نه غواړم خپل یو زړور او تجربه‌لرونکی سرتیری له لاسه ورکړم.

بالخاش په زغم سره وویل: که تا زه د هغوی سره استولې واې نو ما به خامخا باور کړی واې چې ستا هدف زما وژل دي.
سو باتای په زیرکانه توګه وخندل او ویې ویل: لکه چې تا د غایر خان د وژلو فکر له ذهن څخه ویستلې دی!؟
بالخاش- نه، هېڅکله هم نه، که مې لاس پرې ورسېږي امان به ورنکړم.
سوباتای- هغه ورځ نږدې ده، او ښایي موږ دواړه هغه ته امان ورنکړو.
هغه لږ څه چوپ شو، بیا ویې ویل: تر هغو چې بغرا بیرته راځې ته به په کمپ کې پاتې شې او استراحت به وکړې.

بالخاش بېرته خپل خېمه ته ستون شو. د خپل هېواد د ویرونکي جنګ له فکره نه شو وتلای. هغه مغولان پېژندل او د هغوی له بې‌رحمۍ او جګړو سره آشنا و.

بالخاش هر سهار له سوباتای او څو نورو سرتیرو سره د ښکار لپاره له کمپ څخه وتلو او ماښام بېرته راتلل.څلور اونۍ وروسته، د یو پسرلني سهار و چې یو سورلی چې په تېز رفتار سره سورلی کاوه، د سوباتای کمپ ته داخل شو.

په هغه وخت کې سوباتای د ښکار لپاره له کمپ څخه وتلی و، او کله چې له خپلو ملګرو سره بېرته راستون شو، ورځ پای ته رسېدلې وه او هوا تیاره شوې وه. هغه ته د هغه سړي د راتګ خبر ورکړل شو، او سوباتای امر وکړ چې سړی دې خېمې ته راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ وروسته یو ساتونکی د بالخاش خېمې ته راغی او ورته وېې ویل چې سوباتای هغه غوښتي

بالخاش چې د ښکار له سترپیا څخه د خپلې خېمې پر فرش پرېوتی و، پاڅېد، له خېمې ووت او له ځانه سره یې وویل: بېشکه دا ځل به ما ماوراءالنهر ته استوی.
خو کله چې د سوباتای خېمې ته داخل شو، هلته یې یو نا اشنا سړی ولید.
سوباتای مخ د بالخاش خوا ته کړو او ویې ویل: بغرا او د هغه ملګري به نور بېرته نه راګرځي.

بیا داسې حال کې چې نظر یې د هغه راغلې سړي پخوا کاوه وویل: دا ځل سلطان محمد خپل ژوند او خپل حکومت دواړه په خطر کې واچول. هغه د مغولو د استازو په وژلو سره دا ثابته کړه چې دی هم له غایر خان څخه په کمه نه دی.
بالخاش چې دا خبر واورېد، حیران شو او وې ویل: نه، دا خبر دروغ دی.
سوباتای هغه سړي ته اشاره وکړه او وې ویل: نه زه او نه ته، هیڅ یو مو دا سړی مخکې لیدلی نه دی. دا یواځې د پیسو لپاره دلته راغلی، تر څو دا خبر راته راوړي.

بالخاش هغه سړي ته ور نږدې شو او پوښتنه یې ترې وکړه: ته له کومه پوه شوې چې د مغولو استازي وژل شوي؟
سړي وویل: زه له پلازمینې څخه راغلی یم. د سلطان محمد په امر هغوی وژل شوي. ټول ښار پرې خبر دی.

بالخاش لږ شاته شو او وې ویل: دا وېرونکی جنګ رانږدې کېږي.
سوباتای وویل: دا وېرونکی جنګ خو هغوی پیل کړی دی، غایرخان او سلطان محمد .. بیا لږ شیبه چوپ شو، بیا یې وویل: زه پخوا پر تا شکمن شوی وم او فکر مې کاوه چې تا سوداګر وژلي دي، خو اوس زما زړه له تا ډاډه شو.
بالخاش حیران شو او وې ویل: ولې دې پر ما شک درلود؟! زه هغه وخت خپل پر ژوند لا وېرېدلم، هر وخت امکان درلود چې جاسوسان ما وپېژني او ومې نیسي، نو زه به څنګه په هغه بد حالت کې خپل د دوستانو سره خیانت وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای په یو نرم مسکا سره وویل: مهمه نه ده چې په اترار کې څه تېر شوي دي، مهمه دا ده چې زه نور پر تا بد ګمان نه یم او ته کولی شې، خپل خیمې ته لاړ شې خو ها! دا هم پوه شه چې هېڅکله دې ذهن ته د زموږ له کمپ څخه د تېښتې فکر لاره و نه مومي.

بالخاش، پداسې حال کې چې ورته کتل وویل: تېښته د څه شي لپاره؟ نه! دا ناممکنه ده چې زه به په خپلو پښو د مرګ هرکلي ته لاړ شم.
سوباتای وویل: واوره بالخاش، ته اوس د یو مهم راز څخه خبر شوی یې او پوهېږې چې ډېر ژر به زموږ پوځونه د ماوراءالنهر پر خاورې یرغل وکړي. که ته خپلې خاورې ته تېښته وکړې، زه به هېڅکله تا ملامت نه کړم، ځکه هغه ستا وطن دی. یوازینی کار چې زه یې کولی شم، هغه دا دی چې ستا جسد به د اترار د دروازې ترشا وغورځوم، ترڅو غایرخان یو مړی جنګ ته بوځي، ځکه زه تا ژوندی هغه ته نه ورکوم.

بالخاش- باور وکړه، زه هېڅکله تېښته نه کوم.
سوباتای- زه پوهېږم چې ته به دا ډول حماقت نه کوې.

بالخاش بېرته خپل حالت ته راستون شو. هغه ډاډه و چې سلطان محمد د خپلو نظامي امیرانو په مشوره د چنګیز خان د استازو د وژنې حکم ورکړی دی، او شک نه و چې د سلطان محمد پوځ د دوزخي مغولو له عسکرو ډېر دی، او هغوی به په لومړۍ جګړه کې ماته کړي. بالخاش دا هر څه چې پخپل ذهن کې حساب کړي وو، یوه نه انکارېدونکې حقیقت وه.

خو هغه یوې مهمې نکتې ته پام نه و کړی، او هغه د سلطان محمد کمزورتیا،شک او تردید او د یوه ښه پلان نشتوالی، او د امیرانو تر منځ د اتحاد نشتوالی و. دا بېکفایتې او ګډوډي په څرګنده سره لیدل کېده.

***

د جمادیالثانی 616 هجرییوه مازیګر و، چې د قپچاق په دښته د مني ژیړ رنګ لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرک اچاوه، او یو نرم باد چلېده او دښته لا هم ارامه او خاموش وه، خو تر شا یې خونړي پېښې رواني وې. بالخاش له څو تنو مغولو سره چې هر یو یې نامتو جنګيالي وو، په خپل خیمه کې په خبرو بوخت و. د هغه مغولي دوستانو په غرور سره د خپلو اتلولیو او د جګړو کیسې کولې چې ورسره مخ شوي وو.

کله چې نوبت د بالخاش شو، هغه د یوې جګړې کیسه وکړه چې په "هر سبان" کې شوې وه، او بیا یې د احمد آق سو پیښه بیان کړه، چې غوښتل یې هغه ووژني...

یوه مغول بالخاش ته مخ کړ او ویې ویل: موږ دلته په همدې کمپ کې ستا او د اولجای ترمنځ د یو په یو جګړې ننداره وکړه، او وموليدل چې تا څنګه د هغوی وینه توی کړل.

بل وویل: کله چې ته او اولجای میدان ته لاړئ، ټولو فکر کاوه چې ته به ووژل شې.
یو بل په خندا سره وویل: زه اوس باور لرم چې که ته زموږ له څو تنو سره په یو ځل هم جګړه وکړې نو بريالی به شې.
بالخاش په سکون سره وویل: ښه به دا وې چې و وایست  زه به وژل کیږم، ځکه چې تاسې بې ساري او ځواکمن جنګيالي یاست او د جګړې هنرونه ډېر ښه پېژنئ.

یو له هغوی نه وغوښتل چې څه ووايي، چې ناڅاپه یو ډول شپیلک او غږ پورته شو، چې تر هغې ورځې هېڅا نه وو اورېدلی. هغوی یو بل ته وکتل.
بالخاش وویل: زما ګومان دی چې یو مهم څه پېښ شوی دی.
هغه سړي چې د هغه تر څنګ ناست و، وویل: ډېر وخت کېده چې دا غږ مې نه و اوریدلې.

ټول لځایه پاسېدل او بیرون ولاړل د کمپ حالت تغیر موندلې و او بیحد شور ماشور او هله ځلې لګیا وه، بالخاش او د هغه ملګري د خیمې مخې ته ولاړ وه بالخاش د یو تن ساتونکي څخه چې په تلوار د دوي د وړاندې څخه تېرېدی وپوښتل: څه خبره شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکي داسي حال کې چې روان وو د بالخاش ځواب په لوړ غږ ورکړو او ویې
ویل: مغول خان له خپل لښکر سره دلته را روان دی.
بالخاش په ارامه وویل: خامخا یو لویه جګړه را روانه ده.
د هغه مغولي ملګرو وخندل یو تن یې وویل: ښېشکه چې د مغول خان هدف د ماوراء
النهر نیول دي.
هغه ورو ورو لاس د بالخاش پر اوږه کېښود او زیاته یې کړه: خپه کېږه مه بالخاش،
ته زموږ له ډلې یې. هغه ځای نور ستا وطن نه دی.

بالخاش چې سترګې یې ځمکي ته ټیټې کړې وه وویل: خو هغه زما د زیږېدو ځای
دی، او تاسو غواړئ چې زما وطن په وینو او خاورو برابر کړئ.
بل سړي وویل: دا ستا د وطن سر انجام چې هغه د یو سترې جګړې خوا ته بیا یې.
هغوی ټول وخندل او له بالخاش څخهه جلا شول ...

بالخاش احساس وکړ چې هغه جګړه چې له ډېرې مودې راهیسې یې وړاندوینه
کوله، بالاخره رانژدې شوې ده.اوس څه وکړي؟ بېرته اترار ته لاړ شي او د مغول خان
د لښکر د یرغل په تمه کښېني او له خپلو هېوادوالو سره اوږه په اوږه وجنګېږي؟
خو هغه دا غوره ګڼله چې د مغول خان په کمپ کې پاتې شي او له هغوی سره جګړه
وکړي، څو وکولی شي د تخریب کوونکو عملیاتو له لارې د هغوی پلانونه تر ډېره
حده ګډوډ کړي.

هغه له دې لارې ښه ضربه ورکولای شوه.په اترار کې جلاد د هغه په تمه ناست و، او
که هغه هلته رسېدلې وایې او خلکو پېژندل وای نو نه یوازې دا چې د هغه خبرې به
یې نه وای منلې بلکې د تېښتې او خیانت په جرم به یې هغه مړ کړی وای. بالخاش
په داسې حال کې چې د ماوراء النهر پر خاوره یې فکرونه کول حرکت یې وکړ.
د کمپ هغې بلې غاړې ته شور ماشور و. د سوباتای د کمپ سرتېري هلته راټول شوي
وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې بالخاش له هغوی سره یوځای شو، په افق کې یې ولیدل چې د مغول خان لښکر را روان دی، او د هغوی تر شا یو درووند دوړو او خاوره اسمان ته پورته شوی ده.
بالخاش له ځانه سره یې وویل: سلطان محمد هېڅکله نشي کولای د دې ویجاړوونکي سېلاب مخه ونیسي. دا مغولیان چې هر ځای ته ورسېږي، هغه ځای به له خاورې سره یو کړي او د وینو ویالې به وبهوی

د ده نظر سوباتای ته ولګېد، چې د سپاهیانو په لومړي کتار کې ولاړ و، څو د مغول خان هرکلی وکړي. د مغول خان د لښکر سېلاب د سوباتای قرارګاه ته را ورسېد. د خوښۍ نارې راپورته شوې. ځمکه د آسونو تر پښو لاندې لړزېده. چنګېز خان د سردارانو د قطار مخې ته، چې سوباتای په سر کې ولاړ و، له آس څخه را کوز شو. زامن یې هم ورسره وو.

لومړۍ خبره د چنګیز خان سوباتای ته وه د هغه خوا ته یې وکتل او ویې پوښتل: هر څه چمتو دي، سوباتای؟
سوباتای لږ خپل سر ټیټ کړ او ویې ویل: هو ټول چمتو دي او یوازې د چنګیز خان د حکم په انتظار دي.
چپه نویان د چنګیز خان بل جاسوس چې د هغه تر شا ولاړ و، له زېرکۍ سره موسکی شو او ویې ویل: لمر د وینې رنګ غوره کړی دی.
چنګیز خان لږ غاړه کړه کړه او د سترګو له کونجه یې هغه ته وکتل او ویې ویل: خو د قپچاق دښته لا هم خاموشه ده ... د چنګېزخان مطلب دا و، چې جګړه لا نه ده پیل شوې.

چنګیز خان د سوباتای، چپه نویان او خپلو زامنو سره یوځای هغه ځانګړې خېمې ته لاړ، چې د ده لپاره چمتو شوې وه، څو هلته د ماوراءالنهر د یرغل نقشه له دوی سره یو ځای وڅېړي.هغه د مغولي سوداګرو او خپل استازی د وژل کېدو له امله ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوسه و، او یوازې یوه ستره حمله، چې نقشه یې لا وړاندې چمتو کړې وه، کولی شول د ده د غصې اور مړ کړي.

هغه یو فاتح امپراطور و، چې تر هغه وخته یې د ماوراءالنهر هاخوا ټول نظامي ځواکونه، که لوی وو که کوچني، ټول مات کړي وو او یو ستر امپراتوري یې رامنځته کړې وه او اوس وخت د دې را رسېدلی و چې د خپلې امپراتورۍ سرحدونه تر هغې کچې وغزوي چې ځواک یې رسېږي، د ماوراءالنهر سیمه د دې پراختیا لپاره لومړۍ نښه وه. سلطان محمد، پرته له دې چې د خپلو کړنو پایله په پام کې ونیسي، د چنګېز خان استازي ووژل، او د دې کار سره یې د تاریخ بهیر بدل کړ او د مغولو د لښکرو سیل یې د ماوراءالنهر پر لور راواړاوه او د دغه ځای خاوره یې د زرګونو انسانانو په وینو سره رنګینه کړه.

سره له دې چې د سلطان محمد پوځ له نظره د مغولو له پوځ څخه شمېرًا ډېر و، خو د هغه د سردارانو ترمنځ د یووالي نشتون له هماغو لومړیو ورځو څخه د ماتې نښې ښکاره کړې وې. هغه د خپلې مور، ترکان خاتون، تر نفوذ لاندې و او پخپله یې دومره واک نه درلود. بالخاش چې یو وخت د اترار د امیر د ساتونکو مشر و، د سلطان محمد د پوځي ضعف نه ښه خبر و. د دې څرګنده بېلګه غایرخان و، د اترار امیر، چې پرته له دې چې خان ته شتمني راټوله کړي، بل هېڅ هدف یې نه درلود.

کله چې چنګیز خان خپل د ملګرو سره هغه خیمې ته لاړو کوم چې د ده لپاره تیار کړی شوی وه، بالخاش داسې حال کې چې خپل په فکرونو کې ډوب و په کرار قدمونو د هغه ځای لری شو ...
بالخاش ناساپه په دی فکر کې شو چې د سوباتای د کمپ څخه وتښتي او ځان اترار ته ورسوی او په یو داسې طریقه چې د ده ژوند په امان کې وی غایر خان د قبچاق د دښتی او د مغول خان د پلان څخه خبر کړي،بالخاش که څه هم زښت کرکه او نفرت د غایر خان څخه درلود خو اوس دا ګړې چې د ماورالنهر خاوره یې په خطر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لیدل نو د هغه ملې غرور ورته دا اجازه نه ورکاوه چې خپل د شخصي غچ لپاره دې خپل خاورې ته شا کړې.

هوا کرار، کرار مخ په تیاره کېدو وه، بالخاش داسې پلان جوړ کړې و چې هر کله د شپې خاموشي ټول کمپ باندې وپیچل شې او ټول ویده شې نو دې وتښتې، هغه وخت چې بالخاش د تیښتې پلان جوړو چنګېزخان خپل د کسانو سره د ماوراءالنهر سیمې د یرغل نقشه څېړله او د لومړیو بریدونو هدفونه یې په نقشه کې ټاکل.

د اترار ښار چې تقریباً په پوله موقعیت درلود، د مغولو د پوځ د یرغل لومړی هدف ګڼل کېده. چنګېز خان د ماوراءالنهر سیمې د یرغل لپاره داسې پلان جوړ کړی و چې ښارونه لکه اترار، بخارا، جند، خجند او بنکب (بنا کب) د دغه پلان لومړني هدفونه وو.د هغه استخباراتي سازمان چې یو ځانګړی جوړښت یې درلود، د سوباتای او چپه نویان په مشرۍ، د سلطان محمد خوارزمشاه د پوځ په اړه تر ټولو دقیق معلومات چنګېز خان ته برابر کړي وو.چنګېز خان حتی د خوارزمشاه د پوځ شمېر او د ښارونو د استحکاماتو په اړه بشپړ معلومات درلودل.

هغه تر هغو چې د خوارزمشاه د پوځ په اړه استخباراتي معلومات نه وو ترلاسه کړي، دومره ډاډه نه و او وېره یې لرله چې ښایي لومړی ځل د ماتې خوند وڅکي.خو کله چې د سوباتای جاسوسي شبکې دقیق معلومات د خوارزمي پوځ د وضعیت په اړه ترلاسه کړل او چنګیز خان ته یې وسپارل، نو هغه نږدې یقیني شو چې بریا به د ده شي، او ښارونه به یو تر بل پسې ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای حتا د خوارزمشاه د نظامي قوماندانانو په اړه شخصي معلومات ترلاسه کړي وو او د هغوی له روحیې خبر و.د چنګېز خان د جګړو د نقشو اصلي بنسټ دا معلومات وو چې د هغه جاسوسي سازمان ورته برابرول، او دی به د خپلو جاسوسانو پر معلوماتو تکیه کوله، او بریدونه به یې پر هماغه اساس پلانول.په هغه شپه چنګېز خان خپل پوځ په څلورو برخو وویشه تر څو له څلورو خواوو د ماوراءالنهر پر خاوره یرغل وکړي.په اصل کې دا برید له هغو ښارونو څخه پیل شو چې د سیحون سیند ته نږدې وو. دا ډول برید چې د دښمن پر خاوره له څلورو خواو حمله پیل شي، په تاریخ کې تر هغه وخته بې سارې و.

د هغه دوه زامن، «جغتای» او «اوګدای» ته د اترار ښار د نیولو ماموریت و سپارل شو، د چنګېز خان بل زوی «جوجي» ته د جند د نیولو دنده وسپارل شوه، او بل زوی یې «تولوي» د هغو قواو مشري کوله چې د خجند او بناکت د نیولو لپاره چمتو شوې وې. پخپله چنګېز خان د هغه پوځ مشري کوله چې د اترار د نیولو لپاره ټاکل شوی و. دوه سوه پنځوس زره جنګیالي د یوې خونړۍ جګړې لپاره د مغول خان د حکم پر بنسټ چمتو وو، تر څو خپلې سترې حملې ته پیل ورکړي او د ماوراءالنهر خاوره په وینو ولړي.

شپه نیمایي ته رسېدلې وه، چې د چنګېز خان سردارانو له ده سره د ناستې نه وروسته له خېمې ووتل او هر یو خپلې خېمې ته لاړ. مغول خان یوازې پاتې شو، کمپ د شپې له سکوت او آرامۍ سره ډوب و. بالخاش لا هم ویښ و، او د خپل تېښتې پلان په اړه یې سوچ کاوه. څو ساعته کېده چې له خپلې خېمې څخه نه و وتلی. کله چې یې احساس وکړ چې د تېښتې وخت رارسېدلی، پاڅېد، خپله توره یې پر ملا وتړله، او ورو ورو له خپلې خېمې ووت.

هر څه تیاره، تیاره وو. هغه حتی د اس په ترلاسه کولو لپاره یو دقیق پلان جوړ کړی و، چې د «سوباتای» له نوم نه په ګټې اخیستنې یو آس ترلاسه کړي.څو شیبې د خپلې خېمې مخې ته ودرېد، او بیا یې تګ پیل کړ. څو ګامه چې مخکې لاړ، ناڅاپه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو سرېي غږ پورته شو، چې په قاطعیت سره یې وویل: همدلته ودرېږه بالخاش، له ځایه دې قدم مه اخله.

بالخاش د هغه کس په داسې آمرانه او ګواښوونکی غږ باندې ناڅاپه ټکان وخوړ، تر دې دمه یې هیڅوک شاوخوا نه وو لیدلي. فکر یې وکړ چې ساعتونه یې خېمه تر څار لاندې وه او دی خبر نه وو، همداسې چې پر ځای ولاړ و، وپوښتل: ته څوک یې؟

له شا نه د هغه سرېي د پښو غږ پورته شو، چې دا امر یې کړی و. لږ وروسته هماغه سړی چې د سوباتای له پټو کسانو څخه و، لاس یې د بالخاش پر اوږه کېښود او وپوښتل: دې وخت شپه کې چېرته روان وې؟
بالخاش پرته له دې چې و ډار شي یا شک وښیي وویل: د سوباتای لیدو ته ورتلم.
سړی- امممم د شپې نوم؟
بالخاش- نه پوهېږم.
سړی- نو زه تا نیسم.
بالخاش- خو باید سوباتای ته خبر ورکړې.
سړی- روان شه.

هغه سړی، بالخاش د سوباتای د خېمې پر لور بوتلو، په لاره کې بالخاش یوه کیسه پخپل ذهن کې جوړه کړه ترڅو سوباتای ورباندی قانع کړی شی.

د سوباتای د خېمې څراغ لا روښانه و...
کله چې ورته وویل شول چې بالخاش یې له خېمې دباندې نیولی، یو څه حیران شو.
«چپه نویان» چې په خېمه کې ورسره و، وویل: شاید بالخاش د تښتېدو اراده لرله؟
سوباتای په یو کمزوری موسکا سره وویل: شاید، خو هغه تر نظر لاندې و.
بیا یې خپل مامور ته وویل: بالخاش را دننه کړئ.

لږ وروسته بالخاش خېمې ته دننه شو...
سوباتای ورنږدې شو او د بالخاش سترګو ته یې په ځېرې، ځېرې وکتل او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما فکر کاوه چې ته به کرار بیغم په دی وخت د شپي کې ویده یې؟!
لنډ خاموشي اختیار کړل او بیا یې وپوښتل: چیرته روان وې؟
بالخاش په آرامۍ سره وویل: اترار ته.

سوباتای بې اختیاره یو تکان وخوړ او د چپه نویان خوا ته یې وکتل او بیا یې په تعجب سره ووېل: اترار!!... نو تا د تښتېدو نیت درلود؟ ته پخپله پوهېږې چې د یو عسکر یا مامور د تښتې سزا بیله مرګ بل شې نشې کیدلی.

بالخاش- زه ډېر وخت کېږي چې مړ یم. بالکل په هماغه ورځ چې غایر خان زه زندان ته واچولم، ما اراده درلوده چې ستا د کمپ څخه وتښتم او ځان اترار ته ورسوم، تر څو د مغول خان د یرغل پر مهال یو خدمت وکړی شم، او له دې لارې له غایر خان څخه خپل انتقام واخلم. ما بله هېڅ موخه نه لرله.تاسو زما د تېر ژوند نه خبر یاست، او پوهېږئ چې غایر خان زما د میني د اخیستلو لپاره زه د دروغو یو ماموریت ته واستولم او غوښتل یې زه د خپلو مامورینو له لاسه ووژل شم، خو خدای ونه غوښتل چې دا دسیسه بریالۍ شي،زه ژوندی پاتې شوم تر څو هغه ته د هغه د کړې بد کارونو سزا ورکړم. ما بله هېڅ موخه نه لرله.

سوباتای د سترګو له کونج څخه د چپه نویان خوا ته وکتل او احساس یې وکړ چې له داسې سړي سره مخ دی، چې تر اوسه یې په خپلو مامورینو کې ساری نه و لیدلی.

چپه نویان خپل چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: ته د سوباتای له مامورینو څخه یې، او که تا دا ډول نیت درلود، باید له هغه سره دې شریکه کړې وایچ.

بالخاش چې په قاطعیت او ټینګار سره خبرې کولې، وویل: زه پوهیدم چې سوباتای به زما له غوښتنې سره موافق و نه اوسیږی نو ځکه مې پخپله نقشه جوړه کړه.
سوباتای لږ ارام شو او ویې ویل: ستا دا جوړ شوی نقشه به له دې سره ختمه شوې وای چې ته به په اترار کې د غایر خان یا د هغه د کسانو لخوا وژل شوی وای. تا یوازې ځان څنګه غوښتل زموږ له لښکر سره مرسته وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې د دې پوښتنې وړاندوینه یې کړې وه، وویل: یوازینی کار چې ما کولای شو، دا و چې د ښار یوه دروازه مې ستاسو د لښکر پرمخ خلاصه کړې وای، او همداسې چې ستاسو قواوې ښار ته ننوتلې، ما به ځان دارالحکومی ته رسولی وای او غایر خان به مې وژلی وای. خو اوس چې تاسې زه نیولی یم اختیار له تاسې سره دی. ته یو ځواکمن سړی یې او هر وخت کولای شې زما د وژنې حکم ورکړې. خو زه...زه د هغې ورځې په تمه یم چې زما سترګې د خان سلطان په لیدو روښانه شي او د مرګ مخکې یو ځل وګورم.

د هغه خبرې په سوباتای باندې داسې اغېزه وکړه چې هغه یې مهربانه کړ، او د پخواني عادت مطابق یې خپل لاس د بالخاش پر اوږه کېښود او په آرامه او دوستانه لهجه یې ورته وویل: ما هېڅکله فکر نه وکړی چې ته به زما تر ټولو تکړه مامورینو له ډلې څخه شې.هغه ورځ چې تا د اترار د سوداګرو د وژل کېدو خبر راوړ، زه ستا په زړورتیا باورمند شوم. ما فکر کاوه کېدای شي ته د مغولو د یرغل د نقشې له خبرېدو وروسته وتښتې.نو د همدې لپاره مې امر وکړ چې پر تا نظر وساتې، او دا کار مې پر خپل وخت وکړ، ځکه بې‌شکه زما غوږ ته به ستا د وژل کېدو خبر ستا د تیښتې د خبر څخه ډېر غوره وای.

چیه نویان سوباتای ته مخ واړاوه او ویې ویل: که هغه نقشه چې بالخاش جوړه کړې ده سم عملي شي، نو زموږ لپاره به ډېره ګټه ولري.
بالخاش د تېښتې لپاره بله پلمه وموندله. هغه د بدرالدین عمید د پلار او تره د وژل کېدو یاد تازه کړو هغوی چې د خوارزم‌شاهي دیوان خلک وو او په اترار کې اوسېدل، او د سلطان محمد خوارزمشاه په امر وژل شوي وو.

بالخاش وویل: په اترار کې یو سړی دی په نوم د بدرالدین عمید،چې د خوارزم‌شاهي دیوان غړی دی. د هغه پلار او تره د سلطان محمد په امر وژل شوي، او زه باور لرم چې اوس چې مغول خان د ماوراءالنهر د نیولو په هڅه کې دی، له بدرالدین عمید

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه چې د تښتېدو مناسب فرصت لټوي، ګټه اخیستلای شئ. زه دا ماموریت له زړه د تل منلو ته تیار چې اترار ته لاړ شم او بدرالدین د مغول خان له ملاتړه خبر کړم.

سوباتای په لوړ غږ وخندل، بالخاش حېران شو او ورته وکتل.
چیه نویان وپوښتل: څه خبره ده؟
سوباتای وویل: دا باید ښه نښه وبولو ځکه څو ورځې مخکې بدرالدین مغول خان ته یو لیک را استولی و، او هغه کې د سلطان محمد د نسکورولو لپاره مرسته غوښتې وه او خپل د صداقت او اخلاص په اړه یې مغول خان سره خبرې کړې وې. موږ د هغه په ګټه ځواب ورکړ.زموږ استازی اوس په لاره دی او ډېر ژر به اترار ته ورسیږي.

بیا یې بلخاش ته مخ واړاوه او ویې ویل: ته باید زموږ استازی وپیژنې، هغه هغه ښوک دی چې ته یې له مرګه وژغوری؟! زما مطلب ایلی ده د هرسبان د شراب خانې ښخه.

بالخاش په حیرانتیا سره وویل: خو ما هغه زموږ په کمپ کې ونه لیده؟!
سوباتای- دلته نه ده راغلې ما د همغه هرسبان ښخه هغې ته ماموریت ورکړو.

بالخاش لځانه سره وویل: کاشکې ما هغه شپه ایلی وژلی وای، کوم شپې باندی چې هغې ماته منفي ځواب راکړ نو نن به یې د دې وینې تږې کس لپاره جاسوسي نه کوله...
سوباتای په خندا وویل: خاموش شوی بالخاش! داسې ښکاري چې دا خبرو خوند درنکړو؟
- ما د دې خبرو تصور نه کاوه.
چپه نویان وویل: په دې توګه، زموږ د ځواکونو لپاره اترار ته د ننوتلو لاره آسانه کیږی.

سوباتای- هو، هلته داسې کسان شته چې په پټه د سلطان محمد مخالفت کوي،او هرڅومره ژر چې موږ د اترار ښار دیوالونو ته ورسیږو، هغومره به دوی زموږ د ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلاست لپاره زمونږ ځواکونو ته دروازې پرانیزي، او بالخاش به د غچ اخیستلو لپاره فرصت په لاس راوړي.

بیا یې بالخاش ته مخ واړاوه او ویې ویل: خپل خیمې ته لاړ شه او آرام وکړه او هو د تېښتې فکر خپل د ذهن څخه لرې کړه، اراده مې درلود چې د لمر راختلو سره ستا سر پرې کړم خو اوس ورڅخه تیر شوم ورځه.

بالخاش پرته له څه ویلو د هغه ځایه ووته او خپل خیمې ته لاړ. د هغه د تښتېدو پلان ناکامېدل هغه خپه کړی و. هغه خپل هېواد لپاره ژوند په خطر کې اچولی و، خو هغه ولیدل چې د هغه هڅې بې پایلې دي او سوباتای په ځیرکۍ سره د هغه چلند څاري. هغه ته په دې وخت کې هیڅ لار نه وه پاتې بغیر له دې چې تسلیم شي. خو بالخاش د تښتېدو فکر له ذهنه و نه باسلې شو. هغه چې کوم معلومات راټول کړي وو او په دې پوهېدلې و چې مغول خان د ماوراءالنهر د برید لپاره چمتو شوی. نو زړه یې نه منل چې آرام کښېني او مغولانو ته وګوري چې د ده پر خاوره برید کوي.

دا ځل یې پریکړه وکړه چې په هر ډول چې کیږي د مغول خان د لښکر څخه وتښتي او خپل خان اترار ته ورسوي.هغه په ذهن کې ګڼ پلانونه جوړ کړي وو، که چېرې د تښتېدو پلان بریالی شي، شاید نورې بریاوې هم ترلاسه کړي. خو مهم دا و چې د سوباتای د لښکر څخه وتښتي او د قپچاق د دښتي څخه تېر شي.

شپه نیمه تېره شوې وه چې بالخاش د هغه ساتونکي سره چې په حقیقت کې د ده د څارنې دنده درلوده، خپل د خیمې پخوا روان شو. په لاره کې یې په یو چال فکر وکړو، د هغه برید به دومره خطرناک و چې ممکن شاید د تښتېدو لاره پرانیزي، خو که بیا ونیول شو نو سوباتای به یې بغیر د کوم زړه سواندي څخه هغه په ظالمانه ډول ووژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د بالخاش خیمې ته ورسېدل، ساتونکي ورته وویل: کوښښ وکړه چې بیا و نه ننښتېږې.

بالخاش په کلک غږ وویل: زه تل د سوباتای په خدمت کې یم.
ساتونکي وخندل او ورته وویل: هماغه وخت چې ته له خیمې څخه را ووتلې زه پوه شوم چې ته د ننښتېدو په فکر کې یې، ته زموږ لپاره یو بیگانه کس یې.
بالخاش لږ تم شو او بیا ویې ویل: زما لپاره دا مهمه نه ده چې ته زما په اړه څه فکر کوې، یوازینی مهم څه دا دی چې سوباتای ما خپل د خلکو څخه گڼې او دا زما لپاره بسنه کوی.

ساتونکي- خیمی ته دې ننوځه سهار ته دومره وخت نه دی پاتي.

بالخاش په ورو ورو قدمونو خپل د خیمې خوا ته لاړ، خو ناڅاپه بېرته راووت او په لوړ غږ یې وویل: ساتونکي! یو چا زما په خیمه کې یو نفر وژلې... د یو سړي جسد هلته پر ځمکه پروت دی!

ساتونکی په بېړه د هغه د خیمې پر لور روان شو، او همدا چې خیمی ته ننوت بالخاش ناڅاپه خپل دواړه لاسونه سره وتړل او مخکې تر دې چې ساتونکی د ده له چل ول باخبر شي،لاسونه یې پورته کړل او په سخت یې ساتونکي د شالخوا پر سر وواهه.مغولي ساتونکی خپل تعادل له لاسه ورکړ او مخامخ پر ځمکه ولوېد. خو ژر یې ځان راټول کړ،خو هماغه مهال بالخاش یو قوي لغته د هغه پر سینه و واهه او پر شا یې وغورځاوه. ساتونکی د درد څخه زگیروی وکړو سخت درد هغه له پښو اچولې وو او نور یې د پورته کېدو وس نه درلود.

بالخاش د باوري کېدو لپاره څو وارې د هغه سر پر ځمکه وواهه،ساتونکی بې‌حرکته پاتې شو داسې ښکارېده لکه چې مړ شوی وي.بالخاش د هغه لاسونه او پښې وتړل او توره یې د ملا څخه خلاص کړل او ورو ورو له خیمې ووت. کمپ په پوره سکوت او آرامی کې ډوب وه. د هغه خیمې شاوخوا کوم ساتونکی نه و.بالخاش ډېر ژر، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په احتیاط سره، د خیمو تر شا وګرځېد او ځان یې د آسونو ځای ته ورساوه، د هغه خطرناک حالت سره چې بالخاش درلود هره شیبه د دې وېره یې درلود چې ښایي ونیول شي.

بالخاش خپل د ټول دلاورتیا او شجاعت سره،سره وېرې او اضطراب نیولی و.
ماحول د خاموشي او وېرې ډک و. هغه د ډېر اندېښنې او وېرې څخه هره شېبه خپل شاوخوا ته کتل، همدا چې د لومړۍ آس رسۍ خلاصه کړه پر شا یې سپور شو او د کمپ څخه د وتلو د دروازې خوا ته روان شو، تر دې ځایه پورې یې پلان بریالی و، خو هره شیبه یې ویره او اضطراب زیاتېده، له کمپ څخه وتل یې ذهن ناارامه کړی و. یو ویرونکې غږ یې په غوږونو کې انګازې کولې او ورته داسې ښکارېده چې مغولي سرتېري یې شاوخوا محاصره کړی. پر مخ یې یخ خوله خوره وه.

د دې ټولو فکرونو با وجود هغه مخکې روان وو، نور یې د ژوند پروا نه درلوده کله چې د کمپ د وتلو دروازې ته ورنږدې شو، یو بل چل یې ذهن ته راغی. باور یې و چې ساتونکی به یې مخه ونیسي او د تېرېدو لپاره به ترې د شپې نوم پوښتنه وکړي..

– ودرېږه! څوک یې؟ ... د شپې نوم؟

دا د دروازې د ساتونکي غږ و، چې د یو څه شېبو لپاره د هغه ځای ارامي ګډوډه کړه، بالخاش پرته له دې چې څه ووایي، آس ودراوه، ناڅاپه له اسه ښکته شو او پر ځمکه بې حرکته وغځېد. مغولي ساتونکی چې د شپې د نوم د اورېدو تمه یې لرله، کله چې له دا ډول حالت سره مخ شو، دا یې وانګېرله چې یا زخمي سورلی دی، یا آس غورځولی دی. نو په منډه د بالخاش پر لور ورغی. کله چې د بالخاش پر سر ورسېد، وپوښتل: څوک یې؟

ځواب یې و نه اورېد، لږ یې ځان کوږ کړ، لاس یې پر اوږه کېښود او وخوځاوه... ناڅاپه بالخاش ځان وښوراوه، تیز لکه بریښنا، لاسونه یې د ساتونکي شاوخوا تاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل او د یوه چټک حرکت سره یې پښې راکش کړې، د ساتونکي تعادل ګډوډ شو او پر شا ولوېد. بالخاش په یوه ټوپ پرې ځان واچاوه او چاړه یې د هغه پر ستوني کې ښخ کړه.اوس یې خپل وروستی خنډ هم له منځه وړی و، او باید تر دې چې بل ساتونکی له پېښې خبر شي، له کمپ څخه تښتېدلې وای...

له ځمکې راپورته شو، پر آس سپور شو او پښې یې د اس لاندې کلکې کړې...

هغه اس تینګ ونیوه او په تېزۍ سره له کمپ ووت. میدان په یو وحشتناک تاریکۍ کې ډوب شوی و. د آس د پښو غږونو د دښتي هغه سکون او ارامي ماتول بالخاش په منډه روان و، هغه وېره لرله چې چابک مغولي آس سواران چې تېز اسونه لري د هغه تعقیب وکړي او هرسبان ته د رسېدلو مخکې به یې وینه توی کړي.

بالخاش پر یو تېز اس سور و او د قپچاق له څخه دښتي تېرېده، هغه د دې سیمې سره اشنا و نو ځکه په ګډوډ لارو تیریدو تر څو مغولان یې تعقیب نشې کړي، له یوې اندازې واټن وروسته اس یې ودراوه غوښتل یې وګوري چې څوک یې تعقیبوي که نه؟ دښته چوپ او ارام وه بالخاش یو ژور ساه واخېست او بېرته یې حرکت پیل کړ.
د سحر له رڼا سره، اس ساه لنډ وهل او بدن یې له خولو لوند خیشت شوی و.
بالخاش لا هم روان و نور یې خطر نه احساساوه او د شا لخوا یې اندېښنه نه لرله.

یوازې د اس لپاره اندېښمن و هغه اس چې بې‌وقفې یې د هرسبان پخوا روان کړې و، وېره یې لرله چې تر رسېدو مخکې به اس د ډېرستړیا له امله ولوېږي او دی به سرګردان پاتي شي.ساعتونه وشول چې هغه پر اس سور و د قپچاق دښته یې تر شا پرېیښې وه او اوس د ماوراءالنهر په خاوره کې و هغه پوهېده چې ډېر ژر به دا ارامه خاوره د وینو رنګ واخلې او د مغولي پوځیانو نارې، هغه د دوزخي زامن به د دې ځای سکون مات کړي.

هغه وخت چې ورځ کرار، کرار د تیارې غېږې ته تلل بالخاش د هرسبان ښار سیورې د افق په خاکستري رنګ کې ولید، هغه خپل د خولو څخه ډکه څېره په خپل لاس پاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، په وچو شونډو يې نرۍ مسکا راغله او ځان سره يې وويل: هر څنګه چې اوسيږي دا زما خاوره او زما وطن دی،که دلته مړ هم شم بيغم به اوسيږم ځکه ما به پخپل خاوره کې دفن کوی خو هلته، هلته د دوزخيانو ځمکه ده او د داسې خلکو چې د رحم په نوم څه نه پيژني.

د هغه فکر د ايلي د شراب‌خونې د نجلی خوا ته لاړو، هغه نجلۍ چې د مغولو لپاره به يې جاسوسي کوله. د ځان سره يې وويل: زه بايد هغې ته د هغې د خيانت سزا ورکړم.

د بالخاش د راتګ هدف هرسبان ته، د ايلي ليدل وو.خو هغه ته د سوباتای خبره ورياد شوه چې ورته ويلي وه ايلي د جاسوسۍ لپاره اترار ته تللې ده. فکر يې وکړ کيدای شي هغه ببرته راستانه شوې وي. هوا لږ تياره شوې وه چې بالخاش هرسبان ته ورسېد. هغه د شراب‌خونې شا ته طويلي ته لاړ نه بلکې بل طويله يې خپل د آس لپار انتخاب کړه چې د ښار څنډې ته و او له شراب‌خونې ډېر ليرې نه وه هلته لاړ،او لږ وروسته د شراب‌خونې په لور روان شو، ايلي ته د ورتګ لپاره. مطمئن نه و چې ايلي به و ويني او کنه؟! خو پريکړه يې کړې وه چې که يې وليدله نو د جاسوسۍ او وطن ته د خيانت په تور به يې ووژني.

کله چې شراب‌خونې ته نږدې شو، د مشتريانو غږونه يې واورېدل، د تل پشان لومړۍ شپه يې ياد ته راغله چې له احمد آق سو سره يوځای هلته داخل شوي وو... وروسته يې ټولې پېښې په ذهن کې تيرې کړې. ايلي يې يوه پاکه نجلۍ بلله، خو ناڅاپه له يوه ترخه او دردوونکي حقيقت سره مخ شو. ايلي د سوباتای جاسوسه!

دا خبره بالخاش ته ډېره سخته وه چې ومني، پښه يې مخکې نه تلله. د شراب‌خونې په دروازه کې څو شيبې ودرېد بيا ننووت، تر څو ايلي ووژني او د مغول خان يو بل جاسوس له منځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نشی څخه ډک د خندا آوازونه له شراب‌خونې څخه راتلل، هر چا هڅه کوله چې د شرابو په جامونو مست شي، تر څو له هوښیارۍ بې خبره شي او ځان له واقعیت نه لرې وساتي.بالخاش د شراب‌خونې دروازې ته ودرید د ایلي په لټه کې شو. خو ایلي یې ونه لیده. ګمان یې وکړ که له اترار نه بېرته راغلې وي، نو بې شکه به په خپل کوټه کې وي. زینې یې وخوځولې او یو په یو اطاقونه یې وپلټل، خو له هغې هېڅ نښه نه وه.

بالخاش له ځانه سره وویل: هغه تر اوسه له خپلې دندې نه ده راګرځېدلی، او د سوباتای جاسوسان همدلته دي د هغې په تمه.

بالخاش د سوباتای د جاسوسانو سره د مخامخ کېدو وېره نه درلوده د هغه اندېښنه یواځې دا وه چې د سوباتای د کمپ مغولان هرسبان ته د هغه پسي رانشي، هغه پداسې حال کې چې د تورې لاستې یې ټینګ نیولی و، له زینو ښکته شو، څو ګامه د شرابخانې د دروازې خواته ولاړ.

— دلته څه کوې بالخاش؟

دا د ایلي غږ و چې له شا راپورته شو. بالخاش ودرېد او ورو ورو شاته وګرځېد.
خپل نظر یې ایلي ته نیغ واچاوه او ویې پوښتل: ماموریت دې تر سره کړ؟

ایلي چې د زینو ترڅنګ ولاړه وه وویل: ستا مطلب څه دی؟
بالخاش- ښه به وای چې تا پوښتلي وای زما د راتګ هدف څه دی؟
ایلي- ته یو جاسوس یې او د جاسوسۍ لپاره دلته راغلې یې ته سوباتای رالېږلی یې.
بالخاش په کلک غږ وویل: زه دلته د دې لپاره راغلی یم چې تا ووژنم. سوباتای هېڅکله ما نه شي موندلی. زه د هغه له کمپ څخه تښتېدلی یم، چې پر لاره د سفر مې لومړۍ تا ووژنم او بیا اترار ته د غایرخان پسې لاړ شم هغه چې تر تا لا ډېر ناولي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي چې دا خبرې واورېدلې، د هغې رنګ واوښت ویره یې ټول وجود ونیوه، په لرزېدلي غږ یې، چې هڅه یې کوله پټ یې کړي وویل: ته دا کار نه شې کولای... همدا اوس به د سوباتای جاسوسان راشي، او زه به تا د هغوی په ګیر ورکړم.
بالخاش یو ګام وړاندې ولاړ په غوسه یې وخندل او ویې ویل: ښه مې په یاد نه دي چې ته څویمه خائنه یې چې زه یې وژنم؟ هغه کسان چې ما وژلي ټول زموږ خلک وو خو د دښمن لپاره یې کار کاوه، تا هم د هغوی څنګ ته استوم، اوس پوه شوم چې سایان تا وژلی دی.

ایلي له داسې موسکا سره چې پکې وېره او اضطراب ښکاره و وویل: کله چې د مغولو جاسوسان خبر شي چې ته د سوباتای له کمپ څخه تښتېدلی یې او زما د وژلو نیت لرې، نو تا به د اس په لکۍ وتړي او په کش کولو به دې خپل کمپ ته یوسي هلته به یو ویرونکی مرګ ستا انتظار کوي.

بالخاش پوسخند و واهه او ویې وویل: زه به داسې کار درسره وکړم چې دا هیله دې قبره ته یوسې خو نه، ستا وژل ستونزه نه حل کوي باید داسې کار درسره وکړم چې د عمر تر پایه پعذاب کې اوسېږی او شاید پخپله د خپلو نازکو لاسونو په وسیله خنجر خپل زړه ته ننباسې او ځان و وژنې.

ایلي په اندېښنې وویل: داسې کار مه کوه چې ځانته د وژلو سبب جوړ کړې بالخاش.
بالخاش ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: زه به داسې کار وکړم چې د عمر تر اخره به ځان پټه کړې، زه به د خنجر په تېره نوکه ستا د ښکلي مخ بڼه داسې بدله کړم چې ته به پخپله ځانته له کتو و ویریږې. زه به تا په دې بڼه ووژنم یو کرار، کرار خو دردناک مرګ داسې ښه ده.
ایلي لنډ وخندل او ویې ویل: ته باید له اوله پوه شوی وای چې د هرسبان په هدیره کې مې ستا لپاره یو مناسب قبر ټاکلی دی. فکر کوم سبا د غرمې نه مخکې کله چې تا خاورو ته سپاري هلته حاضر اوسیږم، ستا د مړي لیدل ماته سکون راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش پوزخند ووهه او ويې ويل: کاشکې تا کولای شوې د مغول خان د لښکر هرکلي ته ورشې کوم چې ډېر ژر به دلته راورسيږي.
ايلی- نو مغول خان د يوه ستر يرغل لپاره چمتو شوی دی، همدا هغه څه وه چې تا ورڅخه وېره درلود کنه؟
بالخاش غوسه شو خو په نرمه لهجه يې وويل: خو افسوس چې ته به د هغوی لښکر په سترګو ونګوری ځکه ته به مړه يې تر هغه وخته.
ايلی- خو زه به د هغوی ښه راغلاست ته ورشم.
بالخاش- دا هغه هيله ده چې ته به يې له ځان سره قبر ته يوسې.

ناڅاپه ايلي خپل ځير نظر د بالخاش تر شا واړاوه او په لوړ آواز يې وويل: په وخت راورسېدئ!

بالخاش د دې خبرې په اورېدو سره ټکان وخوړ او ډېر ژر يې توره راوويسته او شا ته وګرځېد. خو دهليز کې هېڅوک نه وو.په هماغه شېبه کې د يوې دروازې د پرانيستل کېدو او بندېدو آواز واورېدل شو،بالخاش چې مخ بيرته را واړو ايلي نور هلته نه وه.هغه د شربخونی د شاته دروازې څخه تښتېدلې وه کومه دروازه چې د اسونو په طبيله کې خلاصېده، بالخاش په بيړه د دروازې پر لور ورغی،خو ايلي له هغې خوا دروازه بنده کړې وه او د بالخاش هڅې بې ګټې وې.هغه کوښښ وکړ چې څو لغتې پرې ووهي او دروازه ماته کړي...

خو چې کله يې له دې کاره نتيجه وانه خيسته، نو له شرابخانې بهر راووت تر څو ايلي په طويله کې راګيره کړي، بالخاش په پوره توجه سره طويله ولټول خو ايلي هلته نه وه. هغه تښتېدلې وه.ده ګمان وکړ چې ښايي ايلی د مغولو جاسوسانو ته د بالخاش د شتون خبر ورکړی وي، په همدی خاطر بالخاش په چټکتيا له طويلی ووت او په تياره کې ځان ورک کړو، په تېزه قدمونو د هغه طويلی خوا ته ځان ورسو چېرته چې هغه خپل آس درولې وو.هغه هڅه کوله چې د سهار له سپېدو مخکې، له هر خطره څو کيلومتر واټن ونيسي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو همدا چې د شرابخانې څخه لږ لرې شو ناڅاپه درې تنه ځواکمن سړي له شا پرې حمله وکړه.بالخاش تر څو پر ښود راتلو او غوښتل یې توره له غلافه راوباسي،چې د هغو نارینه‌وو له ډلې څخه یو تن قوي کس خپل لاسونه پرې راوتړل، بالخاش هڅه وکړه چې خپل ځان له هغه د منګولو څخه خلاص کړي چې هغه سړي په تنده لهجه وویل: ستا کوښښ بې‌ګټې دی نو لحاظا داسې کار مه کوه چې همدلته دې ووژنم.

بالخاش وپوښتل: ته څوک یې؟
سړي- ښه به دا وي چې هیڅ پوښتنه ونه‌کړې.

بالخاش پوه شو چې له دې خطرناکه کسانو څخه خلاصون ناممکنه ده نو له غوسې څخه یې غاښونه سره ټینګ کړل او ویې ویل: ما نه باید اجازه ورکړې وایې چې هغه وتښتي ما باید هغه وژلی وای.

یو تن وپوښتل: ستا مطلب څوک دی؟
بالخاش- تاسو پوهېږئ چې زه څوک یم؟ کېدای شي تاسو د بل چا ګمان پر ما کړی وی؟!
هغه سړي چې بالخاش یې کلک نیولی و وویل: ته هماغه تښتېدلی بالخاش یې کنه؟ مورږ په سم وخت کې ته راګیر کړی.
بیا یې خپلو ملګرو ته مخ وګرځو او ویې ویل: ولې ځنډ کوئ؟ مورږ اوږده لار مخکې لرو.

یوه بل سړي وویل: مورږ منتظر یو هغه باید اوس راښکاره شي.
بل سړي وویل: دلته نه راځي، زمورږ نه مخکې تللی دی.
هغه سړي چې بالخاش یې نیولی و وویل: بیړه وکړئ.

هغو دوو نورو سړیو د بالخاش لاسونه او سترګې وتړلې، او په ګډه یې هغه پر آس کېناوه. لا ډېر وخت نه و تېر شوی چې د آسونو د پښو غږونو د سیمې چوپتیا ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه. هغوی داسې چې بالخاش یې په منځ کې نیولی و، د ښار له منځه تېرېدل.
بالخاش ډېر امید نه درلود چې و ژغورل شي، هغه تقریباً مطمئن و چې دا درې سړي د غایرخان له کسانو څخه دی او هیڅ شک یې نه درلود چې ایلي هغه د دوي په ګیر ورکړې دی.

تر دې د مخ چې د مغول خان له پوځ څخه وتښتی یوازی د غایرخان خلک د بالخاش په لټه کې وو، خو اوس د سوباتای مامورین هم ورسره یو ځای شوي وو. د ده ژوند له دوو خواوو له خطر سره مخ و. نور نو د ژوند تمه نه وه پاتې.

احساس یې کاوه چې ډېر ژر به هغه تر ټولو څخه په بده توګه ووژني. په هغه تورو شېبو کې یوازینی کس چې ذهن ته به یې راتله خان سلطان وه، د هغه لپاره ده تیښته وکړه او سرګردانه و. هغه د دې امید له امله د مغول خان له پوځ څخه وتښتېد چې خان سلطان به وژغوري نږدې باوري و چې بریالی به شي، خو اوس یې ډاډ درلود چې وژني به یې.

هغه یوازې ځان په یوه خطرناک لار کې قدم ایښې و، چې پرته له مرګ یې بل انتظار نه شو کولی. هر څه بدل شوي وو او د وینې رنګ یې غوره کړی و.په داسې حال کې چې سترګې یې ترلې وې، هڅه یې وکړه چې درک کړي چې کوم لور ته یې بیایي، خو بې ګټې وه. په پای کې یې خپل برخلیک ته غاړه کښېښوده او ویې ویل: موږ چیرته یو؟
یو له سپرو کسانو وویل: له هرسبان څخه راوتلي یو.

بالخاش- کاش زه پوهیدم چې تاسو ما چیرې بیایئ. بې شکه تاسو د غایرخان مامورین یاست.

هیچا ځواب ور نه کړ.
بیا چوپتیا خپره شوه، یو له سپرو کسانو وویل: څو سپاره شاته راپسې را روان دي. ټول ودرېدل د څو آسونو د پښو غږ چې ښکاره وه په تېزۍ سره را روان دي، له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري څخه چې دوی پکې تلل نیږدې کېده. هغه سړي چې نوم یې عبدالعزیز و او داسې ښکاره کېده چې د هغوی د ډلې مشر دی یوه ته یې مخ ور واړاوه او ویې ویل: ته د بالخاش ساتنه وکړه.

او بل ته یې وویل: راځه زما سره زما په نظر دوی باید مغول اوسیږی.

هغوی د هغو سپرو خلاف لور ته روان شول چې هغې خوا ته راتلل،کله چې نږدې شول عبدالعزیز د خپل آس مهار ونیو او ودرید بیا یې په لوړ آواز وپوښتل: تاسو څوک یاست؟

ناشنا سپره ودرېدل یوه یې وویل: موږ د هرسبان له خوا را روان یو او غواړو خپل ښار 'اترار ته لاړ شو.
یوسف کرار د عبدالعزیز غوږ کې وویل: دا یوه چال دی دوي مغول دی.
عبدالعزیز وویل:زه پوهیږم، دا د بالخاش په تعقیب کې دي، او موږ باید اجازه ور نه کړو چې ژوندي لاړ شي. باید وګورو څو تنه دي.

ناشنا سوار وویل: تاسو څوک یاست چې زموږ مخه نیسئ؟
عبدالعزیز وویل:تاسو تېرېدای شئ، لاره خلاصه ده، څوک به درته مزاحمت نه کوي.
د لارې د خلاصیدو سره ناشنا اس سواره په حرکت شول هغوی پنځه تنه وو.
عبدالعزیز خپل ملګري ته وویل: چمتو اوسه!

کله چې سپره  نږدې راغلل ناڅاپه عبدالعزیز او یوسف چې توره یې له غلافه را ایستلې وه، ورباندې برید وکړ. دا یو ناڅاپي او تېز برید و. ناشنا سپرو چې مغول وو، فکر یې کاوه چې دا دواړه د هماغه ځای عادي خلک دي نو ځکه د برید چمتو والې نه درلود او د لومړۍ حملې پر مهال، دوه تنه یې ووژل شول. عبدالعزیز او یوسف، چې دواړه جنګیالي وو، په هغه تیاره کې یې دومره پر مغولانو تنګ میدان جوړ کړی و چې داسې نه برېښېده څوک به له دې خونړۍ جګړې ژوندی پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه مغول كله چې دا حالت وليد چټک ځان له جګړې وايست او له هماغه لارې چې راغلی و وتښتېد. عبدالعزيز دربيم مغول هم وواژه او له اسه يې راوغورځاوه. ناڅاپه يوسف په خپل اوږه کې سخت درد او سوځښت احساس کړ. هغه مغول سپور چې له يوسف سره په جګړه کې و، هڅه وکړه په يوه حمله کې د يوسف کار خلاص کړي، خو شاته ناڅاپه د تورې تېره څنډه د هغه پر غاړه پرېوته او له اسه راوغورځېد.

عبدالعزيز شاوخوا وکتل او پوه شو چې پرته له ځان او يوسف څخه بل څوک هم شته. شک يې راغی چې شايد هغه هم د مغول د کسانو څخه وی خو کله چې د عثمان غږ واورېد چې ويل يې: عبدالعزيز! دلته راشه، يوسف زخمي شوی.
نو د هغوی خواته لاړ او عثمان ته يې په حيرانتيا سره وويل: ته دلته څه کوې؟ کېدای شي بالخاش تښتېدلی وي. ما خو ته د هغه د ساتنې لپاره پرېښی وې!
عثمان- بالخاش چې لاسونه او سترګې ترلي دي، څنګه تښتېدلی شي؟ ما احساس کړه چې تاسې زما مرستې ته اړتيا لرئ. که زه نه وای راغلی هغه مغول کسانو به يوسف وژلی و.

عبدالعزيز- ته واپس ورشه د بالخاش سره، زه به يوسف راولم.
عثمان له هغوی جدا شو. عبدالعزيز له يوسف وپوښتل: ته کولای شې خپل ځان پر اس وساتې؟
يوسف- زخم ډېر ژور نه دی هڅه کوم. کله چې کوم کلي ته ورسېدو، هلته پاتې کېږم. تاسې ولاړ شئ.
عبدالعزيز- نه، موږ بايد تا هم له ځان سره يوسو، حرکت وکړه.
يوسف وويل: مرسته راسره وکړه چې پر اس سپور شم.

عبدالعزيز ورسره مرسته وکړه. کله چې يوسف پر زين کښېناست او خپلې پښې يې په رکاب کې کلکې کړې، ويې ويل: فکر نه کوم چې درسره تللی شم، اوږه مې سخت درد کوي، کېدای شي ما بې وسه کړي.
عبدالعزيز په نرمۍ سره د هغه اوږې ته لاس ورکړ او ويې ويل: ته تل زما لپاره يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړور او باتور سړی وي. موږ یو ډېر مهم ماموریت لرو، او باید هر قیمت وي ځان منزل ته ورسوو.حاکم زموږ منتظر دی.

یوسف په اس پښه ووهله. دواړه یو ځای روان وو، تر څو چې عثمان، چې د بالخاش د ساتنې مسؤل و، ورسره یو ځای شو.عثمان یو لنډ خندا وکړه او ویې ویل: ملګرو! وینئ چې بالخاش نه دی تښتیدلی.
عبدالعزیز پوزخند وکړ او ویې ویل:که لاسونه یې ازاد وای، موږ به یې حتی د پښو نښه هم نه وای موندلې، دا بالخاش دی د اترار د ساتونکو ډلو مشر د دې لارو په لویشت،لویشت خبر دی.
بالخاش وویل: که لاسونه مې ازاد هم وای بیا به هم نه تښتېدم ځکه چې ما غوښتل تاسو وپېژنم.
دریواړه وخندل عثمان وویل: ملګرو واورئ! که لاسونه یې ازاد هم وای همدلته به زموږ په تمه ناست واې، ښکاري د تښتیدلو څنګ کې بیحد هم جلباز دی.

عبدالعزیز وویل: باید روان شو کېدای شي مغولان مو تعقیب کړي.
عثمان او عبدالعزیز یو له بل سره مرسته وکړه او بالخاش یې پر اس کېناوه. دوی د شپې په تیاره کې له هغه سړک څخه حرکت وکړ چې شمال ته روان و. عبدالعزیز او یوسف مخکې روان ول، وروسته له هغوی بالخاش، او وروستی کس عثمان و، چې د بالخاش ساتنه یې کوله

هغوي یوه اوږده لار مخکې درلوده، د دوی مأموریت دا و چې پر یوه سنجول شوې نقشه باندی هرسبان ته راشي او بالخاش راګیر کړي او هغه د حاکم حضور ته یوسي.

چې لږ واټن یې وواهه بالخاش وویل: که تاسې ما مرګ ته بیایئ نو لږ تر لږه مې سترګې خلاصې کړئ. باور وکړئ چې زه به تېښته ونه کړم. زما لاسونه ترلي دي، د تېښتې لاره راباندې بنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې په اورېدو درې واړو په لوړ غږ وخندل...
عبدالعزيز وويل: بغير د کوم شک څخه که ستا لاسونه خلاص وای، نو تا به د وخت په يو چل او فريب ځان خلاص کړی وای.
بالخاش- ته هم که زما په ځای وای همدا کار به دې کړي وای. تاسو نابېره زه له شالخوا راګير کړم کنه اوس به ستاسو څخه يو هم ژوندی نه وای پاتې.

عثمان په طنز اميز توګه وخندل او ويې ويل: دا تښتيدلې سرې ډېر مغرور ښکاري! کاش اجازه مې درلود چې همدلته مې سم جوړ ادب درکړی وای.
يوسف چې له سخت درد څخه پڅان تاو راتاو کيدو وويل: بالخاش يو تښتيدلې بندي دی، د غايرخان خلک يې لټوي پرته د مغول خان د کمپ څخه بل ځای نه لري. يواځې هغوي دي چې هغه ته پناه ورکوي.

عبدالعزيز پوزخند وکړ او ويې ويل: خو دا ښاغلې له هماغه ځايه هم را تښتېدلی دی. خپله ښه پوهېږي که بيرته د مغول خان کمپ ته ولاړ شي، يا به يې غاړه پرې کړي، يا به يې د آس لکۍ باندی وتړي او د قيچاق په دښت کې به يې پرېږدي.

بالخاش په قهر سره وويل: چوپ شئ! زه نه غوارم د تاسې احمقانو اپلاتی واورم.
عبدالعزيز، چې د يوسف ترخنګ يې آس چلولو وويل: موږ ته امر شوی چې ستا لاسونه او سترګي ترلې ښار ته ويسو.
بالخاش په ارام خو له غصې څخه په ډک غږ وپوښتل: تاسې څوک ياست؟ او ما کوم ښار ته وړئ؟
عثمان- تا داسې ښار ته بيايو چې د هغه ځای حاکم ستا انتظار باسي.

بالخاش چوپ شو هغه له دې پېښو څخه سخت حيران او ګنګس شوی و. نه پوهېده چې دا سورلۍ د کوم حاکم په امر ده او چېرته يې بيايي؟ يوازې د خپل ژوند د پای په اړه فکر کاوه.هغه دا هم اټکل کاوه چې کله هلته ورسېږي نو به يې د ښار په عمومي ميدان کې د خلکو په مخ کې د  ورځې په روښنايي کې سر و وهي. نور يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوپتیا ونه شو زغملی ویې پوښتل: ایا غایرخان تاسو را استولي یاست چې ما ونیسئ؟ چا زما ځای تاسو ته وښودو؟ خبرې وکړئ!

عبدالعزیز په قهر سره وویل: زما په ګومان ته غواړی خوله دې هم در وترو؟ که بیځایه خبرو ته دوام ورکړی نو دا کار به هم وکړوچ.
بالخاش په هماغه لهجه ځواب ورکړ: تاسو هر څه کولی شئ ځکه نن تاسو غالب یاست البته په بیغرته توګه غالب یاست ځکه پر ما مو د شالخوا حمله وکړه.
عثمان په تنده لهجه وویل: که ماته اجازه راکړل شوې وای نو هلته مې ورلې او خوشې کولې مې او بیا مې درسره جنګ کاوه او هملته مې مړ کولې ترڅو پوهه شوی وایې چندان توره وهونکی هم نه یې او هسې د خولې خبرې کوې.

بالخاش چوپ شو، ځکه پوه شو چې له دې درو ظالم کسانو سره خبرې بې‌ګټې دي. باید صبر یې کړی وای او خپل برخلیک ته تسلیم شوی وای. هر څه چې و ډېر ژر به یې مخ ته راځي هلته، هغه ځای ته چې هغه ته نا معلوم و، یو حاکم د هغه انتظار کاوه. ښایي د حاکم تر شا یو جلاد هم د تیزې چړې سره ولاړ وای؟! هر څه ورته ګنګس وو او ذهن یې ګډوډ شوی و.

هغه درې واړه هم خاموش وو د دوی د آسونو د پښو غږ، د شپې چوپتیا او سکوت ماتاوه، هماغسې یو شان روان وو. تر سهاره یې بې‌وقفې سپرلي کوله.

کله چې لمر پورته شو، دوی د لارې په لومړۍ کلي کې تم شول. هلته عبدالعزیز امر وکړ چې د بالخاش سترګې خلاصې کړي. بالخاش چې سترګې یې تیارې سره عادت کړې وې د ورځې رڼا په لومړي سر کې ورته د تکلیف وړ وه. لږ وروسته چې سترګې عادت شول نو د هغه درې کسانو څهرې ته ځیر شو د هغوی له څهرو هېڅ یو هم ورته آشنا نه معلومېده له ځانه سره یې وویل: دا خلک له کومه راغلي دي؟

یوسف عبدالعزیز ته مخ واړاوه او ویې ویل: د بالخاش لاسونه باید خوشې کړو ترڅو په کراره خپل سبا ناری وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان په ریشخندی خندا سره وویل: نه امکان لری دې مورِ په یو برید کې له منځه یوسي! دا یو خطرناک سړی او زړور جنګیالی دی!
بالخاش پداسې حال کې چې هغه ته کتل ویې ویل: ستا ځواب به په یو سم وخت کې درکړم.

عبدالعزیز وویل: عثمان! د بالخاش لاسونه خلاص کړه خو پام ورباندی نیسه که د تېښتې هڅه یې وکړه وخت مه ورکوه او سر یې و واهه.

عثمان هغه کلک او نری رسۍ چې د بالخاش لاسونه ورباندی ترلِ شوي وو خلاصه کړه او پخپله د هغه سر ته ودرېد او ورو یې ورته وویل: د تېښتې فکر له ذهنه وباسه ځکه که مازی دی ښور وخوړو نو زما خنجر به ستا په شا کې ننوځي.
بالخاش په کرار وخندل او ویې ویل: ته کولی شې بې له خنجره هم زما د تېښتې مخه ونیسې ته وینې چې زه هیڅ وسله نه لرم.

عبدالعزیز عثمان ته وکتل او ویې ویل: کرار اوسیږه عثمان! بالخاش د تېښتې نیت نه لري خپل سبا ناری وخوری.

بالخاش په آرامه او بې‌پروایۍ سره خپل سبا ناری کاوه. نور یې د تېښتې نیت نه درلود، ځکه هغه پوه شوی وو که لږ هم د ژوند امید اوسیږی نو د تیښتی پر کولو به ځان مرګ ته ورکړی او دا دری کسان به هغه ټوټه،ټوټه کړی یا داسی به یې زخمي کړی چې د ولاړو ونه اوسیږی.

د ورځې تودوخه کامل خپره شوی وه چې هغوی د تګ لپاره چمتو شول.
عبدالعزیز چې د هغوی مشر و عثمان ته وویل: یواځې د بالخاش لاسونه وتړه.
عثمان په حیرت ورته وکتل او ویې ویل: خو مورِ ته امر شوی چې هغه له ترلو لاسونو او بندو سترګو سره ښار ته یوسو.
عبدالعزیز په تند غږ ورته وویل: هر څه چې زه وایم هماغه وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان یوه نرۍ رسۍ د بالخاش د لاسونو شاوخوا ټینګه وتړله او مرسته یې وکړه ترڅو د آس شا پر شا کښېني.

یوسف لا هم د اوږې له درده چیغې وهلې. د تبې شدت د هغه د څېرې رنګ سور کړی و. منزل تر یوه ورځ لرې و او هغه ته د ژوندي پاتې کېدو هېڅ هیله نه وه، خو ملګرو یې هڅه کوله چې هغه ته تسلي ورکړي، خو د دې ټپي جنګیالي څېره د مرګ خړ غبار نیولې وه. نه‌شوای کولای چې خپل ځان پر آس وساتي. عبدالعزیز تر څنګ یې سور و، ترڅو ورته پام وکړي.

له غرمې تېر شوي و، چې د یوسف سر پر سینه ولوېد او په خفه غږ یې وویل:
عبدالعزیز... مرسته وکړه...

عبدالعزیز لا پر ښود نه وو راغلې چې یوسف له آسه راولوېد او پر ځمکه پریوت. عثمان او عبدالعزیز په وېره له آسونو کښته شول یوسف بې‌هوشه شوی و،عثمان څو ځله ورته غږ وکړ، خو ځواب یې ور نه کړ. بالخاش وویل: دلته پاتې کېدل هېڅ ګټه نه لري باید حرکت وکړو.

عثمان د بالخاش خواته وکتل او په غصه یې وویل: که د تېښتې نیت ولرې نو وژنم دې!

بالخاش په پوسخند وخندل او ویې ویل: د یوسف غم وکړه نه زما د تېښتې هغه مري.

عبدالعزیز یوسف له ځمکې راپورته کړ پر سینه یې پر آسه کښېښود او عثمان ته یې وویل: په آس دې سپور شه عثمان! باید ژر لاړ شو ته یوازې په بالخاش خیال ساته.

لږ وروسته هغوی روان شول هغه دواړه او همدا راز بالخاش د یوسف له حاله اندېښمن ول. دوی ژر روان وو. چې یو څه واټن یې ووهه، عبدالعزیز د خپل آس

(c) ketabton.com: The Digital Library

واګه ونیوله او ودرېد، د یوسف لاس یې ونیو او ناڅاپه یې په لوړ غږ وویل: یا خدایه! دی مړ شوی بدن یې یخ دی.

عثمان ژر له آس راکښته شو د یوسف مخ ته یې وکتل او بیا دواړه ملګري په خواشینۍ په ژړا شول، بالخاش سره له دې چې ځان یې د هغوی بندي باله خو سخت غمجن شو.عثمان خپل د اوښکو ډکې سترګې عبدالعزیز ته ونیولې او ویې ویل: اوس څه وکړو؟

عبدالعزیز چې سر یې د خپل آس پر زین ایښی و وویل: باید جنازه یې ښار ته یوسو هغه زموږ وفادار ملګری و.

او پر رکاب یې پښه کېښوده او پر آس وخوت، عثمان هم پر خپل آس سپور شو. د دوی څهرو ته د خواشینۍ او د خپل وفادار دوست د مړینې غبار ورپورې شوی و. یوسف د سختې وینې تویدنې او تبې له امله مړ شوی و، او اوس یې جنازه خجند ته بیوله چې هلته خاورو ته وسپارل شي.

د ماښام د سپېرو رنګونو په فضا کې د خجند ښار سیوری راښکاره شوه. پر ښار یو ډول دوره خپره و، د عبدالعزیز او عثمان په څهره کې د یوسف د مرګ غم ناست و. هغوی ټول چوپ وو، یو د خپل نامعلوم او تیاره برخلیک په اړه فکر کاوه، او هغه دوه نور د یوسف په مړینه کې ډوب وو. هغوی بېرته خجند ته ستنېدل، پداسې حال کې چې خپل وفادار او زړور ملګری یې له لاسه ورکړی و.

بالخاش چوپتیا ماته کړه او پوښتنه یې وکړه: هلته چې برجونه او دېوالونه ښکاري کوم ځای دی؟
عبدالعزیز ورو ورته وویل: خجند.
بالخاش ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: نو تیمور ملک تاسو زما د نیولو لپاره مامور کړي یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان- هو هغه ستا په تمه دی.
عبدالعزیز په بې حوصلې لهجی وویل: چوپ شه بالخاش!

بالخاش- چوپتیا بې ګټې ده. تاسو باید پوه شئ چې غایر خان یو چټل او خبیث سړی دی. تیمور ملک باید ما هغه ته و نه وسپاري،غایر خان زما د وینی تږی دی او امان به رانکړی زه د هغه د زندانه وتښتېدم تر څو له هغه څخه غچ واخلم. هغه خان سلطان! هغه نجلۍ چې ما د خپلې ښځې په توګه ټاکلې وه په زور راڅخه واخیسته او خپل حرم سرای ته یې یوړه.
عبدالعزیز- دا خبرې بیا تیمور ملک ته وکړه.
بالخاش په قهره وویل: هغه هم د غایر خان پشان خبیث دی.

عثمان په معنا دار ږول وخندل او ویې ویل: بیا نو ژر به د یوسف ملاقات ته ورسیږې...
بالخاش- زه باید هماغه وخت تښتېدلی وای کله چې تا او عبدالعزیز پوه شوی واست چې یوسف مړ دی. حتی له تږلو لاسونو سره مې کولی شول ځان پر اس باندې وساتم.

عبدالعزیز او عثمان سره له دې چې د یوسف پر مرګ غمژن وه ویې خندل عبدالعزیز وویل: عثمان له تا چټک دی او د خنجر په غورځولو کې مهارت لري، که احمقانه کار دې کړی وای وژل شوی به وې.

بالخاش چوپ شو جلاد یې خپل څو قدمه وړاندې لیده چې چاقو په لاس کې نیولی او له خپل بد شکل سره د هغه ورتګ ته په تمه دی. یوازینی آرمان یې په هغه شېبه کې، چې احساس یې کاوه د ژوند وروستۍ شېبې دي دا و چې یو ځل خان سلطان وګوری! له ځانه سره یې وویل: دا هیله به له ځان سره قبر ته یوسم هغوی به ما تر دې مخکې چې شپه پای ته ورسي، ووژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش ته د تښتېدو فکر ورغی هڅه يې وکړه چې خپل لاسونه خلاص کړي خو رسۍ که څه هم نری وه خو کلک تړل شوې وه. د بلخوا د عثمان نظر پر هغه و عثمان يو چټک اس څغلونکي او چاقو ويشتونکی و که بالخاش توانيدلی وای چې وتښتي نو تر دې مخکې چې د هغوی د نظر پناه شي وژلی شوی به وای.

عبدالعزيز- ولې چوپ شوې بالخاش؟
عثمان په پوزخند سره وويل: هر څه چې ويلو ته يې درلود ويې ويل..
عبدالعزيز په لنډ خندا سره وويل: نور لاره نه ده پاتی ژر به ورسيږو.

شپه تياره شوې وه چې دوی د خُجند له دروازې تېر شول شپه په سکون او ارامۍ کې ډوبه وه. يو څه لنډه لاره چې يې ووهله عبدالعزيز عثمان ته وويل: ته د يوسف جنازه يوسه زه به بالخاش د حاکم حضور ته ويسم.
دوی سره بېل شول عبدالعزيز د بالخاش ترڅنګ و ډېر وخت نه و تېر شوی چې دارالحکومه ته ورسېدل عبدالعزيز وويل: تيمور ملک ته پکار وې او شکر کوم چې زه بريالی شوم.
بالخاش- ته بريالی نه شوی دا غاير خان دی چې بالاخره وتوانېد چې ما په لومه کې واچوي.

عبدالعزيز له اس څخه راښکته شو او د يوه شاتونکي په مرسته يې بالخاش له اسه ښکته کړ د ساتونکو مشر راغی بالخاش ته يې وکتل او بيا يې له عبدالعزيز وپوښتل: دا ځوان څوک دی؟
عبدالعزيز، پداسې حال کې چې رسۍ يې د بالخاش د لاسونو خلاصوله وويل: يو تښتېدلی زنداني دی چې له اترار څخه تښتېدلی دی.

د ساتونکو مشر وويل: نو بايد د زندان دروازه ورته خلاصه کړو.
بالخاش په تنده لهجه وويل: خان ته زحمت مه ورکوه زه د جلاد مېلمه يم.
د ساتونکو مشر په بده خندا وويل: نو بيا موږ هم ستا نندارچيان يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالعزیز د بالخاش اوږه کلک ونیوه او داسې حال کې چې هغه یې د دارالحکومه خواته وړو، کرار یې ورته وویل: خپل ژبه دې کنټرول کړه.

بالخاش هېڅ ځواب ورنکړ دوی د تیمور ملک د خادم اطاق ته ننوتل، خادم چې یو ډنګر او تور رنګه سړی و په بالخاش یې یو نظر واچو بیا یې عبدالعزیز ته مخ کړ او ویې ویل: آخر کامیاب شوی؟!
عبدالعزیز په خواشینۍ سره وویل: هو خو یوسف مو له لاسه ورکړ.

وروسته یې ټول کیسه ورته بیان کړه خادم له ځایه پاځېد او ویې ویل: سمدستي به حاکم ته خبر ورکړم.
خادم دوی یوازې پرېښود څو دقیقې وروسته راستون شو او عبدالعزیز ته یې وویل: حاکم ستاسو انتظار باسي له ما سره راشئ.
د بالخاش یوازینی امید دا و چې اصل کیسه به تیمور ملک ته وکړي او د هغه څخه به بخښنه وغواړي.خو ډېر ډاډه نه و چې تیمور ملک به د هغه خبرو ته غوږ ونیسي. خو بیا هم یو امید و او بالخاش نه غوښتل چې دا وروستی امید هم له لاسه ورکړي.

کله چې تالار ته ننوتل هلته هېڅ څوک هم نه وه، خادم د بلې دروازې له لارې چې تالار ته پرانیستل شوی و تېر شو او لږ وروسته بیرته راووت د دروازې ترڅنګ ودرېد او په لوړ آواز یې وویل: حضرت حاکم...

بالخاش خپلې سترګې هغه دروازې ته نیولې وې هغه تیمور ملک یو ځل لیدلی و، هغه وخت چې د خجند حاکم د غایر خان لیدو ته په لنډ سفر کی اترار د راغلی و د هغه څېره یې ښه په یاد وه. انتظار پای ته ورسېد او یو جګ قد لرونکی باوقاره او د با نفوذه څېرې خاوند سړی د کلک او ورو ورو قدم وهلو سره تالار ته داخل شو. ټولو د درناوي په توګه خپلې سرونه لږ ټیټ کړل بالخاش هم همداسې وکړل...

تیمور ملک چې نظر یې په بالخاش و د هغه لور ته لاړ د هغه مخې ته ودرېد او عبدالعزیز ته یې وویل: له تاسره نور کار نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې سره سم عبدالعزیز د تالار څخه ووت، کله چې هغه له تالاره ووت تیمور ملک بالخاش ته مخ وګرځو او ویې ویل: له ډېر وخته مې غوښتل چې تا ووینم، ستا د تښتېدو کیسه مې د غایر خان له زندانه اورېدلې ده دا هم راته معلومه ده چې سوباتاې تا ته پناه درکړې وه.

بالخاش چې وېره یې ستونی نیولی و وویل: مجبور وم چې و تښتم غایر خان زما د وژلو نیت درلود مغولانو زما ژوند و ژغورلو خو د لوی خدای په نوم قسم خورم چې ما هېڅکله خپل وطن ته خیانت نه دی کړی. تر څو مې چې وس رسېدلی د فرصتونو نه په ګټه اخیستنې مې مغول وژلي دي. دوی که څه هم زه له زندانه خلاص کړی یم، خو د وطن او زما دښمنان دي. کله چې ستاسو مامورینو زه په هرسبان کې ونیولم، زه هغه وخت د مغول خان د کمپ څخه راتښتیدلې وم او اراده مې دا وه چې اترار ته ولاړ شم.

تیمور ملک په یوه کمزوری موسکا سره وویل: زه د هر څه څخه خبر یم بالخاش! ته یو زړور او وطن‌دوست سړی یې. که داسې نه وای نو ته به دې ځای ته نه وای راوستل شوی، او ډېر وړاندې له هغه شبې چې زما مامورینو ته په هرسبان کې ونیولی زما لوی او هوښیار مامور به ته وژلی وای هغه بار، بار ستا د وژلو فرصت درلود خو هغه احساس کړی و چې بالخاش د مغولو ریښتینی جاسوس نه دی نو ځکه یې و نه وژلی.

بالخاش په حېرانۍ وویل: نو تاسو ما نه وژنئ؟

تیمور ملک- نه، زه نه یوازې دا چې تا نه وژنم، بلکه تا به غایر خان ته هم و نه سپارم ته په بشپړه توګه خوندي یې.
بالخاش- خو ستاسو مامورین داسې چلند راسره کاوه، لکه زه چې مرګ ته روان یم.
تیمور ملک- ما هغوي ته همدا امر ورکړی و.
بالخاش ژر ښکته شو او د تیمور ملک لاس یې ښکل کړ او ویې ویل: زه به خپل سر ستاسو او خپل وطن لپاره قربان کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملک شاته وکتل هغه ځای کې چې د ده خادم لاس په نامه ولاړ و هغه ته یې د لاس اشاره وکړل او ډېر ژر خادم له تالار څخه ووت او لږ وروسته بېرته راغی البته د یو ځوانې او ښایستی ښځې سره، بالخاش چې نظر په هغه ښځې ولګید نو حیران شو، سترګې یې له حیرت راووتل او خوله یې نیمه پرانیستې پاتې شوه، ښځې نرمه مسکا پر شونډو درلوده او ورو ورو د دوی خوا ته راتلل.

تیمور ملک مخ د بالخاش خوا ته کړو او ویې پوښتل: دا ښځه پېژنې؟
بالخاش خپل د خولې لاړې تېرې کړې او داسې حال کې چې سترګې یې له هغې ښځې څخه نشو اخیستلې ویې ویل: هو، قربان خو دا دلته څه کوي؟
تیمور ملک لنډ وخندل او ویې ویل: دا زما تر ټولو پیاوړو جاسوسانو له ډلې څخه ده.

هغه ځوانه ښځه چې ایلي د هرسبان د شرابخانې د مالک لور وه په خندا سره وویل: او بالخاش دا فکر کاوه چې زه د مغولو لپاره جاسوسي کوم! حتی یو ځل یې زما د وژلو هڅه هم وکړه.

بالخاش- زما خو سر نشو خلاص اخر دا څه روان دی؟
تیمور ملک خپل لاس د هغه پر اوږه کېښود او ویې ویل: له هماغه لومړۍ شپې چې ته له احمد آق‌سو سره هرسبان ته راغلې، ایلي ماته خبر راکړی و. زه د مناسب موقعې په تمه وم چې تا دلته راولم. اوس هم غوارم چې راته د مغولو د لښکرو په اړه معلومات راکړې ځکه چې اورېدلي مې دي هغوی د قپچاق په دښته کې تم شوي دي.

بالخاش- ډېر ژر به د مغول خان د لښکر برید د ماوراءالنهر پر خاوره پیل شي. هغه یو ستر پوځ لري او هر یو زوی یې مامور کړی چې د وطن یوه برخه ونیسي. باید دا خبر سلطان ته ورسول شي.
تیمور ملک- زما تېز پیغام رسوونکي همدا اوس روان شوی دی تر څو دا پیغام سلطان ته ورسوي، خو د هغه د امیرانو ترمنځ سخت اختلاف شته چې زموږ هیله په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناامیدۍ بدلوي. سره له دې ما پریکړه کړې چې تر مرګه به د مغولو پر وړاندې مقاومت وکړم ته او ایلي به بېرته هرسبان ته لاړ نه شئ.

بالخاش هغه ټول معلومات چې د مغول خان د لښکرو په اړه یې درلودل تیمور ملک ته ورکړل.
ایلي وویل: داسې ښکاري چې د حملې نېټه نږدې شوې ده.
بالخاش- شاید هغوی د قپچاق له دښتې راخوځېدلي هم اوسیږي.
تیمور ملک ایلي ته مخ کړ او ویې ویل: بالخاش هغه کوټې ته ویسه چې د ده لپاره تیار شوی، هغه له یوه ډېر اندېښمن سفر څخه راغلی او استراحت ته اړتیا لري.
او پخپله له تالاره ووت...

خادم هم د تیمور ملک پسې روان شو ایلي او بالخاش یوازې پاتې شول څو شېبې یې یو بل ته وکتل.
ایلي یو خوږ مسکا وکړل او ویې ویل: ته سترې یې راځه له ما سره ترڅو تا ته ستا کوټه در وښیم.

بالخاش همداسې چې د ایلي ښکلو او جذابو سترګو ته کتل وویل: تر دې د مخکې چې ستا اصلي هویت مې پېژندلی وای سترې وم، خو اوس مې زړه غواړي یوازې له تا سره واوسم او د خپل لنډ خو پُر خطر او ګنګس تیر وخت په اړه خبرې وکړو.
ایلي- تېر وخت ټول خیزونه هېر کړه، هغه څه چې راته د تیر وخت څخه پاتې دي هغه ستا سره آشنایي ده او زه هېڅکله نه غواړم دا آشنایي هیره کړم.

بالخاش د هغې لاس په خپل لاس کې ونیو او ویې ویل: زما لپاره هم ستا سره آشنایي مهمه ده، تا زه د مرګ و ژغورلم خو ما تا ته خائنه ووېل، څه ستره تېروتنه!
هغه څوک چې ما فکر کاوه مغول خان ته جاسوسي کوي، یو رښتینی وطنپال وه ته اوس زما لپاره یو اتله یې افسوس پر ما که ما تا وژلی وای.
ایلي لنډ خندا وکړه او ویې ویل: تا زه نشوې وژلی ځکه تا زما سره مینه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- هو، منم چې ما درسره مینه درلود خو ما نشوای کولی چې ستا خیانت له پامه وغورځوم...
ایلی- ما اجازه نه درلود چې خپل په اړه تاته معلومات درکړم.
بالخاش- ما هغه شپه په کلک ستا د وژلو اراده درلود، خو تا هوښیارۍ وکړه او د طویلي د شا دروازی څخه وتښتیدلې.
ایلي وخندل او ویې ویل: حتی که د تښتېدلو لاره هم نه وای بیا هم تا زه نشوم وژلي ځکه د تیمور ملک دوه سرتیرو زما ساتنه کوله، هغوی داسې کالي درلودل چې تا هېڅکله د هغوی هویت نه شو پېژندلی.

هماغه وخت چې ته پر ما غوسه شوې او بد رد ویل دې پیل کړل هغه دوه ساتونکو ستا د وژلو اراده درلوده او یوازې د دې منتظر وه چې زه ورته اشاره وکړم. بیا به هغه وخت تا لیدلې وایې چې وینه دې د شرابخانې په شرابو کې څنګه ګډېږي. خو ما غوښتل چې ته ژوندی پاتې شې او زما د ژوند راز له تیمور ملک څخه واورې.

بالخاش په داسې حال کې چې په شونډو یې مسکا وه وویل: ستا چلند د مغولي جاسوسانو سره داسې و چې ما واقعا دا ګمان وکړو چې ته د هغوی د جاسوسانو څخه یې حتا سوباتای او چپه نویان هم تا د خپلو جاسوسانو په توګه پېژني.
ایلی- زه ظاهراً اوس هم د هغوی جاسوسه یم زما حالت لا هم نه دی بدل شوی.
بالخاش- خو ستا بیرته تګ هرسبان ته ستا ژوند د خطر سره مخ کولای شې!
ایلي- ښه به دا وی چې ستا کوټې ته ولاړ شو، هلته به ښه خبرې وکړو.

هغوی له تالاره ووتل او د هغه لارې څخه تېر شول چې دواړو خواو ته یې د شمعو رڼا ګاني ځلېدل، هغوی یو کوچنۍ حویلۍ ته ورسېدل چې د هغه شا ته د تیمور ملک حرمسرا وه.

ایلي دروازه خلاصه کړه او ویې ویل: له دې وړاندې چې ته دلته راشې د تیمور ملک په حکم دا کوټه ستا لپاره چمتو شول هغه له زړورو او باشهامتو سړیو سره داسې هرکلی کوی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د ځواني نجلۍ په اوږه لاس کېښود پرده یې راښکته کړه او دواړه په ګډه کوټې ته دننه شول. یو کوچنی شمعی کوټه رڼا کړې وه، بالخاش دروازه وتړل او ویې ویل: کاش زما زیږدلی ځای دلته وای او دا ویاړ مې نصیب شوی وایې ترڅو د تیمور ملک پشان کس ته خدمت وکړم.
ایلی- ته اوس هم د هغه په خدمت کې یې.
بالخاش- خو راروان پېښې به دا ویاړ له ما واخلي، او ډېر ژر به دا ځای د جګړې په میدان بدل شي.

ایلي د کوټې په فرش کیناسته شا یې دیوال ته کړه پښې یې وغځولي او په ځانګړې هوښیارۍ سره یې پوښتنه وکړه: ته لا هم د خان سلطان په اړه فکر کوې؟ هڅه وکړه  چې حقیقت ووایی.
بالخاش ورته وکتل او ویې ویل: زه څنګه د هغې په اړه فکر ونه کړم؟ هغه وه چې زما لپاره یې دا ټولې پېښې رامنځته کړې.

ایلي اه وکښل او ویې ویل: نو بیا م ...
خو د څه ویلو مخکې چوپه شوه، بالخاش د څو شیبو خاموشی وروسته وویل: زه پوهیږم، پوهیږم ځینې شیان دومره اسانه هېرېدای نشي.

او بیا دواړه چوپ شول،بالخاش په داسی حال کې چې د کوټی په منځ کې ولاړ و، په خپلو فکرونو کې ډوب و. ایلي داسې حال کې چې هغه ته کتل خپل د میني په اړه یې فکرونه کول، هغې د بالخاش په وړاندې ژوره مینه احساسوله، خو بالخاش لا هم د خان سلطان مینه هېره کړې نه وه. په دې ځای کې دواړه په داسې یو ګونګ او ګنګس حالت کې ګیر وه چې یوازې راروان حالت د هغوی په اړه پریکړه کولی شول.

ایلی- ولې ولاړ یې؟ راشه کښېنه.
بالخاش- ما خپل د ځان په اړه فکر کاوه.
او خپل د خبری سره سم ایلي ته نږدې کیناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلی د نری موسکا سره وویل: کله چې زه لاړم بیا په کراره کښینه خپل د ځان په اړه فکر وکړه.

بالخاش په حیرانتیا پوښتنه وکړه: چیرته؟
ایلی- هرسبان ته ځم. شاید همدا سبا...
– هرسبان؟ هلته نور ستا ځای نه دی، ډېر ژر به د مغول خان پوځ هلته ورسېږي.
ایلی- خو زه ماموریت لرم تر څو د چنګېزخان د پوځ د وضعیت په اړه تازه معلومات ترلاسه کړم.
بالخاش په خپل ځانګړي غرور سره وویل: ضرورت نشته دا ماموریت زه خپل پوره کوم.
ایلي په طنز لرونکی انداز وخندل او ویې ویل: ته؟ فکر کوم له خپل ژوند ستړی شوې یې، چې غواړې د هغوی خوا ته لاړ شې، زه مطمئن یم چې د سوبوتای جاسوسان هر ځای کې ستا په لټه کې دي. که هغوی ستا نښه ومومي، ښایي ژوند دې په خطر کې ولویږي.

بالخاش- مشکل نشته، د تیمور ملک څخه غواړم چې ما ستا پر ځای هرسبان ته واستوي، ته ښځه یې ... یوه ښایسته ښځه او دا هم لامل دی چې نشې کولای د احتمالي پېښو سره لکه څنګه چې پکار ده مقابله وکړې نه وایم چې ته ورتیا نه لرې خو ځینې کارونه شته چې بهتره ده سړی یې ترسره کړي...زما د خبری په مطلب خو پوهیږی؟
ایلی- هو، مطلب دې درک کوم خو مغول پر ما باور لري هغوی آن تر دی حد پوهېږي چې زه همدا اوس چیرته یم؟
بالخاش -خو زه نه غواړم چې ته خپل ځان له خطر سره مخ کړې.
ایلی- مطلب درباندی ګرانه یم؟

بالخاش چوپ شو، ایلي خپل سر د هغه پر اوږه کېښود او ویې ویل: زه هم نه غواړم چې تا له لاسه ورکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- که تیمور ملک زما له وړاندیز سره موافقت و نه کړو، نو پرته له دې چې چا ته څه ووایم پټ به هرسبان ته ولاړ شم.
ایلی- مه هېروه ته باید اترار ته لاړ شې او خان سلطان وژغوری.

بالخاش- غایرخان هغه د سلطان حرام سرای ته استولی.
ایلی- په هر حال ته باید ورپسې ولاړ شې، که اترار وی که کوم بل ښار څه فرق کوی؟
ایلی خپل د خبرو سره سم خپل د ځایه پاڅېدل او ویې ویل: زه باید لاړ شم.
بالخاش د هغې لاس ونیو او ویې ویل: لا مې خبره نه ده ختمه شوې.
ایلی- د څه په اړه غواړې خبری وکړې؟
بالخاش- راځه کینه، غواړم یوازې له تا سره اوسېږم.

همدا چې ایلي د کښیناستلو اراده وکړه بالخاش هغه خپل غېږه کې ونیول، ایلی خپله خوله خلاصه کړه تر څو څه ووایي، خو د بالخاش شونډو د هغې خوله وتړله دا یو د احساساتو ډکه شېبه وه. دواړو احساس کاوه چې د یو بل غېږې ته اړتیا لري، خو بالخاش هیڅ نه ویل، یوازې ایلي ښکلول یوه ساعت وروسته کله چې ایلي د بالخاش له کوټې راووته، هغه څه یې ترلاسه کړي وو چې په لټه کې یې وه. احساس یې کاوه چې بالخاش د هغې شو، او ډېر ژر به د خان سلطان ځای د هغه په زړه کې ونیسي.

ساعت د نیمې شپې څخه تېر شوی و چې د دروازې پرلپسې ټک،ټک بالخاش له خوبه راویښ کړ. وارخطا پاڅېد په بستر کښېناست او په خوبولي غږ یې وویل: څوک یې؟ زما سره څه کار لری؟

د دروازې د شا څخه د یو سړی غږ پورته شو چې ویې ویل: د امیر له طرفه مې درته پیغام راوړی دی دروازه خلاصه کړه.
بالخاش- د شپې په دی وخت امیر له ما سره څه کار لري؟
سړی- زه مامور یم چې تا د هغه حضور ته بوزم،فکر کوم مهم خبر به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- امیر ته ووایه چې زه به پخپله ورشم ملاقات ته یې.
سرې- ستا دا ګستاخي به امیر هېڅکله و نه بخښي.

بالخاش وخندل او له ځانه سره یې وویل: حتماً بد خبرونه دي چې زه یې د شپې په دی ناوخته په دومره بیړه غوښتۍ یم؟!

بالخاش خپل لځایه پاځېد او د دروازې خواته ولاړ تر دې د مخکې چې دروازه پرانیزي ویې ویل: باید صبر وکړې، تر څو خپلې جامې واغوندم.
سرې- سمده بیړه وکړه، ایلي هم هلته ده یوازې ستا انتظار باسي.

بالخاش دروازه پرانیسته ناڅاپه ناشنا سرې چې په لاس کې یې خنجر ځلیدی لاس یې په چټکۍ مخکې کړ تر څو خنجر د بالخاش په خېټه کې ننباسي. خو بالخاش ځان څنګ ته کړ او هغه سرې چې غوښتل یې ژر بالخاش ووژني د بې‌احتیاطۍ له کبله خطا شو او چټک عمل یې بې‌فائدې پاتې شو. کله چې خنجر یې هدف ته ونه رسېد سرې خپل تعادل له لاسه ورکړ یو څه وغورځېد او تر دروازې لاندې راښکته شو. بالخاش هغه ته فرصت ورنه کړ له شا یې کالۍ ورخخه ونیول او تر هغه مخکې چې سرې ځان راټول کړي هغه یې دننه کوټې ته ټیله کړو او دروازه یې بنده کړه او خپله هم دننه ورننوت.

سرې په شدت سره د کوټې په مقابل دېوال ولګېد او همالته پرېوت خو سمدستي بیرته پاځېد لاسونه یې دواړه خپاره کړل سر یې مخکې کړ او د خنجر څوکه یې د بالخاش خواته ونیول، بالخاش ځان شاته کړ او ویې ویل: نه پوهېږم ته څوک یې او ولې غواړې ما ووژنې خو مخکې له دې چې دغه خنجر ستا په سینه کې ننباسم بهتره به وی چې لری ختا کړی او دا ووایی چې څوک یې؟ او چا زما د وژلو لپاره رالیږلی یې؟

سرې په غوسه ناک انداز وخندل او ویې ویل: ډېر پر ځان باور لری کنه بالخاش؟! زه به دې داسې ووژنم چې هېڅوک به ونشي کولای درسره مرسته وکړي، دوی به حتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو داسې نښه هم پیدا نه کړې چې پوه شې چې ته چا وژلی یې؟ ته یو خیانتکار یې او له قبر پرته بل ځای ستا لپاره نشته ته باید ووژل شې، کله چې پوه شوم تا خیانت کړی نو هوډ مې وکړ چې ستا سر به پرې کوم.

بالخاش- ښه نو ته د خبیث سوباتای د جاسوسانو څخه یې؟

سرې- هو بلکل سم پوهه شوې، خائین هغه ته د مرګ څخه وژغورلې خو تا ورسره داسی کار وکړو؟
بالخاش- خوله بنده کړه احمقه!

هغه سرې چې د تیمور ملک له خادمانو څخه و او د مغول خان لپاره یې جاسوسي کوله. هغه د بالخاش او تیمورملک خبرې د تالار له دروازې شاته اورېدلې وې او پرېکړه یې کړې وه چې هماغه شپه به بالخاش وژني او دا خبر به سوباتای ته رسوي.هغه د ماوراءالنهر له خلکو څخه و چې د دښمن لپاره یې جاسوسي منلې وه.

بالخاش په ډېر خطرناک حالت کې قرار درلود. هیڅ وسله ورسره نه وه چې پرې خپل د ځان څخه دفاع وکړي. که څه هم بالخاش هیڅکله احتیاط له یاده نه ایست خو توره او خنجر یې هماغه وخت له هغه اخیستل شوي وو کله چې د تیمور ملک کسانو په هرسبان کې راګیر کړی وو، اوس هغه بله لاره نه درلوده او مجبور و چې په تش لاس خپل د ځان څخه دفاع وکړي.

سرې ورو ورو مخې ته ورغی،هغه باور درلود چې بې وسلې بالخاش به په یوه چټکه حمله له منځه یوسي.
بالخاش ورته وویل: لا هم ناوخته نه ده، زه کولی شم له تیمورملک څخه ستا د بخښنې غوښتنه وکړم. ځان تسلیم کړه!
سرې وخندل او ویې ویل: غم مکوه د تیمورملک نمبر هم رارسیږی همدا نن شپه د همدی خنجر سره د هغه ملاقات ته هم ورځم او ډېر ژر یې ستا خوا ته دراستوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش دومره شاته ولاړ چې شا یې پر دېوال ولګېده، خو لا هم ټوله پاملرنه یې پر هغه سړي وه ده باید یو چل کارولې وایې کنه مرګ یې حتمی وو د هغوی ترمنځ فاصله کرار، کرار راکمېده. سړی اوس کولای شوی په یوه ناڅاپي او چټک حملی باندی بالخاش له پښو وغورځوي. د بالخاش په تندي او مخ د خولو دانه‌دانه ښکاره وې، چې د شمعې په خړه رڼا کې ځلیدې.ناڅاپه یوه چل ورته په ذهن کې راغی. " د ایلی کړی چل ورته ذهن کې راغې" خپل نظر یې د کوټې دروازې ته واړاوه، داسې یې وښودو لکه یو څوک چې دروازې خوا کې ولاړ دی او بیا یې په کلک غږ وویل: آه، راغلې؟ ژر یې ونیسه!

د هغه سړی فکر د یو شیبې لپاره د دروازی خوا ته شو او همدومره وخت کافی وو ترڅو بالخاش پر هغه بریدو کړی، بالخاش د هغه وسله وال لاس ونیو او په زوره یې هڅه کوله چې د هغه له لاس څخه خنجر واخلې،سړی سر سختانه مقاومت کاوه، خو بالخاش په سختۍ سره د هغه پر پوزه یو ګوزار ورکړ چې د ډېر درد له امله د هغه مقاومت مات شو او خنجر یې پرېښود بالخاش د خنجر څوکه د هغه پر ستوني کېښود او ویې ویل: اوس به زه ستا د مرګ خبر سوباتای ته واستوم.

هغه سړی چې له درده تاو راتاو کېده وویل: زه له وژل کېدو وېره نه لرم خو تا زه په چل او فریب ونیولم او دا ستا حق دی چې ما ووژنې.

بالخاش راپورته شو او ویې ویل: زه خپل لاسونه د داسې خاین سړي په وینو نه چټل کوم. بیا یې یو لغت د هغه په اړخ وواهه او زیاته یې کړه: پاځه تیمورملک به ستا پر لیدو خوشاله شي، ځکه د مغول خان جاسوس یې خپل په دربار کې راګیر کړی.

سړی ورو پاڅېد بالخاش ترې وپوښتل: خپل د نور ملګرو نوم واخله.
خو سړي په ریشخند سره وخندل او ویې ویل: زه به تا ته هېڅکله د هغوی نومونه وانخلم حتی که زما سر هم پرې کړئ زه به هېڅ نه وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش هغه له کوټې بهر بوتلو او په لوړ غږ یې ساتونکي راوغوښتل لږ وروسته دوه تنه ساتونکي راغلل. بالخاش هغوی ته وویل: دا خاین بوځئ ده غوښتل ما ووژني.
ساتونکي د هغه سړی په لیدو حیران شول یو یې وویل: آشور؟ دا ناشوني ده!
هغه سړی چې آشور نومیده وویل: حیرانیږئ مه، ما واقعاً غوښتل بالخاش ووژنم،خو هغه له ما ځیرک و کاشکې ما کولای شوای هغه له منځه یوسم.

بالخاش ساتونکو ته وویل: زندان ته یې یوسئ.
آشور زندان ته یووړل شو،بالخاش په بېړه خپل کوټې ته ستون شو خپل جامې یې واغوستې او په تلوار د تیمور ملک د خادم لیدو ته لاړ، هغه له خوبه راویښ کړ. او راپیښه شوی واقع بې ورته تشریح کړه او ترې وغوښتل چې ژر تر ژره تیمورملک د دې کیسی څخه خبر کړي.

د بالخاش د خبرو وروسته خادم وویل: باور کول یې سخت دی، اخ اشور د حرم سرای له خواجه‌ګانو څخه و، هغه څنګه کېدای شي چې د مغول خان جاسوس اوسیږی؟ خامخا به بل هدف یې درلود.
بالخاش- تعجب نه‌لري، د سوباتای او چپه نویانو جاسوسان هرځای خپاره شوي دي.
خادم وویل: تاسو دلته پاتې شئ، زه به امیر ته ژر خبر ورکړم.

هغه په بیړه د حرم‌سرای لور ته لاړ،کله چې تیمورملک د خادم له خولې د پېښې کیسه واورېده، د خوب له جامو سره له حرم سرای څخه راووت. قلی‌خان د ساتونکو مشر یې راوغوښت او امر یې ورته وکړ چې اشور ژر تر ژره د شکنجی ورکولو کوټې ته ویسي او د شکنجی مامور هم خبر کړی، بیا یې بالخاش ته مخ واړاوه او ویې ویل: کیسه وکړه څنګه چل وو؟

بالخاش کیسه ورته وکړه او زیاته یې کړه: ایلي ماته ویلي و که امیر له ما سره کوم کار ولري، نو د دی له لارې به ما وغواړي او خبر به راکړی نو ځکه کله چې آشور ستاسو پیغام له دروازې د شا څخه راکړ، ما له احتیاط نه کار واخیست. کله چې مې دروازه خلاصه کړه ځان مې شاته کړ هغه چې خپل خنجر یې چمتو نیولې وه، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر يې وکړ چې زه مخامخ دروازې کې ولاړ يم، نو بريد يې وکړ. خو تيز اقدام يې وکړ. که هغه لږ صبر کړی وايې نو په مناسب فرصت کې دننه په کوټه کې په کراره زه وژلي شوم.

که څه هم دا پېښې تيمورملک سخت خفه کړې وو خو د ده پر شونډو يو خندا خپره شوه خپل د خادم خوا ته يې وکتل او ويې ويل: بالخاش اوس له کار سره ښه بلد شوی دی.
بالخاش- د مغول خان جاسوسان ټول هوښيار او چالاک خلک دي، زه حيران يم چې اشور څنګه ونه‌شوای کولی ما ووژني. هغوی هېڅکله تېروتنه نه کوي.
تيمور ملک- دليل دا دی چې ته تر هغه ډېر هوښيار او تيز وې، همدا يې د ناکامۍ لامل شو.

په هماغه وخت کې، قُلي‌خان خبر ورکړ چې د سزا ورکولو مامور او شاګردان يې د شکنجې ورکولو په ځای کې د حاکم د امر په تمه دي.
تيمور ملک وويل: زه به اشور ته دومره سخت عذاب ورکړم تر دې چې د نورو جاسوسانو نومونه ووايي، کوم چې زما په نظام کې ننوتلي دي.
بالخاش- خو هغه يو داسې سړی دی چې له عذابه نه وېرېږي، بلکې مرګ ته ښه راغلاست وايي.

تيمور ملک او بالخاش يوځای د شکنجې ورکولو کوټې پر لور روان شول، اشور يې د څلورو مېخونو په وسيله تړلی و. سره له دې چې د زړه کلکوالی او شجاعت يې ښودلی و خو بيا هم د څهرې رنګ يې اوړېدلی وو.
تيمور ملک ورته وويل: يو وحشتناکه او بد مرګ دې په انتظار کيدی.
اشور داسې حال کې چې کوښښ کاوه غږ يې د وېرې څخه ونه لړزيږی ويې ويل: نو څه ته په تمه ياست؟

تيمور ملک د شکنجې مامور ته اشاره وکړل د هغه يو تن شاګرد ګرم شوی اوسپنه له تنور څخه راويسته او د اشور پر لور يې ونيوله...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش اشور ته مخ کړ او ویې ویل: ستا سره یوازی یوه لاره پاتي.
اشور- تاسو دا تمه لرې چې زه به خپل ملګري افشا کړم؟ خو نه زه به هېڅکله د هغوی نومونه وا نخلم!

تیمور ملک- ښه خبره ده(بیا یې د شکنجی مامور ته اشاره وکړل او ویې ویل: پیل وکړه.

د شکنجی مامور خپل د شاګرد له لاسه ګرم اوسپنه واخیسته او د اشور پر اوږه یې ولګوله...

آشور چغې ووهلې او ویې ویل: لاس ونیسئ بس دی.
د شکنجی مامور ګرم اوسپنه د هغه څخه لری کړل، تیمورملک ورته وویل: وایه آشور، د هغوی نومونه څه دي؟ زه تا ته وعده درکوم که یې نومونه ووایې، زه به دې و نه وژنم.
آشور له درد نه زګیروی وکړ او ویې ویل: لږ صبر وکړی.
بالخاش- خو موږ ډېر وخت نه لرو!
آشور- زه یوازې یو کس پېژنم چې د مغول خان لپاره جاسوسي کویـ ...

په هماغه شېبه کې، ناڅاپه یوه غشی فضا خیری کړه او د آشور په زړه کې ننوته، اشور یو چیغه کړه او وینه ترې وبهېده.
بالخاش د زینو پورته خوا ته وکتل هلته یې د یو سړی سایه ولیده چې په بیړه د دهلیز خواته روان وو، بالخاش ژر د یو ساتونکي له نیام څخه توره راویسته او په بیړه زینو ته پورته شو. کله چې دهلیز ته ورسېد یو سړی یې تر مشعلونو لاندې ولید چې د دهلیز د وتلو دروازې خواته منډه وهي.

بالخاش پسې منډه کړه دا سړی د مغول خان له جاسوسانو څخه و، هغه د دې لپاره راغلی و چې آشور تر خبرو مخکې ووژني او بریالی شوی هم و اوس یې هڅه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځان وژغوري.بالخاش همداسې پسې روان و. سړی له دهليزه ووت، په وېره يې شاوخوا وکتل داسې ښکارېده لکه چې د تېښتې لار يې هېره کړې وي.هغه د ونو ګڼ ځنګل ته وتښتېد کله چې يې شاته وکتل، بالخاش فرصت له لاسه ورنکړ ژر مخکې لاړ او هغه ته يې پیاوړی ټک ورکړ، سړی خپل تعادل له لاسه ورکړ شاته ولاړ او پر ځمکه ولوېد. لا يې ځان سم نه و را ټول کړی چې بالخاش پرې ورودانګل.

***

هغه سړی چې آشور يې وژلي وو د سختو شکنجو لاندې وو. قلي خان د ساتونکو مشر چې يو ظالم او بېرحم سړی و هغه جاسوس شکنجه کاوه، کله چې هغه به بيهوشه شو بيا به يې راويښ کړ ترڅو شکنجه بيا پيل کړي. هغه جاسوس خوله بنده کړې وه او د مغول خان د نور جاسوسانو نومونه چې د تيمور ملک په ډله او دربار کې وه نه اخيست، خو په پای کې قلي خان وتوانېد چې د وحشتناک شکنجو په وسيله د هغه مقاومت مات کړي او هغه ديته اړ کړی تر څو په هر څه چې پوهېږي ووايي. هغه جاسوس چې نور د شکنجې زغم نه درلود د مغول خان د دوه جاسوسانو نومونه واخيستل او هغوی افشا کړل.

شپه لا پای ته نه وه رسېدلې چې قلي خان دغه راز تيمور ملک ته ورسوه، مخکې له دې چې لمر د خجند په ښار وړانګې واچوی د مغول خان دوه جاسوسان چې د خجند د خلکو څخه وو په خپلو کورونو کې ونيول شوي وو.

د تيمور ملک په حکم هغه سړی او دوه نور هغه کسان چې د هغه پر وينا نيول شوی وه د ورځې په نيمايې کې د جلاد لخوا د شکنجی ورکولو په کوټه کې سرونه ووهل شول.

په دې وخت کې بالخاش د دولت په دارالحکومت کې و هغه ځان په دې بريا کې شريک ګڼلو، ځکه د هغه په کوښښ سره هغه سړی نيول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمورملک هېڅکله د بالخاش شهامت او له ځانه تېرېدنه نه هېرول، خو بالخاش هېڅکله له دې فکره نه وتهٔ چې یو ځل بیا د مغول خان کمپ ته لاړ شي. ده د دې لپاره چې د سوباتای باور ترلاسه کړي، د خپل تېښته لپاره یوه کیسه هم جوړه کړې وه او هیله‌مند و چې سوباتای به دا کیسه ومني. خو تیمورملک د بالخاش بېرته تګ د مغول خان کمپ ته موافق نه و. هغه غوښتل چې د چنګېز خان د پوځ د حرکتونو او د هغه د جنګي پلانونو په اړه تازه معلومات تر لاسه کړي، نو یې امر وکړ چې ایلي هرسبان ته د ماموریت لپاره واستول شي.

هغوی د دارالحکومه په لوی تالار کې په خبرو بوخت وو. بالخاش ټینګار کاوه چې دی دې د ایلي پر ځای دې ماموریت ته واستول شي، خو تیمورملک بله پریکړه درلوده.
ایلي- که بالخاش هرسبان ته ورسېږي او د مغولو د جاسوسانو څخه کوم یو یې و پېژني نو مرګ یې حتمی دی.
بالخاش- خو زه ډاډه یم چې کله زه خپل کیسه چې ما د مغول خان د کمپ څخه د تېښتی لپاره جوړه کړې ده سوباتای ته ووایم نو هغه به پرې باور وکړي.
تیمورملک ورته وکتل او ویې ویل: ښه نو ته دې کیسه موږ ته ووایه چې موږ هم پرې پوه شو ښایي ته سم اوسېږې.

بالخاش- سوباتای پوهېږي چې زه تل د دې ورځې په تمه یم چې له غایرخان څخه غچ واخلم. او هر ځل چې مې دا خبره ورسره شریکه کړې، نو هغه راته ویلي چې لا وخت نه دی رارسېدلی.
ایلي- په دې خبره موږ هم پوهېږو.
بالخاش- زه به ورته ووایم چې اترار ته تللی وم، تر څو له غایرخان څخه غچ واخلم.
تیمور ملک په خپل ځای کې لږ وخوځېد، لاس یې د زنې لاندې کېښود او ویې ویل: زه نه غواړم ستا د وژل کېدو خبر واورم. ستا شتون په خنجد کې اړین دی. که څنګه چې ته وایې مغول خان به ډېر ژر زموږ پر هېواد یرغل وکړي، نو ستا تلل په اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې هرې خوا ته ستا ژوند به له خطر سره مخ کړی. په خنجد کې پاتې شه او له مورې سره په هغه خونړۍ جګړه کې چې مخکې لرو ګډون وکړه.

بالخاش له څو شیبو چوپتیا وروسته وویل: څنګه به وي که زه او ایلي یو ځای هرسبان ته لاړ شو؟ایلي ښځه ده او دا خطرناکه دنده ده زه فکر نه کوم چې هغه دې وکولای شي هغه معلومات چې لاس ته یې راوړي تر دې ځای راورسوي.
تیمور ملک لنډ وخندل او ویې ویل: ایلي په خپله ځانګړې طریقه لری هغه د هر خطر څخه خان ژغورلې شې، او له بلخوا د سوباتای باور پرې دومره ډېر دی چې کېدای شي هغه ایلي ته دنده وسپاري چې خنجد ته راشي او د مغول خان د پوځ لپاره زمورې له عسکرو څخه معلومات راټول کړي.

بالخاش چې ولیدل هڅه یې ناکامه ده چې بیرته د مغول خان کمپ ته لاړ شي نو ویې ویل: نو مهرباني وکړئ اجازه راکړئ چې زه اترار ته لاړ شم، هلته زما د زوکړې ځای دی او هغه څوک چې زما ژوند ته یې خطر پېښ کړی هلته واکمني کوي.
تیمور ملک وویل: عجیبه ده چې ته د انتقام له فکره نه وځې او نه غواړې چې دا ومنې که اترار ته ورسېږي نو د غایر خان جاسوسان به دې ونیسي.

بالخاش لنډ وخندل او ویې ویل: قربان زه هم خپل ځانګړې طریقې لرم او کولای شم داسي پټ شم چې څوک مې پل وانخلی، زه هغه څوک یم چې د مغولی سوداګرو د کاروان سره اترار ته ولاړم بیا هلته مې خپل کالی او څهره بدل کړل او د محمود یلواج په نوم مې ځان معرفي کړ او د غایر خان سره مې ولیدل، خو هغه ونه شولای چې ما وپېژني.

تیمور ملک په حېرانۍ سره وویل: که دا خبره رښتیا وي نو باید ووایم چې ما ستا په څېر سړی نه دی لیدلی، خو ایلي ما ته د غایرخان سره ستا د لیدنې په اړه هېڅ نه دي ویلي.
بالخاش- علت یې دا ده چې ما هغې ته هېڅ نه دي ویلي، ځکه ما پر هغې د مغو خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جاسوسانو ګمان کاوه.
ایلي وخندل او ویې ویل: همداسې ده.

بالخاش خپل د لیدني کیسه د  غایر خان سره او د مغولي سوداګرو د وژنې موضوع تیمور ملک ته بیان کړه...
تیمور ملک وویل: د مغولي سوداګرو د وژنې په اړه مې اورېدلي وه، خو نه پوهېدم چې غایرخان څنګه پوهه شوی وو چې هغوی د دښمن جاسوسان دي، خو اوس پوه شوم چې دا نقشه ته جوړه کړې وه.

بالخاش- مورِ له یو سختـزړي او ځواکمن دښمن سره مخ یو. هغوی بې‌رحمانه بریدونه کوي او ښارونه په وینو او خاورو بدلوي. له داسې زورور دښمن سره باید حیله وکارول شي،که سوباتای او چپه نویان له منځه لاړ شي، نور د مغول خان د فتوحاتو باور نه شي کېدای.هغه د همدوی د جاسوسي معلوماتو پر بنسټ بریدونه کوي او بریالی کېږي.

تیمور ملک د بالخاش خواته وکتل او ویې ویل: نو ستا په نظر که جګړه پېښه شي، مورِ به ماته وخورو؟
بالخاش- زما نظر دا نه دی، قربان تاسو د سلطان محمد له امیرانو څخه یاست او باید د سلطان د لښکرو د ځواک په اړه زما څخه زیات معلومات ولرئ، خو خپل معلوماتو کې دا هم ورزیات کړئ چې د مغول خان پوځونه له بیرحمۍ او شدت نه کار اخلي.

ایلي- بالخاش سم وایي ما دا خبره مخکې هم تاسو ته کړې وه.
تیمور ملک په کمزوری خندا سره وویل: تاسو ډېر جالب معلومات لرې ان تر ما هم زیات، خو زه به د مغول خان په وړاندې ودریږم، زه هغه څوک نه یم چې د ښار دروازې پرانیزم او لکه یو بیغرت پشان د هغوی هرکلی وکړم او تسلیم شم، زه غوره ګڼم چې د مړینې هرکلی وکړم، مړینه هغوی ته تر تسلیم کیدلو عزتمند ده، او یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتی دا ځای د نور ټولو ځایونو سره فرق کوی دا خجند دی. زه د ډېر پخوا څخه د دې برید لپاره چمتو شوی یم زه به د اخری ساه پوری مقاومت وړن.

بالخاش- کاش ټول واکمنان ستاسو پشان پوه او باغیرت وای.
تیمور ملک په آرامۍ سره سر وخوځاوه او ویې ویل: شک مکوه بالخاش کله چې خبره د وطن او د غیرت راشی بیا به مغول خان د سلطان محمد د پوځونو مقاومت د شجاعت وګوری.
لږ خاموش شو او بیا یې وویل: تاسې کولای شئ د آرام لپاره خپل کوټو ته لاړ شئ. او د دې خبری سره سم خپل په درنو ګامونو د تالار څخه ووت.

***

هغه وخت چې د خجند ښار د طوفان څخه مخکې په سکون او ارامۍ کې ډوب و د هغه ځای څخه لیرې لیرې د مرینې طوفان راپورته شوی وو.

سهار وخت و چې د مغولو پوځ خپله لویه حمله پیل کړه. هرسبان د هغوی لومړنی هدف وو. هغه ورځ د هجري کال ۶۱۶ د رجب پنځلسمه وه، د یکشنبې سهار په سور لمر کې یوه لویه او وحشتناکې جګړې پیل شوه هغه جګړه چې د بشریت تاریخ یې په وینو ولیکه.

د جنګ اور د مغولي سرتیرو په راتلو لا پسی آسمان ته پورته شو، د ماوراءالنهر لارې د تېز سپرلو چې پر چټکو آسونو سپاره وه او په چټکۍ او ویرې سره نورو ښارونو پخوا روان ول ترخو خلکو ته د یوې ستری فاجعې او بدبختی خبر ورکړي. هغوی له هر لوري د وینې او اور له منځه تښتېدلي وو.یو سپور چې سر یې د آس د غاړې څنګ ته ټیټ کړی و، او پښې یې کلک د آس لاندې نیولې وې، په چټکۍ روان و هغه خجند ته روان و، هغه بغیر د کوم دمی په یو ساه ځغاستو.

هغه شپه تیمور ملک کله چې ایلي او بالخاش یوازې پرېښودل، له تالاره بهر شو هغه د خجند خلکو ته اندیښمن و.هغه یو زړور او هوډمن سړی و سره له دې چې پوهېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مغول خان د پوځ په وړاندې مقاومت نه شي کولای خو پرېکړه يې وکړه چې ودرېږي او په زړورتيا ووژل شي.

بالخاش هم خوب نه شو کولای، د خان سلطان او غاير خان په فکر کې و، وضعه يې ناپېژندلې وه له غاير خان د انتقام خبره تل په ذهن کې وه او له فکر څخه يې نه جلا کيدل د خپلو موخو لپاره يې ډېر پلانونه جوړ کړي و حتی ايلي يې هم له ياد نه وه ويستلی.ايلي د هغه لپاره يوه داسې نجلۍ وه چې په هغه وخت کې يې ورته هيڅ برلبر او وړ کس نه و ليدلی. يوه زړوره، پټ راز لرونکې او زيرکه نجلۍ چې ښېشکه کولای شو د بالخاش په پلانونو او موخو کې د هغه سره مرسته وکړي.

د خجند ښار د شپې په خاموشی کې ډوب و د ښار ساتونکی د يوې لنډې ګزمې وروسته خپل کوټې ته لاړ چې استراحت وکړي. او کله چې يې سترګې تازه د خوب لپاره ګرمی شوې وه چې ناڅاپه پر لوی دروازه پرله پسې ټکونونه وشول، د هغه کلک او ويرووونکی ټکونو باندی هغه د خوب څخه راويښ شو، پاڅېد او په بستر کې کښېناست فکر وکړ چې د ټکونونو غږ يې په خوب کې اورېدلی دی.

خو کله چې ټکونه دويم ځل دوام وکړ، نو په بيړه پاڅېد او له کوټې بهر شو. تر دروازې ورغی او په لوړ غږ يې پوښتنه وکړه: څوک يې؟ ستا نوم څه دی؟
د هغه خوا پر اس سپور سړی وويل: زه د تيمور ملک مامور يم. له هرسبان راغلی يم او مهمه خبر لرم دروازه خلاص کړه.

ساتونکي- د شپې نوم؟
د دروازی د هغه خوا څخه پر اس سپور سړی ځواب ورکړو: بې عقل زه درته وايم چې له هرسبان څخه راغلی يم او ته وايي د شپې نوم!؟
ساتونکئ- خو زه اجازه نه لرم چې تا ښار ته پريږدم، بايد تر سهاره انتظار وباسې.
سړی په قهر وويل: بيا نو سهار انتظار باسه چې د تيمور ملک په حکم ستا غاړه به وهل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دروازی ساتونکي په شک کې شو، په پای کې د اوسپنې دروازه شا ته کړه او دروازه یې خلاصه کړه. سرې په داسی حال کې چې د اس واګی نیولې وه له دروازې تېر شو او کرار سوک یې د دروازی ساتونکي په سینه ورکړو او ویې ویل: خپل ژوند دې وژغور د دروازی په خلاصولو.
ساتونکي و پوښتل- ته څوک یې؟

سرې په داسي حال کې چي خپل پر آس کښیناستی وویل: اړتیا نشته چې ما وپیژنې.
ساتونکي- څه مهم خبر دی راوړې؟
سرې- ډېر ژر به پوه شې.

او د دې خبری سره سم یې د آس پر خېټه لغته ووهله او په تېزۍ د دارالحکومې خوا ته لاړ. د آس د پښو غږ د شپې چوپتیا ماته کول د دارالحکومې مخکې له آس څخه راښکته شو او ژر د ساتونکو د مشر کوټې ته ولاړ او ځان یې معرفی کړو.
د ساتونکو مشر چې هغه پیژندو د هغه د سترې او خفه څهری په لیدو په حیرت کې سو او ویې پوښتل: څه پېښه شوې ده؟
سرې وویل: یو مهم خبر لرم چې باید تیمور ملک ته یې ورسوم.
د ساتونکو مشر- ما ته هیڅکله دومره غمژن او ورختا نه وی لیدلی!

سرې- ما ډېره اوږده لار وهلی تر څو دلته راشم.
د ساتونکو مشر- لږ صبر وکړه، خادم ته خبر ورکړم.

ډېر وخت نه و تیر شوی چې د سرې د ننوتلو خبر تیمور ملک ته ورکړل شو. هغه له حرمسراې څخه د خوب په کالو کې د دارالحکومې تالار خوا ته راغی لږ وروسته خادم سرې تالار ته ورساوه.تیمور ملک چې سرې ته وکتل نو اټکل یې وکړ چې کیسه څه ده؟! خپلې سترګې یې پر هغه ټینګې کړې او ویې ویل: ابوبکرا! ته یې؟!
ابوبکر- هو، قربان! زه له هرسبان څخه راغلی یم.
تیمور ملک- څه پېښه شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوبکر- قربان! هغه وحشیانو برید پیل کړی دی، همدا اوس هرسبان او په سرحدي ښارونو باندې جنګ روان دی.

تیمور ملک په آرامۍ سره وویل: همدلته به د هغوی په انتظار کې پاتي شو.
ابوبکر- هغوی بیحد بې رحمه او وینې څښونکي دي.
تیمور ملک- اندېښنه مه کوه د هر څه په اړه چې پوهېږې و وایه.
ابوبکر یوه ژوره نفس واخیست او وویل: زه په بیحد مشکل سره له هرسبان څخه و وتلم، نږدې و چې ووژل شم.

تیمور ملک د خپل خادم په لور وګرځید او ورته وویل: ابوبکر د لرې لارې څخه راغلی دی او ستړی دی. اوس اړتیا لري چې څه آرام وکړی.

ابوبکر ورو ورو له تالار څخه ووت. تالار کې خاموشي خپره شوه تیمور ملک چې لاسونه یې شا ته تړلي وو په تالار کې ورو ورو ګرځېده او په فکرونو کې ډوب و، یو سخت او وحشي جګړه پیل شوې وه، یو داسې جګړه چې ښارونه او بې ګناه خلک به یې په اور او وینو کې غرق کړی واې

خادم دوه سترګی تیمور ملک ته نیولی وه، تیمور ملک هغه ته مخ وګرځو او د هغه مخامخ ودرېد او ورته وویل: بالخاش او ایلي ته خبر ورکړه چې دلته راشي.

خادم درناوي وکړه او له تالار څخه ووت.

ایلي په خوږه خوب کې ډوبه وه کله چې یې په دروازه باندې څو ټکونه واوریدل، سترګې یې په آرامۍ سره پرانیستې او وپوښتل: څوک یی؟
-زه یم خادم امیر تاسو خپل حضور ته بللي یاست.
ایلی- لږ صبر وکړه.

له بستری پورته شوه تر څو جامی واغوندی اټکل یې کاوه چې مهم خبرونه دارلحکومت ته رسیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپه فکر یې ابوبکر ته شو چې هغه یې په هرسبان کې پریښی و. په چټکۍ سره یې جامې واغوستې او د کوټې دروازه یې خلاصه کړه او پوښتنه یې وکړه: څه مهم کار دی چې امیر په دی وخت کې زه غوښتی یم؟
خادم په اندېښمن غږ وویل: بده خبره ده، د مغول خان پوځونو برید کړی دی.
ایلي وویل: دا هغه څه وو چې موږ یې تمه درلوده.

او له کوټې بهر شول خادم وویل: امیر بالخاش هم غوښتی دی.

دواړه په ګډه د بالخاش د خوب د کوټې پخوا روان شول ایلي دروازې ته یو څو ټکونه وکړل لږ وروسته د بالخاش د خوب څخه ډک غږ راپورته شو او پوښتنه یې وکړه: څوک یې؟
ایلي- جامې دی واغونده.

بالخاش د ایلي د غږ په اوریدو حیران شو.په تلوار له بستری راپورته شو جامې یې واغوستې او د کوټې دروازه یې خلاصه کړه. سترګې یې په ایلي او خادم ولګېدې.
ایلي په نرمه خندا وویل: اوس کولی شې بیغم اوسیږی ځکه زه نور هېڅکله هرسبان ته نه ځم.
بالخاش په آرامۍ سره خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: نو هغوی برید پیل کړی دی؟
ایلي- چټک شه تیمور ملک موږ دواړه غوښتی یو.

درې واړه د دارالحکومې په لور روان شول بالخاش وویل: زموږ د هېواد لپاره یوه لویه مصیبت دی.
ایلي- وخت راغلی دی چې ته اترار ته لاړ شې.

بالخاش- موږ باید وګورو چې تیمور ملک څه فکر لری؟

دواړه چوپ شول لږ وروسته دوی تالار ته ننوتل تیمور ملک چې ګرځیدو راګرځیدو د دوی ننوتلو ته پام نشو.
ایلی مخته لاړ او ویې ویل: موږ ستاسو په خدمت کې یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملک و درید هغې ته یې وکتل او ویې ویل: زموږ استازی ابوبکر له هرسبان څخه راغلې او خبر یې راوړی چې مغول خان خپل برید پیل کړی او سرحدي ښارونه یې سوځولې او خلک یې قتل عام کړي او اوس د اترار په لور روان دی.

بلخاش- تر هغه ځایه چې زه پوهیږم د مغول خان پوځ په څو ډلو ویشل شوی دی او خجند به بې له شکه ډیر ژر د خونړیو جګړو ډګر جوړ شي.
تیمور ملک- خو زه نه غواړم چې تاسو دواړه په دې جګړه کې برخه واخلئ، مخکې لدې چې ډېر ناوخته شي، تاسو باید د خجند څخه ووځئ.
ایلي- خو زه به دلته ستاسو په خدمت کې پاتې شم.
بلخاش هم خپل سینه و ټکول او ویې ویل: اترار زما لپاره مناسب ځای نه دی اجازه راکړئ چې ستا سره اوږه په اوږه په دې جګړه کې د مغولو په مقابل کې ګډون وکړم.

تیمور ملک په موسکا سره وویل: خو ته باید خپل ټاټوبي ته لاړ شې او هلته خپل د خلکو سره اوږه په اوږه مبارزه وکړئ، ایلی هم له ځانه سره یوسه.

بلخاش- نو زه به بیرته مغولانو ته لاړ شم.

د تیمور ملک او ایلی خولې د حیرانتیا څخه خلاصه پاتی شوه تیمور ملک او ایلي وویل: زما په فکر چې تا خپل عقل له لاسه ورکړی دی.
بالخاش موسک شو او ویې: خو زه فکر کوم چې د هغوی په منځ کې که اوسیږم نو ښه غچ اخیستلی شم.
ایلی- ایا ته لا هم په دې اړه فکر کوې؟! سوباتا به تاته د خبرو کولو موقع لا درنکړي، د لیدو سره سم دی وژني.

بالخاش په خندا وویل: د هغه کیسې سره چې ما د تیښتې لپاره جوړه کړې ده، زه تقریبا ډاډه یم چې زه کولی شم د هغه باور ترلاسه کړم. البته، ستا څخه بغیر نشم بریالی کیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې هغه کیسه ورته وکړه چې د مغول خان له پوځ څخه د تیښتې لپاره یې جوړه کړې وه.

تیمور ملک په خندا وویل: ستا د کارونو او خبرو څخه داسې معلومیږی چې سوباتای او چپه نویان باید خپل ځای تاته پریږدي،ځکه ته د هغوی څخه ډېر زیرک او هوښیار یې.
بلخاش- نو ایا تاسو زما د دی وړاندیز سره موافق یاست؟
تیمورملک د یوې شیبې لپاره فکر وکړ او بیا یې وویل: ته ازاد یې چې هر چیرته ځې لاړ شې یا مغولانو ته ستون شې یا هم اترار ته! زه به ایلي هم ستا سره پریږدم. ته کولی شې حرکت وکړې. زه همدا اوس امر کوم چې ستاسو د سفر وسایلو چمتو کړی. ته باید د سهار له لمانځه مخکې له خجند څخه ووځې.

او بیا یې خادم ته مخ واړاوه او ویې ویل: د دوي د حرکت شیان چمتو کړئ.

خادم له تالار څخه ووت.

ډېر وخت نه و تیر شوی چې دوه تېز اسونه د حکومتي ودانۍ په دروازه کې د بلخاش او ایلی په انتظار کې و دریدل، د تګ وخت و تیمور د دواړو مخ ښکل کړ او ویې ویل: تاسو دواړه زما لپاره ګران یاست، خدای دې ستاسو ساتنه وکړي.
بلخاش او ویلي د هغه لاس ښکل کړو تیمور ملک خپل لاسونه د هغوی دواړو په اوږو کیخود او ویې ویل: زه فکر نه کوم چې بیا دي موږ یو بل سره ووینو، خو زه ډاډه یم چې تاسو چې هرچیرته لاړ شې خپل وطن او ټولني ته به خدمت وکړې.

په ځانګړې توګه ته بلخاش د هغه طریقې سره چې تا غوره کړې، ستا توره باید د مرګ تر شیبې پورې بی حرکت پاتی نشی زه نور د ویلو لپاره څه نلرم به مخ مو ښه.

بالخاش او ایلی د دهلیز څخه راووتل او په اسونو کښیناستل، لا تیاره وه کله چې دوی د خجند له دروازې څخه تېر شول او په چټکۍ سره روان شول...

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

د مغول خان د پوځ مشرانو کوم چې د خجند ښار د نیولو پلان یې درلود دوه اس سپاره ونیول چې له خجند څخه څو میله لرې تللي وو.

یو مغولي چیغه کړه: زه د دې دوو سپرلیو څخه یو پیژنم،هغه بلخاش دی چا چې زموږ دوه سرتیري ووژل او زموږ له کمپ څخه وتښتید.
بل مغولی وویل: نو موږ باید دواړه ووژنو.
بلخاش په زیرکتیا وویل: که زه پوهیدم چې که زه بیرته تاسو ته راشم نو تاسو به ما وژنې نو هیڅکله به د تیمور ملک له زندان څخه نه واې تښتیدلی هغوی هم زما د وژلو حکم صادر کړی و.

د بالخاش په دی خبره مغولان غلي شول د دوی مشر وویل: موږ باید تاسو خپل کمپ ته بوځو.
ایلي- موږ هم همداسې تمه درلود.

څلورو مغولو دوی محاصره کړل او خپل د کمپ خوا ته یې روان کړل، کله چې دوی روان شول نو بلخاش ایلي ته مخ واړاوه او په نرمۍ سره یې وویل: تر اوسه خو موږ بریالي معلومیږو.
ایلي- هو خو ته به یوازې ځان هېڅکله نه وای بریالی شوی.
بلخاش لنډ وخندل او ویې ویل: کله چې موږ د سوباتا له خیمې څخه ژوندی راووتلو نو دا ووایه، لا څرګنده نه ده چې هغه به له موږ سره څنګه چلند وکړي؟!

دواړه چوپ شول د مغولو آس سپرلۍ د سرکونو په منځ کې په غیر منظم ډول حرکت کاوه.دوی د خجند په لور روان وو ترڅو د هغه ځای آرمتیا په جګړه بدله کړي. هوا لږ تیاره کېده کله چې بلخاش او ایلي د خپلو څلورو ساتونکو سره کمپ ته ننوتل، د پوځ قوماندان چې ځواکونه یې د خجند په لوری مخ په وړاندې روان کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه د چنګیز خان زوی و کله چې هغه بلخاش ولید نو په بده توګه یې وخندل او ویې ویل: ما ته د قپچاق په دښته کې لیدلی وی.

بلخاش په کلک لهجه وویل: زه د سوباتا لپاره کار کوم، ما هغه ته واستوی زه د هغه لپاره مهم خبرونه لرم.
یو له مغلوی ساتونکو څخه چې بلخاش یې پیژندلی و وویل: سوباتا به هغه ضرور ووژني، نو څومره به ښه وي که موږ هغه ته د بلخاش د مرګ خبر ورکړو، دا مردار اتراری زموږ د دوه سرتیرو له وژلو وروسته د مغول خان له پوځ څخه وتښتېدی اوس باید ورڅخه خپل غچ واخلو.

د چنګیز خان زوی خپل ساتونکي ته په تېزۍ سره وکتل او ویې ویل: ته باید دا دواړه هرسبان ته بوځې سوباتای هلته دی.
او بیا یې د ایلي خوا ته وکتل او د یو معنا لرونکې موسکا سره یې وویل: ته څوک یې؟
ایلي- زه د مغول خان د جاسوسانو څخه یم سوباتای او چپه نویان زما له حالت څخه په بشپړه توګه خبر دي، که زه نه وای نو بلخاش به د تیمور ملک په زندان کې وژل شوی وای ځکه هغوی پر ده باندی د مغول خان د جاسوس ګمان کړی وو.

د چنګیز خان زوی ورو ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: داسې ښکاری چې تاسو دواړه د مغول خان د وفادار جاسوسانو څخه یاست.
له لنډې وقفې وروسته یې وپوښتل: له خجند څخه مو کوم معلومات له ځان سره راوړی؟
بالخاش په تلوار وویل: هغوی به ستاسو د ځواکونو په وړاندې مقاومت ونه کړي، د هغوی زړه کې وېره او وحشت ولیدلې دی.
د چنګیز خان زوی داسی حال کې چې خپل لاسونه یې سر مښل به لوړ غږ یې وخندل او ویې ویل: که تیمورملک د مقاومت سوچ لا وکړی نو زه به ښار په ځمکه نبناسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې هغه ساتونکي ته مخ واړاوه کوم چې د بالخاش او ایلی څارنه کوله او ویې ویل: دا دواړه وفادار ماموران به نن شپه دلته استراحت وکړي او د لمر له لوېدو مخکې هرسبا ته یې یوسئ او سوباتای ته یې وسپارئ.

ساتونکی ایلي او بلخاش له هغه ځایه وایستل او بل خیمې ته یې د آرام لپاره یوړل. هغوی دواړه خوشحاله او بریالي ښکاریدل ځکه تر اوسه پورې دوه لوی خطرونه له مخې تیر کړی وه، کله چې دواړه یوازې شول ایلی وویل: ته یو زیرک او هوښیار سړی یې.
بلخاش وخندل او ویې ویل: زه باور لرم چې سوباتای به هم زموږ په خبرو باور وکړي.

ایلي ځان د بلخاش په لور وخوځاوه سر یې د هغه پر سینه کېښود او په داسې غږ چې په څرګنده توګه ستړی معلومیدل ویې ویل: کله چې ستا سره یم نو د ارامۍ احساس کوم داسې ده لکه نړۍ چې ارامه او کراره وی.
بلخاش په خندا سره وویل: دا مه هېروه چې موږ دا مهال د دښمن په خیمه کې استراحت کوو او یوه ویجاړونکې جګړه روانه ده.

دواړه د خیمې په فرش باندې څملیدلی وه ایلي خپل سر د بالخاش له سینې څخه لرې کړه او په داسې حال کې چې تندی تروش کاوه وې ویل: او ته هم دا مه هېروه چې ته د ایلي سره یوازې یې.
بلخاش غوښتل چې یو څه ووایی خو ایلي د هغه شونډی ښکل کړل او خبره یې ورپری کړل د هغې په دی کار بالخاش په موسکا سره وویل: اوس ما هر څه هیر کړل حتی د لارۍ ستړیا هم.

ایلي په شوق وخندل او ویې ویل: خو زه لا هم ستړی یم.
د ایلي د دې خبری سره د دواړو شونډې یو پر بل ولګیدل او داسی وخت راغلو چې یو دبل څنګ کې ویده شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ نیمایي ته رسیدلې وه چې ایلي او بلخاش د دښمن د څلورو ساتونکو سره د هرسبان په لور روان شول. ګرم، سوځوونکی لمر پر دوی سایه اچولی وه، د هغوی د ټول اطمنان او باور شاته بیا هم یو ډول اندیښنه او اضطراب احساس کیده، د دوی اندیښنه دا وه چې دوی به ډیر ژر له یو داسې سړي سره مخ شي چې په هوښیارتیا او زیرکتیا کې نوم درلود هغه سړی سوباتای و چې د چپه نویان په مرسته یې د چنګیز خان جاسوسي اداره چلوله په حقیقت کې دا سوباتای او د هغه ماموران وه چې د چنګیز خان د فتحو لپاره یې لاری هوارول.

دلته دا تشریح کول اړین دي چې د جاسوسۍ بله طریقه د هڅونکو جاسوسانو روزنه وه او نن ورځ هم دا ډول ماموران‌و ته ځانګړې پاملرنه کیږي. په ځانګړې ډول جرمنیانو د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال د نویو لارو چارو په کارولو سره له دی جاسوسانو څخه پوره ګټه پورته کړل،په لویدیځه اروپا کې د هټلر فتحې او د فرانسې، هالنډ او بلجیم ویجاړول په لویه کچه په هغو جاسوسانو تکیه کوله چې د "پروکاتور" په نوم پیژندل کیدل، هغوی د پوځونو څخه مخکې تلل او د ښارونو او کلیو د خلکو په منځ کې یې ویره او ترهه رامینځته کوله او وضعیت یې دومره ګډوډ کاوه چې مخنیوی یې نشو کېدای.

د چنګیز خان جاسوسان هم په دې ډول ښارونو ته ننوتل خلکو ته یې د مغول خان د ځواکونو د بریښنایي بریدونو او د هغه د سرتیرو د وحشت او لیونتوب څخه خبر ورکاوه، دا ډول ځورونکو او ویرونکو خبرونو په خپریدو به د ښارونو وضعیت دومره ګډوډ شو چې واکمنانو به د جنګ څخه مخکې ماتی منل او د مغول خان د پوځ د راتلو سره به تسلیم کیدل. په دغه توګه چنګیز خان خپل په جاسوسي سازمان تکیه وکړه او هر خوا ته چې مخ کړو هغه ځای فتح کړ او مقاومت یې وځپو.

د هرسبان په شرابخانه کې اوس د خلکو د خندا او د شرابو د جامونو د جنګیدلو غږ نه اوریدل کیده. هلته د مغول خان د دوه هوښیار او ځواکمنو جنرالانو مرکزي دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

و چې د دی ځای ځخه یې د ماورالنهر په خاوره د برید پلانونه جوړول دا دوه سړي "سوباتاي" او "چپه نویان" وو.

دوی په خپل اختیار کې تیز اسونه او ماموران درلودل چې د لری، لری ځخه به یې دوی ته د دښمن د خاوری په اړه خبرونه او معلومات راوړل او دوی دواړو به د هغه معلوماتو پر بنسټ د مغولي لښکرو د چټک پرمختګ او د سلطان خوارزم شاه د ځواکونو د ماتولو لپاره نوي پلانونه او چلونه کارول.

سوباتای چې د جاسوسانو مشري یې کوله او دا ډول جاسوسي نظام د هغه خپل نوښت و، هغه خپل په ټول ځواک سره چې مغول خان و هغه ته ورکړی و هڅه کول چې د جاسوسۍ له طریقي د دښمن په ځمکو کې د ښاري خلکو مورال خراب کړي او په هغوی کې ویره او وحشت رامینځته کړي.

جاسوسان هر ځای خپاره شول دوی د دښمن د جبهې تر شا کار کاوه او د مغولانو لښکرو د بریښنا او ماتوونکو بریدونو په اړه یې دروغ خبرونه خپرول او په هغه سره یې په ښارونو کې وضعیت ګډوډ کاوه او خلک یې د مقاومت او جنګ ځخه پر شا کول هغوی ته یې د تسلیم کیدو یا هم نور ځایونو ته د مهاجرت سپارښتنی کول په دې توګه د ماورالنهر په ځمکه او نورو ښارونو کې ویره او وحشت واکمن شو، دا وضعیت حتی د خوارزم شاه سرتیري په ځینو ځایونو کې د رواني او ذهنی مرضتیا په حالت کې واچول.

په هغه شپه سوباتای په هماغه کوټه کې یوازې ناست و چېرته چې بلخاش او ایلي پکې لومړی ځل یو بل سره لیدلي وه، سوباتای د هغه خبرونو په اړه فکر کاوه کوم چې د ده ماموراتو ورته د دښمن د کرښو او تجهیزاتو په اړه راوړی وه.

کله چې هغه ته خبر ورکړی شو چې بلخاش نیول شوی دی نو حیران شو، هغه فکر کاوه چې د بالخاش پر ځای به یې کوم بل ځوک نیول وی او وربانډی د بالخاش ګمان به یې کړی وی، نو ځکه ساتونکي ته یې وویل: سمدلاسه یې دلته راوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ وروسته بلخاش او ایلي د دوه ساتونکو سره کوټې ته ننوتل، سوباتای د ایلي په لیدلو حیران شو په داسې غږ کې چې په څرګنده توګه حیرت ورڅخه معلومیدی وپوښتل: ایا ته یې هم د بلخاش سره یو ځای نیولی یی؟
بلخاش خپله چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: زه تښتېدلی نه یم چې څوک دی وغواړی ما ونیسی.
سوباتای د بلخاش خوا ته وکتل او ویې ویل: تخو خبری مکوه، تا چې زما د کمپ دوه ساتونکي ووژل او وتښتېدلې ستا سزا مرګ ده.

ایلی- بلخاش د تیمور ملک په زندان کې و ما هغه وژغوری او ستاسو خوا ته راروان وو چې په لاره کې د مغول خان د عسکرو سره مخ شو، د هغوی څخه یو تن بلخاش وپیژانده او دوی موږ دواړه ونیول ما دوی ته ونه ویل چې زه څوک یم یا څه کوم. زه غلی پاتې شوم. ځکه چې زه پوهیدم چې دوی به بالاخره ما ستاسو کمپ ته راوړی.

سوباتای په حیرانتیا وپوښتل: تا وویل چې بلخاش د تیمور ملک په زندان کې و او تا هغه وژغوری؟
ایلی- هو ښاغلیه.
سوباتای- دا خبری د باور وړ نه دی؟

بلخاش- تاسو خپل فکر وکړی که زه ستاسو له کمپ څخه تښتېدلی وای، نو بیا ولې اوس بیرته راوګرځیدم؟ هغه شپه کله چې زه ستاسو له خیمې څخه خپل خیمې ته راستون شوم نو زه ویده شوی وم چې ناڅاپه څو کسانو پر ما برید وکړو زما خوله، لاسونه او پښې وتړلې.زه یې له خیمې راوویستم او د هغه کسانو څخه یو کس چې بیحد پیاوړی سړی و زه یې په شا کړم کله چې موږ د کمپ څخه د وتلو دروازی ته راورسیدو، نو د هغه کسانو څخه دوه کسانو د دروازې مخکی ساتونکی وواژه او زه یې د آس په شا وغورځول او لځان سره یې ویوړلم موږ ټوله شپه مزل وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای چې دوه سترګې د بلخاش خوا ته نیولې وه وپوښتل: هغوی څو کسان وه؟
بلخاش- درې کسان.
سوباتای- تا مقاومت و نکړو؟
بالخاش- د هغوی برید دومره ناڅاپه و چې ما هېڅ کار ونشو کړی.
سوباتای- بیا څه وشول؟ کیسه وکړه.

بلخاش- کله چې ما له هغوی څخه وپوښتل چې څوک دي؟ او ما چیرته بیایي؟ نو هغوی هېڅ ځواب رانکړو،ما فکر کاوه چې هغوی به د غایرخان د کسانو څخه وی چې خپل ژوند یې په خطر کې اچولی ترڅو ما د مغول خان له کمپ څخه وتښتوی، موږ دوه ورځې په لاره وو، ماښام وخت و چې موږ خجند ته داخل شو، هغوی زه زندان کی واچولم او مخکې لدې چې هغوی ما شکنجه کړي او یا پعذاب مې کړی ما ورته د مغول خان په اړه معلومات ورکړل.

سوباتای په غوسه وویل: بزدله احمق.
بلخاش په ارامه وویل: خپه کیږه مه ښاغلیه، هغه معلومات چې ما تیمور ملک ته ورکړل ټول جعلي وه ما د خپل ژوند د ژغورلو لپاره د یو څه ویلو پرته بله چاره نه درلوده.

زما د بندی کیدو دوهمه شپه وه چې ما ناڅاپه ایلی په زندان کې ولیده هغې د زندان ساتونکي په چل او فریب ختا ویستل او زه یې له هغه ځایه وژغورلم او مخکې له دې چې لمر راختلی وای، موږ د ښار د دروازی ساتونکي وواژه او د خجند څخه راووتلو نور کیسه خو هم ایلی بیان کړه.

سوباتای هغه سړی چې په هوښیارتیا او زړکتیا کې بې ساري و اوس خپل د ځان څخه د هوښیار کس سره مخ و، هغه نه پوهېده چې څه پریکړه وکړي.بلخاش او ایلي خپله کیسه دومره په کلکه او واضح ډول بیان کړې وه چې سوباتای د هغه له منلو پرته بله چاره نه درلوده.په ورته وخت کې د هغه لپاره دا ستونزمنه وه چې باور وکړي چې د تیمور ملک ماموران دی د بلخاش د تښتولو لپاره د قپچاق له د ښتي تیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وی او مغول خان کمپ ته ننوتلی وی او بغير د کوم مزاحمت څخه يې بالخاش تښتولې وی.

د بالخاش په دی خيالي کيسه کې يوازی د ايلي شتون د دې سبب کيدو چې دا کيسه د حقيقت رنګ واخلې.

سوباتای په ايلي باندې د خپلو ماموران او جاسوسانو څخه زيات باور درلود، ايلی خپل په ځانګړې چالاکۍ سره خپل اصلي واقعيت له سوباتای څخه پټ کړې و او سوباتای هغه د خپلې ادارې يو ريښتينی پټ ماموره ګڼله.
د څو شيبو چوپتيا وروسته، بلخاش وويل: زه ستاسو په اختيار کې يم. که سزا راکول غواړی که هر کار کول غواړی، زيات فکر مه کوی او خپل حکم صادر کړی ځکه چې زه فکر کوم زما دې سرګردان ژوند ته د پای رسولو وخت راغلی دی.

خو دا خبره ياد کې وساتی زما لپاره د ماورالنهر په ځمکه کې د ژوند لپاره هيڅ ځای نشته او تاسو بايد دا هم پوه شئ چې زه د مغول خان له کمپ څخه نه يم تښتيدلی. زه دلته راستون شوم ځکه چې پوهيږم چې دا يوازينی ځای دې چې زه پکې خوندي يم.

سوباتای د بالخاش د خبرو په فکر کی شو، خو هغه لا دمخه دې پايلې ته رسيدلی و چې که بلخاش د رښتيا خپل تښتيدلی وای نو هغه به هيڅکله بيرته په خپلو پښو د د مغول خان د پوځ سره نه واې يوځای شوی. هغه بې له شکه دا خبره منلی وه چې د تيمور ملک کسانو بالخاش تښتولی و. ايلي بلخاش ته وکتل او په ورته وخت کې بالخاش هم د هغی خوا ته کرار وکتل هغوی يو بل ته په سترګو کې اشاره وکړه چې له خطر څخه بهر شو.

سوباتای بلخاش ته وکتل او ويې ويل: خو ما فکر کاوه چې تا ساتونکي وژلي دی او د غاير خان څخه د غچ اخيستلو لپاره اترار ته تللي يئ. ما حتا خپل درې ماموران اترار ته واستول ترڅو تا پيدا کړی، خو اوس زه غواړم تاسو ته يو بل شانس درکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مغول خان سره خپله وفاداري ثابته کړی. او هو زه باید دا هم ووایم چې که ایلی ستا سره نه وای بالخاش! نو ما به هیڅکله ستا په خبرو باور نه واې کړی او بغیر د کوم وخت تیرولو به مې ستا د وژلو امر کړی وای، په حقیقت کې ایلی ستا ژوند وژغوری.

بالخاس په خندا سره وویل: دا سویم ځل دی چې ایلي ما د مرګ څخه ژغوری.
سوباتای- ته آزاد یې تللې شې، خو ډېر ژر به زه تا ته یو ډېر مهم ماموریت دروسپارم.
بالخاش- داسی چې تاسو روان یاست څرګنده ده چې د مغول خان ځواکونه به ډېر ژر ماورالنهر ونیسي.
سوباتای ورو ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: ډېر ژر به غایر خان ښار تسلیم کړي. اترار زموږ د ځواکونو د برید لاندی دی او د هغه مقاومت بی ګټې دی.

بلخاش- تاسو یو داسی ښار محاصره کړی دی چې د هغه ځای واکمن یو سرکش او ضدی سړی دی، غایر خان به تر هغه وخت چې په بدن کې یې ساه ده ستاسو سره جګړه وکړي او د خپل وطن په خاطر د بندیتوب پر ځای وژل غوره وګڼي.هغه به هیڅکله ښار تسلیم نه کړي مګر دا چې ووژل شی.

سوباتای په مانا دار خندا سره وویل: زما کوم ماموران چې په اترار کې دی هغوی به سرتیرو لپاره ښار ته د ننوتلو لاره پرانیزي زما ټولې هیلې او امید پر هغوی دی. کله چې زموږ ځواکونه اترار ته ننوځي نو ته به وګورئ چې غایر خان خپل وسله څنګه پر ځمکه اچوی او ښار موږ ته تسلیموي.

د غایر خان په وړاندې د ټول کرکې او نفرت سره سره، بالخاس احساس وکړ چې اترار د هغه شتون ته اړتیا لري کله چې د هغه ټاټوبی د مغول خان ځواکونو لخوا محاصره شوی و، یوازینی شی چې هغه یې په اړه فکر کاوه هغه اترار او د هغه ځای خلک وه، د هغه یوازینۍ هیله دا وه چې اترار ته ستون شې او د خپلو هیوادوالو سره اوږه په اوږه د مغولانو په وړاندې وجنګیږي، د دوی وینه دومره توی کړي څومره چې په بدن کې یې ځواک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي خپله چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: زما سره کوم کار نلرئ؟
سوباتای- لږ صبر وکړه.
په همدی وخت کې د بلخاش ذهن ته یو فکر راغلو او هغه سوباتای ته وویل: ما اترار ته ولېږه ترخو د مغول خان د څواکونو لپاره هلته د ننوتلو لاره پرانیزم، زه د ښار له پټو لارو سره په بشپړه توګه بلد یم. زه فکر نه کوم چې ستا ماموران دی بریالي شي، دوی د هغه خاورې څخه نه دي او د ښار له وضعیت سره هم بلد نه دی.

سوبتایي په شیطان موسکاوویل: زه هم په همدی فکر کی وم، خو زه به تا یوازې هلته ونه لیږم.
بالخاش په حیرانتیا سره وویل: ګمان کوم چې تاسو پر ما باور نلرئ؟!

سوباتای لنډ وخندل او ویې ویل: که ما پر تا باور نه درلود نو وخت به مې امر کړی وای چې تا د آس په لکۍ وتړی او آس دی په صحرا کې خوشې کړې.
بالخاش- نو څه خبره د دی سبب شوی چې ما یوازی ځان دی ماموریت ته وانستوی؟
سوباتای- د غایر خان په وړاندې ستا د غچ اخیستنې احساس.
بالخاش- زه ژمنه کوم چې کله اترا ته ورسیږم، نو د غایرخان څخه غچ وانخلم.
سوباتای بلخاش ته په کتلو سره وویل: ستا له سترګو دا څرګنده ده چې ته دروغ وایې. کله چې ته اترار ته ورسېږې، نو د غایرخان څخه د غچ اخیستلو فکر به ستا څخه ستا ماموریت هیر کړي، نو په همدی خاطر په دی ماموریت کې به ایلی ستا څارنه کوي.

ایلي به کلکل لهجه وویل: که بلخاش د امرونو خلاف کوم عمل وکړي، نو زه به وخت ورنکړم او سر به یې ورپری کړم.
سوباتای په شیطنت وخندل او بلخاش ته یې وویل: واوریدل دی؟په دې ماموریت کې تاسو باید په بشپړه توګه د غایرخان څخه د غچ اخیستل هیر کړئ. ایلی زموږ یو له خورا پیاوړو ماموراننو څخه ده، یو چالاک او زړوره ښځه د هغې خدمت تل زما لپاره د قدر وړ دی. ته نشی کولې هغې ته چل ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلخاش- پر ما باور وکړی زه به هڅه وکړم چې خپل ماموریت لکه څنګه چې تاسو تمه لرئ ترسره کړم.
سوباتای- سبا سهار به داترار په لور حرکت وکړی، رښتیا دلته لا هم شراب شته.

درې وارو وخندل.

بلخاش او ایلی کله چې د سوباتای له کوټې څخه راووتل نو یو بل ته یې غېږه ورکړل، بلخاش د ایلی مخ ښکل کړو او په داسې غږ چې بیحد کرار و وویل:

مینه درسره لرم زه نن ستا له برکت ژوندی یم.
ایلي ورته په کتلو سره وویل: خو ته...
هغې خپله جمله بشپړه نه کړه بلخاش وویل: پاتې خبره دی وکړه.
ایلی- پخپله پوهیږئ.
بالخاش- نه، زه په هیڅ نه پوهیږم.
ایلی- زه نه باید ځانته امیدونه ورکړم ته د خان سلطان سره تعلق لری.

بلخاش چوپ پاتې شو ایلي بیا وویل: همداسی ده کنه؟
بالخاش په خواشینۍ سره وویل: غوره به دا وی چې د هغه ماموریت په اړه فکر وکړو چې زموږ په مخکې پروت دی. ډیر څه باید ترسره شي اوس موږ باید د دې بریا لپاره شراب وڅښو او خوشحالۍ وکړو.

د شراب خانې د ښکته پوړ په یوه کوټه کې د شرابو قوي بوی هوا ډکه کړه.د شمعې په کمزوری رڼا کې، ایلی خپل سر د بالخاش په سینه کیخودلی وو، د هغې غومبری د شرابو څښلو څخه سره شوي وه، د هغې سترګو یو بل ډول رنګ اخیستې وه.

بلخاش د ګوتو په واسطه د هغې د ویښتانو سره لوبې کولې، دواړه په خاموشی کې ورک وو. یو د خپلې ورکې شوې مینې په لټه کې و، او بل یې د هغه مینې په اړه فکر کاوه چې تودوخه یې احساسولی شول، دواړه ویده شول کله چې سهار لمر راپورته شو او کوټه یې رڼا کړل نو د شمعی څخه هیڅ نه وه پاتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

اترار د مغول خان د ځواکونو لخوا محاصره شوی و، د ښار د دیوالونو برجونو او دروازی لاندې سخته جګړه روانه وه، د مغول خان ځواکونه د ښار د دروازو د ماتولو لپاره بریدونه کول خو هر ځل د درانه تلفاتو سره پر شا راتلل، د ښار له برجونو او دیوالونو څخه په دوی باندې د اور، غشو او توپونو باران راون وو.

غایرخان پریکړه کړې وه چې تر هغه چې په بدن کې یې ساه چلیږی د دی وحشي دښمن په مقابله کې به دریږی، هغه احساس کاوه چې د مغول خان لښکر چې د سیلاب پشان ډیر دی د مقابل توان نلری خو هوډ یې کړی وو چې تر مرګ به جنګیږی.
د هغه په امر د اترار ځواکونو به په پټه د شپې له خوا له پټو لارو له ښار څخه راوتل، د مغول خان پر ځواکونو یې غلچکی بریدونه کول او د لږ تلفاتو پر ورکول سره به ښار ته راستانه کیدل.

جګړی یو وحشی او ظالمانه مخ نیولی وو غایر خان نه تسلیم کیدی، چنګیز خان هم پریکړه کړې وه چې اترار ښار به پر ځمکه ننباسی.

کله چې بلخاش او ایلی د جنګ لومړۍ کرښی ته ورسېدل نو مغولی پوځیانو دوی د پوځ قوماندان اوګدای ته بوتلل. بلخاش هغه خنجر چې سوباتای ورته د پیژندنې د نښې په توګه ورکړی و اوګدای ته ښکاره کړو او ویې ویل: زه او ایلی ماموریت لرو چې ستاسو سرتیرو اترار ته د ننوتلو لاره پرانیزم.

اوګدای په طنزیه ډول وخندل او ویې ویل: زما پر ګمان سوباتای ټوکې کوي!؟ ښار له څو ورځو راهیسې محاصره دی او موږ لا هم نه یو توانیدلي چې یوه دروازه ماته کړو. تاسو څنګه کولې شې په یواځی ځان د یو لښکر رول ولوبوی؟!
ایلي- دا ستونزمن او خطرناک کار موږ ته پریږدئ.
اوګدای په کلک لهجه وویل: او که تاسو بریالي نه شئ نو زه به تاسو دواړه ووژنم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جسدونه به مو د اترار ښار په دیوال و ځړوم.
بالخاش- موږ ته اجازه راکړی تاسو به ډېر ژر ښار ته ننوځې.
اوګدای- ته آزاد یې خو زه ډاډه یم چې په دې سفر کې به ووژل شې.

بلخاش- موږ ته یو شانس راکړی.
اوګدای- تاسو آزاد یاست چې هر کار کوی.
بالخاش- موږ به خامخا بریالي شو.

دواړه د اوګدای له خیمې راووتل په خپلو لوخو اسونو چې زین یې نه درلود سپاره شول،او د اترار لویدیځ خوا ته روان شول، د مغولي لښکر د منځ څخه تیر شول او هغه تیاری لارې ته لاړل چې بلخاش ورسره اشنا وو.
ایلی- دا پټه لار له کومه راغلې ده؟
بلخاش- نږدې دوه میله لرې د یوې غونډۍ شاته.
ایلي د بالخاش تر شا د سپرلۍ په حال کې وویل: موږ باید محتاط واوسو زه ویره لرم چې د غایرخان ماموران به تا وپیژني او تا به ونیسي.

بالخاش په خندا وویل: هغوی اړتیا نلري چې ما ونیسي، ځکه زه پخپله د غایرخان سره لیدو ته ورځم هغه باید زموږ سره مرسته وکړي د هغه پرته موږ بریالي کیدلی نشو. موږ باید له دې وحشیانو څخه غچ واخلو.
ایلی- خو هغه به تا ووژني.
بالخاش- زه فکر نه کوم چې هغه به اوس دا کار وکړي ځکه چې اترار د محاصری لاندی دی.
ایلی- دا لیونتوب دی.
بالخاش- ډاډه اوسیږه چې زه به خپل احتیاط له لاسه ورنکړم.

کله چې دوی د اترار لویدیځ ته د یوې لویې غونډۍ خوا ته ورسېدل نو نیمه ورځ تېره شوی وه. دوی د غونډۍ شاوخوا وګرځېدل خو د مغول پوځ هیڅ نښه نه وه. د غونډۍ بلې غاړې ته یوه کوچنۍ کلا ښکاریده چی یوازې نړېدلې دېوالونه یې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. بلخاش کلا ته اشاره وکړه او ویې ویل: اترار ته د ننوتلو پټه لاره له هغه خوا ده شنه کلا ورته ویل کیږي.

ایلی داسی حال کی چې دوه سترگی د کلا خوا ته وه او د بلخاش پسی روانه وه وویل: دا نوم راته آشنا ښکاري لکه د غلو پټنځای چې وي؟!
بلخاش نرم وخندل او ویې ویل: خو اوس د کرغانو ځاله ده،کله چې زه د غایرخان د ځانگړي آس سپرلو مشر وم نو موږ یوه شپه په دی کلا برید وکړو غله مو ووژل او غلا شوي توکي مو اترار ته ویوړل.له هغې شپې راهیسې د هیڅ غل پښه دی کلا ته نه ده ننوتلی، د هغه شپی څخه دی کلا ته هغوی منحوس او ناوړه ځای وای.

ډېر وخت نه و تېر شوی چې دوی کلا ته ننوتل ایلي پداسې حال کې چی سترگې دیوالونو ته وه وویل: دا ډیر وحشتناک او ډارونکی ځای دی.
بلخاش په خندا سره وویل: خو ته یوه زړوره ښځه یې.
ایلی- عجیب ده د سوباتای جاسوسانو دا پټه لاره څنگه نه ده موندلی؟
بالخاش- هغوی په بل ډول کار کوی.
ایلی- پټه لاره له کوم خوا پیل کیږي؟
بالخاش- له ما سره راشه او وېره او وحشت لځان څخه لرې کړه.

کله چې د کلا اخر ته ورسېدل نو بالخاش له آس څخه راښکته شو او ویې ویل: دا د اسونو طویله ده، البته اوس یوازې دیوالونه او نړېدلی چت پاتې دی. اسونه دلته پریږدو دا امن ځای دی.

ایلی له آس څخه راښکته شوه دواړو په گډه آسونه طویلی ته بوتلل، ایلی ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: داسی ښکاری لکه چې پټه لاره د کلا د زیرزمینې څخه پیل کیږي؟
بلخاش په خندا سره وویل: پټه لاره همدلته ده، له ما سره راشه زه به درته لاره وښیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلخاش روان شو ایلي چې یو څه ویریدلی و د هغه پسی شوه هغې په احتیاط او وېرې سره ګامونه اخیستل.

کله چې د طویلی اخر ته ورسېدل نو بلخاش یو غټ ډبرې ته چې د طویلي په منځ کې غورځېدلې وه اشاره وکړل او ویې ویل: د تونل خوله د دې ډبرې لاندې ده موږ باید له دې ځایه اترار ته ننوځو.
بالخاش ډبره یوې خوا ته کش کړل د تونل له خولې څخه یو بد بوی راووت.
ایلی لږ نور هم مخکې لاړل تونل ته یې وکتل کوم چې په سخته تیاره کې پوښل شوی و بیرته شاته راوګرځیدل او ویې ویل: موږ د تونل څخه د تېرېدو لپاره مشعل ته اړتیا لرو.

بلخاش- کله چې هوا تیاره شي نو د غایر خان کسان به له دې تونل څخه راووځي او بیا موږ کولی شو د هغوی په مرسته له دې لارې اترار ته ننوځو.
ایلی- څنګه به وي چې موږ د همدا اوس څخع دلته خپل قبرونه وکیندو؟
بلخاش- دوی زموږ د وژلو جرئت نه لري.
ایلی- دا پلان چې تا جوړ کړی دی دا به بالاخره موږ دواړه مرګ ته ورکړی.
بلخاش وخندل او ویې ویل: زه ډاډه یم چې موږ به بریالي شو.

ایلي په حیرانتیا سره وویل: ته څنګه پوهېږې چې د غایر خان د کسانو پرته نور خلک له دې تونل څخه نه راوځي؟
بالخاش د هغې لاس پخپل لاس کې ونیو او ویې ویل: واوره زما ګرانی، مخکې له دې چې د هرسبان څخه راووځو ما اوریدلي وو چې د غایر خان کسان د اترار څخه د تیاره کیدو په وخت کې راوځي، هغوی د شپې په تیاره کی د مغول خان پر ځواکونو برید کوي او ورکېږي.

غایر خان د دې تونل او د اترار په جنوب کې د یو بل پټې لارې څخه په ګټه اخیستنې د دښمن پر پوځ غلچکی بریدونه کوی.د مغول جاسوسان لا تر اوسه نه دي توانیدلي چې زموږ د سرتیرو د کمین ځایونه پیدا کړی.زه ډاډه یم چې کله هوا تیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي نو د اترار سرتیرو د مشعل رڼا به تونل روښانه کړي.
ایلی پوسخند و واهه او ویې ویل: که دوی موږ دلته و نه وژني، نو دوی به موږ غایر خان ته وسپاري او هغه به خامخا دا کار وکړي.

بلخاش د تونل خوله په ډبرې باندی وپوښل او ویې ویل: غایرخان د یو وحشتناکې جګړې په منګولو کې راګیر شوی او امکان نلری چې موږ ووژني. که بیا هم هغه داسې اراده ولري نو زه پوهیږم چې د هغه د وېرولو لپاره د کوم چل څخه کار واخلم.

دواړه په ډبرې کښیناستل او د هوا د تیاره کیدو په تمه شول بلخاش په خندا سره وویل: که سوباتای پوه شي چې موږ څه پلان لرو نو موږ به د آس د لکۍ پوری و تړی.
ایلي- که د هغه ماموران زموږ د نقشی څخه خبر نشی نو د جګړې تر پایه امکان نلری سوباتای هم خبر شی.
بلخاش- که زموږ لخوا هغه ته کوم خبر و نه رسیږی نو هغه به موږ په جګړه کې د وژل شویو کسانو په ډله کې حساب کړي.

دواړه غلي شول هوا ورو ورو تیاره کېده او شنه کلا نوره هم ویرونکې کېده. ناڅاپه د یوه کارغی غږ د هغه ځای چوپتیا او خاموشی ماته کړل، ایلي ځان د بلخاش په لور وخوځاوه او ویې ویل: زه هیڅکله دومره نه یم ویریدلی دا کلا په ریښتیا هم ډاورنکی ده.
بلخاش لنډ وخندل او ویې ویل: خو ته د سوباتای د روزل شویو ماموراتو څخه یې.
ایلي خپل د خولی لاړې تیری کړل او ویې ویل: مه هېروه چې زه یوه ښځه یم.

بالخاش- هو زه پوهیږم ته یوه ښکلې او زړه راښکونکې ښځه یط.
ایلی- کاشکې تا رښتیا ویل.
بلخاش د هغې لاس په نرمۍ سره ونیوه او ویې ویل: حقیقت همغه وو چې و مې ویل زه له تا سره مینه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي ځواب ورنه کړ هغې د بلخاش په دی خبرو باور نه درلود، هغې له بلخاش سره د زړه له کومې مينه لرل خو د بلخاش لخوا يې خپل د ميني په ځواب کې کوم هيله نه درلوده.هغه پوهيده چې بالاخره به بلخاش او خان سلطان يو بل سره ووينې، او دا به يوازی د مات شوی آرمانونو سره پاتی شي.
بلخاش خپل ترمنځ راخپره شوی چوپتيا ماته کړه او پوښتنه يې وکړه: د څه په اړه فکر کوې؟

ايلي په شونډو يوه ترخه موسکا راوړه او ويې ويل: هغه مشعل ته چې تونل به روښانه کړي.

بلخاش غوښتل يو څه ووايی چې ناڅاپه د آس د پښو غږ د طويلي څخه واوريدل شو.
ايلي په نرمۍ سره ووېل: هغوی موږ تعقيب کړی وو!
بلخاش ولاړ شو او ويې ويل: شايد غله اوسيږی؟
ايلی- نه، ضرور مغولان دی.
بلخاش- همدلته به د هغه انتظار وکړو.
ايلی- تياره بيحد ډېره ده موږ هغه نشو ليدلی.
بلخاش- بله چاره نلرو.

د اس د پښو غږ د طويلي د شا د يوال څخه اورېدل کېده او لږ وروسته د چا د قدمونو غږ راغی چې طويلي ته نږدې راتلو.
بلخاش خپله خنجر په لاس کې واخيسته او ويې ويل: همدا چې نږدی راغلو زه به دا خنجر د هغه په سينه کې ښخ کړم.
ايلي- ښايي هغه د اترار د خلکو څخه وی د هغه سره مشعل هم دی، وګوره د طويلي مخکينۍ دروازه روښانه وه.
بالخاش- نه، دا ناشونې ده هغه ضرور د مغولانو د سپرو څخه دی هغه موږ ټوله لاره تعقيب کړې يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلی- خو موږ دلته د ډېر وخت راهیسی یو هغه کولای شوای چې مخکی کلا ته رانوځي.
بلخاش په شک سره وویل: هغه باید د مغول د جاسوسانو څخه وي چې د کلا تر شا پورې زموږ تعقیب کړی و او کله چې هغه ولیدل چې زموږ هیڅ نښه نشته، نو هغه بیرته د مغولانو پوځ ته تللې او اوس د مشعل سره راغلی چې زموږ تعقیب وکړي. ته باید دا ځناور زما څخه ښه وپیژنې.
ایلی- شاید سوباتای هغه ته دنده ورکړې وي چې موږ تعقیب کړي؟

بلخاش- هو دا هم امکان لری.
ایلی- ته څه کول غواړې؟
بلخاش- زه به د هغه په مشعل باندی هغه ته اور واچوم.
ایلی- خپل احتیاط له لاسه مه ورکوه ممکن هغه یوازې ونه اوسیږی وګوره هغه د دروازې مخې ته ولاړ دی، داسی ښکاری چې یو چا ته په تمه دی.

بالخاش- کله چې هغه طویلي ته راننوت نو موږ باید په ځمکه څملو تر څو هغه موږ د مشعل په رڼا کې ونه ګوري، ته یوازې زما څارنه کوه.

نامعلوم سړی چې مشعل یې په لاس کې و طویلی ته ننوت، سترګې یې د بالخاش او ایلی پر آسونو ولګېدی په احتیاط سره مخ په وړاندې روان شو. هغه اسونو ته په دقت سره وکتل او بیا یې په لوړ غږ بلخاش ته غږ کړو

ایلی کرار وویل: هرڅوک چې دی تا پیژني!
بالخاش- د هغه له غږ څخه معلوم ده چې هغه یو مغول دی او شاید د سوباتاي د جاسوسانو څخه وی هغه غواړي پټه لاره ومومي او اوګدای ته خبر ورکړي. موږ باید هغه ژوندی پرینږدو.

سړی- بلخاش، چیرته یې؟...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي بيا كرار بالخاش ته وويل: ځواب ورکړه په دی ډول د هغه وژل اسانه کيږی.
بلخاش په لوړ غږ وپوښتل: ته څوک يئ؟
سړی- زه ستا د ملګرو څخه يم.
بالخاش- دا کافي نه ده، مخکې راشه.

ناشنا سړی مشعل هغه خوا ونيو له کوم خوا چې د بالخاش غږ يې اوريدلی وو او هغه خوا ته نږدی شو.
بالخاش- هملته ودريږه خپله توره راوباسه او په ځمکه يې وغورځوه.
سړي وخندل او ويې ويل: زه د سوباتای لخوا راستول شوی يم او ماموريت لرم چې ستاسو سره مرسته وکړم، که بيا هم زما خبره نه منی نو بايد ووايم چې سوباتای د اشنای د نښی په توګه خپل خنجر راياد کړو چې اوس ستا سره دی دا دومره خبری به کافی وی تر څو باور وکړی زه ستاسو پخوا يم؟!

بالخاش- ما وويل خپله توره وغورځوه.
سړی- ته ډېر ضدی انسان يې.
بالخاش- بله چاره نشته سوباتای موږ ته ستا په اړه څه نه دی ويلی، او موږ خبر نه درلود چې زموږ د مرستې لپاره به يو څوک راځی.
سړي خپله توره له پوښه راوويستله او پر ځمکه يې وغورځوله.

بلخاش ايلی ته وويل: توره يې واخله.
ايلی مخ په وړاندې لاړه د هغه سړی توره يې د ځمکی څخه راپورته کړه او بيرته په تلوار خپل خای ته راستنه شوه.
بالخاش نامعلوم سړي ته وويل: اوس تاسو کولی شئ مخکې راشی.
سړی هغوی ته نږدې شو،بالخاش وپوښتل: ستا نوم څه دی؟
سړی- قرجه .. او بيا يې وپوښتل: ايا تاسو پټه لاره موندله؟

بلخاش هغه ډبرې ته اشاره وکړل په کوم چې د تونل خوله پوښلي وه او ويې ويل: د دی ډبرې لاندې يو تونل دې چې اترار ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرچه وپوښتل: نو تاسو ولې انتظار کوئ؟
بلخاش- ستا د راتلو مخکې ما او ایلي پلان درلود چې تونل ته ننوځو او اترار ته لاړشو خو ستا د اس د پښو غږ مونږ د دې کار څخه منع کړو.
قرچه په حیرانتیا سره وویل: د مشعل پرته له تونل څخه تېرېدل ناممکن دي.
بالخاش ورته په ځیر وکتل او ویې ویل: زه په تیاره کې هم له دې تونل څخه تېرېدلی شم. او اوس ستا مشعل زما او د ایلی لپاره ښه لارښود دی.

کله چې یې خبرې پای ته ورسولې نو ورو ورو یې خپل خنجر ته لاس کړ غوښتل یې چې له پوښ څخه یې وباسي او د سرې د وژلو لپاره یې وکاروي، خو ناڅاپه یو فکر یې ذهن ته راغی او ځان یې د هغې له وژلو څخه منع کړو
قرچه چې اندېښمن ښکارېده وویل: سوباتای په تمه دی تر څو د اترار له دننه او د غایر خان په اړه هغه ته معلوماتو ورسیږي.

ایلي خپله چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: مونږ به ډیر ژر سوباتای ته د غایر خان او د اتراد د خلکو د وضعیت په اړه خبر ورکړو.
بلخاش لنډ وخندل او ویې ویل: او شاید مونږ بریالي شو چې د مغول خان سرتیرو لپاره د اترار یوه دروازه پرانیزو او هغوی پخپل راتګ کار یو طرفه کړي.
قرچه وویل:

د ښار د دروازې پرانیستل یو ډېر ستونزمن او خطرناک کار دی، تر ټولو خوندي لاره دا ပتېه لاره ده هرڅومره ژر چې کیږي زه باید دا د خوښۍ خبر سوباتای ته ورسوم.
بلخاش په کلک او قاطع غږ وویل: دا دنده ماته سپارل شوې ده او که اړتیا وي زه به پخپله سوباتای ته خبر ورکړم.
ناڅاپه د تونل له دننه څخه یو کمزوری غږ واورېدل شو ایلي وویل: زه فکر کوم چې د غایرخان خلک تونل ته را ننوتلی دی تر څو د دی لارۍ لاړ شې او پر مغولانو غلچیکی برید وکړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلخاش په سینه څملیدی او خپل سر یې د تونل له خولې څخه لاندی ښکته کړ.
غړونه د تونل دننه او له نسبتا لرې واټن څخه راتلل. هغه په غور سره غوږ ونیو.
غږونه ناڅرګند وو خو داسې ښکاریده چې ځینې خلک پلان لري چې له تونل څخه
ووځي بالخاش ودرېد او ویې ویل: دوی دی خوا راروان دی زما په نظر هغوی د
مغول خان پر ځواکونو باندې د برید پلان لري.
قرجه وویل: موږ باید دوی له کلا څخه وتلو ته پرې نه ږدو.
بالخاش- د هغوی سره مخامخ کېدل حماقت دی.

ایلي چې تونل ته یې کتل په کرار وویل: دوی نږدې کېږي د دوی د مشعلونو رڼا په
څرګنده توګه لیدل کېږي. بلخاش ژر مشعل مړ کړ او ویې ویل: دوی نه باید موږ دلته
ووینې
قرچه په اندېښنه سره وپوښتل: تا کوم پلان جوړ کړی دی؟
بلخاش- صبر وکړه زه ژمنه کوم چې نن شپه به موږ اترار ته داخل شو.

د تونل دننه د مشعل رڼا هره شیبه نږدې کېده. د قدمونو غږ د څو کسانو د خبرو اترو
د غږونو سره ګډ وو او په واضح توګه اوریدل کیدل.

بلخاش د قرجه تر څنګ ولاړ و.ایلی د دوی څخه لږ لرې د دیوال شاته پټه وه.
د هغوی سترګې د تونل په خوله وه چې د مشعلونو رڼا د طویلی په چت لګیدل او
روښنایی خپرول یو ډارونکي چوپتیا خپروه، که څه هم بلخاش پخپل جوړ کړی پلان
ډاډه و خو بیا هم ویره یې درلوده چې د غایرخان کسان به هغه ته د خبرو کولو
فرصت ورنکړي. هغه باید یو چل کارولې وای هغه خپل په لاس کې نیولې د خنجر
لاستی وار په وار لاس کې کلک کاوه.

دوه سترګي د تونل خولی ته نیولي وه هغه یو خطرناک پلان جوړ کړی و، پلان یې
درلود چې د همدی پټی لاری څخه د غایرخان ملاقات ته لاړ شي، د هغه سرې لیدو
ته کوم چې د هغه د وژلو اراده یې درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر وخت نه و تېر شوی چې د تونل له خولې څخه یو سړی د مشعل سره راووت.

هغه د غایرخان له کسانو څخه و هغه شاوخوا وکتل او بیا یې سر تونل ته داخل کړو او په کراره یې وویل: بیړه وکړی راځې.

بلخاش د قرجه لاس په خپل بل لاس کې ونیو او په لوړ غږ یې هغه نامعلوم عسکر باندی غږ کړل: صبر وکړه.

اتراری عسکر چې هیڅکله یې تصور هم نه کاوه چې هلته ته دې کوم بیګانه کس اوسیږی د دی لوړ غږ په اورېد فکر وکړو چې مغولانو کلا محاصره کړې ده. ویره یې په جسمونو ښوره شول او د څو شیبو لپاره بې حرکته پاتې شول.

بلخاش چې په تیاره کې ولاړ و او هغه ته یې کتل پوهه شو چې عسکر ویریدلی دی. نو په نرمۍ لهجه یې ورته وویل: مه وېرېږه زه هم اتراری یم، زه غواړم ستا او ستا د ملګرو سره خبرې وکړم.
د بالخاش په خبرو عسکر راحت ساه واخیسته خپل د خولې لاړی تیرې کړی او ویې ویل: ته څوک یې؟... خپل نوم راته ووایه.

بلخاش وویل: تا به ضرور د بلخاش نوم اوریدلی وي؟!
عسکر- هو هغه باید ووژل شي هغه خائین دی.

بالخاش وویل: زه بلخاش یم او که زه د رښتیا خائین وای او تښتیدلې وای نو هیڅکله به بیرته دلته نه وای راغلی او له تاسره به داسې نه وای مخامخ شوی، که زه غدار وای نو ما به ته همغه شیبه وژلی وای کله چې تا له تونل څخه سر راوویست.

عسکر د څو شیبو لپاره غلی پاتې شو، په زړه کې د بالخاش خبری صحیح وګڼل او له ځان سره یې وویل: هغه یقینا غدار نه دی، که خائین وای نو همغه شیبه زه وژلم هغه زما سره د ملګرتیا له لاری خبری کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی فکرونو هغه بلخاش ته غږ کړل او ویې ویل: له تیارې څخه راووځه، زه ستا په خبرو پوره ډاډه نه یم.

قرجه بلخاش ته په کرار وویل: دا لیونتوب دی، دوی به موږ ووژني.
بلخاش پوسخند وواهه او ویې ویل: دوی باید موږ اترار ته بوځي.

بیا یې د قرجه اوږه کلک ونیول او له تیارې څخه راووت او د تونل خولې خوا ته په حرکت شو کوم خوا کې چې اتراری عسکر ولاړ و. کله چې هغه ته نږدې شو نو قرجه ته یې اشاره وکړل او ویې ویل: دا یو جاسوس دی ما هغه دلته نیولی دی هغه اراده درلوده چې د مغول خان لښکر ته ستون شي او هغوی ته د اترار د دې پټې لارې په اره خبر ورکړي، ترڅو د مغول خان د سرتیرو یوه ډله اترار ته ننوځي او دروازې پرانیزي.

اتراری عسکر وویل: زما نوم اناطرق دی، که هغه څه چې تا وویل ریښتیا اوسیږی نو غایر خان به تا وبخښي او زه به هم هغوی ته هغه څه ووایم چې ما لیدلي دي.

قرجه چې هیڅکله یې تصور نه کاوه چې بلخاش به هغه په دې ډول په ګیر ورکړی باطرق ته یې مخ کړو او ویې ویل: بلخاش د مغول خان جاسوس دی، د هغه په خبرو باور مه کوه.

بلخاش وخندل او ویې ویل: ما د داسې یوې ورځې لپاره سوباتای او چپه نویان ته دوکه ورکول ترڅو بیرته خپل ټاټوبي ته راستون شم. زه غوره ګڼم چې اوږه پر اوږه خپل د وطنوالو سره و دریږم او تر هغه وخت تاسو دوزخیانو سره جګړه وکړم چې یا تاسو ټول ووژنم یا زه ووژل شم.

اناطرق وپوښتل: آیا بل څوک ستاسو سره نشته؟
بلخاش- موږ دوه کسان وو چې غوښتل مو د دې پټې لارې څخه اترار ته ننوځو، خو مخکې له دې چې موږ تونل ته ننوځو دا مغولی کلا ته راننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اناطرق وپوښتل: ستاسو بل نفر هغه چیرته دی؟
بالخاش خپل سر شاته وګرځاوه او ویې ویل: ایلی راځه.
لږ وروسته ایلي له تیارې څخه راووته، اناطرق چې هغه ولیده نو حیران شوه.
پداسې حال کې چې دوه سترګې د ایلی خوا ته نیولې وه په کرار وویل: دا ښځه دلته څه کوي؟

بالخاش- دا یو زړوره او دلاوره ښځه ده، دا د خجند د خلکو څخه ده.
اناطرق د یوې شیبې لپاره فکر وکړ او بیا یې وویل: تلوار وکړې زه به تاسو اترار ته ورسوم.

بلخاش وپوښتل: تاسو څومره کسان یاست؟

اناطرق- موږ سل عسکر یو موږ پلان درلود چې په هغه مغولانو باندی غلچکی بریدو وکړو کوم چې اترار یې محاصره کړی، خو تاسو زموږ پلان شنډ کړو، زموږ سرتیری تر اوسه په تونل کې ولاړ دي.
ایلي خپله چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: موږ تاسو له خطر څخه وژغورلي
بالخاش- دلته دریدل د وخت ضایع کول دي.

بیا یې قرجه تونل ته ننباسو او اناطرق ته یې وویل: خپل سرتیرو ته ووایه چې هغه دننه کړي خو زیان ورته ونه رسوي، غایر خان باید دا سرې ووینې.

اناطرق د قرجه پسی تونل ته ننوت، ایلی او بلخاش هم د هغوي پسی تونل ته ننوتل.بالخاش خپل د ځان پسی په ډېر سختۍ سره وتوانید چې د تونل خوله په ډبرې وپوښی او د هغوی پسي شو، ایلی مخ په وړاندې روانه وه د تونل درنه او بد بویه هوا ساه اخیستل ستونزمن کړي وو. سل سرتیري په هغه لاره چې راغلې وه بیرته روان وه. هغوی اترار ته بیرته تلل ترڅو بلخاش او دوه نور کسان د اترار امیر ته بوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلی چې مخ په وړاندې روانه وه ودرېد او بلخاش ته یې وویل: زه ستا په اړه اندېښمنه یم زه وېرېږم چې غایر خان به تا ووژني. ته باید د حل لاره ولټوې.
بلخاش- زه منم چې غایر خان یو حریص او ضدی سړی دی خو د دی ټولو باوجود هغه یو تکړه او وطن پرست انسان دی هغه ته تر ټولو شیانو مهم خپل وطن دی او زه ډاډمن یم چې په دی خطرناک حالت کې به هغه زما تیر هیر کړی.

د دې خبرو وروسته دواړه روان شول انا طرق چې کله ولید بالخاش او ایلي شاته پاتی نو ودرید کله چې هغې نږدې شول نو هغه بلخاش ته مخ واړاوه او ویې ویل: تا نن پر موږ ډیر لوی احسان کړی دی.
بلخاش- زه یو اتراری یم زه راغلی یم تر څو اوږه پر اوږه ستاسو سره یوځای د دښمن سره وجنګیږم.
اناطرق- ټول باید پوه شي چې ته یو وطنپال اترارى یې.
بلخاش غلی پاتې شو هغه د غایرخان سره د مخامخ کیدو په اړه فکر کاوه، په دی فکر چې غایر خان به د هغه په خبرو باور ونکړي هغه اندیښمن کاوه.

یو عسکر ورو ورو هغه لوري ته وګرځېد د کوم خوا څخه چې د بالخاش غږ یې اورېدلی و او ویې ویل: بلخاش هماغه غدار دی چې تښتېدلی و؟ خو هغه د ماوالنهر خاورى سره تعلق درلود د هغه د وطن پالنې احساس هغه خپل ټاټوبي ته راستون کړو. هغه هیڅکله د مغول خان لپاره جاسوسي نشوای کولی. هغه باید اترار ته بیرت راغلې واي او د خپلو هیوادوالو سره اوږه په اوږه د دښمن سره وجنګیږي. د وطن مینه هغه شئ دی چې مړی لا ژوندی کولی شی یو تښیدلې راوستل خو اسان خبره ده.

کله چې دوی له تونل څخه راووتل نو بلخاش په ځمکی ګونډی ووهل او لاسونه یې پورته آسمان ته ونیول او ویې ویل: خدای شکر دی چې زه دی اترار ته راستون کړم. زه که حتی د غایر خان له خوا ووژل هم شم نو خلک به ووایی چې د اترار لپاره مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سل تنه عسکرو چې بلخاش یې پیژندو د هغه د دې خبرو په اوریدو سره یې په زړونو کې د هغه ستاینه وکړه او ټولو په ګډه چیغې ووهلې.

– زنده باد اترار.

بلخاش ولاړ شو او اناطرق ته یې وویل: زه او ایلي ستا په اختیار کې یو موږ د غایر خان خدمت ته بوځه. دا مغول جاسوس هم باید راشي.
اناطورق وویل: ته خپل په دی جاسوس خیال ساته.

او بیا دوی د اناطورق او دوو نورو سرتیرو سره یوځای روان شول، ښار په غیر معمولي حالت کې و، سرتیري په ګرځیدو راګځیدو وه.

د ښار برجونه او دیوالونه د سرتیرو لخوا ډک شوي وو. د ښار د دیوالونو په سر منجلیق او جنګی وسایل کیخودل شوی وه او هغه په دوامداره توګه د ډبرو او اور باران په لاندی مغولانو کاوه.

غایرخان چې نظامی جامې یې اغوستې وې حتی دشپې لخوا هم خپل عسکر یواځې نه پریخودل او چیرته نه تلو، هغه تل د هغوی سره و او له پورته ځخه یې په مغولی پوځ څارنه کوله. په هغه شپه کله چې بلخاش،ایلي او هغه مغول جاسوس "قرجه" په بریالي توګه اترار ته ننوتل، غایر خان د یوې مهمې موضوع په سبب دارالحکومة ته  تللی و.

خو اناطرق فکر کاوه چې غایر خان اوس هم په ختیځ برج کې دی او د سرتیرو څارنه کوی نو ځکه هغه خوا ته لاړو خو په لاره کې هغه د غایر خان د دوه سرتیرو سره مخ شو، هغوی ورته وویل چې غایر خان دارلحکومة ته تللی.

بلخاش اناطرق ته وویل: موږ درالحکومه ته بوځه، هلته د غایرخان سره د مخامخ کیدو لپاره ډیر مناسب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اناطرق د بالخاش په اوږه لاس کېښود او ویې ویل: اوس زه ډاډه یم چې ته یو وطنپال اتراری یې.

دوی د دارلحکومه ودانۍ پخوا حرکت وکړو کله چې هلته ورسېدل نو محمد مهدي ورسره مخ شو، هغه د بلخاش په لیدلو سره حیران شو هغه فکر کاوه چې خوب ویني،هغه د بالخاش خوا ته نږدی شو او په ناباوره لهجه یې وویل: ایا زه غلط شوی یم؟
بلخاش په کلک او قاطع غږ وویل: نه غلطی نه کوی، دا زه یم بلخاش، هماغه کس چې تا یې د وژلو فرمان په لاس کې درلود.

مهدي- زه اوس هم د غایر خان لخوا ستا د وژلو حکم په لاس کې لرم.
بلخاش پوسخند وواهه او ویې ویل: خو اوس ډېر ناوخته ده، ځکه زه اترار ته په خپلو پښو راغلی یم او زه د غایر خان لیدل غواړم.
مهدی- خو زه به تا ونیسم او زندان ته به دی واچوم.
بالخاش- په دې وخت کې چې اترار د مغولي ځواکونو لخوا محاصره شوی دی؟
اناطرق وویل: بلخاش او ایلي زما په ساتنه کې دي، د دوي په اړه باید غایر خان پریکړه وکړي.

محمد مهدي غلی پاتې شو خو لږ وروسته یې وپوښتل: ته د غایر خان سره څه کار لری؟
بلخاش په ارامه وویل: په هر خبره ته باید پوه شئ؟
مهدي پوسخند وواهه او ویې ویل: نه زه ټینګار نه کوم، خو که ته فکر کوئ چې غایر خان به تا وبخښي نو ته په ډېر غلطی کې یې، هغه به هیڅکله یو خاین تښتیدلی ته بخښنه ونکړی، هغه به خامخا ستا د کړنو سزا تا ته درکړي. تا دښمن ته پناه وړی وه او د هغوی لپاره دی جاسوسي کوله او اوس راغلی یې چې غایر خان ته دوکه ورکړې او ځان بې ګناه ښکاره کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلی په غوسه او جوش سره چیغه کړه: نه دا دروغ دي، بلخاش یو وطنپال دی هغه هېڅکله دښمن ته جاسوسی نه ده کړی.

بلخاش چې بغیر د څه ویلو مهدي ته کتل ناڅاپه یې په کلک سوک هغه په مخ وواهه، مهدي په دې ضربی باندی لږ څه شاته وغورځېد، هغه په خپل مخ کې یو تیز درد احساس کړ. مهدی په غوسه خپل توري ته لاس کړ خو مخکې له دې چې هغه توره له پوښ څخه وباسي، د بلخاش په لاس کې د خنجر تیز والې وځلېد، هغه په یو جست مهدي راګیر کړو او د خنجر څوکه یې د هغه تر ستوني لاندې کېښوده او ویې ویل: اوس دا تښتېدلی خاین غوارې چې تا ووژني...

مهدي هک حیران شو د هغه لاس چې د خپل توري راویستلو لپاره غځیدلې و بې حرکته پاتې شو هغه خپل سر لږ پورته کړو د خنجر تیزوالي یې پخپل ستوني احساس کړو رنګ یې ژېړ واوښت.

بلخاش دومره ژر برید کړی و چې اناطورق ونشو کړی د هغه مخه ونیسی.
مهدي چیغه کړه: ساتونکو ....
بلخاش- چغی مه وهه بې ګټې ده، که دوی یو قدم وړاندې راشي نو زه به خنجر ستا په ستوني کې ننباسم.

اناطرق د بلخاش اوږه ونیول او ویې ویل: مه کوه، هغه خوشی کړه.
بالخاش په غوسه مهدي ته وویل: د اناطرق په خاطر چې یو زړور جنګیالی دی تا بخښم خو ته باید په ګونډو شئ او بخښنه وغواړئ، دا ستا د ژغورنې یوازینی لار ده.
هغه خپل بل لاس د مهدی په اوږه کېښود او زور یې ورکړو او ویې ویل: په ګونډو شه بزدل احمق ...
مهدي بلخاش ته په کتلو سره وویل: دا کار به تاته ډېر ګران تمام شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې هغه ساتونکي ته چې د دوی شاوخوا ولاړ وه وکتل او چیغې کړې: بزدله احمقانو. تاسو ولی ما ته ګورئ؟ دا تښتیدلې خاین راونیسئ هغه باید ووژل شي.
بلخاش- هغوی هیڅ نشې کولی، که دوی نږدې راشي نو زه به تا ووژنم.

حالت داسې و چې هیچا د نږدې کېدو جرئت نه کاوه، بلخاش خپل شا دیوال خواته کړې وه، ځکه هغه پوهیدی چې ساتونکي شاید وغواړی د شالخوا برید وکړی.

اناطرق- مهرباني وکړه بالخاش هغه زما لپاره وبخښه.
بالخاش- ستا پخاطر ما د هغه له وژلو څخه ډډه وکړه، هغه یوازې باید په ګونډو شي او بخښنه وغوړای، هغه ما ته خاین وویل ما باید هغه وژلی وای.

د دی خبری سره سم هغه مهدي په یو کلک سوک وواهه او هغه یې ګونډو وهلو ته مجبور کړو، د مهدي له سترګو څخه څرګنده وه چې هغه د بلخاش کرکه په زړه کې نیولی ده، بلخاش مهدی د څو شیبو لپاره همداسې ونیو او بیا یې په کلک په سینه باندی په لغته وواهه چې له امله یې مهدي شاته په ځمکه وغورځېد.

اناطرق د بلخاش خوا ته راغي او په نرمۍ سره یې وویل: تا بې له کوم دلیله د ځان لپاره یو سرکش دښمن جوړ کړو.
بالخاش په پوسخند وویل: زه هغه په سړیو کې نه شمارم ته وای دښمن؟

ناڅاپه وضعیت بدل شو او چوپتیا خپره شوه، د ټولو نظر د دارالحکومه ودانۍ خوا ته شو. اناطرق په کرار وویل: غایرخان د دارالحکومه څخه راووت، وګوره هغه دی خوا راروان دی.

مهدي چې تازه دریدلې و د غایرخان په لیدو د هغه خوا ته یې منډه کړه او ویې ویل: ښاغلی بالخاش غدار په خپلو پښو اترار ته راغلی دی ما  ته امر راکړئ تر څو هغه ووژنم او سر یې د ښار په دیوال وځړوم ترڅو د مغول خان سرتیري پوه شي چې د دوی د جاسوسانو سره څنګه چلند کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان غلی ولاړ و کله چې مهدي خبرې پای ته ورسولې نو غایر خان خپل سترګې د بلخاش او ایلی خوا ته واړولې،بالخاش او ایلی هره شېبه تمه درلوده چې غایرخان به په غوسه راشي او د دوی د نیولو امر به صادر کړی.

خو هغه څه چې د غایر خان په مخ کې بیخی نه احساس کیدل هغه غوسه او کرکه وه. هغه بغیر له دی چې د مهدي خبرو ته پام وکړی په نرم او ارامه لهجه وویل: نږدې راشه بالخاش! زه ستا په تمه وم.

د غایر خان په خبره ټول حیران شول مهدي په حیرانتیا سره وویل: ښاغلی هغه غدار دی.

غایرخان کلک سوک مهدی په سینه ووهه او ویې ویل: چپ شه، بلخاش یو وطنپال اتراری دی. تاسو ټول غلط وئ حتی ما هم فکر کاوه چې هغه دښمن ته کار کوی، خو اوس زه د هغه د راتلو په تمه وم.

بلخاش فکر کاوه چې خوب ویني، ځکه د غایر خان دا حالت هغه ته حیرانونکی و، هغه له ځان سره وویل: یقینا د غایر خان دا نرم چلند یو چل دی.
هغه ایلي ته وکتل ایلی کرار وویل: لکه چې هر څه بدل شوی دی؟!
بالخاش هم د هغې پشان کرار وویل: زه دا نشم منلې هغه تر پرون زما د وینو تږی و، خو اوس  ماته یو زړور او وطنپال اتراری وایی!

غایر خان چې کله ولید بلخاش حرکت نه کوي نو کرار یې وخندل او ویې ویل: وینم چې حیران شوی یې؟! خو هر څه بدل شوي دي زه ستا څخه نور کرکه نه لرم، دا ماته ثابته شوه چې ته یو ریښتینی وطنپال یې، ته ازاد یې بالخاش! ته کولی شې زموږ سره اوږه په اوږه د دښمن په وړاندی وجنګیږې.

بلخاش د ایلی لاس ونیو او په شمېرلو ګامونو سره د غایر خان په لور روان شو، غایر خان خپل لاس د هغه په اوږه کېښود او ساتونکو او شاوخوا کسانو ته یې وویل: د همدا اوس څخه بلخاش زما د ساتونکو مشر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې بالخاش ته مخ وګرځو او ویې ویل: زما سره راځه.
د تلو مخکې بلخاش وویل: د مغول خان د جاسوسانو څخه ما یو نفر راوړی.

غایر خان قرجه ته وکتل او بیا یې اناطرق ته مخ واړاوه او ویې ویل: دا مغولی د اترار د دیوال څخه لاندی وځړوه ترڅو مغولان پوه شي چې موږ د دوی د جاسوسانو سره څنګه چلند کو.
قرجه چیغه کړه: بلخاش یو خطرناک سړی دی، هغه د مغول خان جاسوس هم دی.
غایرخان وخندل او ویې ویل: هو، هغه ظاهراً د مغول خان جاسوس و، خو تل یو اتراری و.

ایلي بلخاش خوا ته سر ښکته کړو او په کرار یې وویل: هغه ستا د راز خبر دی!

اناطرق او دوه نور عسکرو قرجه له ځانه سره یوړو، غایر خان د بلخاش او ایلی خواته مخ واړاوه او ویې ویل: زما سرهراځې.
او بیا خپل په کلک قدمونو د دارالحکومه د دروازی پخوا روان شو، بالخاش او ایلی هم د هغه پسې روان شول.

مهدي چې له دې خبرو ګنګس شوی و، بلخاش ته یې د غوسې او کرکې څخه په ډک نظر کتل. او مخکې لدې چې هغوی له دارالحکومه څخه ووځی یو ساتونکی په زوره چیغه کړه: بالخاش پام کوه ...
بلخاش ډېر ژر شاته وګرځېد او مهدي یې ولید چې له هغه څخه په کم واټن کې په داسي حال کې چې خنجر یې په لاس کې نیولې د ده خوا ته راروان دی.

غایر خان په غوسه چیغه کړه: مهدي، بیرته خپل ځای ته لاړ شه..

بلخاش هم په تلوار خپل خنجر له پوښ څخه راوویست او په چټکۍ سره یې د مهدي پخوا ګوزار کړو، خنجر د هغه په سینه کې بند پاتې شو او وینه راووتله، خو مهدي لا هم یو څو ګام مخکې راغی او بیا ودرېد... لږ شاته لاړ او په ځمکه ولوېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه مرګوني چوپتیا خپره شوه ټولو د مهدی خوا ته کتل چې په خپلو وینو کې ډوب و، زړه یې څیری شوی وو او خپل د ژوند وروستي شیبی تیرول.
غایر خان په غوسه وویل: د دی ځای څخه یی بوځی.
او بیا یې بلخاش ته مخ واړاوه او ویې ویل: مرګ ستا خوا ته درغلی و، خو داسې ښکاري چې ته نه باید ووژل شې.

د دی خبری سره سم په تلوار د دارالحکومه څخه ووت او تالار ته ننوت بلخاش او ایلي هم ورپسې لاړل.

د هغوي په ننوتلو خادم دروازه بنده کړه پرده یې راکش کړه او خپل هم د دروازی څنګ ته ودرېد.

غایر خان په کرار، کرار داسې حال کې چې لاسونه یې شاته تړلې وه قدم واهه، بلخاش او ایلي دوه سترګي هغه ته نیولی وه. بالخاش نور هغه اندیښنه نه درلوده چې د غایر خان سره د لیدو دمخه یې درلود، مګر په دې فکر کې وه چې اخر داسې څه پیښ شوي چې د غایر خان فکر یې د ده په اړه بدل کړی؟

غایر خان د دوی په لور روان شو او د دوی مخې ته ودرېد، هغه په شونډو موسکا راغله او بلخاش ته یې په کتلو وویل: ډېر دی زړه غواړی چې پوه شې چې زه ولې پر تا غوسه نشوم یا ولې مې ستا د وژلو امر صادر نکړو کنه؟
بلخاش- هو، ښاغلیه ما تمه درلوده چې تاسو به ما زندان ته واچوئ، خو زه په خپلو پښو سره راستون شوم که څه هم زه ووژل شم خو پخپل ټاټوبي کې به اوسیږم زه د اترار د خلکو سره اوږه په اوږه د دښمن سره د جګړې لپاره راغلی یم.

غایرخان- پوهیږم، حتا ستا د تېر وخت څخه هم خبر لرم. اوس هرڅه راته روښانه دي ما ته ویل شوي وو چې ته د مغولانو لپاره جاسوسي کوې او له هغوی سره یوځای شوې یې، خو اوس زه احساس کوم چې ته یو وطنپال سړی او یو پاک اتراری یې ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- ایا د اترار امیر خپل د دې بدلون په اړه موږ ته خبر راکولی شی؟
غایرخان- تیمورملک ستا او د ایلی په اړه ماته یو لیک راستولې او د خدای شکر چې د هغه قاصد د محاصرې څخه لږ مخکې اترار ته راروسید او زه یې د هغه حقایقو څخه خبر کړم چې د هغه مخکې نه وم ورباندی خبر.

ایلي خپله چوپتیا ماته کړه او پوښتنه یې وکړه: زما په اړه یې څه لیکلي وه؟
غایر خان لنډ وخندل او ویې ویل: ایلی! د خجند زړوره نجلۍ او زړوره افسره چې تر نن ورځې پورې یې دښمن ته چل ورکړی تاسو دواړه زما لپاره ګران یاست.
بیا یې بلخاش ته مخ واړاوه او دوام یې ورکړ: تېر هېر کړه.

اوس موږ په جګړه کې یو، زموږ بریا ډېره کمزورې ښکاري دښمن زموږ څخه ډېر پیاوړی دی موږ باید د اترار ښار د ماتې او سقوط شاهدان واوسو. خو زه به تر هغه چې ژوندی یم دا ماتې ونه منم زه د وژل کېدو لپاره مبارزه کوم.
بلخاش سر ټیټ کړ او په کرار یې وویل: څنګه تېر هېرولی شم؟ هغه پېښو زه سرګردان کړم.
غایر خان د یوې شیبې لپاره چوپ شو او بیا یې وویل: خان سلطان د ترکان خاتون په خدمت کې ده د هغې په اړه نور فکر مه کوه، او که کوم نقشه د هغې د ژغورلو لپاره لری هغه هم د ذهن څخه وباسه هسی ځان مرګ ته مه ورکوه.

بلخاش په کلک وویل: خو زه باید هغه وژغورم.
غایر خان ایلي ته وکتل او ویې ویل: دا نجلۍ چې ته څو ځله له مرګه ژغورلې یې، ممکن خان سلطان ستا له یاد وباسی، دا هم ښکلې ده او هم زړوره ده، او د څهری څخه یې ښکاری چې له تا سره د زړه له تله مینه هم لري ورته وګوره.

ایلي خپل سر ټیټ کړ شرم یې مخ پوښلی و،بلخاش غایرخان ته وکتل او ویې ویل: هو ایلي ښکلې ده، خو خان سلطان زما لومړۍ مینه ده. که د دښمن پښه اترار ته نه وای خلاصه شوی او جنګ نه واې پیل شوی نو زه به هېڅکله دلته نه وای راغلې، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چې زما اراده یې بدل کړه هغه د مغولانو پر وړاندې جګړه ده. او شاید زه به پدې جګړه کې ووژل شم. زما په تقدیر کې چې هر څه وی هغه به ماته راورسیږی.

غایرخان خپل لاس د ایلي د زنې لاندې ونیو د هغې سر یې راپورته کړ او ویې ویل: خبری وکړه زړوری انجلۍ.

ایلي خپل سترګې کلک وتړلې او ویې ویل: زه دبالخاش سره مینه لرم، دومره مینه چې زه غواړم ورسره مرسته وکړم تر څو هغه خان سلطان ومومي، دا زما هیله ده.
غایر خان د دې خبرې په اوریدو حیران شو، ورو یې سر وخوځاوه او ویې ویل: ته د مینې په جګړه کې هم زړوره یې، زه ستا ستاینه کوم ..

په همدې شیبه کې خادم تالار ته ننوت، غایر خان د هغه خواته مخ واړاوه او پوښتنه یې وکړه: کوم پیغام دی راوړی دی؟
خادم وویل: هو ښاغلی، مغولانو د ښار په لویدیځ دیوال باندی بریدونه پیل کړی او غواړی د هغه خوا څخه ښار ته راننوځی.
بلخاش- هغه ځای ما ته پریږدی.
غایر خان- ما هم همداسې فکر کړی وو سمدلاسه حرکت وکړه، خو لومړی باید د هغه ځای عسکر تا وپیژني..
بیا یې ایلی ته مخ کړو او ویې ویل: ته زما حرمسرای ته لاړه شه او استراحت وکړه.

ایلی سر پورته کړو او ویې ویل: د آرام کولو وخت نشته، زه هم باید د هغوی سره وجنګیږم.
بلخاش- قربان اجازه ورکړی تر څو د دښمن پر وړاندې په جګړه کې برخه واخلي، ایلی په حرمسرای کې لوی شوی جنۍ نه ده.
غایرخان خپل اوږې پورته واچولې او ویې ویل: سمه ده، خو ممکن ته ووژل شې.
ایلي- ما ډیره هڅه وکړه چې په خجند کې پاتې شم او له مغولو سره وجنګیږم، خو تیمور ملک اجازه رانکړل خو اوس په اترار کې دا ویاړ زما په برخه شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه د غایرخان پسې له تالار څخه ووتل، د تالار مخې ته یو څو اسونه چمتو ولاړ وه، دړې واړه په اسونو سپاره شول او د ښار لویدیځ دیوال خواته روان شول. اترار په وحشت او اندیښنه کې و خلکو پداسې حال کې چې د سرتیرو سره مرسته کوله د خپل ژوند لپاره په ډار او وحشت کې وه، دوی د مغولانو د ظلم او وحشیتوب کیسې اوریدلي وې، او دا خبرو د دوی آرمتیا او سکون له منځه وړو.

هره شیبه دوی تمه درلوده چې د ښار دروازې به ماتې شي، او د مغول سرتیرو سیلاب به ښار د خپلو اسونو د پښو په غړونو ونیسی او په بې رحمۍ سره به وژنه پیل کړی.مغولو د ښار په لوېدیځ دیوال یرغل کړی و. دوی هڅه کوله چې د ښار دروازه ماته کړي خو د اترار سرتیرو د دیوال له پورته پر هغوی بریدونه کول ترڅو دښمن بیرته شاته شي. خو مغول لکه چې ضد نیولی وه څکه د درنو تلفاتو سره سره شاته نه تلل.

غایرخان په چټکۍ سره بلخاش ځای پر ځای شویو سرتیرو ته معرفي کړ او هغه ته یې د پوځي عملیاتو مشري وسپارله، او خپل په اندیښنی سره د کلا د دیوال لاندی د مغول سرتیرو یرغل ته کتل. بلخاش وضعیت په ډیره چټکۍ سره وڅارلو ...

غایر خان بالخاش ته مخ کړو او ویې ویل: هغه سرتیری چې د ښار په شمالي دیوال کې ځای پر ځای شوي دي هغه به دلته راوړو ترڅو مرسته وکړی.
بلخاش چې د مغولانو د جګړې له تاکتیکونو سره بلد و وویل: دوی دا برید د دې لپاره پیل کړی دی چې موږ دا ځای د ښار د نور سرتیرو په راوړلو پیاوړي کړو. او همدا چې دا خبر هغوی ته ورسیږی نو هغوی به شمالي دیوال مات کړي او بیا به د دوی مخ نیول ناممکن وی.

غایرخان په حیرانتیا وپوښتل: زموږ د سرتیرو د استول، راستول په اړه به دښمن څنګه خبر شی؟
بلخاش- د دوی دړې جاسوسان په اترار کې دي او هڅه کوي چې زموږ رازونه تر هغوی ورسوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان- زه به همدا اوس امر وکړم چې ټول ښار ولټوي او هغوی پیدا کړي.
بالخاش- ښېره مه کوی ښاغلی دا درې واړه هم ما ته وسپاری هغوی باید ناڅاپه راګیر شی.

غایر خان- اوس څه کول غواړې؟
بالخاش- په هر قیمت چې کیږی موږ به د دوی برید ودروو.
بلخاش یو څه فکر وکړ او بیا یې غایرخان ته وویل: امر وکړی له هرې برخې څخه پنځوس کسان زموږ سره یوځای شي.

غایرخان په حیرانتیا وپوښتل: ایا دومره خلک به کافي وي؟
بالخاش- هو د دومره کسانو سره زه کولی شم یو چل وکاروم.
غایر خان- زه ستا څخه ډیره هیله لرم.
بالخاش- تلوار وکړی ښاغلی.

غایرخان د دیوال له سر څخه راښکته شو او په اس سپور شو، او نور برخو ته لاړ ډېر وخت نه و تېر شو چې درې سوه روزل شوي عسکر د لوېدیځ دیوال د پیاوړتیا لپاره راغلل. بلخاش خپلو کسانو ته امر وکړ چې جګړه ودروي او د دیوال تر شا پټ شي او د هغه د امرونو انتظار وکړي...

ناڅاپه د اترار په لویدیځه برخه کې چوپتیا خپره شوه خو مغولان بغیر له دی چې دی چوپتیا او ارامۍ ته کوم پام وکړی خپل لوړې زینې چې دوی مخکې چمتو کړې وه ترڅو د هغه په مرسته د دیوال سر ته ځانونه ورسوي په دیوال کیخودل او په بیحد تلوار سره یو د بل پسې پنځه نور زینې هم په دیوال ودرول او راپورته کیدل یې پیل کړل. بلخاش چې د دیوال ساتنه یې کوله کله چې دا وضعیت ولید، نو هغه او د هغه سرتیری چمتو شول او په پنځو ځایونو کې ځای پر ځای شول.

ایلي چې د هغه تر څنګ ولاړه وه وویل: که موږ د دوی په ماتولو کې بریالي نشو، نو موږ به ماتې وخورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلخاش په هیله مند لهجه وویل: موږ پر هغوی واکمن یو، زما جنګیالي کولی شي هغوی اداره کړي.

کله چې بالخاش احساس وکړ چې د برید وخت رارسېدل نو خپل سرتیرو ته یې چیغه کړه: برید وکړئ.

او دا هغه وخت و چې لومړی مغولان د زینې وروستۍ مرحلې ته نږدې شوی وه، د بلخاش سرتیرو لومړی مغولان د زینې له سر څخه ښکته وغورځول، خو مغولان لکه یاجوج ماجوج پشان بغیر له دی چې د مرګ څخه و وېرېږی همغسی مخ په پورته روان وه.

اتراری عسکرو به یا هغوی وژلو یا به یې د زینو څخه لاندی غورځول، بلخاش امر کړی و چې زینو ته دی لاس نه وهې او یوازی مغولان دی وژني، هغه نه غوښتل چې د مغولانو د پورته راتلو وسیله له منځه یوسي. په دې توګه نور مغولان هم راپورته کیدل او وژل کیدل او دا د دوي په فایده کی وو.

ایلي د سرتیرو سره اوږه په اوږه جګړه کوله، د جګړې په ګرمۍ او وینه بهیدلو وخت کې غایر خان د دیوال سر ته راپورته شو ترڅو جګړه له نږدې وګوري، بلخاش په همغه جنګ،جنګ کې ځان تر هغه ورسو او ویې ویل: په دې ډول باید د دې وحشیانو سره مبارزه وکړئ.

غایر خان خپل لاس د هغه په اوږه کېښود او ویې ویل: له دې وروسته ته زما د ټول لښکر قومندان او سپه سالار یې، دا مقام زه تاته درکوم.
بلخاش- تاسو فکر نه کوې د دې مقام حقدار به بل څوک وی؟
غایر خان- نه، هیڅوک ستا څخه بغیر د دی مقام حقدار نه دی.

بیا یې خپله توره له ملا څخه خلاصه کړه او د بلخاش په ملا پورې یې وتړله او ویې ویل: دا توره د دې نښه ده چې ته د خوارزمشاه سلطان او د اترار د خلکو وفادار خادم یې. زه همدا اوس ټولو قوماندانانو ته امر کوم چې ستا اطاعت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا د جګړې له ډګر څخه ووت، جګړه همغسې په جوش او خروش باندی روانه وه، مغولانو چې هرڅومره کوښښ وکړو ترڅو دومره فرصت په لاس راوړی چې په دیوال پښه کیږدی خو بریالی نشول. دا یوه سخته او غچ اخیستونکې جګړه وه.

اتراریانو دومره په زړورتیا سره جګړه کول لکه چې هغوی د مغولانو په خاوره برید کړی او اوس بریا غواړی، کله چې بلخاش احساس کړل چې دښمن د شاته تلو نوم نه اخلی نو خپل د جنګ طریقه یې بدل کړل او امر یې وکړو چې د دښمن په سر باندې د منجنیق په واسطه اور واچول شی.

د اترار لویدیځه جبهه په دوزخ بدله شوې وه، له هوا څخه اور بادیدی او مغولان یو په بل پسې د زینو څخه راپرېوتل. د مغول پوځ قوماندان چې کله دا حالت ولید نو د شاته تلو امر یې وکړو. د هغوی په شاته تګ بلخاش امر وکړو چې زیني دی هم له منځه یوړل شی په دې جګړه کې چې تر سهاره پورې یې دوام وکړ، د مغولانو تلفات بیحد ډېر وو. هغوی لا هم نه پوهېدل چې د لویدیځ دیوال ساتنه کوم قوماندان کړی چې داسی دوزخ یې پر دوی جوړ کړی.

هوا لږ روښانه شوی وه چې بلخاش د ایلي سره یوځای د دیوال د سر څخه راښکته شول او دارالحکومه خوا ته لاړ ترڅو غایرخان ته د جګړې د وضعیت په اړه خبر ورکړي.

کله چې هلته ورسېد نو د پوځ د قوماندانانو یوه ډله یې ولیده چې له حکومتي ودانۍ څخه د راوتو حال کېده هغوي ټولو بلخاش پیژنده او کله چې دوی هغه ولید نو ودرېدل او درناوی یې وکړ.

بلخاش د ایلي سره د هغوی خوا ته لاړ او ویې ویل: غایر خان داسي غوښتنه کړې ده او موږ ټول د خپل وطن د خپلواکۍ د ساتلو لپاره مبارزه کوو او موږ تل سرتیري یو. زه ستاسو ټولو ته درناوی لرم او هیله لرم چې زما سره خپل تجربی او مشوری شریک کړی ترڅو په راروان جنګ کې بریالی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بلخاش خبری د هغوی په مزاج ښه ولګیدل او د ملګرتیا لاسونه یې وړاندی کړل او قسمونه یې واخیستل چې د دښمن د لمنځه وړلو لپاره به د ده سره تر اخر اوسیږی.
په دې توګه بلخاش د ملګرتیا له لارې د قوماندانانو په منځ کې هغه مقام ته لاره پیدا کړه چې هغه په چټکۍ سره ترلاسه کړی و. بالخاش چې تر هغه شپې پورې د غدار په توګه پیژندل کیدی او اترار ته په راتلو کې د ژوندي پاتې کیدو هیله نه درلوده، اوس ځان په داسې مقام کې وموند چې هیڅکله یې تصور هم نه کاوه هغه د ټول اترار د پوځ قوماندان او سپه سالار ټاکل شوی و.

کله چې دواړه یوازې شول ایلی وویل: دا ډېره عجیبه ده! ته اوس په هغه مقام کې یې چې په ډېر ساده ډول د یو فرمان په واسطه کولی شې غایرخان د اترار له حکومت څخه لرې کړې او پخپله یې ځای ونیسې.
بلخاش په موسکا سره وویل: او زه حتی کولی شم د مغول لښکرو ته دروازې پرانیزم او ښار هغوی ته وسپارم، او په دې ډول سوباتای خوشحاله کړم....
خو زما لاس که سوباتای ته ورسیږی نو امان به ورنکړم.

ایلی- ته هغه درې مغول جاسوسان څنګه غواړی پیدا کړې؟
بالخاش- سوباتای ماته د هغوی ځای ښودلي زه به نن شپه هلته لاړ شم.
ایلی- نو ته باید تر شپې پورې ځان پټ کړې.
بلخاش وخندل او ویې ویل: زما په اړه اندیښنه مه کوه،زه کولی شم په دې حالت کې هم هغوی ته دوکه ورکړم. دوی ساده خلک دي، سوباتای چې د دوی مشر و زما او ستا په خبرو چل وخوړی دوی خو بیخی نو بیعقله دی.

دواړه په ګډه دارلحکومه ته ننوتل بالخاش ایلی یوازی پریخودل او خپل د غایر خان ملاقات ته ورغی هغه ته یې د جنګ د حالت په اړه معلومات ورکړل.
غایر خان وویل: زه د هغه درې جاسوسانو په اړه اندیښمن یم، کوم چې تا یاد کړل.
بالخاش- زه به ډېر ژر هغوی ونیسم او ستاسو حضور ته به یې راوړم، خو د هوا تر تیاره کیدو باید صبر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان- خو که پر تا بدګمان شول نو ژوندی به دی پرینږدی.
بالخاش- کوم ستونزه نشته ما د هغوی مشر سوباتای ته بار،بار چل ورکړی پوهیږم جاسوسانو سره یې څنګه خبری وکړم.

غایرخان- ضرور ده چې ته خپل د هغوی ملاقات ته ورشی؟
بالخاش- بله چاره نشته هغوی په خپل کار کې ځانګړی مهارت لري.
غایر خان- زه به فرمان ورکړم چې څو تنه ساتونکی تا تعقیب کړی او ستا ساتنه وکړی.
بالخاش- نه دا کار مه کوئ.
غایر خان- نو ته غواړې هغوی آزاد کړې؟
بلخاش- نه، زه داسې هیڅ اراده نه لرم.
غایر خان- نو ته څه کول غواړې؟

بالخاش- د سهار لمر راختو مخکې به زه هغه درې واړه مغول جاسوسان زندان ته واستوم.

غایر خان پوسخند وواهه او ویې ویل: زندان؟ نه زه به هغوی ته امان ورکړم او همغه شیبه به امر وکړم چې د هغوی درې واړه سرونه دی پرې شي او د اترار د دېواله لاندی دی وځړول شي.
بلخاش- کله چې ما هغوی تاسو ته در وسپارل بیا ستاسو خوښه چې هرکار کوی وکړی.

غایر خان- زما په نظر ته نه باید د ښار شاوخوا وګرځئ، امکان لری مغول جاسوسان تا ووینې.
بالخاش- مهمه نه ده ښاغلیه، حتی که هغوی ما له تاسو سره هم ووینې بیا هم د اندیښنی کوم ځای نشته.
غایر خان- ته په ځان ډېر باور لری.
بلخاش لنډ وخندل او ویې ویل: دلیل یې دا دی چې زه د هغوی په ژبه پوهیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایرخان بلخاش ته په کتو سره وویل: ستا دا زیات باور ما شکمن کوی چې هسی نه ته ماته چل راکوی؟
بلخاش- پر ما باور ولری ښاغلیه.

لږ وروسته بالخاش له تالار څخه ووت ایلي د هغه په تمه وه دوی یوځای له دارلحکومه څخه ووتل، ایلي وپوښتل: موږ چیرته ځو؟
بلخاش- د خان سلطان د پلار کور ته، د ډېرې مودې راهیسې می هغوی نه دی لیدلی.
ایلی- نو بهتره به دا وی چې زه رانشم.
بالخاش- برعکس هغوی باید ښکلی، او زړوره ایلی وپیژني.

دواړه پیاده د خان سلطان د پلار د کور په لور روان شول. ښار نور هغه پخوانی ارامتیا او سکون نه درلود هر خوا وېره او اندېښنه خپره شوی وه.خلک په ویره اخوا دیخوا گرځېدل،ډیری دوکانونه ترلي شوی وه. سرتیري په کوڅو کې له یوې خوا څخه بلې خوا ته روان وو. د خلکو په څهرو کې د انتظار سره د وحشت نښی هم لیدل کېدل. هر چا له یو بل څخه پوښتنه کوله" مغولان به زموږ سره څنگه چلند وکړی؟"د هیچا په مخ د بریا لپاره د امید نښه نه وه، لکه چې د همدا اوس څخه یې د ماتی بوی احساس کړی و.

لمر راختلی و او اترار ته یې یوه خوندوره تودوخه ورکوله. بالخاش او ایلی د خان سلطان د پلار کور ته ورسېدل، بالخاش دروازه وټکوله لږ وروسته د دروازې له شا څخه د قلف د شاته تک غږ واورېدل شو. هغه کس چې دروازه یې پرانیستله د نوکرانو له ډلې څخه و. د بالخاش په لیدو هغه حیرت وکړو او په همغه حیرانتیا یې وویل: تاسو یاست؟

بالخاش وخندل د ایلی لاس یې ونیو او یوځای کور ته ننوتل،هغه نوکر چې دروازه یې پرانیستې وه په چټکۍ سره کور ته ننوت او د خان سلطان پلار یې د بلخاش د راتگ څخه خبر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلخاش او ایلي د حویلۍ نیمایي ته رسیدلي وو چې د خان سلطان پلار له دننه څخه راووت. بلخاش ته په کتو سره یې په شونډو موسکا راغله. لاسونه یې د هغه په لور پورته کړل او بالخاش یې په غیږ کې ونیوه، بیا یې د ایلي خوا ته وکتل او په نرمۍ یې وپوښتل: دا نجلۍ څوک ده؟

بلخاش ځواب ورکړ: دا یو اتله نجلۍ ده، د دی نوم یې ایلی ده، هغې څو ځله زه حتمی مرګ څخه ژغورلی یم او اوس هغه زما سره اترار ته راغلې ده ترڅو د دې ځای د خلکو سره اوږه په اوږه د مغولانو سره وجنګیږی.
د خان سلطان پلار ناڅاپه په هوش کې راغی او په ځانګړې اندیښنه سره یې وویل: ته ولی اترار ته بیرته راغلی؟ لکه چې غایر خان دی هېر کړی دی؟

بلخاش په خندا سره وویل:له ایلې څخه پوښتنه وکړه.

ایلي په لنډه توګه پیښه تشریح کړه، د خان سلطان د پلار خوله له تعجب څخه خلاصه پاتی وه، په همغه حیرانتیا سره یې وویل: نو زه اوس د اترار د ټول لښکر د سپه سالار سره خبرې کوم؟!
د لنډې وقفې وروسته هغه په احساساتي غږ وویل: کاش چې خان سلطان دلته وای او دا خبر یې اوریدلی وای. نو نامراد غایر خان په دې ډول غواړی خپل وجدان راحت کړی.هغه د بلخاش لاس ونیو او دوام یې ورکړ: راشه او آرام وکړه، ته باید ستړی اوسیږی.

په ګډه کور ته ننوتل د کور خلکو د بلخاش په لیدلو د جګړې وحشت او اندیښنه هېره کړه. بلخاش او ایلي د کوټې په فرش کښیناستل د خان سلطان پلار خپل په مخصوص ځای کی کښیناست او ویې ویل: که زه ستا په ځای وای، نو غایر خان به مې وژلی وای.
بلخاش- زه د خپل وطن د دفاع لپاره اترار ته راستون شوم. وضعیت داسې دی چې نه باید د غایرخان څخه د غچ اخیستلو په اړه فکر وکړو. هغه به په خپل وخت کې د خپلو بدو کړنو سزا وویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان سلطان پلار سوړ اسويلي وويست او ويې ويل: ګورې چې اترار خپلې وروستۍ ورځې تېروي. موږ د يو ځواکمن او بې رحمه دښمن سره مخ يو. هغوی به په پايله کې ښار ته راننوځي دا محاصره خلک له پښو اچوی او ټول به د مغول خان په قهر کې راګير شو.
بالخاش په کلک غږ وويل: ستاسو دا خبری څه مطلب لری؟ ايا تاسو غواړې چې ښار دښمن ته وسپارو؟

د خان سلطان پلار پوه شو چې خبرو يې څومره بالخاش نارامه کړی دی، نو ځکه خندا يې په خپلو شونډو راوړل او ويې ويل: زما مقصد دا نه و چې ښار وسپارو، خو ته او غاير خان هم پوهېږۍ چې موږ د مغولو د سرتيرو د سيالۍ وړتيا نه لرو. ډېر ژر به هغوی اترار ته راننوځي، او بيا به پر هيچا رحم ونکړی.

بالخاش- زه په دی پوهيږم خو هغوی بايد د سرتيرو د جسدونو پر سر ښار ته راننوځي. بايد د ماوراءالنهر نور خلک وپوهيږي چې اترار څنګه مقاومت وکړ او مغولي سرتيري څنګه ښار ته راننوتل.
خان سلطان پلار- د بې ګناه خلکو فکر هم بايد وشي.
بالخاش- جګړه همدا ده، بی ګناه او ګنهکار ته نګوری.

د خان سلطان پلار لږ فکر وکړ او بيا وويل: غاير خان په داسې حال کې چې د سلطان خاص استازی په اترار کې موجود وو ته څنګه د ټولو سرتيرو قوماندان کړی؟ او دا مقام يې تا ته درکړو؟!"
بالخاش خپل اوږې پورته کړل او وويل: غاير خان د سلطان د خاص استازی په اړه ما ته هېڅ ونه ويل، زه هم نه وم خبر چې سلطان اترار ته خپل خاص قوماندان راستولی! خو فکر کوم چې شايد د غاير خان او د سلطان د خاص استازی په مېنځ کې کوم اختلاف وي چې په دې ډول يې هغه لرې کړو او پريکړه يې ونيول چې ما د هغه پر ځای وټاکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان سلطان پلار وویل: تا به خپل هم کوم وخت فکر نه و کړی چې یوه ورځ به د ټول اترار د لښکر سپه سالار شی.
بالخاش وخندل او ویې وویل: عجیبه نړۍ ده، اترار ته په راتلو ما خپل ځان په خطر کې اچولی و او حتا فکر می کاوه چې شاید ووژل شم، خو ما ویل د خپل خاورې د دفاع لپاره مرګ هم بهتره دی خو حالت دومره ګړندی بدل شو چې تر اوسه هم نشم کولای ومنم چې زه د ټول اترار د لښکر سپه سالار یم.

خان سلطان پلار- نو ته نور د غایر خان څخه د غچ اخیستلو په فکر کې نه یې؟
بالخاش- اوس اترار په خطر کې دی.
خان سلطان پلار- زما د لور په اړه څه خبر لری؟ غایر خان تا ته د هغې په اړه څه ونه ویل؟
بالخاش- غایر خان زما خفګان حس کړو او ویې ویل چې خان سلطان د ترکان خاتون په خدمت کې ده.
خان سلطان- دا خبره مې مخکې هم اوریدلی وه.

څو لحظې خاموشی خپره شول د خان سلطان پلار وویل: ته او ایلي باید استراحت وکړۍ."
بالخاش ایلي ته وکتل او ویې ویل: ایلي خپل خوښه ده، خو زه باید بېرته برج ته ولاړ شم. د ارامېدو لپاره وخت پاتې نه دی، لږ چپه شو او بیا یې وپوښتل: ایا کوم کس خو زما په لټه ستاسو کور ته نه وی راغلی؟

د خان سلطان پلار چې یو تجربه کار او نړۍ لیدلی سړی و، په نرمي سره خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: پرون شپه یو سړی راغی او ستا په لټه و،ما هغه ونه لیده خو پوه شوم چې د کوم کار لپاره ستا لیدو ته اړتیا لري.
بالخاش- نو پوه شوی چې هغه څوک و او له کوم ځای راغلی و؟
خان سلطان پلار- هو، هغه د مغولانو څخه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش لنډ وخندل او ويې ويل: مغول جنگی او بې رحمه خلک دي، خو په هماغه اندازه احمق او ژرباور کونکي دی نن شپه هغه بیا دلته راځي يوازې نه، د دوه نور ملگرو سره يې، درې واړه د سوباتاي جاسوسان دي زه پوهيږم چې څنگه له هغوی سره معامله وکړم.

د خان سلطان پلار وويل: په ځان پام ساته،که هغوی پوه شي چې غاير خان تا ته کوم مقام درکړی دی نو ژوندی به دی پرينږدي.
بالخاش- زما لپاره مهمه نه ده چې هغوی ما په دې حالت کې وگوري، ځکه چې پوهيږم چې څنگه په جلا جلا ډول له هغوی او د هغوی د هوښيار رئيس سره خبرې وکړم.
خان سلطان پلار- خپله ښه پوهېږې.
بالخاش ايلي ته مخ وگرځاوه او وويل: ته همدلته پاتې شه دا ځای خوندي دی، زه به شپه بېرته راشم،تر څو هغه درې مغولي جاسوسان وگورم.

ايلي نه منله چې د خان سلطان د پلار کور کې پاتی شې خو بالخاش ټينگار وکړ او په پايله کې يې په سختی سره ايلی راضی کړل تر څو د خان سلطان د پلار په کور کې پاتې شی هغې غوښتل هر ځای له بالخاش سره ولاړه شي،هغه يوه زړوره نجلۍ وه چې ارامش او استراحت ورته هېڅ معنا نه درلوده، هغه په خلاصه غيږه د پېښو مخ ته تلله.

لمر په بشپړه توگه پورته شوی و چې بالخاش د خان سلطان د پلار له کوره ووت. ښار لا هم د وحشت او بې چارۍ په دام که گير و. حالت دومره خراب شوی و چې خلک د سرتيرو سره مرستی ته ورتلل. د ښار دفاعي حالت دومره و چې د مغولو د سرتيرو قومندان خپل برياليتوب ته ډيره هيله نه درلوده. اترارې سرتيرو په کلک ارادی سره خپل ښار ساتلو دا ناشونې ښکارېده چې ښار دروازه دی د دښمن لپاره خلاصې شي ياهغوی دی وکولای شې چې ماتې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په چټکۍ سره دارالحکومه ته ولاړ. هغه نور تښتېدلي بالخاش نه و اوس ټول دروازې د هغه پر مخ خلاصې وې، په هغه وخت کې د غایر خان له نوم وروسته د هغه نوم پر ژبو و خو هغه حس کاوه چې ډېر ستونزې او خنډونه په مخ کې لري.
تر ټولو مهم د سلطان خاص استازی و چې د لس زره سرتیرو سره اترار ته راغلی و او د ښار د سرتیرو قومنداني پر غاړه لرله خو اوس بالخاش په ناڅاپه توګه د هغه ځای نیولی وو.

کله چې بالخاش د غایر خان حضور ته لاړو نو د سلطان خاص استازی هم هلته و، د بالخاش په لیدو د هغه تندی تروش شو او په تنده لهجه پداسی حال کې چې بالخاش ته یې کتل ویې ویل:

آیا تاسو دا بې عقله نفر زما پر ځای ټاکلی دی؟! څومره لوی بدبختی.
غایر خان په کلک غږ وویل: هغه یو وفادار او زړور اتراري دی.
د سلطان خاص استازی په قهر سره وویل: اي کاش ما کولای شو دا خبر سلطان ته ورسوم.
بیا یې بالخاش ته مخ وګرځاوه او په هماغه تند غږ یې دوام ورکړ: ته چې د تښتېدلي خائن په توګه پېژندل شوی یې د جګړې د تکنیکونو په څه پوهېږې؟ زه ډاډمن یم چې زما له امر لاندې سرتیري به هېڅکله هم ستا حکم ونه مني.
بالخاش د سلطان د خاص استازی د تندو خبرو اورېدلو سره مخ یې سور شو او هغه ته یې وویل: که غایر خان دلته شتون نه درلود نو ما به ستا د دې خبرو ځواب په توره درکړی وای.

د سلطان استازی خپل ځای کې ځای پرځای شو خپل لاس یې د توری خواته ویوړو او غایر خان ته یې مخ وګرځاوه او وویل: باید دا بې ادبه سړي ادب کړم.
غایر خان چې غوسه شوی و وویل: که خبره ادب کولو ته ورسیږی نو باید تا هم یا زندان ته واچوم یا د ښار په میدان کې دی سر پرې کړم. ته او ستا سرتیري زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتیرو د مرستې لپاره اترار ته راغلي یاست، او بیا ته بیغرت ماته وراندیز کوي چې ښار دښمن ته وسپارم او تسلیم شم؟

بالخاش- د سلطان استازی یو خائن دی چې داسې وړاندیز کوي.
د سلطان استازی وویل: دښمن له موږ څخه ځواکمن دی، موږ باید له هغه وحشي وژنې څخه چې د هغوی په رانوتلو ترسره کیږي مخنیوی وکړو، هغوی په پایله کې ښار نیسي او د دې ښار کوڅې به د بې ګناه خلکو په وینو ولړي.
غایر خان- ټول ما د یو ظالم او بې رحمه سړي په توګه پېژني، خو کله چې د خپلې خاورې د دفاع خبر منځ ته راشی ټول خلک زما ملاتړ کوی، زه تر هغه چې ژوند یم له دښمن سره به جنګېږم.

ستا دا بیغرتانه خبرو او وړاندیزونو زه مجبور کړم چې بالخاش ستا پر ځای وټاکم.
هغه یو جنګیالی سړی دی، اي کاش پرون شپه ته په برج کې وای او لیدلې دی واې چې هغه څنګه خپل په ځانګړي جنګي هنر سره دښمن چې د یوال ته د راپورته کیدلو اراده لرله شا ته تګ ته مجبور کړل.

څو شېبی چوپتیا خپره شوه ناڅاپه بلخاش خپل توره کوم چې غایر خان هغه ته ورکړې وه له ملا څخه لری کړل او پر ځمکه یې کېښوده. په داسې حال کې چې سترګې یې پر غایر خان وه په نرم اواز وویل: له نن څخه زه یو سرتیری یم، پرون ما احساس کړ چې د اترار د ټول لښکر د مشر په توګه زما ټاکل د داخلي اختلافونو له امله و، د سلطان خاص استازی د دې ټولو خبرو باوجود د دې دندې لپاره ډېر ښه دی.

د دی خبرو وروسته هغه روان شو چې له تالار څخه ووځي، چې غایر خان چغه کړه:   و دریږه بالخاش.
بالخاش ودرېد. غایر خان یې مخ ورته ورغې او ویې ویل: زه به دې هېڅکله و نه بخښم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بالخاش پر شونډو ترخه مسکا راغلل او ویې ویل: زه د خپل خاورې د دفاع لپاره اترار ته بېرته راغلی یم او هېڅکله هم فکر مې نه کاوه چې ژوندی به پاتې شم، اجازه راکړئ چې د سرتیرو سره اوږه په اوږه د دښمن په مقابل کې وجنګېږم.
غایر خان- خو ته باید د سلطان د استازی پر ځای زما سرتیرو ته امر وکړې، دا سړی د اترار د دفاع سره مخالف دی او ټینګار کوي چې ښار دښمن ته وسپارو.
بالخاش- تاسو خپله د پوځ کنټرول په غاړه واخلی.
غایر خان- زه د جګړې د تکنیکونو په اړه ډېره پوهه نلرم.

د سلطان استازی خپل چوپتیا ما ته کړه او ویې وویل: بالخاش پخپل حال پرېږده! د هغه خبرو زما نظر بدل کړو له نن څخه به زه هم تر خپل وروستۍ ساه پورې له اترار څخه دفاع کوم.
غایر خان چې یو هوښیار او فریبکار سړی و بالخاش ته نږدې شو او وویل: د ښار د لویدیځ برج دفاع تا ته سپارم.

بالخاش پوهېده چې دا ځیرک او ظالم سړی چې هغه یې د سلطان د استازی پر ځای ټاکلې هغه (غایر خان) هېڅکله هم بې دلیل کار نه کاوه. هغه په دې عمل سره غوښتل چې د سلطان استازی خپل او د نورو قومندانانو په وړاندې بې وسه کړي. او اوس چې نقشه یې په بریالیتوب سره ترسره شوې وه،نور هېڅ دلیل نه و چې هغه د سلطان استازی ګوښه کړي.

دا استازی سلطان راستولی و او غایر خان خپل په سر هغه نشو ګوښه کولای، خو د هغه د کنټرول کولو لپاره یې د بالخاش څخه کار واخیست ترڅو هغه وډاروی.
بالخاش څه موده چپ شو بیا یې وویل: زما نور کارونه هم دي چې باید ترسره کړم.
غایر خان- زه پوهیږم خو د اوس لپاره ته لویدیځ برج ته ولاړ شه او هلته څارنه وکړه او کله چې هوا تیاره شي بیا دلته راشه زه یوه ځانګړې موضوع له تا سره لرم.

بالخاش بغیر د نور څه ویلو له تالار څخه ووته. څه موده وروسته د هغه د استعفا خبر په ښار او سرتیرو کې خپور شو.او کله چې هغه لویدیځ برج ته ورسېد نو دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داني قومندانان يې خپل په انتظار کې وليدل، بالخاش مخکې له دې چې هغوی خبرې وکړي وويل: موږ ټول د سلطان د خاص استازی حکم منو، هغه يو ستر قومندان او زړور جنګيالی دی.

د بالخاش په دی خبرو هغه دوه کسان بغير د څه ويلو له ديوال څخه ښکته شول. بالخاش د ديوال د سر څخه د مغولو سرتيرو ته يوه کتنه وکړه. په ظاهره کراره کرارې وه او داسې ښکارېده چې د مغولو قومندان په نوې چل او فريب جوړولو کې لګيا دی. خو د ښار د برجونو او ديوالونو حالت دومره کلک و چې د دښمن چلونه به د اترار د فتحې لپاره بې پايله پاتی شوی واې. بالخاش هغه څه ته ورسېد چې غوښتل يې،د اترار دفاع.

دا د هغه ستر هدف و او هغه احساس کاوه چې د هغه د سرګردانۍ دوره پای ته رسېدلې دی اوس د ښار د يو برج د دفاع مسووليت د هغه پر غاړه وه، د خپل خاورې د دفاع لپاره مرګ هغه ته د دښمن په منځ کې د اسان ژوند او د دوی د جاسوس په توګه د ژوند کولو په پرتله ډېر ښه ښکاريدی.

هغه خپل په فکرونو کې تر اوسه هغه درې مغولي جاسوسان نه وه هير کړی کوم چې په اترار کې وه، د هغوی د نيولو لپاره يې په ذهن کې پلانونه جوړول داسی پلان چې په اسانۍ سره هغه درې جاسوسان ووژني.

***

غاير خان په يوه کوچنۍ کوټه کې چې يوه دروازه يې تالار ته خلاصېده د بالخاش د راتګ انتظار کاوه.هوا لږ تياره شوی وه چې خادم د بالخاش د راتګ خبر غاير خان ته ورکړو، څه موده وروسته بالخاش د غاير خان په مخ کې ودرېد. غاير خان چې لاسونه يې شاته تړلي وه وويل: د درې مغولي جاسوسانو شتون په اترار کې زما فکر نارامه کړی دی. ته کله غواړې د هغوی کتو ته ورشی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په ډاډه غږ وویل: نن شپه به د هغوی لیدو ته ورشم.
غایر خان- نو زما څو محافظین له ځان سره بوځه چې هغوی ونیسي.
بالخاش- هغوی هم په کافي اندازه هوښیار دي.
غایر خان په بې صبرۍ سره وویل: بیا ته څه کول غواړې؟ که ته یوازې ځان هلته لاړ شې امکان لري چې د هغوی څخه کوم یو یې درڅخه وتښتي او ځان مغولو ته ورسوي او هغوی ته زموږ د ښار په اړه نظامي معلومات ورکړي!

بالخاش- زه به هغوی په یوه پټه لاره بوځم او هلته به د هغوی کار پای ته ورسوم.
غایر خان په حیرانتیا وویل: پټه لاره؟!... زه فکر کوم چې ته غواړې هغوی وتښتوې؟
بالخاش- صبر ولرئ ښاغلیه.
غایر خان- آیا تا د هغوی د وژلو لپاره کوم پلان جوړ کړی؟
بالخاش- هو، خو په احتیاط سره باید هغوی له منځه یوسو.

غایر خان خپل اوږې پورته کړل او ویې ویل: خپله پوهېږې، خو زه هم باید پوه شم چې ستا نقشه څه ده؟

بالخاش هغه نقشه چې جوړه کړې وه، د غایر خان سره شریکه کړه،غایر خان خپل لاس د هغه په اوږه کېښود او ویې ویل: اي کاش ما ستا څخه خان سلطان نه واې اخیستې.
بالخاش په غمژن لهجه وویل: بهتره به وی چې موږ د هغه درې مغول جاسوسانو په اړه خبرې وکړو.
غایر خان- زه پوهیږم چې ته د هغې د فکر څخه نشې وتلی.
بالخاش- خو اوس اترار له هر څه زیات مهم دی.

کله چې بالخاش د تګ لپاره چمتو شو غایر خان وویل: زه ستا انتظار کوم،باید د کار د پایلی څخه ما خبر کړې.
بالخاش- سمده همداسې به وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له هغه ځایه ووت په چټکۍ سره یې "آنا طرق" راوبلو او هغه ته وویل چې څه کار باید وکړي، بیا په چټکۍ سره خپل ځان یې د خان سلطان د پلار کور ته ورساوه او د "ایلي" په لټه شو. هغه یې په یوه کوټه کې یوازی وموندل،ایلي چې کله سترګې پر بالخاش ولګیدې له ځایه پاسېده او خپل ځان یې د هغه په غېږ کې واچاوه. مخ یې د بالخاش پر مخ کېښود او په خوشحاله اواز یې وویل: ستا په انتظار وم.

بالخاش هغه نقشه چې د درې مغولي جاسوسانو د نیولو او وژلو لپاره جوړه کړې وه، هغې ته وښوده او پوښتنه یې وکړه: آیا د هغوی څه کوم نوې خبر شته؟
ایلي چې سر یې د بالخاش په سینه کېخودلې و وویل: تر اوسه نه دی راغلې.
بالخاش- ایا دا ځای ستا د ارمتیا لپاره سم وو؟
ایلی- نه، زه نشم کولای چې له تا لیرې واوسم.
بالخاش- خو بله چاره شته ګورې چې ښار په محاصره کیدی او دفاع له هغع ستونزمنده ده.

ایلي په خندا وویل: خو دا زما آرمان وو چې د سرتیرو سره په ګډه له مغولو سره وجنګېږم.

بیا یې بالخاش ته کیناستو لپاره بلنه ورکړه، دواړه یو بل ته نږدې پر فرش کېناستل. بالخاش د سترېیا له کبله پښې یې اوږدې کړې او شا یې د دیوار سره تکیه کړه. په لمر خوړلې مخ یې د ژورې سترېیا نښې ښکاریی ایلي سترګې له هغه نه اخیستی،بالخاش هم د هغې خوا ته وکتل او حس یې کړ چې ایلی په ټول وجود سره هغه خوښوي، خو هغه د بل چا په لټه کې و، هغه لا هم د خان سلطان مینه په زړه کې احساسوله.

بالخاش خپل ځان په دوه مینو کې ګیر ولید. یو د خان سلطان مینه چې په کیلومټرو د هغه څخه لری وه، او بل هغه مینه چې د ده په څنګ کې وه او ده ته یې د ژوند هیله ورکوله. هغه ایلي خپله ګڼله،ایلي درې ځله هغه له مرګ څخه ژغورلی وو. څنګه یې پرېښودلی شو؟ بالخاس هغه خوښوله خو تر اوسه په هغې مین نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه وېکیده ایلي له ځایه راپورته شوه او دروازه یې خلاصه کړ. د خان سلطان کوچنۍ خور وه. هغې ایلي ته وکتل او په نرم غږ یې وویل: پلار غواړي له بالخاش سره خبرې وکړي.

بالخاش دا واورېد لځایه راپورته شو او د دروازی خوا ته ولاړ. د خان سلطان خور یې له ځمکې راپورته کړه او په داسی حال کې چې هغه یې په غېږ کې نیولی وه ویل: جګرې به هر څه او هر څوک خپل خواته کش کړي حتا ته نازولی ماشومه...
ایلي په خفګان سره وویل: هغه پخپل حال پرېږده،هغه د جګړې په اړه په هېڅ نه پوهیږي.

بالخاش د خان سلطان خور ښکل کړل او پر ځمکه یې کېښوده. بیا ایلي ته مخ وګرځاوه او وویل: خو باید پوه شي چې جګړه څومره وحشتناکه ده.

چپ شو او سترګې یې د خان سلطان د خور پر مخ ځېر پاتي شوی...
ایلي په نرمه غږه وویل: وا دې نه ورېدو؟ پلار یې غواړي له تا سره خبرې وکړي.

بالخاش بغیر له دې چې څه و وایې د کوچنۍ نجلۍ لاس یې ونیوه او روان شو...

نږدې نیمه شپه وه چې د دروازی د ټکیدو په غږ د کور سکون او ارامي ګډوډ شول،په دې وخت کې بالخاش د خان سلطان د پلار په کوټه کې و. ایلي په خپلې کوټه کې یوازې ناسته وه او په خپلو فکرونو کې ډوبه وه. کله چې بالخاش ته وویل شو چې چا دروازه ټکولی نو هغه په چټکۍ سره ایلي خواته ولاړ او بیا په ګډه د دروازی خوا ته روان شول بالخاش دروازه خلاصه کړل یو مغول یې د دروازی شاته ولید بالخاش هغه وپېژند د هغه نوم جاتای و.

بالخاش- راځه دننه جاتای، ستا په انتظار وو.
جاتای- دا ځای امن نه دی.
بالخاش- داسی ښکاري چې پر ما باندې باور نه لرې؟
جاتای- باید هم باور ونه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په قهر سره وویل: که ښار محاصره نه واې نو همدلته به مې ته وژلي واې او ستا جسد به مې سوباتای ته استولی واې.
جاتای- باید ووایي چې څه چل دی وکاروی چې غایر خان ته وبخښلې او په داسې ډول يې ستا ښه راغلاست وکړو؟

بالخاش پوه شو چې جاتای د هغه پېښو په اړه خبر دی کوم چې پر هغه راغلي دی نو ځکه په لنډ ډول يې وخندل او ويې ويل: نو ته له هر څه خبر يې؟ غواړې پوه شې چې غایر خان ته مې څنګه چل ورکړو؟
جاتای په همغه جدی انداز وویل: که تا د مغول خان سره خیانت کړې وي، نو زموږ دري کسانو څخه يو نفر به تا ضرور ووژني.
ایلي خپله چوپتیا ماته کړه او ويې ویل: تاسې دري واړه احمقانو یاست، بالخاش بله لاره نه درلوده که هغه داسې نه وای کړی نو تاسو به موږ هېڅکله نه واې لیدلی.

جاتای لږ نرم شو او ويې ويل: خو د بالخاش حالت دومره ګړندی بدل شو، چې موږ هېڅکله فکر يې هم نه وکړی، نو ځکه موږ ګمان وکړو چې شاید هغه اراده لری موږ د غایر خان په ګیر ورکړی.
بالخاش په ډاډمن غږ وویل: نن شپه به موږ ټول له پټې لارې د اترار څخه ووځو.
جاتای چې کله دا خبره واورېده نو پر سوځېدلو شونډو يې مسکا راغله او ويې ويل: نو کار خلاص دی؟
ایلي- هو، باید تلوار وکړو.

بالخاش- لږ صبر وکړئ تر څو زه خپله توره راواخلم.

بالخاش کور ته ننوت او څو دقیقې وروسته بېرته راغی، لاس يې د ایلي په ملا تاو کړو او کرار يې وویل: باید احتیاط وکړو.
کله چې له کوره ووتل ایلي جاتای ته وویل: دا موده چې تاسې په اترار کې تیر کړل باید د خطرناک حالت سره مخ واست؟
جاتای- هو، د ورځې به پټېدلو او د شپې به بهر راوتلو او په ښار کې به ګرځېدلو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اترار حالت داسې دی چې ډېر ژر به له مینځه ولاړ شي دا خبر د سوباتای لپاره ډېر زړه راښکونکی دی.

بالخاش پوښتنه وکړه: ستا نور ملګری چېرته پټ دي؟
جاتای- د امام جومات د بام په سر هلته زموږ پټنځای و، هغوی ستا په اړه ډېر بدګمانه او هم درته په غوسه دی خو کله چې پوه شي چې نن شپه به له پټې لارې ووځو نو نظر به یې ستا په اړه بدل شي.

بالخاش چې کله له جاتای سره مخامخ شو نو د یو موضوع په اړه اندیښمن و، هغه وېرېدی چې جاتای او هغه دوه نور جاسوسان د قرچه د وژل کیدو څخه خو خبر شوي نه دی؟ خو بالخاش د جاتای څخه د هغه په اړه هېڅ وا نه وریدل خو بیا هم اندیښمن و، ځان سره یې فکرونه کول او پلانونه یې جوړل که د هغه نور دوه جاسوسانو سره مخامخ شو او هغوی ورڅخه د قرجه په اړه وپوښتل نو دی باید د دروغو یوه کیسه جوړه کړی او هغوی ته یې ووایې.

کله چې جاتای د خپلو ملګرو په اړه وویل چې هغوی پر بالخاش بدګمان شوی او غوسه دی ورته بالخاش پوسخند وواهه او ویې ویل: هغوی بې له کومه دلیل پر ما غوسه او بدګمان دی،زما هدف او مقصد د مغول خان خدمت پرته بل څه نه دی، زه او ایلي په اسانۍ سره له پټې لارې اترار ته راننوتلی شو او ځانونه مو پټ کولی شول تر څوګ ستاسو سره اړیکه ونیو، خو موږ صبر وکړ تر څو د غایر خان سرتیري کوم چې د مغول خان پر پوځ باندی د غلجکی برید اراده درلود موږ ونیسي او غایر خان ته مو یوسي او په دې لاره ما کولاې شول خپل جوړ کړی پلان عملي کړم ما خپل ځان په خطر کې واچو ترڅو زیات معلومات راټول کړم ...

جاتای خپله خوله خلاصه کړه چې څه ووایي خو بالخاش وویل: لا زما خبرې پای ته نه دي رسیدلي،ته او هغه دوه نور جاسوسان زما په حالت پوهېږی او خبر یاست چې زه د غایر خان د زندان څخه راتښتیدلې وم کله چې زه او ایلي د هغه وراندی ویوړو نو ما د ژوند هیله بیخی نه درلوده او فکر مې هم نه کوو چې زه دې ژوندی پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شم. هره شېبه انتظار مې کاوه چې هغه به زما د وژلو حکم صادر کړي. خو ما هغه ته دروغ وويل او چل مې ورکړو ما ورته وويل زه د مغول خان د سرتيرو په اړه معلومات لرم او د خپل خاورې د دفاع لپاره اترار ته راغلی يم.

جاتای پخندا وويل: او هغه هم ستا په بې معنا خبرو باور وکړو؟
بالخاش- اترار د محاصرې په حال کيدی او هر خبره چې د مغول خان د سرتيرو په اړه اوسيږی غاير خان ته مهم او زړه راښکونکی دی. ما هغه ته د دروغو معلومات ورکړل او هغه ورباندی باور وکړو او خوشحاله شو او زما د وژلو څخه يې بډه وکړه. په دې لاره زه توانيدم چې د هغه باور تر لاسه کړم خو هغه مقام چې هغه ما ته راکړو ما هغه و نه منلو ځکه د هغه پر منلو زما او ستاسو حالت بدل کيدی.

جاتای- موږ ستا د نقشې څخه خبر نه وو،موږ فکر کاوه چې تا مغول خان ته خيانت کړی دی.
بلخاش په ريشخند وخندل او ويې ويل: څومره غلط فکر.
ايلي جاتای ته مخ وګرځاوه او پوښتنه يې وکړه: تاسې کله اترار ته داخل شوی؟
جاتای- څه موده وړاندې له دې چې ښار محاصره شي.
بالخاش- له دې ځايه وروسته کوڅې تنګېږي او موږ بايد ډېر احتياط وکړو.

درې واړه چوپ شول جاتای له دوی مخکې روان و، بالخاش او ايلي اوږه پر اوږه د هغه شاته روان وه.

سره له دې چې ښار په محاصره کې و او اتراري سرتيري د ښار د دفاع لپاره په برجونو کې بوخت وو، په دې شپه اترار په يوه بې چارې ارامۍ او سکون کې ډوب و. داسې لکه د مرګ خاموشي چې خپره وی، حتي د شپی د ساتونکو سرتيرو څخه هم کوم خبر نه و داسی ښکاريده لکه چې هغوی هم د ښار د دفاع لپاره برجونو ته تللې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی له تنګو کوڅو تېر شول او یو کوچني میدان ته ورسېدل له هغه ځایه په لنډه لاره د بازار څخه تېرل شول او څو دقیقې وروسته د امام جومات ته ورسېدل.
جاتای لنډه شپیلکه ووهله د جومات له پورته برخې څخه په ځواب کې همداسې لنډ شبیکله ووهل شول او څه موده وروسته دوه مغولي جاسوسان چې د جومات په بام کې پټ وو ښکته راغلل کله چې د بالخاش سره مخامخ شول یو یې وویل: ستا سزا مرګ ده.

بالخاش ورته مخ کړو او په قهر سره یې وویل: که موږ په ماموریت کې نه وای نو ستا د خبرې ځواب مې په توره درکو.

جاتای خپل ځان د دوی دواړو ترمنځ کړو او خپل ملګري ته یې وویل: بالخاش د مغول خان وفادار دی،هغه نن شپه موږ له پټې لارې له اترار څخه باسی.
هغه دوه جاسوسان چې له هر څه بې خبر وو په دې خبرې ارام شول، ایلي هغوی ته وویل: بالخاش خپل ځان په خطر کې اچولی دی تر څو د مغول خان د سرتیرو لپاره د ننوتو لار په اترار کې هواره کړي.

بالخاش- دلته درېدل خطرناک دي باید حرکت وکړو، احتیاط د بریالیتوب شرط دی که د غایر خان د مامورینو سره مخ شوی نو د توری څخه کار مه اخلي هغوی ماته پرېږدئ.
جاتای- هر چا چې زموږ لاره ونیول نو ځواب به یې په توره ورکو نه باید هېچا ته امان ورکړو.

بالخاش- ستا او ستا د ملګرو یو کوچنی تېروتنه موږ ټول مرګ ته ورکوی، دلته باید په چل او چلبازی تکیه وکړو، نه په توره او خنجر، که هغوی پوه شي چې زه او ایلي ستاسو سره اړیکه لرو نو یو هم ژوندی نه پاتی کیږی.
یو جاسوس وویل: ښار په بد حال کیدی، زه ډاډمن یم چې د هېچا به موږ ته پام نشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي- دا حالت د ارمتیا څخه ډېر خطرناک دی که هغوی موږ راګیر کړی نو زموږ ټول پلانونه به خراب شی.
بالخاش- باید وخت نه ضایع کړو.

ټول روان شول بالخاش مخکې روان و. د هغه شا ته درې مغولي جاسوسان او وروستنی کس ایلي وه. ټول په چوپتیا کې ډوب وو کله چې د کوڅې په یو څنډه تیر شول جاتای ودرېد او شاته یې وکتل کله چې ډاډه شو چې کوم څوک دوی نه تعقیب کوی نو خپل ځان یې بالخاش ته ورساوه او ویې ویل: زه یو وړاندیز لرم.

بالخاش چې روان و وویل: که ستا وړاندیز د منلو وړ و نو زه به یې ومنم.
جاتای- موږ باید همدا نن شپه کار پای ته ورسوو.
بالخاش- د دې خبرې معنا څه ده؟
جاتای- د ښار په یوی دروازی برید کو د هغه ځای ساتونکي وژنو او دروازه خپل د پوځ لپاره خلاصو په دی ډول د ښار محاصره پای ته رسیږی.

بالخاش په حیرانتیا وویل: داسی ښکاري چې ته غواړې موږ ټول ووژنی؟ دروازې د غایر خان د خلکو په واک کې دي او شمېر یې له موږ څخه څو برابره زیات دی، څنګه به موږ هغوی له منځه ویسو؟ که چیرته موږ د دروازی خلاصولو دشپي نوم زده وای بیا هغه وخت موږ کولاې شول بغیر د کوم جګړې او وینې بهولو څخه دروازه خلاصه کړو.

جاتای خپل د احمقانه وړاندیز په تعقیب وویل: ته یوازینی کس یې چې کولی شې دشپې نوم تر لاسه کړې.
یو جاسوس چې د جاتای شاته روان و وویل: زه هم د دې وړاندیز سره موافق یم.

بالخاش ودرېد او ویې ویل: زه به هېڅکله هم داسې حماقت ونه کړم، تر دا اوس ما په زر زحمت و کولی شول چې د غایر خان باور تر لاسه کړم یوازې همدا کافي دي چې هغه زما په اړه شکمن شي، نو بیا به موږ ټول د جلادانو په لاس ورکړی چې یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو سرونه پرې کړې یا هم د ښار د دیوال څخه مو لاندې واچوی، زما سره راځې پټه لاره د وتلو او د مغول خان د سرتیرو د رانوتلو لپاره تر ټولو ډاډمن لاره ده، موږ حتا کولی شو د دی لارې څخه هغه سرتیرې ونیسو کوم چې د مغول خان پر پوځ غلچکی بریدونه کوی.

د دی خبرو وروسته بالخاش بیا روان شو، هغوی یې هم ورپسی شول ایلي چې د هغوی شاته روانه وه، په اصل کې د مغولي جاسوسانو څارنه کول.

کله چې هغوی هغه ځای ته ورسېدل کوم چې له پټې لارې د تونل څخه ډېر لرې نه و نو بالخاش ودرېد او هغوی یې د دیوار په سیوري کې راټول کړل او وویل: له دې ځایه وروسته باید ډېر احتیاط وکړو، تاسې همدلته پاتې شئ تر څو زه ډاډمن شم چې د غایر خان خلک هلته نشته او لاره امن ده.

جاتای- که له تا څخه کوم خبر رانغلو بیا موږ بیکاره نه کښېنو.
بالخاش لږ فکر وکړ او بیا یې وویل: زه تقریباً ډاډمن یم چې کوم بیځایه پیښه به واقع نه شي خو که بیا هم ناځاپه زه ونیول شوم نو تاسې د جګړې کولو لپاره تلوار مکوی ستاسې له ډلې څخه یو نفر باید په هر ډول چې وي خپل ځان له پټې لارې له اترار څخه وباسي او د مغول خان سرتیرو ته همدا لاره وښایي چې څنګه اترار ته راننوځي، که زه ونیول شوم نو داسی کار به وکړم چې تاسې زما غږ واورئ.

بالخاش روان شو ایلي ورپسی غږ کړل: په ځان پام ساته.

بالخاش په تیاره کې له سترګو ورک شو د هغه د پښو غږ نور نه اورېدل کیده په داسې حال کې چې خپل توره په لاس کې نیولی وه په ډېر احتیاط مخکې روان و، د پټې لارې د تونل تر خولې پورې ولاړ، او څو شیبې هلته ودرېد او بیا بېرته په همغه لارې راستون شو په کوم چې راغلی و...

ایلي او مغولي جاسوسان د بالخاش په راستنېدو خوښ شول او د هغه په شاوخوا چاپیر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاتای په ځانګړې بې صبری سره وپوښتل: د غایر خان خلک خو دې هلته ونه لیدل؟
بالخاش په خندا وویل: ګورئ چې ژوندی یم.
ایلي وپوښتل: نو اوس مو کولی شو حرکت وکړو؟

یو د هغه دوه جاسوسانو څخه وویل: باید وخت ضایع نکړو.
بالخاش لاس د جاتای پر اوږه کېښود او وویل: زه به ستاسو څخه یو، یو د پټي لارې په واسطه له اترار څخه وباسم، که ناڅاپه کوم پېښه واقع شول نو موږ ټول به د غایر خان د خلکو په ګیر ورنشو. ما هلته هېڅوک ونه لیدل خو کېدای شي هغوی د غلچکی برید لپاره په همدی پټې لارې له اترار څخه وتلي اوسیږی او هسی نه په نیمه لاره کې موږ ټول د هغیی یره مخ شو.

په دې خبرو بالخاش وتوانېد چې د هغوی باور تر لاسه کړي، ټولو د هغه وړاندیز ومنو، یو جاسوس مخکې قدم کېښود او ویې ویل: زه غواړم لومړی کس اوسیږم چې د پټې لارې په واسطه د اترار څخه ووځم، تلوار وکړه بالخاش راځه.
بالخاش لاس د هغه په اوږه کیخود او ویې ویل: راځه ملګریه.
ایلی- موږ همدلته انتظار کوو.

بالخاش او هغه بل جاسوس روان شول ډېر وخت نه و تېر شوی چې د تونل خولې ته ورسېدل بالخاش وویل: دا د پټې لارې د تونل خوله ده ننوځه د دې تونل بل سر په شنه کلا کیدی هلته په رسېدو زموږ انتظار وکړه ترڅو درشو.

مغولي جاسوس په تونل کې ننوت او روان شو، بالخاش بېرته راغی او دوهم کس یې د تونل مخکې ویوړ، دریم کس جاتای و. کله چې دواړه د پټې لارې د تونل خولي ته ورسېدل نو جاتای شاوخوا وکتل او بیا یې په خندا وویل: دا د اترار او د هغه د خلکو د ژوند وروستۍ شپه ده، سبا به د وینو سیندونه وبهېږي او کله چې بل ورځ لمر راپورته شي نو اترار به یوازې یو ویجاړه شوی کلا وی او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- باید د ناڅاپه پېښو حساب هم وکړو کېدای شي زموږ پلان بله بڼه واخلي او موږ ونشو کړی د اترار ښخه ووځو.

جاتای پوزخند ووهه او ویې ویل: او اوس باید زه ووایم چې څومره غلط فکرا له دې ځایه وروسته هر یو چې زموږ په لاره کې راشی او زموږ لاره ونیسې، د هغه ځواب به په توره ورکړو.
بالخاش- ننوځه هغوی زموږ په تمه دی زه باید ولاړ شم او ایلي راولم.
جاتای په تونل کې ننوت بالخاش په چټکۍ سره ایلي د خوا ته رلستون شو او ویې ویل: موږ بریالي شو.
ایلي- باید ولاړ شو او خپل په سترګو یې وګور او ډاډمن شو.

هغوی دواړه د تونل په لور روان شول کله چې د تونل هغه بلخوا ورسیدل نو د غایر خان د سرتیرو په منځ کې هغه درې مغولي جاسوسان لاسونه او خولي تړلی ولیدل.

آناطرق د جاسوسانو د نیولو د ډلې مشر، بالخاش ته په خندا وکتل او ویې ویل: تا یوه زبردست پلان جوړ کړی و د دې درې جاسوسانو د نیولو لپاره بل هیڅ لاره د دې ښخه بهتره نه وه.
بالخاش- درې واړه زندان ته یوسئ غایر خان غواړي چې هغوی ووینې زه هم ځم چې دا خبر هغه ته ورسوم هغه په تمه دی.

درې مغولي جاسوسان زندان ته یووړل شول، بالخاش او ایلي چې د دې بریا ښخه بیحد خوشحاله ښکاریده د دارلحکومه په لور روان شول.
شپه نیمه تېره شوې وه چې غایر خان د بالخاش او ایلي سره یوځای د درې مغولي جاسوسانو د لیدو لپاره له دارلحکومه د مرکز ښخه د زندان خوا ته ولاړل. د غایر خان په امر د جاسوسانو لاسونه او خولې خلاصی شول جاتای چې بالخاش ولید په غوسه یې وویل: تا زمو سره خیانت وکړو سوباتای به تا ژوندي پرینږدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په بې پراوی سره وویل: د سبا د لمر را ختلو دمخه به ستا ټوټه ټوټه شوی جسد د سوباتای لپاره واستو.
غایر خان په خندا سره مخ د هغه خوا ته واړو او ویې ویل: بد فکر نه ده دا درې خبیث سرې د اترار د دیوال څخه لاندی وغرځوی تر څو مغولان وپوهېږي چې د دوی دښمن څومره ځیرک او هوښیار دی.

یو د هغه درې جاسوسانو څخه غایر خان ته وویل: دا بالخاش به یوه ورځ ستاسو سره هم خیانت وکړي.
غایر خان په نرم لهجه وویل: هغه زما پر حکم ستاسو خوا ته درغلی و، تر څو د مغول خان د لښکر مالومات ما ته راټول کړي. هغه شپه چې له زندان څخه ووت زه پوهیدم.

د دی خبرو وروسته یې حکم ورکړ: دا درې واړه جاسوسان د ښار پر دیوال وغرځوی.

آناطرق دې دندې ته وټاکل شو هغه د خپلو ملګرو سره دا درې بندیان له زندان څخه راوباسل تر څو د غایر خان حکم عملی کړی او هغوی د ښار د دیوال لاندی وغرځوی.

کله چې غایر خان بالخاش او ایلي بېرته دارالحکومه ته راستانه شول نو غایر خان ته خندا ورغله، د څو شیبو خندا وروسته یې بالخاش خوا ته مخ واړوه او ویې ویل: اړین و چې مغولي جاسوسانو ته داسی ووایم چې ته زما په حکم د هغوی خوا ته تللې، کنه اصل کیسه کې که ما ته دا خبر راغلی وایې چې ته د تښتیدلو اراده لری نو وصیت کولو ته مې نه پریخودلې او پخپل لاسونو مې وژلي هغه وخت ما ستا څخه عجیب کینه او نفرت درلود خو اوس ... اوس باید دواړه هغه پېښه هېر کړو.

بالخاش خاموش ولاړ و د څو شیبو وروسته غایر خان یو ځل بیا چوپتیا ما ته کړل او ویې ویل: زه همدا اوس ستا او د ایلي د اترار څخه پر وتلو راضی یم تاسو دواړه له دی ځای څخه لاړ شی زه پوهېږم ته د خان سلطان له فکر څخه نشې وتلې په همدی خاطر زه تا ته اجازه درکوم چې ته د هغې پسې ولاړ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- زه له اترار ښخه د دفاع پرته بل کوم آرمان نلرم، زه راغلی یم چې د دې ښار په دفاع کې برخه ولرم،که غیر له دی وای نو له سر مې ځان په خطر کې نه اچو.

غایر خان په داسی حال کې چې بیحد غمژن ښکاریده وویل: نن یا سبا به زموږ مقاومت ماتې وخوري او وینه څښونکي دښمن به اترار ته راننوځی او د بې ګناهو خلکو پر وینو په سیندونه وبهوی، که څه هم زه د داسې یوه وینه بهونکي ماتې احساس کوم خو تر هغه چې ژوند یم د دښمن سره به وجنګیږم زما آرمان دی چې خپل د خاوری په ساتنه کې ووژل شم.

ایلي- تیمور ملک هم همدا اراده لري.

غایر خان یوه ترخه مسکا وکړه او ویې ویل: د تیمور ملک پشان خلک لږ پیدا کیږی هغه یو ځواکمن او بې باکه سړی دی شاید هغه وکولای شول مغولان له پښو وغورځوی د خجند موقعیت د اترار ښخه ډېر ښه دی.

بالخاش- تاسو باید د سلطان په خاص استازی باور ولرې هغه یو پوه او دښمن پېژندونکی جنګیالی دی.
غایر خان پوزخند و واهه او ویې ویل: خو هغه اصرار لري چې زه ښار مغولانو ته وسپارم همدا علت و چې ما ته د هغه پر ځای وګمارلی.
بالخاش- خو دا مقام د هغه حق و.
غایر خان ایلي ته مخ وګرځاوه او وویل: ای کاش ته اترار ته نه واې راغلی، وینې چې دلته د ژوندي پاتې کېدو هیله ډېره کمزورې ده، نن یا سبا به موږ ټول ووژل شو.

ایلي- زه له بالخاش ښخه په هېڅ صورت نه لری کیږم هر چیرته چې هغه وی زه هم یم.

بالخاش نیم نظر د ایلي خواته وکړو او بیا یې غایر خان ته مخ وګرځاوه او ویې ویل: ایلي زه څو ځله له حتمی مرګ ښخه ژغورلي یم.
غایرخان لنډ وخندل او ویې ویل: ښرګنده ده چې تاسو دواړه یو د بل سره مینه لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وغوښتل چې څه ووایي خو غایر خان خپل لاس پورته کړ او د چوپ کیدو اشاره ورکړه او ویې ویل: نغوارم د دې موضوع په اړه څه واورم، تاسو کولی شئ ولاړ شئ.

لږ وروسته ایلي او بالخاش له تالاره ووتل.

***

مغول خان د ماوراء النهر په سیمه د برید په وخت کې چې د اترار ښار یې د دې برید لومړی هدف و فکر کړی و چې اترار به د یو لوی یرغل سره تسلیم شي.خو د خلکو کلک مقاومت هغه ته ثابته کړه چې په دې اړه هغه سخت په تیروتنه کې وو.

د اترار د محاصرې یوه میاشت تېره شوې وه چې مغول خان خپل زوی د قوماندانی څخه لرې کړو او سوباتای یې د پوځ د مشر په توګه د دې ښار د نیولو لپاره واستو. د سوباتای ټول هیله خپلو جاسوسانو ته وه چې په اترار کې دننه وه، خو بالخاش د هغه ټول جاسوسان نیولی وه

سوباتای فکر کاوه چې بالخاش او ایلي به خپله دنده پای ته ورسوي او د ښار یوه دروازه به د ده د پوځ لپاره پرانیزي.

ورځې او اونۍ یو دبل پسې تېرېدې او ښار لا هم محاصره و. د اترار پوځیانو د ښار د دېوالونو څخه اور، ډبرې او غشۍ په وحشي دښمن باندې اچولې.د مغول پوځیانو په هر برید کې چې د ښار د نیولو لپاره یې تر سره کاوه درنه تلفات ورکول او شاته کېدل.

مغول خان چې د ماوراءالنهر د خاورې په بل لوري کې د جګړې او پرمختګ په حال کې وو، د اترار د محاصرې څخه ډېر خپه و هغه هره شیبه په تمه و چې د اترار ښار د سقوط خبر ورته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای د مغول خان د پوځ مشر حس کاوه چې حتی په چل او چلبازی سره هم نشي کولی اترار ونیسي. هغه نور د بالخاش او ایلي د فکر څخه هم وتلی وو. هغه گمان کاوه چې د دوی د ماموریت راز به څرگند شوی وی او غایر خان به دوارو وژلي وي. هغه اوس په دې فکر کې و چې خپل د نظامي تجربې څخه کار واخلي او په یو لوی یرغل خپل پوځ اترار ته دننه کړي. د هغه د جاسوسانو پلان ناکام شوی و او دا ماتې هغه د جنون تر حد لیونی کړی و.

د اترار د محاصرې پنځم میاشت وه ورځ تقریبا پای ته رسیدلې وه او شپه راتلونکي وه چې سوباتای یو لوی برید پیل کړو، د هغه هدف د ښار د ختیځ دروازی ماتول وه. جگړه سخت روانه وه د اترار سرتېرو چې پر دښمن واک درلود کلک مقاومت کاوه. جگړه دوه ورځې او دوه شپې دوام وکړو او په پای کې مغول سرتېرو د درانه تلفات په ورکولو شاتگ وکړو.

سوباتای د دی برید او ماتی وروسته خپل د نظامي ځواک څخه ناهیلی شو، هغه اوس یوازی د یو معجزې په تمه و داسی یوه معجزه چې ناڅاپه رامینځته شي او د ښار دروازې د هغه د پوځ لپاره پرانیزي.

هغه له ځان څخه پوښتنه کوله: څنگه ممکنه ده چې د اترار دروازې زموږ لپاره خلاصی شي؟
پخپل یې ځان ته ځواب ورکاوه: نه، دا ناممکن ده د اترار غیرت مند خلکو به په پای کې مونږ له پښو واچوی.

د محاصرې پنځمه میاشت نیمایي شوې وه د اترار ښار په ډېره خطرناکه وضعیت کې و. احساس کېده چې نور مقاومت بې فایدې دی، غذایی مواد پای ته رسیدلی وه نور مقاومت نه کیدی خو غایر خان لا هم مقاومت کاوه هغه په دې باور و چې که ښار تسلیم کېږي نو غوره داده چې د تسلیم کیدو دمخه هغه ووژل شي. خلک په ژوره اندېښنه او وېره کې شپې او ورځې تیرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د اترار سرتېرو په دښمن باندې بشپړ واک درلود، خو د دوی ضعف او شک په ښکاره توګه احساس کېده. د مغولانو د غوسې څخه هغوی وېرېدل د ژوندي پاتې کېدو هېڅ هيله يې نه لرله. ناڅاپه يوه معجزه رامنځته شوه يوه داسې معجزه چې نه غاير خان او نه سوباتاې د هغه په اړه فکر کړی وو.

د محاصرې د ورځو يو توده او سوزونکې ورځ وه. اترار د جګړې په تبه کې سوځېده د مرګ دوړه"غبار" د ښار فضا نيولې وه د خلکو اندېښنه او وېره دومره زيات شوې وه چې حس يې کاوه د مرګ سره ډېر لږ واټن لرې. د مغولانو څخه وېره د دوی د ژوندي پاتې کېدو هيلې ته د پای ټکی کېښود. غاير خان په کلک زړه او ټينګار سره د اترار ښار د ساتنې په هڅه کې و. وېره حتی هغه سرتېرو ته هم سرايت کړی و چې په ديوالونو کې د ښار څخه ساتنه کول.

ټولو له ځان څخه پوښتنه کوله: د دې مقاومت پای به څه وي؟
او خپل ځانو ته به يې ځواب ورکو: يو وحشي او دست جمعي د ټول ښار د خلکو وژنه.

ټول حتي غاير خان هم پوهېده چې مغول خان د اترار د محاصرې څخه ډېر غوسه دی او هر کله چې د ښار دروازې د هغه د پوځ لپاره خلاصی شي نو پر هېچا به رحم ونه کړي او د اترار د خلکو څخه به سخت انتقام واخلي نو ځکه بايد تر مرګه مقاومت وکړو. دا هغه خبره وه چې غاير خان خپل سرتېرو او د ښار خلکو ته کول، هغه له ټولو ناوړه خاصيتونو سره سره يو وطنپاله سړی و او ټول پوهېدل چې تر هغه وخته پورې چې هغه ژوندی دی، اترار بايد د مغولانو په وړاندی مقاومت وکړي.

په هغه توده او ګرم ورځ کې د سلطان خاص استازی د يو برج لاندی د خپل امر منونکو کسانو سره خبرې کولې، هغه د غاير خان د بې ګټې مقاومت په اړه خبرې کول چې په پای کې به ټول ووژني هغه په دې باور و چې بايد دې وضعيت ته د پای ټکی کېخودل شي، کله چې د راغلو کسانو څخه يو قوماندان وپوښتل: په کومه لاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلطان خاص استازی چې دمخه د دې پوښتنې ځواب ځان سره چمتو کړی و وویل: موږ پخپله باید پریکړه وکړو او دی خراب حالت ته د پای ټکی کېږدو.
یو بل قومندان وپوښتل: موږ څنګه باید پریکړه وکړو؟
د سلطان استازی وویل: زه د سلطان په امر دلته د لس زره سرتېرو سره راغلی یم ترڅو د غایر خان سره مرسته وکړم او مغولانو ته ماتی ورکړم، خو اوس وینم چې زموږ مقاومت بې پایلې دی او مخکې له دې چې د ښار ټول خلک ووژل شي موږ باید یوه لاره پیدا کړو او د دی وحشتناک مرګ څخه هم ځان او هم خلک وژغورو.

زه ډاډمن یم که موږ ښار په خپله خوښه مغول خان ته وسپارو نو هغه به د خلکو د وژنې څخه ډډه وکړي او دا په خپله د دې بې ګناه خلکو په حق کې لوی خدمت دی.

ټول چپ شول د سلطان استازی چې یو هوښیار سړی و هغوی ته سترګې ونیول هغه غوښتل د خپل خبرو اغیزه د قومندانانو په مخونو کې وګوري، حس کړ چې قومندانان زړه نا زړه دی هغه له ځان سره وویل: تر هغه چې ناوخته شوی نه ده زه باید د دوي زړه نازړه توب لمینځه یوسم.

نو څکه خپل چوپتیا یې ماتې کړه او ویې ویل: موږ ټول د جګړې او وژنې څخه کرکه لرو، د نن سره تقریبا پنځه میاشتې کیږی چې اترار د مغول خان په محاصره کې دی خلک په بیحد وېره کې ژوند کوي کله چې شپې خوب ته ځي نو سبا د لمر لیدو امید نلری هغوی په ډېر خراب حالت کیدی، هره شیبه فکر کوي که د مغول خان سرتېري ښار ته راننوځي نو د دوی سره به څه وکړي؟ موږ ټول په ښه توګه پوهیږو که مغول خان د جګړی له لارې اترار ته راننوت نو زموږ ټولو حشر به څه وی! زه وایم تر څو چې ناوخته شوی نه ده باید یو کار وکړو.

یو څه خاموش شو او بیا یې زیاته کړه: د دې خلکو د ژغورنې لار او د اترار د ویجاړېدو څخه د مخنیوي لار یوازی او یوازی سوله ده. موږ باید بغیر له دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان ته خبرو ورکړو له مغول خان سره صلح وکړو او دا شرط وټاکو چې د ښار د تسلیمېدو په بدل کې به بیګناه خلک او سرتېري و نه وژنی!

یو قوموندان وویل: زما په نظر موږ باید د وروستی ځل لپاره د غایر خان سره خبرې وکړو، که هغه ومنله نو بیا به پریکړه وکړو.
دسلطان استازی په مسخره توګه وخندل او ویې ویل: غایر خان یو ضدی او خودپسند سړی دی، هغه وایي تر هغه چې زه ژوندی یم اترار باید مقاومت وکړي.
هغه غواړي خلک ووژني تاسو زما سره مرسته وکړئ، زه ډاډمن یم چې سلطان هم زموږ د پریکړې سره موافق دی، موږ ټول به د خپل سرتېرو سره د ښار یوه دروازه خلاصه کړو او له ښاره به ووځو او خپل ځان به تسلیم کړو هغوی به موږ د خپل پوځ د مشر په وړاندې ویسی او معلومداره خبره ده کله چې هغوی پوه شی موږ غواړو ښار هغوی ته تسلیم کړو نو هغوی به خوشحاله شی او زموږ شرط به ومني او د خلکو د وژلو څخه به ډډه وکړی.

د سلطان د استازی خبرو قوموندانانو ته ډاډ ورکړو او هغوی ټول د سلطان د استازی خیانت آمیز پلان ته تسلیم شول. په ظاهره د سلطان د استازی موخه د اترار د خلکو د وژنې او ویجاړې څخه ژغورل وه، خو په باطن کې د دې پلان یو بل هدف و هغه ډاډمن و چې مغول خان به د هغه د دې خدمت په بدل کې د اترار او نورو څو ښارونو حکومت هغه ته ورکړي. د دې هدف لپاره هغه پریکړه کړې وه چې ښار تسلیم کړي.

په لنډ وخت کې ټول شیان چمتو شول هغوی په پټه د ښار څخه د وتلو لپاره تیارول، په وروستیو شیبو کې د سلطان استازی پریکړه وکړه چې د یو څو قوموندانانو او لږو شمیر سرتېرو سره دا خیانت آمیز پلان پلي کړي. د سلطان استازی په احتیاط سره عمل کاوه، هغه پوهېده چې که غایر خان له دې جریان څخه خبر شي، نو د هغه د وژنې حکم به صادر کړي او په پای کې به د هغه سر د اترار په منځ کې د جلاد لخوا پرې شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی مجبوره وه چې په پټه له ښاره ووځي، د دوی د پلان لومړی ګام د ختیځ دروازې د ساتونکو بدلول وه کله چې په دې اړه یې خیال آسوده شو نو هغه کسان چې باید له ده سره د اترار ښخه وتلی وای د دروازی په شاوخوا کې ځای پرځای شول په دې وخت کې بالخاش په لویدیځه برخه کې و او له هغه څه چې په ښار او د ختیځ دروازی خوا ته ترسره کېدل کامل ناخبره وو.

د سلطان استازی خپل پلان هغه وخت عملی کاوه کله چې د ښار خلک او سرتېري د ډېر سختې تودوخې له امله په کورونو او یا د دیوالونو په سیوری کې په اندېښنه او بې قراري سره وخت تېرو.د سلطان استازی په یو علامه چې یوازې د هغه او ملګرو ترمنځ پېژندل شوې وه، هغوی ته خبر ورکړ چې د دروازې پرانیستلو او د ښاره څخه د وتلو وخت رارسېدلی دی. په یوه شیبه کې د ختیځ دروازې اوسپنیزه بندونه لرې شول او لویه دروازه د څو سرتېرو په مرسته وڅرخېده، چې له هغې ښخه یو دروند غږ راووت.

د اترار ښار دروازه د سلطان د استازی او ملګرو لپاره پرانېستل شوه، هغه خپل نظر د مغول خان د سرتېرو په خیمو ولګاوه چې په پراخه میدان کې ولاړې وه او بیا یې خپل ملګرو ته په لوړ غږ وویل: موږ دښمن ته څو ترڅو اترار ښار تسلیم کړو او د ښار د خلکو د وژنې مخه ونیسو، هیڅکله د غلطي ښخه هم خپل توره مه راخلي دښمن له موږ ښخه ځواکمن دی او به موږ ته به امان رانکړی.

د دې خبرو وروسته د سلطان استازی خپل آس ته لغته ورکړل او له دروازې ووت ملګرو یې هم ورپسې حرکت وکړو مغول سرتېرو چې پنځه میاشتې کیدل ښار محاصره کړی و، کله چې هغوی ولیدل هک حیران شول د هغوی باور نه راتلو چې د رښتیا دی یو ډله سرتېري له ښاره راوتلي اوسیږی.

د مغول خان د پوځ هغه سرتېري چې د ښار د دیوال په څنګ کې ځای پرځای شوي وه نږدې راغلل د هغوی قوමندان چې کله دا حالت ولید نو خپل سرتېرو ته یې امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو چې په دوه ډلو دي ووېشل شي، یوه برخه دی د اترار ښخه راوتلي سرتیری محاصره کړي او بله ډله دی خپل ځانونه د ښار دروازې ته ورسوي.

د سلطان د خاص استازی او د یو شمیر سرتیرو د تښتېدلو خبر د بریښنا پشان په اترار کې خپور شو، کله چې دا خبر غایر خان ته ورسېد نو هغه په وحشت زده حالت باندی د دارالحکومه ښخه ووت او د دروازې د ترلو حکم یې وکړو خو ناوخته وه د مغول خان د سرتېرو سیل د دروازې مخي ته رارسېدلي و هغوی د غضب د طوفان پشان په چټکۍ سره غوښتل ښار ته ننوځي.

سم د قیامت ورځ وه اتراری سرتېری له دیوالونو ښخه راښکته شوی وه او په چټکۍ سره د دروازې پخوا روان ول ترڅو د مغول خان دسرتېرو د وړاندی راتلو مخه ونیسي. د دښمن یوه ډله سرتېري چې د دروازې وړاندی ورسېدل نو د اتراری سرتېرو سره مخامخ شول هغوی په یوه برید سره جګړه د ښار مینځ ته ورسوله. غایر خان پخپله د پوځ مشري په غاړه اخیستی وه خلک له هرې خوا خپلو کورونو ته تښتېدل په ښار باندی د مرګ وریځې خپری شوی وه.

مغولان په چټکۍ سره نږدې کېدل بالخاش او ایلي په لویدیځه برخه کې وه کله چې د سلطان د استازی د تښتېدلو او د مغول سرتېرو د ننوتلو خبر ورته ورسېد. دواړو څو شیبی په حیرانتیا یو بل ته وکتل، دا دوه خبری د هغوی لپاره د یو سختې ضربې پشان و بالخاش وویل: نه، دا ناممکن ده!

او په چټکۍ سره له دیوال ښخه ښکته شو، کله چې له دې وحشتناکې حقیقت سره مخامخ شو نو ودرېد، او د خلکو خوا ته په کتو شو چې په ویره او وحشت باندی د تښتېدلو په حال کې وه، د ښار حالت په بشپړه توګه ګډوډ شوی و. هر چا هڅه کوله چې خپل ځان د مرګ له چنګ وژغوري، خو هر ځای مرګ و، هر ځای ویره او ډار و، او هیڅ خوا د تښتېدو لاره نه وه. بالخاش بیرته شاته وګرځید تر څو خپل ځان ایلي ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاره کې يې هغه وليده چې په تلوار روانه وه ايلي په انديښنی وويل: دا ځل د يو غمژن او ډارونکي حقيقت سره مخ يو چې په هېڅ ډول ورڅخه انکار نشو کولی.
بالخاش- هغه خداي چې تر اوسه مورږ له خطر څخه ژغورلی يو دا ځل به هم مرسته وکړي.
ايلی- خو سوباتای نور زمورږ په خبرو چل نخوری.
بالخاش- بايد خپل هڅه وکړو.
ايلی- زه وېريږم، څنګه به وی که مورږ د خان سلطان د پلار کور ته ولاړ شو؟
بالخاش- ته هلته لاړه شه او زما په تمه اوسيږه.

ايلي- نه، زه تا يوازی نه پريږدم که ته وژل کيږی نو زه هم غوارم چې ستا په څنګ کې ووژل شم له تا ليرې مړه کېدل له مرګ څخه څو چنده بدتر دي.

بالخاش- ای کاش چې مورږ کولی شوای د دې وحشيانو مخه ونيسو.
ايلي چې وېره ورباندی خپره شوی وه وويل: ډېر ژر به مورږ ونيسی.
بالخاش چې بيحد غوسه شوی و ووېل: زه نه شم کولی جګړه پريږدم، زه به د اترار د خلکو سره اوږه پر اوږه دريږم او له دې وحشيانو څخه به انتقام اخلم.

ايلي وېرېدلی ووېل: ستا جګړه بې فايدې ده و به وژل شې.
بالخاش- او دا زما هيله ده چې د اترار په دفاع کې ووژل شم.
ايلی- دوی بې رحمانه وژنه کوي.
بالخاش- ته د خان سلطان د پلار کور ته ولاړه شه او زما په تمه اوسيږه.
ايلي خپله توره راواخيسته او ويې ووېل: نه، زه هم ستا سره اوږه پر اوږه د هغه وحشيانو په مقابل کې جګړه کوم.

دوارو خپل تورې پورته کړې او د ختيځ دروازې پخوا روان شول، جګړه د ښار او کوڅو مينځ ته رارسيدلی وه اتراريانو خپل د ژوندی پاتی کيدو څخه لاسونه مينځلې وه او په کامل زړورتيا سره ئ له دی وحشي دښمن سره جګړه کول، کله چې د مغول سرتېرو د يوې ډلې ښار ته د ننوتلو خبر سوباتای ته ورسېد نو حکم يې صادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو چې د یو غټ برید په واسطه د اترار ښار څخه کنډواله جوړه کړی او ښار پر ځمکه ننباسی، د هغه د دې حکم په تعقیب د مغول خان سرتېری له ختیځې دروازې څخه اترار ته ننوتل جګړه هره شیبه مخ په سختېدو وه.

دواړه طرف په قهر او غوسی جنګېدل، جګړې یو وحشي حالت درلود، اتراری سرتېرو په ټول توان او فداکارۍ جنګیدل خو د مغولی پوځ مخه یې نشو نیولی او کرار، کرار د ښار خوا ته یې شاتګ کاوه. د دښمن برید دومره شدید او وحشتناک و چې هر ډول مقاومت یې مات کړو او وژنه پیل شوه د کوڅو او لارو ډبرې د وژل شویو کسانو په وینو ولړل شوې، د وینو سیندونه جاري شول د هغه خلکو چغي او فریادونه چې په خاورو او وینو کې ککړ شوی وه د اترار اسمان لړزاوه.

غایر خان هم د اتراری سرتیرو په ډله کې و او په ناامیدۍ سره جنګېده، د هغه د بدن د څو ځایونو څخه وینه بهېدله، په دی حالت کې هیڅا هغه نه پیژند او نه پوهیدل چې دا د اترار امیر غایر خان دی ،حتي هغه هم خپل دا لقب هیر کړی و. هغه یو بدبخت سړی و چې د وحشتناک مرګ په انتظار کې وو.

هغه له مرګ سره جنګېده که څه هم پوهیدی چې اخر به وژل کیږی، بیا هم جنګېدی. د اترار لپاره یې مرګ ته مخه کړې وه که څه هم پوهیدی د دی لاری پای یو بیرحمانه او ډارونکی مرګ دی.

بالخاش او ایلي کله چې د یو کوڅې د څنډې څخه تېریدل د څو مغولی سرتېرو سره مخ شول چې له بې وسلو اترارياتو سره جنګېدل. په یوه شیبه کې د هغوی دواړو تورې په حرکت راغلي، بالخاش دومره په زړورتیا جنګېده لکه چې د بریا اخری حد ته نږدی دی. ایلي د هغه څنګ کې وه او هڅه یې کوله چې خپل د توری څوکه د دښمن په سینو کې ننباسی، ډېر وخت ونه نیول شو چې هغه څو مغولی سرتېري ووژل شول. او د دوی تورې د هغوی په وینو ولړل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بالخاش سترګو د وینو پرده نیولی وه، هغه ته د وژل کېدو وېره هیڅ معنا نه لرله هغه ایلي ته وویل: تر څو چې زموږ په بدن کې ساه پاتې ده نه باید په دې وحشیانو رحم کړو.
دواړه روان شول ترڅو له دښمن سره مخ شي ایلي وویل: راځه د غایر خان په لټه کې شو.
بالخاش- په دې ویجاړ شوي ښار کې چې اسمان یې د وینو رنګ نیولي دی څنګه غایر خان پیدا کړو؟ امکان لری هغه وژل شوی وی.

څو اتراري سرتېري د دوی سره یوځای شول، لږ وروسته له دښمن سره مخامخ شول او یوه خونړۍ جګړه پیل شوه...

تر اوسه ورځ پای ته نه وه رسېدلې چې نیم ښار د مغول سرتېرو لاس ته ولوېد. او وژنه لا هم روانه وه. دا د مغول خان حکم و چې د هغه د پوځ په وړاندې مقاومت کوونکي د هر ښار خلک باید ووژل شي، د اترار تقدیر هم همداسې و چې هغه ټاکلی و.

د بالخاش ایلي او څو اتراري سرتېرو په منځ کې جلایي رامنځته شوه، د وېرېدلو خلکو یو څپې چې له دښمن څخه تښتېدل دوی یو دبل څخه جلا کړل. داسی ښکاریدل لکه چې اترار د سکوت په حال کې دی. مغولانو د وژنې،ویجاړونې او کورونو د سوځولو سره مخ په وړاندی روان وه، هغوی د اترار ښار څخه د دوزخ یوه ټوټه جوړه کړی وه.

تر اوسه ماښام نه وه شوې چې خبر ورسېد چې غایر خان د دښمن لاس ته لوېدلی دی. اتراری سرتېرو او خلکو د دې خبر د اورېدلو سره او په دې فکر چې که مقاومت پرېږدي نو مغولان به پر هغوی رحم وکړي خپل وسله کیخودل خو د مغولانو د قهر طوفان ناڅاپه ټول راونیول، مغولانو په بې رحمانه توګه وژنه او سوځول پیل کړل.
بالخاش او ایلي بیا یو بل وموندل چې په همدی وخت کې ناڅاپه د کوڅې له دواړو خواو څخه د دښمن سره مخامخ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو مغول بالخاش وپېژند او خپلو ملگرو ته یې وویل: ودرېږئ! دا اتراری سړی بالخاش دی، هغه مه وژنئ سوباتای باید هغه ویني.
بیا یې بالخاش ته مخ واړو او ویې ویل: خپل توره لرې ختا کړه هغه ښځې ته هم ووایه چې تسلیم شي.

بالخاش لږ فکر وکړ او بیا یې خپل توره پر ځمکه ختا کړل، ایلي هم همداسې وکړل. مغولانو هغوی ونیول هغه مغول چې بالخاش یې پېژاند، خپلو ملگرو ته وویل: دا ښځه نه پېژنم، خو دواړه باید روغ،رمټ کمپ ته ورسیږي ورباندی پام ساتی.
بالخاش- موږ ستاسو په اختیار کې یو.

مغولانو هغوی دواړه روان کړل بالخاش په آرامه غږ ایلي ته وویل: نه پوهیږم زموږ پای به اخر څه وی؟
ایلي په اندیښنی وویل: سوباتای به موږ ووژني.
بالخاش ترخه خندا وکړل او ویې ویل: د تقدیر له لوبو څوک خبر نه دی، شاید ژوندي پاتې شو؟
ایلي- ای کاش له پټې لارې تښتېدلی واې یا په جگړه کې وژل شوی واې، سوباتای به موږ په بل ډول ووژني او هغه مرگ ته د هېواد لپاره مړینه نه ویل کیږی.

بالخاش په ډاډمن لهجه ورته وویل: زه اوس هم باور لرم چې موږ کولی شو سوباتای ته چل ورکړو، هغه ته د چل ورکولو لپاره زموږ سره ډېرې دلیلونه شته،هڅه وکړه چې خپله روحیه و نه بایلې،سوباتای زیرک او څېره پېژندونکی سړی دی، همدا چې زموږ په څهره کې وېره او اندیښنه ویني نو پر موږ به بدگمان شی.

ایلي چوپه شول دواړه اوږه په اوږه مخ په وړاندی روان وه، د هغوی شاوخوا څو مغولي سرتېرو حلقه وهلی وه.د کوڅو او سړکونو پر سر د وژل شویو ډیری،ډیری مړې پراته وه. نیم ښار په اور کې سوځېده د ښځو، ماشومانو او نارینو فریادونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

چغي لا هم اورېدل کېدل، دښمن که څه هم خپل په وړاندی کوم مقاومت نه لیدو خو بیا هم د اترار د بیګناه خلکو پر وژلو لګیا وه.

نارنجي رنګه د اور وړانګی آسمان ته پورته کیدل او د اترار اسمان یې پوښلې و. د اترار د زړورو سرتېرو غړونه نور نه اورېدل کېدل، د هغوی مړي یا د ښار پر دېوالونو وه یا د کوڅو پر ډبرو پراته وو.

په دې توګه اترار چې د مغول خان لومړی لوی هدف و د پنه میاشتو مقاومت وروسته سقوط وکړو هغه هم یو ډارونکی سقوط چې پایله یې یو ویجاړ ښار و.

***

د سلطان استازی چې د یو ځانګړې موخې لپاره د اترار ختیځه دروازه خلاصه کړې وه او د خپل یو شمیر قومندانانو او سرتیرو سره یې د دښمن په لور مخه کړې وه که څه هم دښمن هغه او ملګریې نیولي وه خو هغه لا هم په دې امید کې و چې مغول خان به د دې لوی خدمت په بدل کې هغه ته یو لوی انعام ورکړي.

سوباتای چې د جغتای او اوګدای پر ځای د مغول خان د پوځ قومندان ټاکل شوی و، او د اترار د ښار د نیولو دنده یې پر غاړه لرله د یوې غونډۍ په سر ولاړ و چې د ښار څخه ډېر لری نه و هغه د اترار د سقوط شاهد وو. هغه په دوامداره توګه حکمونه کول او هره شیبه په تمه و چې د غایر خان د نیولو خبر ورته راوړې، هغه د سلطان د خاص استازی او د هغه ملګرو په اړه هېڅ فکر نه کاوه، هغه یوازی ځان کوم پریکړه د هغوی حق کی نشو کولی او باید د مغول خان د حکم په تمه شوی وای.

هوا تیاره شوی وه چې سوباتای ته خبر ورسېد چې غایر خان او د هغه دوه ملګري د یو کور د بام په سر نیولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چنگیز خان لوی جاسوس د دی خبری د اورېدو سره پر شونډو مسکا راوسته او ویې ویل: د ډېر وخت راهیسې د دی خبری منتظر وم.
بیا یې د هغه کس خواته چې دا خبر یې راوړی و مخ وګرځاوه او پوښتنه یې وکړه: هغه چېرته دی؟
– هغه مو د اترار ښخه بیرون راوستو.
سوباتای لږ فکر وکړو او بیا یې وویل: دا زړور سړی باید ووینم.

روان شو د جګړې د ډګر شاته د مغولو پوځي کمپ و او غایر خان هلته وړل شوی وو.
سوباتای خپل خیمه خوا ته ولاړ او ویې ویل: غایر خان دلته راوړئ.

ډېر وخت نه و تېر شوی چې غایر خان چې ټپي و، د سوباتای خیمې ته راوړل شو. حالت یې ډارونکی و د هغه د بدن په څو ځایونو کې زخمونه وه او وینه ورڅخه بهیدل، په لمري خوړلي مخ یې د وینو څاڅکی وچ شوی وه، خو لا هم د جنګیالي او مقاومت روح په کې ژوندی وه هغه اوس هم خپل ځان د اترار امیر باله.

سوباتای په ریشخند توګه وخندل او ویې ویل: په پای کې له پښو وغورځېدی، او اترار د خاورو سره خاوری شو.
غایر خان په کلک لهجه وویل: که د سلطان استازی خیانت کړی نه وای نو موږ به تاسو ته ماته درکړی وای او تاسو به له پښو غورځیدلی وای.

سوباتای په کلکه هغه پر مخ وواهه او ویې ویل: ستا پشان ګستاخ او احمق سړی ما تر اوسه نه و لیدلی، ستا د دی بیځایه غرور له لاسه د اترار خلک قتل عام شول.

باید له لومړی ورځې پوه شوی وای چې د مغول خان د پوځ په وړاندې د مقاومت پای مرګ دی او بس! تا د مغول خان پیغام ته پام و نه کړو او په ریشخند دی ونیو، تا فکر کړی و چې اترار به زموږ په وړاندی مقاومت وکړی، تا فکر کاوه موږ به اترار تا ته پرېږدو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان چې له ډېر وخت راهیسې د ژوند سره مخه ښه کړې وه په تند غږ وویل: او که مغول خان د اول پوهېدلی وای چې اترار به د هغه په وړاندی داسې مقاومت وکړی نو ټول عمر کې به یې د اترار خوا ته چپ نظر نه وای کتلې، د سلطان د استازی لاس او پښې ښکل کړی چې ستاسو ماته یې په بریا بدله کړه کنه تاسو به داسی مات خوړلې وایې چې د ډیر شرم څخه به مو سر چیرته نشوای پورته کولې.

سوباتای دویمه کلک څپیړه د هغه پر مخ ووهل او ویې وویل: خو نور د اترار په نوم هېڅ ښار شتون نلری.

غایر خان په قهر خپل غاښونه سره وچیچل او ویې وویل: راتلونکي نسلونه به د اترار د خلکو زړورتیا او میړانه هیره نکړی او ستاسو وحشیتوب او ظلم به هم یاد ساتی.

سوباتای په غوسه چیغه کړه: دا ګستاخ ووژني.

دوه مغول سرتېري خیمه ته ننوتل.
سوباتای چې د غصې څخه لړزېده، هغوی ته مخ وګرځاوه او ویې ویل: دا لیوني سړي ویسی او په زنځیرونو یې بند کړئ،ای کاش ما کولای شول چې تا په خپل لاسونو ووژنم.

غایر خان- ستا سرتېرو همدا کار د اترار د خلکو سره وکړو، هغوی ښځې، ماشومان او سپین ږیری ووژل او د خپل وحشیګري اور یې د هغوی په وینو سوړ کړو دا جګړه نه ده دا د بې وسلو خلکو وژنه ده،دا رزالت او بیغرتی ده.

سوباتای کلک سوک د هغه په خوله ورکړو او ویې ویل: نه غوارم نور ستا غږ واورم.

دوه سرتېرو غایر خان له خیمې څخه وویست او د هغه ځای څخه یې لرې په زنځیرونو وتړو. د اترار د سوځېدو اور په شپه کې دومره ډارونکی و چې ښکارېده مغولي پوځیان غواړي د ښار په نړیدلې او خاوری شوی دیوالونو باندی خپل بریا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولمانځي.له هغه دوزخ او ډارونکې منظر څخه لږ لرې، د اترار دوه سرې چې یو یې پخوا د هغه ځای واکمن و او بل یې د پوځ مشر و، هر یو په جلا جلا ځایونو کې د خپل راتلونکي په انتظار کې شیبې شمیرل.

یو یې مرګ خپل مخ ته لیدو، خو بل په یوه ښکلي خوب کې ډوب و او د یو لوي انعام په تمه و. د غایر خان تقدیر خپل وروستۍ لوبه لوبولې وه او د هغه لوبی پای مرګ و.خو د سلطان استازی چې په دې وخت کې د جنګي بندي په توګه نیول شوی و، خپل ځان ته دومره امیدوار و چې فکر یې کاوه کله چې دا خبر مغول خان ته ورسیږي چې هغه دروازه خلاصه کړې او اترار یې تسلیم کړې نو هغه به ورته لوی انعام ورکړي او دا انعام هماغه فکر او خیال  و چې د ترلاسه کولو لپاره یې ده اترار تسلیم کړو.

سوباتای د خپل غوسی په اوج کې و چې ورته وویل شول بالخاش د یو ښځې سره په اترار کې نیول شوی دی، هغه دومره په خپلو فکرونو کې ډوب و چې په دې خبر یې پام هم ونه کړو خو څو شیبې وروسته یې پوښتنه وکړه: د دې نیول شوي سړي نوم څه دی؟

– بالخاش.
سوباتای- بالخاش؟ هغه او هغه ښځه چې د هغه سره ده همدا اوس دلته راوړئ.
لږ وخت وروسته، بالخاش او ایلی د سوباتای په مخ کې ودریدل، بالخاش په خپل ځانګړې طریقه وویل: مبارک دی وی، په پای کې تاسو بریالي شوئ.
سوباتای په ریشخند وخندل او ویې ویل: او زه بیا تاسو دواړه یو ځای وینم!
بالخاش په چټکۍ سره وویل: ستاسو درې جاسوسان ووژل شول، زه او ایلي پټ وو حالت داسې و چې که ځانونه مو ښکاره کړې واې نو موږ به هم وژل شوی واې.

سوباتای د څو شیبو چوپتیا وروسته وویل: ما فکر کاوه چې تا به غایر خان وژلی وی، خو کله چې د هغه د نیولو خبر مې واوریدو، نو پوه شوم چې ته د دې کار ورتیا نه لرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش پوښتنه وکړه: آیا تاسو غایر خان ووژلو؟
سوباتای- نه، زه په تمه یم چې جغتای یا اوګدای د هغه د وژنې حکم صادر کړی.
بالخاش- تاسو د سلطان د خاص استازی سره څه وکړل؟
سوباتای- هغه به هم ډېر ژر خپل د خیانت سزا وګوري.
بالخاش په ناڅاپي توګه حیران شو او ویې ویل: خو هغه ستاسو سره مرسته وکړل؟!

سوباتای وویل: څوک چې خپل مالک ته خیانت وکړي، د هغه سزا مرګ دی.
بالخاش- ای کاش ما دا شانس درلود چې د غایر خان څخه خپل غچ واخلم.
سوباتای- زه به ستا دا آرمان در پوره کړم!
بالخاش- مطلب تاسو هغه ما ته راکوی چې زه یې ووژنم؟

سوباتای په آرامۍ سر خوځاوه او په کرار خندا یې وویل: هو، ته دلته دا شانس لرې چې غایرخان ووژنې.
بالخاش- خو زه هېڅکله په هغه سړي باندې توره نه پورته کوم، کوم چې بندي وی او تول څه یې له لاسه ورکړي وی، ما هغه باید هغه وخت وژلی واې چې هغه د اترار امیر وو نه اوس چې یو بندی او بدبخت دی!
سوباتای خپل تندی تروش کړو او ویې ویل: ستا لپاره بله لاره نه ده پاتی، یا باید غایر خان ووژنې یا به پخپل ووژل شی.

بالخاش خطر احساس کړو هغه ګمان وکړو چې سوباتای په ډېر څه پوهیږي او اوس غواړي په دی خبرو هغه وازمایي، شکمن وو د شونډو لاندی ځان سره تکرار کړل: یا باید غایر خان ووژنې یا به پخپل ووژل شی.
ایلي خپل چوپتیا ماته کړه او سوباتای ته یې وویل: دا کار ما ته راوسپارئ.
سوباتای په حیرانتیا وویل: ته د دې کار لپاره جوړ نه یې.
ایلی- خو زه چمتو یم چې غایر خان ووژنم.
سوباتای- زه پوهیږم چې ته زموږ د دښمنانو د وژلو څخه وېره نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلی- نو بیا ولې دا دنده ماته نه راکوی؟
سوباتای په شیطنت وخندل او ویې ویل: ته د بالخاش لپاره له هرچا څخه غوره یې،که هغه دوهمه لاره وټاکله او د غایرخان د وژلو څخه یې ډډ وکړل نو بیا به دا دنده تا ته وسپارم چې بالخاش د هغه خنجر سره ووژنې چې خپل پر ملا دې تړلی.

د ډېر ډار څخه د ایلی له خولی "اه" ووتل او په اندیښنه یې وویل: زه؟! نه، زه چمتو یم چې ووژل شم خو دا دنده ترسره نکړم.

سوباتای په بې پروایۍ وویل: ستا سره هم همداسی کار کوم، که ته د بالخاش د وژلو څخه ډډه وکړې، نو زه به پخپل تا ووژنم.
ایلي څو شېبې سترګې پټې کړې او ویې ویل: همدا اوس مې ووژنئ.

بالخاش لا هم په دوه لارو کې بند پاتې و، هغه نور پخوانی کرکه او نفرت د غایر خان څخه نه درلود،اوس یې غایر خان ته د یو تباه شوی او د ترحم وړ سړی په نظر کتل له دې سره سره، غایر خان هم اتراري و.
سوباتای چې ولید بالخاش شکمن دی نو ویې ویل: لا هم فرصت لرې چې پرېکړه وکړې. ژر به اوګدای یا جغتای دلته راورسیږي او د غایر خان د وژلو امر به صادر کړي.

بیا یې خپل لاسونه سره وټکول، دوه تنه سرتیری خیمې ته داخل شول، سوباتای هغوی ته مخ کړ او ویې ویل: بالخاش او ایلي زموږ بندیان دي، له دوی سره ښه چلند وکړئ.

بالخاش او ایلي پرته له دې چې څه ووایي له هغو دوو سپاهیانو سره د سوباتای له خیمې ووتل.

کله چې د سهار روښنایي د شپې له تورتمه راځرګنده شوه د اور، قتل، او غارت له پېښو څو ساعته تېر شوي وه،نور د مظلومو او بدمرغه خلکو د چیغو او ژړا غږ نه اورېدل کېده. په ښار او ویجاړو شوی دېوالونو باندې یوه مرګونې چوپتیا خپره وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دېوالونو پر څوکو د هغو عسکرو مړي ليدل کېدل چې په ډېر وحشيانه ډول وژل شوي وه، شين رنګ دود د اور د لمبو ځای نيولی وو.

کله چې لمر راوخوت د مغول پوځيانو د هغه پاتې شوی نيم سوځېدلي ودانيو پر سر چې د اترار د ښار څخه پاتي وه رقصيدل پيل کړل،د هغوی د خوشحالۍ نارې د ښار له باندې څخه اورېدل کېدل، د اترار له خلکو څخه هېڅوک نه وو پاتې چې د مغولو خوښي، منډې او نارې ووينې يا واوري.

ورځ نيمايي ته رسېدلې وه چې اوګدای، جغتای او د دوی ملګري بېرته د اترار کمپ ته راستانه شول.

اوګدای د ښار ويجاړيو ته وکتل بيا يې سوباتای ته مخ واړاوه او ويې ويل: ښار بايد له خاورې سره برابر شوی وای او پر ځمکه ننويستل شوی وای.
سوباتای- د ښار له خلکو څخه چندان نفران ژوندی نه دی پاتې، ټول وژل شوی دی.
جغتای چې لا يې د سترګو نظر د ښار کنډوالو ته و وپوښتل: د غايرخان مړی مو پيدا کړ؟
سوباتای په خوشحالي وخندل او ويې ويل: موږ هغه ژوندی پيدا کړو.

هغوی دواړو يو بل ته وکتل جغتای وويل: نو د اترار مغرور او ضدی امير زموږ په ولکه کې دی؟ د سلطان استازی چيرته دی؟ موږ ته خبر راکړل شوی چې هغه زموږ لښکرو ته د ښار دروازه خلاصه کړې ده. مخکې له دې چې ناوخته شي بايد د خپل پلار حکم پلي کړم، د سلطان استازی خپل مالک ته خيانت وکړو او بايد سزا يې ووينې، هغه او د هغه ټول ملګري د اترار د خلکو خوا ته هغه دنيا ته واستوی.

سوباتای په زيرکۍ وخندل او ويې ويل: ما اټکل کاوه چې مغول خان به د سلطان د استازی د خدمت انعام به مرګ وټاکي، داسې يو پوځي قومندان بايد ووژل شي.
جغتای- ملګري يې هم بايد حساب شي،که دوی دغه خيانت ته غاړه نه وای ايښې، د سلطان استازی به يوازې دا دسيسه نه وای پلې کړې، د خپل مالک سره خيانت تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ستر خیانت دی او سزا یې پرته له مرګه بله نه ده،همدا اوس د مغول خان حکم پلي کړه د لمر لوېدو نه مخکې باید ټول ووژل شي.

د دی خبرو وروسته جغتای له او ګدای سره یو ځای د هغه خېمې خواته ولاړ چې د دوی لپاره چمتو شوې وه، تر څو د راتلونکې حملې نقشه وڅېړي، سوباتای د ډله‌ییزو وژنو ستر نقشه جوړوونکی ورو ورو خپل سر وخوځاوه او له ځانه سره یې وویل: که د سلطان استازی خبر وای چې مغول خان به د هغه د خدمت بدله په توره ورکړی نو هغه به تر مرګ د اترار دفاع کړې وای، نه دا چې داسی یو خیانت‌ناکه نقشه یې عملي کړې وای.

روان شو څو ګامه چې مخکې ولاړ ودرېد، لاس یې تندي ته یووړ داسې ښکارېده لکه چې یو نوی فکر یې ذهن ته راغلی وی موسکی شو، بیا یې سر وخوځاوه او خپل تلو ته یې ادامه ورکړه.

ډېر ژر د مغولو یو ډله عسکر د دې لپاره وګمارل شول چې د سلطان د استازی او د هغه د ملګرو د قتل‌عام نقشه عملي کړي،د دې نقشه جوړوونکی سوباتای د مغول خان ستر جاسوس و. تر دې مخکې چې د ډله‌ییزې وژنې امر ورکړي، حکم وکړ چې غایر خان، د اترار امیر چې په زندان کې د خپل برخلیک په تمه دی له بنده راوباسي...

کله چې د اترار امیر غایر خان د زندان نه په ډېر خوار حالت کې راووت، فکر یې وکړ چې د ژوند وروستۍ شېبې راغلې دي سترګې یې د نړېدلو دېوالونو پر لور خښې شوې یو افسوس ناک ساه یې واخیسته او ورو یې وویل: خدای پامان اترار...
یو ساتونکی چې غایر خان په هغه حال کې ولید، په قهر سره یې هغه مخ ته ټېله کړو او ورته ویې ویل: له اترار څخه یواځې امیر یې پاتې دی، چې د هغه حالت هم د ژړا وړ دی.

نور ساتونکي د خپل ملګري پر دې خبره وخندل غایر خان ودرېد مخ یې د هغوی خوا ته واړاوه او په قوي آواز چې د هغه په غږ کې د وېرې هېڅ نښه نه وه وویل: او

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا اترار، پنځه میاشتې تاسو وحشیان د دې کلا د دیوالونو لاندې بند وترلی، او که هغه ته خیانت نه وای شوی نو مغولو خان به یې د پښو غورځولی وای.

مغول سرتیری سخت په غوسه شول یو تن پرې توره راویسته خو بل یې لاس ونیو او ویې ویل: موږ ته حکم نه دی راکړل شوی چې دی ووژنو سوباتای منتظر دی.
غایر خان ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: سوباتای هغه وینه څښونکی سړی.

او حرکت یې وکړ ساتونکو هغه د سوباتای خېمې خوا ته بیله کاوه، کله چې هلته ورسیدل، سوباتای ته یې خبر ورکړ چې غایر خان راغلی،لوی جاسوس له خپلې خېمې راووت، د اترار پر امیر یې د سپکاوي ډک نظر واچاوه، خندا یې پر شونډو راغله او ویې ویل: تا ډېر د ویاړ ورځې درلودې.
غایر خان ځواب ورکړ: او اوس هم د هماغه ویاړ سره مرګ ته هرکلی وایم.

سوباتای- لا یې وخت نه دی راغلی، زه غواړم ستا یو آرمان پوره کړم! ته اوس کولای شی د مرګ مخکی د هغو خیانتکارانو د وژل کېدو ننداره وګوری کوم چې ستا او ستا د خلکو سره یې جفا وکړل.
غایر خان وپوښتل: ستا مطلب د سلطان استازی دی؟
سوباتای- هو سم پوه شوې، مغولو خان د هغه او د هغه د ملګرو لپاره د مرګ حکم صادر کړی، زما سره راځه ...

دواړه روان شول د غایر خان د ساتنې لپاره ګمارل شوي ساتونکي هم د هغوی پسی شول، هغه ځای ته ورسېدل چې د سلطان استازی او ملګري یې تر څار لاندې ساتل کېدل.

د سلطان استازی چې سوباتای او غایر خان ولید نو خپل دوه تنو ملګرو ته چې ورسره ولاړ وه وروکتل او په خندا یې وویل: غواړې د غایر خان سر زموږ په مخ کې ووهي! مغرور او ضدی سړی باید همداسې سزا ووینې.
او بیا یې بې اختیاره چیغې کړې: سلام دې وي پر ستر فاتح سوباتای!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای د غایر خان خوا ته مخ وګرځو او ویې ویل: اوری؟ دا د هغه لوی خاین غږ دی چې خپل د مالک او خلکو سره یې خیانت کړی.

غایر خان چې وېره یې خلاصه شوی وي او د هېڅ شي څخه یې ډار نه درلود په کلک غږ وویل: که هغه خیانت نه وای کړی، نو زما سرتېرو او د اترار د خلکو مقاومت به تاسو له پښو غورځولی وایست، باید د سلطان استازی ته دعا وکړئ چې له سترې ماتې یې تاسو وژغورلی.

سوباتای په شیطنت وخندل او ویې ویل: زړور سړی یې غایر خان! ستا وار هم رارسیږی.
غایر خان- زه به په خلاص غېږې سره د مرګ ښه راغلاست ووایم.
سوباتای- دا نو زړورتیا نه ده!

د سلطان استازی په لوړ غږ وویل: هغه ضدی او سرکښ کس چې اترار یې برباد کړ، موږ ته راوسپارئ چې نړۍ یې د سترګو مخې ته تیاره کړو.
سوباتای لږ تم شو او ویې ویل: واوره، د سلطان استازی! مغول خان تا ته ډېر لوی انعام ټاکلی دی.

د سلطان استازی چې د ډېر شوق له امله ژبه بنده،بنده کیدل وویل: زه د هغه انعام ته په تمه وم.
او بیا یې وپوښتل: مغول خان ماته د کوم ولایت حکومت راکړی دی؟
سوباتای پرته له کوم مقدمې وویل: مغول خان ستا او ستا د ملګرو د وژلو امر صادر کړی دی!

د سلطان استازی د دې خبرې په اورېدو وریږېده، ګمان یې وکړو چې سوباتای ټوکی کوي، یو ترخه موسکا یې پر شونډو راغله او ویې ویل: ته ډېر ټوکي سړی یې سوباتای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای لنډ وخندل او ویې ویل: له دې ټوکې څخه خو شیرن مرګ دی کوم چې ته او ستا ملګري ډېر لرې نه یاست ورڅخه، تا خپل مالک ته خیانت کړې دی او باید سزا ووینې او مرګ یوازینۍ سزا ده ستا او ستا د ملګرو لپاره.

د سلطان استازی خپلو ملګرو خوا ته وکتل د هېچا په څهره کې رنګ نه و پاتې، د ټولو په وجود وېره خپره شوی وه، خپله هم د ډېر وېرې څخه د مرګ پر حال وو په یوه بې‌وسه او رپېدلې لهجه یې وویل: موږ خو مغول خان ته خدمت کړی دی.
غایر خان چوپتیا ماته کړه او چیغې یې ووهلې: اې خائنه! هماغه وخت مې باید ته وژلی وای کله چې تا زما مخالفت وکړو، خو اوس خوشاله یم چې دښمن دا کار کوی او زه کولی شم خپل د مرګ مخکی ستا مرګ ووینم.

سوباتای خپل توره په لاس کې واخیسته هغه یې د خپل سر پورته یوړه،او څو شېبې وروسته یې توره په چټکۍ ښکته کړه. دا د هغه او د مغولي پوځ د قوماندانانو ترمنځ یو پټه نښه وه ترڅو ډله‌ییزه وژنه پیل کړي.په هماغه شېبه کې مغولانو خپل تورې راپورته کړې، او د سلطان پر استازی او د هغه پر ملګرو یې برید وکړ...

بې وسلې خائنان، چې وېرې نیولي وو، د مرګ پیغام ورونکو ته ځیر شوي وو. ناڅاپه یې چوپتیا په وحشتناک چیغو سره ماته شوه،مرګ د هغوی پر لوری ورغلی و او امان یې نه ورکو، لکه د منې تیز بادونه چې پاڼې له ونو جدا کوي، همداسی د مغول سرتیرو تورو د هغوي سرونه له تنی جلا کړل او خاوره یې پر وینو ولړل.

ورو ورو چیغې غلې شوې او له هغه ډلې څخه چې ډېرې هیلې لرلی نور هېڅ فریاد نه راوت.

پر وینو لړلي مړي یو پر بل لوېدلي وه او د هغه ځای خاوره د هغه اته خائنانو په وینو سره شوې وه کوم چې د خپل سبا لپاره ډېر امیدونه درلود، هماغه وخت لمر د لوېدو په حال کې و.د وریځو ټوټې د لمر د وړانګو په رڼا کې سره ځلا کول او د اترار کنډوالې د هغه ماښام په پای کې بله بڼه غوره کړې وه غایر خان چې سترګې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژل شویو کسانو پر مرو ګنډل شوی وه وویل: اوس ما ووژنئ او ډاډه اوسئ چې غړ
به مې وانه ورئ، زه غواړم په مېړانه مړ شم.

سوباتای په معنا لرونکي ډول وخندل او ویې ویل: هغه څوک چې باید تا ووژني د
اترار له خلکو څخه دی. بالخاش هغه کس چې ته یې په لټه کې وی او هغه ستا څخه
د غچ اخیستلو په تمه و.

غایر خان حیران شو څو شېبې چوپ و او بیا یې وویل: هغه به هېڅکله دا ډول
خیانت ونه کړي.
سوباتای- ما ورسره وعده کړې که چېرې هغه تا ونه وژني نو زه به هغه ووژنم او
همداراز ایلي هم اوس زما په ولکه کې ده، بالخاش زما جاسوس و او بله چاره نه لري
پرته له دې چې زما اطاعت وکړي.

غایر خان د هغه خوا وکتل او ویې ویل: خو بالخاش یو اترارې دی، زه دهغه په
مېړانه باور لرم،که زما پر وژلو هغه خوشې کوی نو زه به هغه ملامت حساب نکړم که
وغواړی ما ووژني.
سوباتای- جغتای او اوګدای مخکې له دې چې ته د بالخاش له لاسه ووژل شې،غواړي
تا ووینې.

بیا یې د غایر خان د ساتونکو خوا ته مخ واړاوه او ویې ویل: دا سړی بندي خانې ته
یوسئ او ښه پرې نظر وساتئ، دی تر نیمه شپې زموږ مېلمه دی هر څه چې وغواړي،
ورکړئ ښه خواړه او شراب ورکړئ ترڅو زموږ مېلمه پالنه وګوری.

هغه یو وخت د اترار حکمران و او حق یې دی چې په دې وروستیو ساعتونو کې
دوستانه چلند ورسره وشی.
بیا یې د غایر خان خوا ته وکتل او ویې ویل: خپل ځان د مرګ لپاره چمتو کړه.

او روان شو ترڅو د جغتای او اوګدای خیمې ته ولاړ شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

هوا تیاره شوې وه مغول سرتیرو د اترار د ویجاړ شوی دیوالونو لاندی د خپل بریا په خاطر جشن نیولی وو. د وحشیانه چغو سره یې د دې بریا هیجان څرګندوه،د دې جشن او نڅاګانو په جوش بازار کې بلخاش او ایلیٰ په خپلو فکرونو کې ډوب وه.

بلخاش په دې فکر کې و چې غایر خان څنګه ووژني؟ او ایلیٰ هم د بلخاش په فکر کې وه هغه پوهېده که بالخاش د سوباتای له امر څخه سر غړونه وکړه، نو خپل ځان به مرګ ته ورکړي.

بلخاش خپله چوپتیا ماته کړه او ایلیٰ ته یې وویل: تر دی مخکی چې ناوخته شی باید له دې ځایه وتښتو دا زموږ یوازینی د ژغورلو لاره ده.

ایلیٰ یو نظر د خیمې د دروازې خوا ته واچو او ویې ویل: زه هم له دې پرته بل فکر نه لرم خو دوه ساتونکي د خیمې په دروازه کې ولاړ دی او زموږ هر پلان به خراب کړي، هغوی وسله لري او موږ یو کوچنی خنجر هم نه لرو.
بلخاش- زموږ یوازینی وسله زموږ اراده ده باید پرېکړه وکړو زه ډاډه یم چې بریالي به شو.

بالخاش هغه پلان چې په ذهن کې یې جوړ کړی و، ایلیٰ ته وړاندې کړ و د پلان د اوریدو وروسته ایلی خپل سر ښکته کړو او ویې ویل: ستا پرته بل هېڅا زما لوڅ بدن نه دی لیدلی...
بلخاش- زموږ د دواړو لپاره باید دا کار وکړې.

ایلیٰ خپل قمیص د اوږی د سر او د سینی څخه څیری کړل او خپل ویښتان یې پر مخ خوشی کړل.
بلخاش یو نظر ورته واچوه او ویې وویل: بې شکه دا پلان به مو له دې ځایه وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه په خیمه کې یو دبل پسی په منډه شول هرڅه طبیعي ښکارېدل، ناڅاپه ایلۍ یوه لنډه چغه کړه او مرسته یې وغوښته.

دواړو ساتونکي چې تر هغه دمه د دوی څخه کوم غږ نه و اورېدلی، د ایلۍ د غږ په اورېدو سر په چټکۍ باندی د خیمې خوا ته منډه کړل کله چې دننه شول نو ایلۍ نیمه بربنډه ولیدله.

ایلی داسی حال کی چې لنډه،لنډه ساه اخیسته لاس یې د بلخاش خواته ونیو او ویې ویل: هغه له دې ځایه وباسئ! هغه غواړي چې ما ووژني،سوباتای ته خبر ورکړئ!

دواړه مغول ساتونکی اوړه په اوړه د بلخاش خوا ته نږدې شول بالخاش خپل شا د خیمی د دیوال خواته کړی وه او مخ یې د هغه ساتونکو خوا ته وو.
یو ساتونکی وویل: کښېنه!

بلخاش وېرېدلی څېره ځانته نیولی وه د هغه سترګې په دواړه ساتونکو وه چې هڅه یې کوله ناڅاپه پر هغه برید وکړي، په همغه وخت کې ایلۍ چې پر شکیدلو جامو د هغوی شاته ولاړه وه، د هغه دوه ساتونکو څخه پر یو باندی چې جسمي ځواک یې کم ښکاره کیدی په یوه چټک حرکت سره خپل ځان د هغه پر اوږو واچاوه او په یو ناباوره سرعت سره یې لاس د هغه د ستونی لاندې ورسوه او سر یې ورڅخه شاته کش کړو دوهم ساتونکی چې غوښتل وګوري چې څه پیښه شوی خپل سر د هغه خوا ته وګرځاوه.

او دا هغه وخت و چې بلخاش په پلان کې د هغه اټکل کړی و او انتظار و ورته، مخکې له دې چې دوهم ساتونکی پر ایلۍ برید وکړي د بلخاش دروند سوک د هغه پر پوزه ولګیدو او هغه خپل توازن له لاسه ورکړو

مغولي سرتېری د دغه ضربې له امله ګنګس شو څو قدمه شاته ولاړ او په هماغه حالت کې یې لاس توره ته یووړ خو بالخاش پرې د سر برید وکړ، دا ځل ضربه دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخته وه چې مغولي سرتېرى پر ځمکه ولوېد بالخاش پرې ورټوپ کړل د هغه خنجر يې راوخيست او په داسې حالت کې چې قهر او کينه يې ټول وجود نيولى و، لاس پورته کړ او خنجر يې د هغه په سينه کې ننباسو سړي چيغه کړه وينه پر ځمکه توى شوه د هغه کار ختم شوى و.

بالخاش د ايلي مرستې ته ورسېد هغې د مغولي سرتېري مرى داسې نيولې وه لکه د فولادو پنجه چې يې پر غاړه نښتې وي بالخاش په وينو لړلى خنجر د هغه په نس کې ورننه ويست او بيرون يې راويست ايلي خپل دښمن خوشى کړ،سړى چې خپل لاسونه يې پر نس نيولي وو، يو دوه قدمه مخکې ولاړ بيا لړ شاته وگرځېد او بيا پر ځمکه راولوېد.

بالخاش- تر هغه مخکې چې ساتونکى بدل کيږي بايد د دې ځاى ووځو.

هغوى د مغولي سرتېرو تورې د هغوى له ملاو خلاص کړل او ځانونه يې مسلح کړل. بالخاش د خيمې پرده پورته کړل د مغولي عسکرو د خوشحالۍ او نڅا آوازونه لا هم اورېدل کېدل.تياره هر ځاى خپره وه دوى بايد ژر تر ژره د دښمن له کمپ څخه تښتېدلى واى، بالخاش د ايلي لاس ونيو او ويې ويل: راځه، له ما سره.

دواړه له خيمې ووته ډېر په احتياط يې گامونه اخيستل، د دوى شاوخوا خېمى ارام او تش وه، دښمن چې بريالى شوى و د اترار د ړنگو شويو دېوالونو تر سيوري لاندې يې د بريا جشن نيولى و د لښکر مشران سره راټول شوي وو تر څو د بل بريد نقشه جوړه کړي.

ايلي وويل: راځه چې غاير خان ته لاړ شو او له ځان سره يې يوسو.
بالخاش- کاشکې دا کار مو کولى شو، خو پر هغه ډېر سخت ساتنه کېږي د هغه ساتونکو سره مخامخ کېدل زموږ د دواړو ژوند له خطر سره مخامخ کوي.

ناڅاپه ودرېد ايلي وپوښتل: څه شوي؟
بالخاش- بايد د کمپ حالت گډوډ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلی- څه کار غواړې وکړې؟
بالخاش- خېمه باید وسوزوو.
ایلی- له دې کار مخکې باید د تښتې لاره چمتو کړو.
بالخاش- ته دلته پاتې شه زه د تښتې وسیله پیدا کوم.

هغه په بیړه د خېمو ترمنځ تېر شو ډېر وخت نه و تېر شوی چې دوه بې زینه آسونه یې راوستل ده د آسونو واګی ایلي ته ورکړل او ویې ویل: سوباتای باید پوه شي چې د ده نه هم هوښیار څوک شته!

بیا په چټکو ګامونو هغه خېمې ته ورسېد چې هلته دی او ایلي بندیان وو د خېمې په فرش کې د دوو مغولي عسکرو جسدونه په وینو کې لت پت پراته وو،دوه څراغونه چې د خېمې په یوه کونج کې بل ول، واخیستل کله چې خېمه په اور کې وسوځېده، څراغ یې له ځان سره بهر یووړ. د لارې نورې خېمې یې هم وسوځولې او په بیړه بېرته ایلي ته راغی...

دواړه پر آسونو پورته شول او پښې یې د آسونو تر نس لاندې کلکې ونیولې او په چټکۍ سره له هغه ځایه وتښتېدل، تر څو د اترار بلې خوا ته ورسېږي او د دښمن له نظره پټ شي د اور لمبې چې له خېمو پورته کېدلې د مغولو د بریا جشن ګډوډ کړ، ټول حیران پاتې شول.

شور او زوږ پورته شو سوباتای وارخطا له خپل خېمې راووت.

کله چې سترګې د اور پر لمبو ولګېدې نو ټکان یې وخوړ هېڅکله یې تصور نه کاوه چې څوک به دومره جرئت وکړي چې د مغول خان د لښکر په کمپ کې دې دومره وېروونکی کار وکړي. په چټکۍ سره یې ځان د اور ځای ته ورساوه.

یوه ډله عسکر د اور په مړ کولو بوخت وه او هڅه یې کوله چې اور راکنټرول کړي او نورو خېمو ته د خپرېدو مخه یې ونیسي.سوباتای په خود راغی شک یې وکړ چې دا به د بالخاش او ایلي کار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جغتای او اوگدای چې کله دا خبر واورېد نو په وارخطای د اور ځای ته راورسېدل. سوباتای د لومړي ځل لپاره داسې احساس وکړ لکه له یو نه اټکلېدونکې حالت سره مخ شوی دی، هغه چې ځان د لویو تخریبي کارونو او قتل‌عام طراح حساب کاوه اوس دلته بېوسه پاتې شوی و لا یې باور نه شوای کولی چې دا به واقعاً د بالخاش او ایلي کار وي.

خو بیا یې هم یوه ډله غوره اس ځغلونکی د هغوی د تعقیب لپاره ولېږل او ورته یې وویل چې هغوی دواړه مړه یا ژوندي باید راوړئ.
جغتای په غوسه وویل: باور مې نه راځی یعنی دښمن زموږ کمپ ته رانوتی دی!
سوباتای د خبری پر ویلو اونه ویلو کې شکمن وو،اوگدای وویل: زه فکر نکوم چې دا کار دې دښمن کړی وي.
سوباتای په شک سره وویل: دا باید د بالخاش کار وي ... هغه دوه جاسوسان چې زما باور یې خپل کړی و، لا تر اوسه له دې ځایه ډېر نه دي لرې شوي...

جغتای- بالخاش! هماغه تښتیدونکی اتراری؟
سوباتای ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: زما اراده وه چې غایرخان د هغه په لاس ووژنم.
اوگدای ژر وویل: لاړ شئ، غایرخان پیدا کړئ کېدای شي هغه کس چې دا اورلگیدنه یې کړې ده هدف یې د غایر خان تښتول وه!؟
جغتای په غوسه سره وویل: هغه ووژنئ.

سوباتای څو کسان د غایر خان د خیمی خوا ته واستول او هغوی ته یې امر ورکړ همدا چې غایر خان یې وموند هماغلته یې ووژني.

مغول سرتیرو په ډېرو هڅو سره وکولای شول چې د اور مخه ونیسی او سیمه پاکه کړي.یوشمېر خیمې لا هم د اور په سخته لمبو کې سوځېدې، او هېچا جرئت نه کاوه چې ورته نږدې شي. جغتای او اوگدای خپل خیمو ته ولاړ، خو سوباتای لا هم د اور د مړ کېدو په تمه و هغه څو ساتونکی چې د غایر خان د وژلو ماموریت یې درلود،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېرته راغلل سوباتای هغوی ته وکتل او کله چې د یو ساتونکی پر توره یې د وینو څاڅکی ولیدل نو ویې ویل: زما اندېښنه د غایر خان له اړخه ختمه شوه... نور د اترار د امیر په نوم څوک ژوندی نه دی، لاړشم د هغه د وژل کېدو خبر جغتای او اوگدای ته ورکړم.

خو لا هم د بالخاش او ایلي د تېښتی څخه اندېښمن و. ډېر خپه ښکاره کېده.ده هیڅکله فکر نه کاوه چې ممکن بالخاش او ایلی دومره زړورتیا او شهامت ولري چې د کمپ له منځه وتښتي. هماغه مهال چې بالخاش او ایلي لاس ترلې ده ته راوستل شول او هغوی ورته خپل د پېښېدو کیسه په اترار کی وکړه او ویې ویل چې هغه درې جاسوسان وژل شوی، سوباتای پوه شو چې بالخاش تر اوسه پورې هغه ته چل ورکړی دی.نو ځکه اراده یې درلود چې بالخاش او غایر خان دواړه ووژني، خو بالخاش تر ده ډېر هوښیار و...

***

د سهار په رڼا کې د سوځېدلو خیمو پاتې شوې یو جالب منظر جوړ کړی وه،مغولي عسکر ډلې ډلې هلته راتلل، هر چا یو څه ویل، خو په یوه خبره ټول متفق وه او هغه دا چې بالخاش، هغه تښتیدلی اترارې گ خیمو ته اور اچولی دی،په دی فکر د مغولو کرکه د بالخاش سره دومره زیاته شوه که یې ژوندي نیولی وای نو ټوټه ټوټه کړی به یې وای.

مغولان د خپل هغو ملگرو په تمه وه چې د بالخاش او ایلي په تعقیب پسی استولی وه او دوی باور درلود چې هغوی به خالي لاسه نه راگرځي سوباتای چې د مغول خان د جاسوسي اداری مشر و د خپل ژوند په اوږدو کې دا لومړی ځل و چې داسې احساس یې کاوه چې له خپل ځان څخه د یو هوښیار او زیرک حریف سره مخ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هیڅکله فکر نه کاوه چې بالخاش، هغه تښتېدلی اتراری، یوازې ځان به د مغول خان د جاسوسي نظام ته داسې نه جبرن کیدونکی ضربه ورسوي، اترار سقوط کړی و او یواځې یو نوم ترې پاتې و خو سوباتای د بالخاش په فکر کې غرق و او هېڅ ډول یې فکر ورڅخه نه بېلېده، ده باور نشو کولی چې بالخاش او ایلي د دومره زیات عسکرو له منځه تښتیدلی دی.

له ځانه سره یې وویل: که دا ځل مې په لاس راغې نو عسکرو ته یې سپارم چې ټوټه ټوټه یې کړي.

د دی ټولو خبرو سره سوباتای په دی هم پوهیدی چې دا هوښیار او چالاک بالخاش به په دومره آسانی ونشی نیولی، هغه کس چې د مغول خان د کمپ څخه د هغه د عسکرو له منځ تښتیدلی شی، بې‌شکه چې یو چالاک سړی او بې‌ساری جنګیالی دی.

سوباتای په خپله خیمه کې قدم واهه او هره شیبه یې د دې خبری انتظار درلود چې یو کس راشی او د بالخاش او ایلي د نیولو خبر راوړی، په هماغه وخت کې چې د سهار رڼا له تیارو څخه راوتله جغتای هغه خپل حضور ته وغوښت، سوباتای په بیړه له خپلې خیمې راووت په لاره کې یې هغه ساتونکي ته چې ورپسې روان و وویل: هر وخت چې د بالخاش څخه مو کوم خبر تر لاسه کړو تر ټولو لومړی ماته ووایاست.

ساتونکي وویل: هغه کسانو چې د هغه په تعقیب پسی تللي دي، لا تر اوسه نه دي راستانه شوي.
سوباتای په قهر سره وویل: باید هغه پیدا کړي.

ساتونکي له نیمې لارې بیرته شاته ستون شو او سوباتای یوازی ځان د جغتای خیمې ته ننوت، اوګدای هم هلته و.
جغتای سوباتای ته مخ واړاوه او ویې پوښتل: د بالخاش څخه کوم خبر نشته؟
سوباتای په ډاډ ورکونکي انداز وویل: ژر به هغه ونیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوګدای پوزخند ووهه او ویې ویل: هغه څوک چې زموږ له پوځ او کمپ څخه تښتی بې‌شکه تر موږ ډېر هوښیار دی.

سوباتای- هو، باید دا ومنو چې بالخاش بیحد زیرک او هوښیار سړی دی، ځانګړې مهارت لري.
جغتای په معنی دار ډول وخندل او ویې ویل: نو بیا د دې زیرک او هوښیار سړي نیولو ته چندان هیله نشته، ته هم په دی خبره ښه پوهېږې چې هغه زموږ له منګولو وتلی دی.
سوباتای په خواشینۍ سره وویل: هر چېرته چې لاړ شي  زما پټ مأموران به یې پیدا کړي.

جغتای په حیرانتیا سره وویل: ستا پټ مأموران؟! بالخاش خپله هم یو پټ مأمور و. ستا د مأمورینو له ټولو رازونو سره ښه آشنا دی، ښه پوهېږي چې څه وکړي او څه نه؟ زما په اند ښه به دا وی چې د هغه فکر پرېږدو.

سوباتای چې له قهره څخه یې څهره تروش شوی وه وویل: زما سرتیری د هغه په تعقیب پسی وتلی او زه ډاډمن یم چې تر لمر ختو مخکې به یې لاس تړلی کمپ ته راوړی.

اوګدای ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: په دې کې شک نشته چې بالخاش یو زړور دښمن دی، کاش چې ستا ټول پټ مامورین د هغه پشان وای. ته باید دا ومنې چې که موږ د بالخاش په شان سل کسان لرلای نو ډېر ښارونه به مو یو پر بل پسې نیولي وای او د اترار پشان لویه فاجعه به بیا هېڅکله نه واې تکرار شوی.
سوباتای په ناخوښۍ سره سر وخوځاوه او ویې ویل: زه هم ستا د خبرو سره موافق یم.

جغتای- دا ته وایې سوباتای؟ تا چې هغه د غایرخان د زندان څخه خلاص کړ، او فکر دې کاوه چې د هغه څخه به د خوارزم د حکومت پر ضد ګټه پورته کړې دا ستا لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېروتنه وه.
سوباتای-یواځې بالخاش زموږ پټ مامور نه و د اترار څو تنه خلک هم زموږ سره وو.
اوګدای غوسه شو تندی یې تریو کړ او ویې ویل: او هغه ټول ووژل شول زموږ جاسوسان چا د غایر خان په ګیر ورکړل؟ تا باید هماغه وخت بالخاش پېژندلی وای چې څنګه سړی دی. هغه څو وارې تا ته چل درکو، زموږ ماموران یې له منځه یوړل او تا هر وار په دې تښتیدلی اتراري باور وکړو.

سوباتای- ما هغه د اترار د سقوط وروسته وپېژنده.

جغتای- اوس نو څه فایده؟ اوس نو ډېر ناوخته شوی.
لږه شېبه چوپ شو او بیا یې وویل: همدا چې لمر راپورته شي موږ به حرکت وکړو، همدا اوس سرتیرو ته امر وکړه چې چمتو شي.
سوباتای وپوښتل: زموږ بل هدف کوم ښار دی؟
جغتای- همداسی به پر مخ روان یو.

سوباتای د چنګیز خان د زامنو له خیمې راووت، د بالخاش تېښته دومره هغه خپه کړی و څومره چې د اترار د نیولو په وخت کې بار،بار د ده سرتیرو ماته خوړل او اترارپانو دوی شاتګ ته اړ کول.

سوباتای په خپه زړه خپل خیمې ته روان شو تر څو خپل ټیټ رتبه قوماندانان د هغه امر نه خبر کړي چې جغتای ورکړی و.کله چې سوباتای خپلې خېمې ته نږدې شو یو سرتیری وارخطا او تېز ځان هغه ته ورورساوه، د ډېر تلوار څخه یې ساه لنډه،لنډه اخیسته وویل:له هغو څو سرتیرو نه چې د بالخاش پسې تللي وو، یواځې یو تن راګرځېدلی دی.

سوباتای چې دا خبره واورېده، حیران شو فکر یې وکړ چې شاید صحیح یې نه وی اوریدلی نو ځکه یې وویل: یو ځل بیا یې ووایه، تا څه وویل؟
سرتیری چې لږ آرام شوی و خپله خبره بیا تکرار کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای چوپ شو دا چوپتیا ډېره درنه او اندیښناکه وه، د ډېر غوسی څخه یې خپل غاښونه سره وچیچل نه پوهېدی چې څه وکړي، په قهر سره یې یو ګوزار د سرتیری پر سینه ورکړ او هغه یې له مخې لرې کړ او په بیړه روان شو.
سرتیری ورپسې روان شو او چې کله ور ورسېد ویې ویل: هغه سرتیری ډېر سخت ټپي شوی دی.

سوباتای په چټکۍ وپوښتل: هغه چیرته دی؟
سرتیری ځواب ورکړ: نشي ګرځېدلای، ډېر په زحمت سره یې ځان تر دی ځای رارسولی.
سوباتای بیا وپوښتل: کوم څه یې ونه ویل؟
سرتیری- کله چې موږ له آس راکوز کړ نږدې و چې بې‌هوښه شي.
سوباتای- زه باید هغه ووینم، باید پوه شم چې پر ده او نورو عسکرو څه تیر شوي دي؟
سرتیری مخکې روان شو او وې ویل: داسی ښکاري چې ټول هغه کسان وژل شوي دي او یواځې همدا یو نفر ژوندی پاتې دی، خو د ده ژوند ته هم چندان هیله نشته.

سوباتای چې د سرتیری پسې روان و په سوچونو کې ډوب و،په خپل زړه کې یې ویل: که چیرې بالخاش او ایلي زموږ هغه څو تنه سرتیری وژلي وي نو دا به یو عجیبه معجزه وي! څنګه ممکنه ده چې دوه نفر یوازی ځان شپږ سرتیری ووژني؟!

خو وروسته دې نتیجې ته ورسېد چې ښایي دغه شپږ جنګیالي د دښمن له یوه لویې ډلې سره مخ شوي وي، چې شمېر یې تر دوی ډېر و.همداسې په دې سوچونو کې ډوب و، چې یوې خېمې ته ننوت چیرته چې یو سخت ټپي عسکر پر شا پر ځمکه پروت و، او دوه نور عسکر یې د سر سره ناست وو، هغوی چې سوباتای ولید ژر ودرېدل سوباتای پر ټپي عسکر چې ټول په وینو لړلی وو نظر واچاوه،بیا یې مخ د هغه دوو نورو عسکرو خوا ته واړاوه او پوښتنه یې وکړه: څه مو ترې پوښتلي؟ څه یې ویلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه یې وویل: یوازی د بالخاش نوم یادوی!
سوباتای په حیرانتیا سره وویل: بالخاش؟! حتماً بالخاش یې وژلي چی نوم یې اخلی؟

بیا پخپله په تلوار د زخمي عسکر څنګ ته کښیناست او هڅه یې وکړه چې هغه په خبرو راولي، ټپي عسکر د درد څخه زیګروی کوی سترګې یې ترلې وې او په سختۍ سره یې ساه ایسته، سوباتای په ډېر زحمت هغه په خبرو کړې.
زخمي عسکر په مات او ګډو وډو الفاظو وویل: بالخاش... پر موږ... یرغل وکړ...
سوباتای په غوسه وویل: احمقه! پوهېږې چې څه وایې؟!
زخمي عسکر یو څو شېبې چوپ شو، بیا یې لږ سترګې خلاصې کړې او ویې ویل: هغه موږ په بې خبری باندی را ونیولو ...

سوباتای د ډېر غوسی څخه چغه کړه: دا څنګه کېدی شي؟بالخاش او ایلي څنګه کولای شي چې زما شپږ عسکر ووژني؟! ایا د هغوی شمېر له تاسو زیات و؟

- هو، هغوی ډېر وه.
سوباتای بیا وپوښتل: نو تاسو د بالخاش او ایلي سره مخامخ نه شوئ؟
- هغوی دواړه هم په همغه ډله کې وه.
سوباتای- نه، ته حتماً غلط شوی یی.
زخمي عسکر لږ چوپ شو بیا یې په زحمت وویل: نه قربان، هغه پخپله بالخاش و یوه ښځه هم ورسره وه.

سوباتای چې هره شیبه یې غوسه زیاتیده وپوښتل: هغوی څوک وه؟
– د اترار څخه تښتېدلی سرتیری وه.
سوباتای- نو هغوی پر تاسو په بېخبري سره برید وکړو؟ او ته د هغه شپږو عسکرو څخه یوازینی ژوندی پاتې شوی کس یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای له ځمکې پورته شو، نور شک پاتې نه وو اوس پوره ډاډه شوی و چې بالخاش د هغه تښتېدلو اترارې عسکرو سره یوځای شوی دی او د هغوی څخه یې د مقاومت یوه ډله جوړه کړې، که داسې نه وای نو هغه به هېڅکله نه وای توانیدلی چې د مغولو شپږ سرتیری ووژنی.

سوباتای احساس کاوه چې دښمن که څه هم کوچنی او ناچیز ښکاري خو د مغول خان د پوځ لپاره خطرناک دی، او باید ژر تر ژره له منځه یوړل شي، نه تنها بالخاش او ایلی بلکی د هغه ټول ډله باید ووژ شی خو ستونزه دا وه چې څنګه باید هغوی له منځه یوسی؟ دا یوه سخته مسئله وه، بالخاش اوس د مغولو پر ضد د چریکی جګړو پیل کړی و سوباتای له خیمې بهر ووت او بیا یې هغه دوه عسکرو ته چې د زخمي عسکر پالنه یې کوله وویل: هغه به نور روغ نه شي، بیغم یې کړی زه نه غوارم چې ژوندی پاتې شي.

سوباتای روان شو تر څو بېرته خپلې خیمې ته لاړ شي خو لا څو قدمه نه و تللی چې ناڅاپه د زخمي عسکر د خیمې څخه یو دردوونکی چیغه راپورته شوه، سوباتای یوه شېبه ودرېد شاته یې وکتل بیا یې د شونډې لاندی کرار وویل: نه، هغه نه باید ژوندی پاتې شوی وای ... او بیا پخپل لاری روان شو...

بالخاش هغه چالاک او هوښیار سړی اوس د سوباتای لپاره د سختو دردونو لامل شوی و.هغه سوباتای ته د اندیښنی لامل شوی و چې یو زړور قوماندان او ځیرک جاسوس و، هغه سوباتای ته چې مغول خان یې په زیرکتیا او هوښیاری پوره،یوه باور درلود هغه سوباتای ته چې د مغول خان د سردارانو څخه شمیرل کیدی هغه سوباتای نن د بالخاش په وړاندې چې یوازې یو سړی و، ځان کمزوري احساسوی، هغه ته پکار وه چې داسې یو سړی ولټوي چې له ده څخه څو چند زیات هوښیار او چالاک دی، لا هم روښانه نه وه چې سوباتای به وکولای شي د اترار دغه قهرمان پخپل چل کې راګیر کړي او کنه؟ کله چې خپل خیمې ته ننوت نو د خیمې ستن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېد او په ټيټ غږ يې وويل: په رښتيا چې هم بالخاش يو غټ چلباز دی البته زړور او هوښيار هم دی.

بالخاش او ايلي چې له مغولو نه د تېښتې وروسته د ژوند نوې هيله يې پيدا کړې وه، د خپل تېز رفتار اسونو سره په تيزی د جنوب ختيځ په لور روان شول کله چې يې د اترار ورانې کلاوې شاته پرېښودې،بالخاش وويل: خجند ته ځو ترڅو د تيمور ملک سره مرسته وکړو، هلته د مغولو پر ضد د جګړې لپاره ښه ځای دی.
ايلي ځواب ورکړ: خجند همدا اوس د محاصرې لاندې دی او موږ پخپل پښو د مرګ خوا ته روان يو.
بالخاش-که خطر مو احساس کړو نو بله لاره به خپله کړو.

ناڅاپه د سړک د چپ لوري نه د اسونو د پښو غږ پورته شو، بالخاش د خپل آس واګه ونيوله، ايلي هم همداسې وکړل هغوی دواړه ځنګ په ځنګ ودرېدل ايلي وويل: خامخا دا مغول دي چې زموږ په تعقيب کې راغلی دی!؟
بالخاش- که نابېره حمله يې وکړه نو ته هڅه وکړه چې ځان وژغورې او مستقيم خجند ته لاړه شه، کېدای شي وکولای شې د تيمور ملک خدمت ته ورسېږې زما په فکر کې هم مه اوسه، زه نه غواړم ته د دې وحشيانو په لاس ووژل شې!

ايلي- ته پخپله ښه پوهېږې چې زه له تا نه نشم جلا کېدی،که دا تقدير وي چې زه بايد پدې لاره کې ووژل شم، نو ښه به دا وي چې د ژوند وروستۍ شيبې مې له تا سره تيرې کړم.
بالخاش موسکی شو او ويې ويل: ته يو سرکښه نجلۍ يې! نو خپل ځان د جګړې لپاره چمتو کړه،کله چې جګړه نږدی او تن په تن شروع شي موږ بايد يو له بله جلا نشو.

د اسونو د پښو غږ هره شيبه نږدې کېده، داسی ښکارېده چې يو شمېر اس سپره د سړک غاړې ته را روان دي او بيا هغه وخت را ورسيد چې د شپی په تياره کی بالخاش او ايلي د هغه سپرو سيوري وليدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په لوړ غږ هغوی مخاطب کړل او ناری کړل: تاسو ته وایم له کومه راغلي یاست؟

ناشنا سپرو د غږ په اوریدو ناڅاپه خپل د اسونو واګې ونیولې او ودریدل، یو یې ورو وویل: دا غږ راته آشنا ښکاري، فکر کوم د دی غږ مالک یو اتراری سړی دی؟
د هغوی مشر چې اناطرق و لږ فکر وکړ او بیا یې وویل: که زه غلط شوی و نه اوسیږم نو دا باید د بالخاش غږ وي!
بالخاش چې ولید هغوی غلي دي نو بیا یې غږ وکړ: تاسو ته وایم ولی ځواب نه راکوی؟ تاسو څوک یاست؟
آناطرق ځواب ورکړ: موږ اتراریان یو ته څوک یې؟
بالخاش چې آشنا غږ واورید راحت ساه یې اوباسله او ویې ویل: نژدې راشئ اناطرق! زه یم بالخاش!

اتراري سپرو د دې خبری په اوریدو له خوشحاله څخه چیغي له خولي ووتل پر اسونو یې پښې ووهلې او ژر مخ ته ولاړل آناطرق وپوښتل: تاسو چیرته روان یاست؟
بالخاش ځواب ورکړ: خجند ته ځو که غواړئ تاسو هم راسره لاړ شئ.
آناطرق- له همدغه شیبې زه او زما لس ملګري چې د اترار د دوزخ څخه تښتیدلې یو ستا د امر منونکي یو.
ایلي- موږ ګمان کاوه چې له دښمن سره مخ شوي یو.

بالخاش- حرکت کو باید د سهاره د رڼا مخکې د دښمن د کمپ څخه ډیر واټن ونیسو.

د دی خبری سره سم هغوی حرکت وکړو ناڅاپه یو نفر د اتراری سپرو څخه غږ وکړ: تم شئ! داسې ښکاري چې یو شمیر کسان زموږ خوا ته را روان دي.
ټول چوپ شول او غوږونه یې تیز کړل فضا کامل چوپتیا نیولې وه.
آناطرق وویل: شاید دا هم یو څو اتراریان اوسیږی چې تښتیدلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- خپل ځانونه د جګړې لپاره تیار کړئ! دا مغول سرتیری دي چې زما او د ایلي په تعقیب کیدی.

ټول یو ځل بیا چوپ شول آناطرق وویل: زه شک نلرم چې د هغوی شمېر زموږ څخه زیات دی.
بالخاش- قوی زړه ولری، مه هېروئ چې دوی زموږ خاوره پر وینو ولړل، زموږ کورونه یې خراب کړل، زموږ خلک یې ووژل، موږ باید د هغوی څخه غچ واخلو.

د بالخاش دا خبرو فضا بدله کړه توری له غلافونو راوویستل شول، بالخاش شپږ تنه سرتیری په دوه درې، درې کسیزو ډلو وویشل یوه ډله یې د سړک یوې خوا ته، او بله یې بلې خوا ته ودروله او ورته ویې ویل چې که دا را روان سپره د مغولانو کسان اوسیږی نو باید څه کار وکړي، خپله هم د هغه پنځه نور کسانو سره چې ایلي هم پکې وه د دښمن راتګ ته تیار ودریدل، د اسونو د پښو غږ هره شیبه نږدې کېده.
ټول د حملې لپاره چمتو ول، بالآخره د تیارو په منځ کې دسپرو سیورې ښکاره شو.

بالخاش غږ وکړ: تاسو څوک یاست؟

نامعلوم سپرو څه ونه ویل او چوپ پاتې شول، بالخاش بیا غږ کړو او ویې ویل: که اتراریان یاست نو نژدې راشئ!
بیا یې کرار خپل ملګرو ته وویل: دا مغولان دي.

نامعلول کسان چې د مغول خان د پوځ څخه د بالخاش او ایلي په تعقیب راوتلی وه پوه شول چې خپل ښکار یې پیدا کړی دی، یو تن مغولي عسکر وویل: که ته بالخاش یې نو ځان تسلیم کړه، موږ ته امر شوی چې تا ژوندی یا مړی کمپ ته ویسو.
بالخاش وخندل او ویې ویل: زه ستاسو هرکلي ته تیار یم، سوباتای باید پوه شي چې له چا سره مخ شوی.

د بالخاش په دی خبره ناڅاپه شپږ مغولی سرتیرو پر هغه برید وکړو، په هماغه شېبه کې هغه شپږ اتراري سرتیری چې د سړک دواړو خواوو ته پټ ول، له خپل پټنځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووتل او هغوی هم برید پیل کړو مغولان له دریېو خواو څخه په محاصره کې شول، سخته او خونړۍ جګړه پیل شوه مغولانو ته نور د تېښتې هېڅ لاره نه وه پاتې اتراریان د دوی شاوخوا ولاړ ول او سخت جګړه یې ورسره کوله، څو دقې لا نه وه تیر شوی چې پنځه تنه مغولان او یو تن اتراری ووژل شول.

بالخاش چیغه کړه: هغه وروستی مغولی مه وژنئ.

اتراري سرتیرو خپل تورې ښکته کړې، مغولي عسکر له وېرې شاوخوا ته کتل.
بالخاش وویل: دی باید خپل کمپ ته بېرته لاړ شي او سوباتای ته خبر ورکړي چې ملګري یې ووژل شول.
مغول عسکر په وېره وویل: ما مه وژنئ زه به بېرته خپل کمپ ته لاړشم.
بالخاش په خندا ورته وویل: هو،خو که صحیح و سالم ولاړ شې نو سوباتای به ستا په خبرو باوري و نه کړي، هغه ته باید زموږ لخوا یو نښه ویسي یو خونړی نښه ...

ناڅاپه یې توره راپورته کړه، څوکه یې د مغول عسکر پر سینه ننباسل او ژور زخم یې ورکړ، بیا یې یو بل کلک ټک د هغه په راسته اوږی ورکړ د مغول سرتیری له اوږې او سینې وینه راووتله، بالخاش ورته وویل: موږ باید ته ټوټې، ټوټې کړی وای، خو موږ هغه جنګیالي یو چې که چا پر موږ توره راویستله، موږ یې ځواب ورکوو او که چا توره ختا کړل نو موږ امان ورکو، مګر تاسو وحشیان خو پر بېوسه او بېوسلې خلکو هم رحم نه کوئ.

د دی خبری وروسته یې دریم ګوزار د هغه پر غاړه وکړو، مغولي عسکر چیغه کړه سر یې پر سینه ښکته شو.
بالخاش خپل ملګرو ته وویل: د ده د آس مخ واړوئ او لاره ورته خلاصه کړئ دا نیمه مړ وحشي به د هغه آس تر کمپ ورسوی.
اتراری سرتیرو همداسې وکړل لکه څنګه چې بالخاش امر کړی و، د هغه د اس تلو سره اتراري سرتیرو خپل تورې د دې کوچني بریا په نښه هوا ته جګې کړې او د خوښۍ نارې یې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وویل: اوس باید لاړ شو، له سهاره مخکې باید موږ د دې ځای څخه په کیلومترونو لرې اوسیږو.

هغوی د "آفتاب اترار" د سرود په ګډه ویلو سره د خجند په لور روان شول، تر ټولو مخکې بالخاش او ایلي په تېزو اسونو روان وه،د سبا ورځې غرمې ته اتراري سرتیری د «بناکت» د ښار خواته ورسېدل او په یوه کرونده کې تم شول، بالخاش چې خبر و چې او پوهیدی چې چنګیز خان "اولاغ نویان" ته د بناکت د نیولو امر کړی نو داسې اټکل یې وکړ چې شاید مغولانو بناکت نیولی وي؟!

نو ځکه خپل یو نفر ته یې دنده ورکړه چې ښار ته نژدې لاړ شي او معلومات راټول کړي.اتراري سرتیری پر خپل آس سپور شو او په منډه د بناکت ښار په لور روان شو. آناطرق خپل مخ بالخاش ته واړاوه او ویې پوښتل: ستا په اند ښار کې به څه پېښ شوي وي؟
بالخاش- تر کوم چې زه خبر یم مغول خان "اولاغ نویان" او د هغه پوځ ته امر کړی و چې بناکت ښار ونیسي، موږ باید ډاډ ترلاسه کړو چې آیا مغولانو دا ښار نیولی دی او کنه؟ چېرته چې موږ اوس تم شوی یو دا له ښار په ښه فاصله کیدی نو تر هغه وخته پورې چې زموږ نفر خبر راوړی موږ باید همدلته اوسیږو.

ایلی- ګمان نه کوم چې د خوارزم نور ښارونه دی د مغول خان پر وړاندې مقاومت وکړی!

بالخاش- د اترار نوم او د هغه د خلکو مقاومت به په تاریخ کی تل پاتی شی، دا وحشي مغولانو دومره وېره خپره کړې چې نور هېڅ څوک د دوی پر وړاندې مقاومت نه شي کولای.
آناطرق پوښتنه وکړه: که ښار د مغولو لاس ته ولیدلي اوسیږی بیا موږ څه وکړو؟
بالخاش- بیا به موږ د ښار له لویدیځې خوا تیر شو، یا به ووژل شو یا به خجند ته ورسېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لارۍ ستړیا اتراري سرتیری دومره ستړی کړې وه چې ټول په ژور خوب ویده وه، داسی بیغم ویده وه ته وا دا د سولې وخت دی او دا دوي هم یوازې د ښکار لپاره د ښار څخه بهر شوي او دلته یی ارام کړی، خو کله چې هغه اتراري سپور کوم چې د ښار د حالاتو د معلومولو لپاره تللی و بېرته په منډه راغی بالخاش خپل لځایه پاسید او ودرید.

سپور له اس راښکته شو او په بیړه یې وویل: ما له یوه سپین ږیري کروندګر څخه پوښتنه وکړه او معلومه شوه چې بناکت ښار درې ورځې د مغولانو پر وړاندې مقاومت کړی خو اوس مغولانو ښار نیولی دی.

بالخاش- څنګه یې نیولی دی؟ ایا ښار یې خراب کړی دی؟
سرتیری ځواب ورکړ: کوم خاص خرابي نده شوې، خو وېره او ډار د ښار په خلکو کې ګډ دی او نه پوهیږی چې مغولان به د دوي سره څه وکړی؟

څو شېبې چوپتیا شوه د ټولو سترګې پر بالخاش وې،هغه لږ فکر وکړ او بیا یې وویل: بغیر د کوم شک ډاډمن یم چې مغولانو د ښار والي مجبور کړې ترڅو دروازه خلاصه کړي.
آناطرق پوښتنه وکړه: موږ باید څه وکړو؟
یو اتراری سرتیری وویل: پر هغه مغولانو چې د بناکت په ښار کې دي غلچکی برید کوو.
بل وویل: موږ باید له هغوی غچ واخلو.

بالخاش- واورئ ملګرو! موږ په داسې حالت کې نه یو چې د بناکت پر مغولو ناڅاپي غلچکی برید وکړو، موږ باید خجند ته لاړ شو ترڅو د تیمور ملک د پوځ سره یو ځای شو.

ایلي چوپتیا ماته کړه او وویل: خنجد ښار د مغولو د پوځ په محاصره کې دی.
بالخاش- هغه مغولان چې موږ په لاره کې ولیدل د خجند پر لور روان مخکښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونه وه ډېر احتمال شته چې تیمور ملک او پوځ یې هغوی وژلي وي، که موږ ژر حرکت وکړو نو د مغولو څخه به مخکې خجند ته ورسېږو.
آنا ṭرق وویل: نو باید صبر وکړو چې شپه شي.
بالخاش- نه، موږ باید همدا اوس حرکت وکړو تر څو د شپې وخت کې د خجند شاوخوا رسیدلی اوسو.

د هغه په امر اتراري سرتیری د حرکت لپاره تیار شول، ایلي چې د بالخاش په څنګ کې روانه وه کرار وویل: ستا دغه نقشه به موږ ټول مرګ ته ورکړي.
بالخاش په خندا وویل: که په دی لاره د راتلو څخه وېرېږی نو کولای شې بناکت ته لاړه شې، هلته زما یو ملګری دی چې تا ته به پخپل کور کې پناه درکړي.
ایلي په کلک غږ وویل: تا شاید هېر کړې وی چې زه همیشه ستا سره یم! که مرګ مې پوره وی نو غوره ګڼم د ژوند وروستۍ شېبې ستا په څنګ کې تیرې کړم زما هیله ده چې زما آخري نظر ستا پر مخ وي.

بالخاش په نرم غږ وویل: ته یوه زړوره نجلۍ یې.

د دي خبری وروسته دواړه پر اسونو سپاره شول، بالخاش حرکت وکړو ایلي یې هم ترخنګ روانه شول او اتراري سرتیری یې هم د دوي شاته روان شول، هغوی په پوره زړورتیا سره د خجند پخوا روان وه تر څو د تیمور ملک د پوځ سره په ګډه د دښمن مقابله وکړي. بالخاش پوهېدی چې د سوباتای ماموران به د هغه د نیولو په لټه کې اوسیږی خو هغه په خپله ځانګړې طریقه د هغوی څخه په تیښته وو،او اوس یې ځان او ملګري پر یوې داسې لارې روان کړي وه چې بیحد خطرناک و. شپه له نیمایي تېره شوې وه چې ناڅاپه د اس د پښو غږ پورته شو، ښکاره وه چې یو چابک سپور په تیزي روان دی،هغه غږ د صحرا خاموشي مات کړه.

بالخاش د خپل آس واګی ونیول او ویې ویل: فوراً د سړک دواړو خواوو ته پټ شئ.
آناطرق وویل: ښکاري چې یوازی یو نفر پر آس روان دی؟
بالخاش ورته وویل: موږ باید احتیاط له لاسه ورنکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اترارى سرتيرو ځانونه د سرک دواړو خواوو ته پټ کړل.
بالخاش ايلي ته وويل: ته زما د څنګ څخه لږ لرى شه.

ايلى د هغه څخه لږ لرى شوه بالخاش پخپل ځاى کې ودريد، د اس د پښو غږ هره شيبه رانږدې کېدى کله چې بالخاش احساس وکړ چې اس ځغلونکي ته د هغه غږ رسېږي نو غږ يې ورباندى وکړ: څوک يې؟! نږدې مه راځه.

پر اس سپور کس چې په تېزۍ روان و فکر وکړ چې د دښمن سره مخ شوى دى نو ژر يې د خپل اس واګى کش کړل او پرېکړه يې وکړه چې له هغه لارې بېرته وګرځي له کوم خوا چې راغلى، خو بالخاش خپل آس ته حرکت ورکړ او د هغه سپور خوا ته ته يې منډه کړه او له دې مخکې چې هغه سپور د تښتېدو فرصت ولري بالخاش ورباندى د تښتيدلو لار وربنده کړه، سپورچې نور د جګړې پرته بله لار نه درلوده خپله توره پورته کړه.

بالخاش وپوښتل: ته څوک يې او له کوم ځايه راځې؟

د بالخاش غږ ناشنا سړى په شک کى واچو، هغه فکر وکړ چې ښايي دا د ماورالنهر د خلکو څخه اوسيږى! نو ځکه په شک او ترديد يې پوښتنه وکړه: ته څوک يى؟
بالخاش ځواب ورکړ: لومړۍ خو د تښتېدو خيال له ذهنه وباسه ځکه چې زما کسانو ته محاصره کړې يې او دويم ښه به دا وى چې ته زما د پوښتنو ځواب ووايې.

ناشنا سړى په تياره کې شاوخوا ته وکتل، اترارې سرتيرو چې د بالخاش غږ واورېدله خپل پټنځي راووتل او د هغوى خواته روان شول، د اترارى سرتيرو د اسونو د پښو غږ ناشنا سړى ډاډمن کړو چې د رښتيا محاصره شوى او د تښتېدو هيڅ لاره نه لري. هغه کرار، کرار خپل توره ښکته کړه او ويې وويل: زه د خجند د سرتيرو څخه يم او د هغه ځايه را روان يم.

بالخاش- موږ هم د اترار څخه يو او اراده لرو خجند ته ولاړ شو، د هغه ځاى د حالت په اړه راته ووايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خجندی سرتیری وویل: زموږ پوځ د مغولو لومړي مخکښ دلې ته سخت ماته ورکړې ده.
بالخاش وپوښتل: نو ته اوس کوم خوا ته روان یې؟
خجندي سرتیری ځواب ورکړ: زه د تیمور ملک د جانب یو پیغام سلطان ته ورم.
بالخاش- نو بیړه وکړه.
خجندي سرتیری په لوړ غږ وویل: ژوندی دی وی سلطان، مرګ دی وی پر مغولانو.

او د دی خبری سره سم یې اس ته لغته ورکړل او په تېزی سره د اتراري سرتیرو د منځ څخه تیر شو.

آناطرق د بالخاش خواته وکتل او ویې وویل: څنګه باور وکړو چې دا سپور د خجند د خلکو څخه وو؟
بالخاش- یعنې ته وایې کېدای شي هغه موږ ته چل راکړی وی؟
آناطرق ځواب ورکړ: هو، ډېر امکان لري چې د دښمن جاسوس وي.
بالخاش- نه، هغه جاسوس نه وو زه د خجند د خلکو ژبه پېژنم هغه رښتیا وویل.
ایلی- هغه سړی زما د ټاټوبی څخه راغلی و زه د هغه ځای خلک ښه پېژنم.

بالخاش- ملګرو راځئ چې حرکت وکړو، موږ تازه د اترار ویجاړی شاته پریخودلی دی.

یوولس تنه اتراري جنګيالي د خجند پخوا روان شول،هغوی ټوله شپه په لاره وه.
کله چې سهار شو، د بالخاش په امر هغوی د یوې شنې او ښایسته غونډۍ په لمن کې تم شول. بالخاش یوازې د خجند او تیمور ملک په اړه فکر کاوه.د خپل وطن دفاع دومره ورته مهمه وه چې حتی د خان سلطان په اړه فکر ته یې وخت نه درلود.
هر کله چې ایلي د خپل مینې او وفادارۍ خبره کوله، د خان سلطان یاد یې په ذهن کې تازه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په دې وخت کې بالخاش هڅه دا وه چې له دې ټولو فکرونو څخه ځان خلاص کړي.هغه یوازې د مغول خان د پوځ پر برید باندې فکر کاوه.دښمن یو زړور او قوي ځواک و چې هر ډول مقاومت یې ماتاوه،لمر تازه راپورته شوی و چې اترارې جنګیالیو خپل سفر ته دوام ورکړ هغوی له اصلي لارې وتلي وو څو مخکې له دې چې د مغول خان پوځ خجند ته ورسېږي هغوی هلته ځانونه ورسوي، ایلي چې د بالخاش په څنګ کې روانه وه وویل: ته فکر کوې تیمور ملک به د دښمن په وړاندې مقاومت وکړای شي؟

بالخاش خپل اوږې پورته واچول او ویې ویل: معلومه نه ده، خو د خجند موقعیت د اترار سره توپیر لري، د هغه یو خوا ته د جیحون سیند موقعیت لری او دا به د مغولو کار ستونزمن کړی.

ایلي- یقیناً مغولانو به هم دی خبری ته فکر کړی وی او ضرور به یې یو پلان هم ورته جوړ کړی وی!
بالخاش- که تیمور ملک وتوانېږي چې د سیند لاره د مغول پر مخ بنده کړی نو دا به د جګړې حالت بدل کړی،مونږ باید ورسره مرسته وکړو.
ایلي په ترخه موسکا وویل: له موږ یولس کسانو څه کار جوړېږي؟

بالخاش- همدا چې د ښار د یو برج د ساتني دنده موږ ته وسپاري بسنه کوی.
ایلی- خو زه چندان امید نلرم.
بالخاش- د اترار ماتي پر تا ډېر بد اغېز کړی ده!
ایلی- موږ نه باید خپل ځانته چل ورکړو، دښمن زموږ څخه ډیر غښتلی دی او زموږ د قوماندانانو هڅې بې نتیجې دي.
بالخاش- زه په دی ټولو خبرو پوهیږم، خو موږ باید د دې ځواکمن دښمن په مقابل کې ودریږو، غایر خان موږ ته یو لوی درس راکړو.
ایلی- که د سلطان خاص استازی خیانت نه وای کړی مغولانو به د اترار د نیولو څخه لاس اخیستی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په نرمۍ سره سر وخوځاوه او ويې ويل: شايد هغوی شاتګ کړی وای.
ایلی- او اوس د خجند وخت دی.
بالخاش- تیمور ملک یو زړور او بېباک سړی دی،هغه د دې ویرونکي جنګ لپاره زموږ یوازینی امید دی.
ایلي- او که هغه ووژل شو نو بیا به هېڅ څوک د دښمن په وړاندې مقاومت ونکړی شی، ځکه د هغه پشان بل هېڅوک نشته.

بالخاش- زه ګمان نکوم چې د سلطان مرسته کوونکي پوځ به پر پوخت سره خجند ته را ورسېږي، تیمور ملک باید له دې مخکې د سلطان څخه د مرستی غوښتنه کړی وای.
ایلي- د مغول خان برید ناڅاپي و.
بالخاش ورته وکتل او ويې ويل: دا لا ناڅاپی وړ؟ موږ چې هغه مهال په خجند کې وو تیمور ملک ته مو د مغول خان د برید په اړه خبر ورکړ،ما خپل ټول معلومات ورته ورکړل.
ایلي- مغول خان به د خجند پر خلکو رحم ونه کړي، د هغوی انجام به هم د اترار پشان وی.

بالخاش په کرار وویل: دا یوه ویرونکې جګړه ده هر ښار چې تسلیم نشی نو مغول خان به هغه ښار د خاورو سره یو کړی، زموږ د پوځونو د ماتي خوړلو عمده دلیل زموږ د قوماندانانو د بې اتفاقۍ او د یووالي د نشتوالي په سبب و، ځکه چې هر یو غوښتل خپله خوښه او نظر په نورو باندې تحمیل کړي.

ایلي چوپه شوه بالخاش هم نور څه ونه ویل، د ګرم او سوځونکي لمر لاندې دوی خپل سفر ته دوام ورکړ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوره پوښل شوی هوا کې د خجند د ښار برجونه معلوم شول، د هغه برجونو په لیدو د اتراري سرتیرو په لمر سوځیدلو مخونو باندی ځلا خپره شوه او پر شونډو یې موسکا راغله.

آنا طرق په لوړ غږ وویل: موږ باید په دې برجونو او دیوالونو کې د دښمن سره مقابله وکړو او خپل غچ واخلو.
بالخاش شا ته وکتل او ویې ویل: آناطرق ارام اوسېږه کېدای شي د دښمن کسانو په همدی شاوخوا کې کمین کړی وی!
ایلي- ښکاري چې خجند ارام دی،د دیوال لاندې د دښمن سرتیری نه ښکاري.
بالخاش لنډه خندا وکړه او ویې ویل: دا د توپان نه مخکې ارامي ده، کله چې د مغول خان پوځ دلته را ورسېږي نو یوه سخت جګړه به پیل شي، تر هغه ځایه لاره اوږده نه ده خو باید ژر لاړ شو.

اتراری سرتیری ستړی او کمزوري ول خو د خجند برجونو او دیوالونو ته په کتو مخکی روان وه.یو له ساتونکو څخه چې د ښار په برج کې څارنه کوله، کله چې اتراری سرتیری ولیدل په لوړ غږ یې وویل: یوه ډله د ښار خوا ته را روانه ده.
ساتونکي له پټ ځایه راووتل او د دیوال سر ته راغلل،د اتراري سرتیرو خوا ته یې وکتل چې په ترتیب سره د ښار خوا ته را روان وه.
یو ساتونکي وویل: دغه کسان ښایي د دښمن کسان اوسیږی؟
بل کس وویل: که د دښمن کسان وی نو موږ به یې د ښار د دیوال په څنډه کی خاورو ته وسپارو.

د ساتونکو مشر وویل: کېدای شي دا د نورو سیمو خلک وي چې خجند ته را روان دي. بیا یی وویل: زه ځم تیمور ملک ته دا خبر رسوم.

سمدلاسه له دیواله ښکته شو پر خپل آس سپور شو او دارالحکومه خوا ته ولاړ، هلته په رسیدو یې دا خبر د خادم له لارې تیمور ملک ته ورسو، تیمور ملک د دې خبر په اوریدو حیران شو او ویې ویل: د ساتونکو مشر ته غږ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه موده وروسته د ساتونکو مشر د تیمور ملک حضور ته ورسېد، تیمور ملک د هغه خوا ته وکتل او ویې پوښتل: ایا تا هغه کسان و نه پېژندل؟
ساتونکو مشر وویل: نه، قربان خو زه فکر نه کوم چې هغوی دی د دښمن کسان اوسیږی.

تیمور ملک- څومره کسان وه؟
ساتونکو مشر- ډېر کم.
تیمور ملک- زما آس چمتو کړي زه غوارم هغوی له نژدې وګورم.

ساتونکو مشر تالار پرېښود، ډېر وخت ونه نیول شو چې تیمور ملک پر آس سپور شو او په چټکۍ سره له دارالحکومې ووت.هغه د ښار د جنوبي برج او دیوال خواته ولاړ، او ساتونکی هم ورپسې پر آس روان ول، تیمور ملک په فکر کې و چې دا کسان به څوک وی او له کوم ځایه به راغلی وی؟ وروسته یې فکر وکړ چې ښایي دا د اترار د مات خوړلي پوځیانو څخه اوسیږی؟!

کله چې د برج خوا ته ورسید په تلوار له اس ښکته شو او د دیوال سر ته وخوت، تیمور ملک هغوی ته په ځیر،ځیر وکتل خو د هوا د خراب والي او د ماښام د راتلو په وجه یې ونشو کړی هغوی وپیژنی. مجبور د دیوال څخه راښکته شو او د ښار د دروازی خوا ته روان شو، د هغوی د اسونو د پښو غږ یې اوریده بالخاش چې تر ټولو مخکې روان وو همدا چې د ښار دروازې ته ورسېد په لوړ غږ یې وویل: دروازه خلاصه کړئ.

تیمور ملک د بالخاش غږ وپېژنده او د دروازی ساتونکي ته یې وویل: بیړه وکړه دا زموږ دوستان دي د اترار خلک دي.

دروازی ساتونکي د دروازی لوی ځنځیر په شا کش کړو او دروازه یې خلاصه کړه، تیمور ملک د مشعل په رڼا کې بالخاش او ایلي وپیژل او د خوښۍ څخه یې په لوړ غږ وویل: زما ګران دوستانو خجند ته ښه راغلاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش او ایلي د خپلو اسونو څخه را ښکته شول او د تیمور ملک ته یې درناوی وکړ. اتراري سرتیرو هم د خپل مشر په څېر احترام وکړ.تیمور ملک دواړو ته غېږ ورکړه او په تعجب او خوښۍ یې وپوښتل: تاسې د اترار څخه راځئ؟
بالخاش- هو، قربان د اترار څخه اوس یوازې د خاورو یوه ټوټه پاتې ده، مغولانو د ښار خلک د هغه لاندې خښ کړي دي.
تیمور ملک په ټیټ غږ وویل: د اترار د خلکو لپاره دا ډېر لوی مصیبت وو.
ایلي- د هغه لوی مصیبت څخه یوازی موږ یوولس تنه ژوندی پاتی یو.

تیمور ملک د ساتونکو مشر ته امر وکړ چې د اتراري جنګیالیو لپاره د آرام ځای او د خوړو بندوبست وکړی، خپله هم د بالخاش او ایلي سره د دارالحکومه خوا ته لاړ.

بالخاش له تیمور ملک څخه وپوښتل: تاسې د مغول خان  د مخکښو ځواکونو سره څه وکړل؟
تیمور ملک په ځانګړې ویاړ سره ځواب ورکړ: ټول مو په سیند کې غرق کړل یا مو هم د ښار د دیوالونو پر سر ووژل، اوس موږ انتظار کوو چې هغوی لوی برید پیل کړي.
بالخاش- زما خیال دی چې نن شپه یا به سبا هغوی دلته را ورسېږي، موږ ټوله شپه او ورځ په لاره تېره کړل او په سختو لارو راغلو چې د دښمن څخه مخکې ښار ته را ورسېږو.

تیمور ملک دواړو ته اجازه ورکړل چې کیني او بیا یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: د اترار د سقوط کیسه وکړه.

بالخاش ټول هغه پېښې چې په اترار کې واقع شوی او هغه یې پخپل شاهد تیمور ملک ته بیان کړل، همدارنګه د سوباتای سره د خپلې مخامخۍ او له هغه ځایه د وتلو کیسه یې هم وکړل.
تیمور ملک چې حیران او متأثر شوی و وویل: ښکاره ده چې د سلطان د استازی خیانت د اترار د سقوط سبب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- هو، قربان خو هغه او د هغه خاین ملګری هم د مغولو لخوا ووژل شول.
تیمور څو شیبې سوچ وکړ بیا یې سر پورته کړ او په نرم خندا سره ویې ویل: زه ستاسو زړورتیا ستایم کاشکې زما ټول کسان ستاسې په څېر زړور وای.

بالخاش په کلکه وویل: د خجند سرتیری یو داسې قوماندان لري چې په زړورتیا کې بې مثاله دی، موږ دلته راغلي یو چې اوږه په اوږه ستاسو او ستاسو د سرتیرو سره د دښمن مقابله وکړو.
ایلی- په لاره کې موږ ستاسو د تېز رفتار قاصد سره چې د پایتخت خوا ته روان و مخ شو.
تیمور ملک- زه فکر نکوم چې سلطان دی مرستندویه ځواکونه راواستوی، بیا هم که اراده وکړی او پوځ راواستوی نو بی ګټې به وی، ځکه چې ښار به د مغولانو له خوا محاصره شوی وي.

بالخاش- موږ باید د مغول خان پوځیان د ښار د دېوالونو مخکې ووژنو، همدارنګه کولای شو د سیند له لارې پر هغوی غلچکی برید وکړو او هغوی له منځه یوسو.
تیمور ملک ودرېد، بالخاش او ایلی هم لځایه پاسېدل، تیمور ملک په خپلو فکرونو کې ډوب و هغه د یو لوې جنګ په اړه اندېښمن و چې ډېر ژر به پیل شوی وای، د خپلو لږو پوځیانو په اړه یې اندېښنه درلوده. همدارنګه وېره درلوده چې که ماته وخوري نو د خجند خلک به څومره خراب حالت سره مخ شی.

د هغه ټول فکر د خجند د خلکو پر حال و، چې په ډېر ویره او اضطراب کې ورځی او شپی تیرول، هغه د خپلې ګټې او د خپلو پوځیانو د بریا په اړه ډېر خوشاله نه و. هغه د یو لوی او سخت طوفان په اړه فکر کاوه چې په تېزۍ سره د خجند خواته رانږدې کیدی، داسې یو طوفان چې تیمور ملک او د هغه پوځ او ځواک د هغه په وړاندې د مقاومت توان نه درلود،یو څو شېبې چوپتیا خپره شوه، د بالخاش او ایلی سترګی د تیمور ملک په اندېښمن مخ ښخ وه، تیمور ملک په ارامۍ او حساب سره قدم واهه کله چې د هغوی دواړو مخې ته را ورسید نو ودرید او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو ستړی یاست د طوفان د راتلو مخکی ارام وکړی.
بالخاش- دا طوفان ډیر وحشتناک او بی رحمه دی، په مخکی چې هر شې راشی لځان سره یې وړی او برباد کوی، ما او ایلی د دی طوفان پای لیدلی چې څنګه یې د اترار خلک عام قتل کړل.

تیمور ملک- خو که د سلطان استازی خیانت نه وای کړی نو دا طوفان به د اترار د دیوالونو مخکي خاموش شوی وای.
بالخاش- خو اخره کې لوږه او بیچارګی د اترار خلک د پښو اچول او هغوب مجبور کیدل چې ښار دښمن ته تسلیم کړی او دښمن هم رحم نه کوو.
تیمور ملک خپل سر پورته کړو او وی پوښتل: ستا هدف د دی خبرو څخه څه دی؟

بالخاش- زما مطلب هیڅکله دا نه دی چې ښار دښمن ته تسلیم کړی.
تیمور ملک- زه هم بغیر له دی کوم نظر نلرم، ما ښار خلکو ته سپارلی او خپل د خپل سرتیرو سره د مغولانو سره جنګیږم.

ایلی- ښومره به ښ وای چې د مغولانو د راتلو مخکی د سلطان کمکی پوځ راغلی وای.
تیمور ملک- زه ستاسو پشان وفادر ملګرو څخه مننداوی یم تاسو اوس لاړ شی او ارام وکړی.

بالخاش او ایلی تیمور ملک د هغه د فکرونو سره یوازی پریښود او د هغه ځای پخوا چې د دوی لپاره ټاکل شوی و روان شول.

***

تیمور ملک د سیحون سیند په یو ټاپو کې یو کلک کلا جوړه کړی وه او خپل سرتیری هلته وړی وه ترڅو د مغولو په مقابل کې مقاومت وکړی. دا کلا خجند ته نږدی وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ماوراءالنهر کې دیته ورته بله کلک کلا موجود نه وه، د هغه په امر سل کښتۍ هم جوړې شوې وې چې د سیحون سیند په شاوخوا کې یې لنگر اچولی و.تیمور ملک یو هوښیار سړی و چې مخکې له مخکې یې اندېښنه لرله چې ښایي مغولان هغه ته ستونزمن شي نو ځکه ورته تیاری نیولی وه،هغه نه غوښتل چې تسلیم شي هغه پریکړه کړې وه چې که ژوندی پاتې شو نو جگړه به د مغولو سره تر اخری حد ښار په ښار غځوی او د خپل سرتیرو سره به پر دښمن تر هغه حده بریدونه کوی تر څو هغوی ټول ووژني.

هغه د راتلونکو جگړو لپاره پراخ پلانونه درلودل، په اصل کې تیمور ملک پلان درلود که مات هم وخوری نو په چریکی( غلچکی) بڼول جگړه وکړي او دښمن فلج کړي.
هغه یو هوښیار او زړور سړی و.

د هغه شپې په سهار کله چې لمر تازه راختلی و، تیمور ملک بالخاش او ایلی راوغوښتل، بالخاش او ایلی تازه له خوبه راپورته شوي وو.کله چې د تیمور ملک پیغام ورته ورسید نو ژر تیار شول،هغوی فکر کاوه چې د مغولو ځواکونه به د ښار په دېوالونو کې وي خو د تیمور ملک استازي ورته وویل چې دښمن لا نه دی راغلی.
ایلی وویل: زه باېمنه یم چې تیمور ملک ته تازه خبرونه رارسیدلی دي.
بالخاش- شاید، امکان لری.

بیا دواړه د تیمور ملک د استازي پسې روان شول،کله چې له دارالحکومه بهر شول نو بالخاش وپوښتل: تیمور ملک په کوم ځای کې زموږ انتظار کوي؟
د تیمور ملک ځوان استازي ځواب ورکړ: تیمورملک د ښار څخه بهر زموږ په انتظار کیدی.

بالخاش او ایلی یو بل ته وکتل.
بالخاش په کرار وویل: زه فکر کوم چې تیمور ملک غواړي د ښار څخه لرې د مغول

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان د پوځ مقابله وکړی؟

هغوی دواړه د سیحون د سیند خوا ته ورسېدل هلته یې تیمور ملک د څو قوماندانانو سره ولید، تیمور ملک د بالخاش خوا ته مخ کړو او ویې ویل: موږ ټاپو ته ځو هلته یوه قوي کلا جوړه شوې چې مغولانو ته یې ماتول ډېر ستونزمن کار دی.

د دی خبری وروسته ټول په کښتۍ کې کښیناستل او کښتۍ د ټاپو خوا ته روانه شوه د سیحون سیند په منځ کې کله چې اوبه په دوه څانګو جلا کیدی، یو لوړ او کلک کلا جوړه شوی وه چې د دیوالونو په سر یې د خجند جنګیالي ځای پر ځای شوي وو.

کله چې کښتۍ ساحل ته ورسېده ټول ښکته شول او د کلا ته ننوتل، تیمور ملک د بالخاش خوا ته وکتل او ویې ویل: موږ به مغولان د دې کلا د دېوالونو په مخکې ووژنو.

بالخاش چې د دېوالونو لوړوالي او قوي والي ته حیران پاتی و وویل: ما په ماوراءالنهر کې خپل په ټول عمر کې داسې قوي دېوالونه او کلا نه وه لیدلی، دې ته ننوتل ډېر ستونزمن کار دی.
تیمور ملک وخندل او ویې ویل: د دې کلا موقعیت داسې دی چې مغول خان مجبوره دی د نیولو فکر یې له ذهن وباسی.
بالخاش- موږ باید د اترار د خلکو د وینو غچ له مغولو واخلو.

تیمور ملک د کلا شاوخوا دیوالونه او نظامی شیان د نظر تیر کړل او د هغه وروسته خپل د کسانو سره بیرته ښار ته ستون شو، د هغه ورځېپه  ماښام یو سړی چې په تېز اسب سپور و خجند ښار ته راننوت، ساتونکو هغه سړی د تیمور ملک خوا ته ویوړو

تیمور ملک ورخخه وپوښتل: د کوم ځای راغلی یې؟
سړي وویل: د مغولانو د طوفان څخه راتښتېدلی یم، هغوی سمرقند، بخارا او اترار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولي دي او اوس دیخوا را روان دي تر څو خجند ونیسی.
تیمور ملک- اهومم موږ به هم همدلته د هغوی د راتلو انتظار باسو.

بیا یي سرې ته اجازه ورکړل چې لاړ شي د هغه د تلو وروسته یې امر وکړو تر څو ټول قوماندانان د هغه حضور ته راشی، لږ وروسته د پوځ ټول مشرانو د تیمور ملک مخ ته حاضر شول، تیمور ملک هغوی ته د دښمن د نږدې کېدو خبر ورکړ او امر یې وکړ چې د دفاع لپاره چمتو شي.

هوا تیاره شوی وه چې قوماندانانو د ټاپو خوا ته حرکت وکړو، بالخاش او ایلی چې کله دا خبر واورېد نو د تیمور ملک خوا ته ورغلل او له هغه یې وغوښتل چې هغوی ته اجازه ورکړي ترڅو د سرتیرو سره د ټاپو خوا ته لاړ شې، خو تیمور ملک په نرم لهجه هغوی ته وویل: همدا اوس یې وخت دی چې تاسو دواړه خجند پرېږدئ او د جنګ د اور څخه لرې په آرامه ژوند وکړئ،دلته یوازې جګړه او وینه تویېدل دي زه نه غواړم چې تاسو وژل شئ. همدا اوس به امر وکړم چې ستاسو د حرکت وسایل برابر کړی، تاسو باید بیړه وکړئ مخکې له دې چې د مغولو پوځ راشي باید له دې ځایه ډېر لرې تللی اوسیږی.

بالخاش- زه د خجند د امیر هر حکم په سر سترګو منم، خو زه غواړم چې په هغه جګړه کې چې ډېر ژر به پېل شي، د خجند د پوځ له خوا برخه واخلم، او اوږه پر اوږه د هغوی سره د دښمن په مقابل کې وجنګیږم.
ایلی هم وویل: زه غوره ګڼم چې په جګړه کې ووژل شم خو خجند پرېښږدم.

تیمور ملک هڅه وکړه چې هغوی له جګړې منع کړي خو بې نتیجې پاتې شوه، په پای کې د ایلی او بالخاش نظر ومنلو، خو د زړه څخه راضی نه و تیمور ملک په دی پوهیدی چې دوی دواړه د یو بل سره مینه لري او د خپل هېواد لپاره یې لوی،لوی قربانیان ورکړي نو ځکه هڅه یې کول چې دوی دواړه له جګړې لرې وساتي خو بالخاش او ایلی یوازې د خپل وطن دفاع ته فکر کاوه او دا خبره د تیمور ملک لپاره ډېره حیرانوونکې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملک هغه دواړه رخصت کړل او خپله د مغول خان د پوځ د راتګ په تمه شو. هغه د لا امنیت لپاره دوه تېز اس څغلونکي عسکرو ته دنده ورکړل چې دښار څخه بهر شي او کله چې د دښمن پوځ یې ولید نو هغه ته خبر ورکړي، د خجند خلک ډېر ژر پوه شول چې کوم لوی مصیبت راروان دی او په ویره او ډار کې راغلل، تیمور ملک هم یوه ډیره سخته او ناارامه شپه تېره کړه، په هماغه شپه د تیمور ملک په امر د هغه خبریالانو خلکو ته خبر ورکړ چې ډېر ژر به یوه وحشتناکه او وینه بهونکي جګړه پیل شي، تیمور ملک پخپل پیغام کې خلکو ته وویل چې صبر وکړي او آرام پاتې شي.

د غرمی وخت و چې دوه تېز اس څغلونکي عسکر کوم چې د خبر راټولولو لپاره د ښار څخه بهر تللي وو، بېرته راغلل او تیمور ملک ته یې خبر ورکړو چې د مغول خان پوځ یې د ښار څخه لس فرسنګه لرې لیدلي دي، تیمور ملک په دویم پیغام کې چې د خبریالانو له لارې خلکو ته ورسېد، خلکو ته خبر واستاوه چې د خجند ښار به د جګړې ډګر نه وي، د خجند پوځ به د ټاپو په کلا کې له دښمن سره مخ شي او خلک به وکولی شي د خپل ژوند او د ښار د برخلیک په اړه پخپل پریکړه وکړي.

هغه دغه کلا ځکه انتخاب کړې وه چې د ښار خلک په جګړه کې له وژلو خوندي پاتې شي، د تیمور ملک په امر بالخاش، ایلی او نور جګړه ماران راوغوښتل شول، هغوی ټول په تلوار دارالحکومه ته ځانونه راورسول.

تیمور ملک هغوی ته وویل: په راتلونکې جګړه کې هېڅ امید د بریا نشته اوس تاسو ازاد یاست کولای شئ ښار کې پاتې شئ یا له ما سره کلا ته ولاړ شئ او د پوځیانو سره اوږه پر اوږه د مغولانو سره جګړه وکړئ.

هغوی خپل تورې له نیام راوایستلې او پورته یې کړې او په ګډ غږ یې وویل: موږ جګړه کوو! ژوندی دی وی سلطان.
تیمور ملک په ارامۍ سره سر وخوځاوه او کرار یې وویل: او لعنت دی وی په جنګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا روان شو او ملګري يې هم ورپسې ولاړل، خلک ډېر په جوش کې راغلی وه هغوی د تیمور ملک څخه غوښتل چې د ښار څخه دی ونه وځي، خو تیمور ملک د دوی د ژوند خوندي ساتلو لپاره دغه کلا جوړه کړې وه، تیمور ملک څو شیبې ودرېد د خجند خلکو ته يې چې د هغه په حق کې وفادار پاتی وه وکتل او د هغوی د ملاتړ ځواب يې ورکړ او بیا له ښار څخه ووت، د خپل ملګرو سره په کښتۍ کې کښیناست او د ټاپو پخوا روان شو.

ورځ پای ته رسېدلی وه تیمور ملک د ټاپو کلا ته ورسید او د خپلو پوځیانو حالت يې وکت.منجنیقونه او غشي ویشتونکي يې چمتو کړل او نظامی شیان يې برابر کړل.

تیمور ملک خپل د کلا په کلک والي ډېر باور درلود،ځکه پوهېده چې دښمن وسایل نه لري چې د سیحون د سیند څخه راتیر شي او ټاپو ته را ورسیږي. د سهار په تت رڼا کې په برجونو باندې ولاړ ساتونکو وویل چې د مغول خان پوځ خجند ته را نږدې کیږي.

د مغول خان د پوځ قوماندان "اولاغ نویان" چې کله د خجند د پوځ هېڅ مقاومت ونه لید نو حیران شو، هغه احساس وکړ چې ښایي تیمور ملک یو چل کارولی وي نو ځکه سره له دې چې د خجند ښار دروازې خلاصې وې، خپل پوځ ته يې امر وکړو چې ښار ته دننه نه شي.

ورسته يې خبر ترلاسه کړ چې تیمور ملک خپل پوځ د ټاپو په کلا کې ځای پر ځای کړی دی، اولاغ نویان چې د چنګیز خان لخوا مأمور شوی و ترڅو یوازی مقاومت مات کړي خپل پوځ ته يې امر وکړ چې د خجند ښار پریږدی او د ټاپو کلا ونیسي، په دې توګه یوه وحشتناکه جګړه پیل شوه، منجنیقونه د برجونو او دیوالونو د پاسه کار کول شروع کړ، د غشو باران د مغولي پوځ په سر اوریدل پیل کړو، د دښمن کرښې ګډوډې شوې، تیمور ملک یو بل چل هم وکارو هغه د شپې مهال د خپل پوځیانو یوه ډله د څو کښتۍ سره د دښمن کرښو ته واستول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی په غلچکی بریدونو باندی ډېر شمیر مغولان ووژل او بیا بیرته کلا ته راستانه شول.اولاغ نویان فکر کاوه چې په لومړیو ورځو کې به د ټاپو کلا د هغه د پوځ لخوا ونیول شی، خو د څو ورځو د تېریدو باوجود د هغه سرتیری دومره لا بریالی نشول چې حتا د ټاپو په ساحل قدم کیږدی ډېر شمیر پوځ یې یا په سیند کې ډوب شو یا د خجند د سرتیرو په غشیو ووژل شول، اولاغ نویان چې د جګړې د اوږدېدو او د خپل پوځ د درنو تلفات له کبله اندېښمن ښکاریدی، په پای کې د خجند ځوانان مجبور کړل ترڅو لوی، لوی ډبرې راوړي او سیند ته یې وغورځوي.

تیمور ملک له پیل څخه پوهېده چې د زرو سپاهیانو سره نه شي کولای څو زره تنه مغولي پوځ له منځه یوسي، خو بیا هم جګړه یې روانه وساتله، هغه پوهېده چې بالاخره مغولان به دا جګړه وګټي، هغه د مقاومت لپاره ډېر کسانو ته اړتیا درلوده، خو د ټاپو کلا یوازې زر تنه سرتیری ځای پر ځای کولای شول د جګړې له دوو اونیو وروسته له سلو زیات د خجند سرتیری وژل شوي وو.اولاغ نویان په پرله پسې بریدونو هڅه کوله چې د ټاپو ساحل ونیسي، د خجند د سرتیرو د غلچکی بریدونو لاره وتړي او کښتۍ یې ډوبې کړي.

د جګړې په درېیمه اونۍ تیمور ملک احساس وکړ چې بالاخره دښمن ټاپو ته د راننوتلو په حال کیدی، او کله چې هغوی راشی نو د ده په ډېر زحمت جوړې شوی کښتۍ به د هغوی لاسونو ته ورشی او د تېښتې لار به وتړي. نو څکه شپه مهال کله چې جګړه لږه کمه شوه هغه خپل قوماندانان راوغوښتل او ویې ویل: زموږ جګړه د دښمن په زړه کی وېره اچولی ده، خو باید ومنو چې له دې لږو کسانو سره نه شو کولای هغوی دایمي له دې ځایه وشړو.موږ له داسې سخت دښمن سره مخ یو چې ډېر ژر به ټاپو ته راننوزي او بیا به زموږ د تښتېدو لار وتړل شی.

موږ د درېیو اونیو جګړې سره دا ثابته کړه چې یو زړور او د خپل سر څخه تیر ملت یو. خو اوس وخت رارسېدلی چې له جزیرې ووځو او د غلچکی جګړو له لارې دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته درنې ضربې ورکړو.
یو قوماندان په پیاوړي غږ وویل: موږ ټول ستا اطاعت کوو.

تیمور ملک خپل د ټول قوماندانانو مخونو ته په ځیر،ځیر وکتل او بیا یې وویل: ما پرېکړه کړې چې همدا نن شپه له دې ټاپو ووځو، که څوک مخالفت لري راته دې ووایي چې څه کار وکړو؟ او ایا کوم بل پلان لرئ او کنه؟

خو هېچا څه ونه ویل چوپتیا خپره شوه.
تیمور ملک وویل: ستاسو د چوپتیا څخه ښکاری چې زما په جوړ کړی پلان موافق یاست؟! اوس پاتې وسایل په کښتیو کې واچوئ خو ډېر احتیاط باید وکړئ دښمن باید زموږ له وتلو خبر نه شي.

ټول په حرکت راغلل او هغه څه چې پاتې وه کښتیو ته انتقال کړل، تیمور ملک خپله د سیند پر غاړه ولاړ و کله چې ټول کښتۍ ته وختل، نو دی هم د لومړۍ کښتۍ خواته ولاړ او د روانېدو امر یې ورکړ.

کښتۍ د سیحون د سختو او چټکو اوبو پر سر روانې وې او پاتې شوي سرتیری یې د مغولو له محاصرې راویستل تیمور ملک د لومړۍ کښتۍ په منځ کې ناست و.
بالخاش او ایلی هم د هغه ترڅنګ ول کله چې د دښمن له محاصری څخه لرې شول تیمور ملک یو ژوره ساه واخیست او هغوی ته یې وویل: جګړه لا ختمه نه ده موږ به دوام ورکوو.
بالخاش- که موږ پنځه زره سرتېري درلودای نو د سیند پر غاړه به له کښتیو څخه تا شوی وای او د شالخوا به مو پر مغولو برید کړی وای.

تیمور ملک ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: همدا زما پلان و خو افسوس چې باید د جګړې میدان پرېږدو
یو قوماندان وویل: که موږ په ښار کې پاتې شوای نو کولی مو شول مغول د دې پلان سره حیران کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملک- ما مغول د ټاپو د کلا خواته راکش کړل ځکه چې غوښتل مې ښار او خلک یې وژغورم، هغوی بې‌ګناه او بې‌دفاع خلک دي نه مې غوښتل د ماشومانو او بوډاګانو د چیغو آواز واورم.

ایلی د احساساتو څخه په ډک لهجه وویل: خو ما او بالخاش د اترار د ماشومانو او خلکو چیغې اورېدلې چې مغولو هغوی وژل، تر اوسه هم د هغوی غږونه زما په غوږو کې انګازې کوي.
تیمور ملک- د همدې لپاره ما د خجند خلک وژغورل.
بالخاش- مغول انتقام اخیستونکی خلک دي ډېر ژر به بیا له هغوی سره مخ شو، کله چې هغوی پوه شي موږ تښتېدلي یو نو زموږ لاره به تعقیب کړي.
تیمور ملک لنډ وخندل او ویې ویل: زه هم همدا غواړم.

ایلی وپوښتل: زموږ مقصد کوم ځای دی؟
تیمور ملک لږ فکر وکړ او بیا یې وویل: بناکت ته ځو.
بالخاش حیران شو او ویې ویل: بناکت؟ خو هغه ځای خو د مغولو تر ولکې لاندې دی.
تیمور ملک موسک شو او ورو یې وویل: زما پلان دا نه دی چې بناکت د مغولو څخه ونیسو، زموږ حالت بدل دی موږ به وجنګېږو او پټ به شو غلچکی بریدونه کو او هڅه به کوو چې د مغولو کسان جګړې ته راکش کړو او ویې وژنو په دی ډول به موږ مغولو ته نه جبرانېدونکې ضربې ورکړو، خو هغوی باید هېڅکله زموږ پټن‌ځای پیدا نه کړي، موږ به هېڅکله تر یوه ورځ ډېر په یوه ځای کې پاتې نه شو.

بالخاش غوښتل څه ووایي خو پام یې شو چې ایلي خپل سر د ده پر اوږه ایښی او ویده شوې ده، تیمور ملک چې سترګې یې د ایلي پر ارام مخ خښې کړې وې، ورو یې وویل: دا یوه زړوره او بې‌سارې نجلۍ ده.
بالخاش- هغې درې ځل زما ژوند د حتمي مرګ څخه ژغورلي دی.
تیمور ملک- نو ته ورته خپل ژوند پوروړی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- هو، ښاغلی! او همدا وجه ده چې زه ورته ډېر احترام لرم.
تیمور ملک په یو خاص ډول وخندل او ویې ویل: خو زما په اند ته پرې سخت مین شوی یې.

بالخاش غلی شو تیمور ملک خپل لاس د هغه پر اوږه کېښود او ویې ویل: اوس موږ سره دوستان یو هر څه چې دي راته ووایه، زه باور لرم چې ایلي هم ستا سره مینه لری، ته به پخپله هم پوه شوې یې چې دا نه غواړي له تا بېله شي.
بالخاش یو اوږد ساه واخیست او ویې ویل: شاید همداسې وي... خو زه...
خبره یې نیمګړې پرېښوده..
تیمور ملک د هغه خبره ورپوره کړل او ویې ویل: خو ته د خان سلطان په لټه کې یې، او په دې ګډوډ حالت کې ته پخپله هم نه پوهېږې چې هغه چیرې پیدا کړې.

بالخاش- هو، نه پوهېږم خو غایرخان د ژوند په وروستیو ورځو کې راته وویل چې هغه یې ترکان خاتون ته استولې ده.
تیمور ملک- او دا هم نه ده معلومه چې ترکان خاتون د مغولو د حملې له اوربېدو وروسته چیرې تښتېدلې ده؟!
بالخاش- زه پخپله هم نه پوهېږم، لا مې پرېکړه نه ده کړې.
تیمور ملک- خان سلطان لا تر اوسه ستا مېرمن شوې نه وه، چې د پلار له کوره یې ویستله او د غایر خان حرمسرای ته یې ویوړل.

خو ایلي دا زړوره او ښکلې نجلۍ، لکه څنګه چې تا خپل وویل ته یې درې ځل د مرګ له خولې ژغورلی یې او څو میاشتې کیږي چې تا او هغې یوځای ډېر سخت حالتونه،پېښې او خطرونه یو دبل سره تېرې کړې دي، زه باور لرم چې ایلي به اوس ستا په زړه کې د خان سلطان ځای نیولی وي، زه به پخپله ستاسو د واده بندوبست وکړم.
بالخاش- باید انتظار وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملک پوښتنه وکړه: انتظار؟ انتظار وکړو چې څه وشي؟
بالخاش- شاید زه وکولای شم خان سلطان پیدا کړم.

تیمور ملک- خو هغه وخت به ته د ایلي پشان ښکلې او وفاداره نجلۍ له لاسه ورکړې، آیا دې خبرې ته دی سوچ کړی دی؟
بالخاش- خپله ایلي ما ته څو ځله دا خبره کړې ده چې زما سره مرسته کوي تر څو خان سلطان پیدا کړم.
تیمور ملک- فرض کړه چې تا خان سلطان پیدا کړل او هغه په داسې حالت کې وي لکه څنگه چې د غایرخان په حرمسرای کې وه نو ته به څه وکړې؟ بیا به توره راواخلی او ځان به په خطر کې واچوې؟
بالخاش ورو وویل: ما تر اوسه د ایلي او خان سلطان موضوع حل کړی نه ده، نه پوهیږم څه وکړم؟

تیمور ملک- ایلي خپل د ښځې په توگه ومنه هغه وخت به دا موضوع په ډیره اسانه حل شي.

بالخاش چې ولیدل تیمور ملک ډیر ټینگار کوي نو ویې ویل: د دې خبرې سره چې ایلي زما میرمن شي زه هیڅ مشکل او شک نه لرم، خو اوس د جگړې په منځ کې یو تر هر څه وړاندې باید د دښمن او د هغه د حملو په اړه فکر وکړو.
تیمور ملک احساس کړه چې بالخاش نه غواړي د ایلي او د واده په اړه بحث وشي، نو خاموش شو د څو شیبو چوپتیا وروسته یې وویل: موږ به خپل جنگ د دښمن پر ضد دوام ورکړو، خو دا جنگ بې‌پایلې ښکاري یوازې د څو تنو دښمن عسکرو پر وژل نه موږ بریا ته نږدې کیږو او نه دښمن ته د ماتې احساس کیږی له کله چې اترار سقوط کړی مغول خان دا ډاډ ترلاسه کړی چې هغه به د ماوراءالنهر ټول هیواد ونیسي.

بالخاش په پیاوړي غږ سره وویل: موږ به د غلچکی او پټ بریدونو له لارې هڅه وکړو چې دښمن بې وسه او عاجز کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملک- دا یو ښه پلان دی، خو ته وینې چې د دې پلان د عملي کولو لپاره موږ کافي کسان نه‌لرو اړ د تښتیدلو کسانو راټولول ډېر سخت کار دی مغولانو دومره وېره او وحشت خپور کړی چې نور هېڅوک نه غواړي توره واخلي او د دوی مقابله وکړي د داسې کسانو پیدا کول چې زموږ له عقیدې سره موافق وي، اسان کار نه ښکاري او موږ به هم د څو جګړو وروسته خپل کسان له لاسه ورکړو او کېدای شي موږ پخپله هم ووژل شو.

یوه شېبه چوپ شو، بیا یې وویل: له همدې امله زه له تا او ایلي دواړو غواړم چې نور د دښمن سره مخامخ کېدو فکر پرېږدئ. تاسې فارس ته لاړ شئ هلته د یو ارامه ژوند د پیل لپاره مناسب او خوندي ځای دی، لرې له جنګ او دښمنۍ،ستا دا هڅه چې خان سلطان پیدا کړې بې‌فایده ده.
بالخاش په آرام غږ وویل: قربان! زه او ایلي دواړه د خپلو ځانو قرباني کولو ته چمتو یو مه غواړه چې موږ له جګړې لاس واخلو زما لپاره په جنګ کې وژل کېدل له دې ډېر خوښ دی چې زه په فارس کې ارام ژوند وکړم.

تیمور ملک لږه شېبه فکر وکړ، بیا یې وویل: افسوس چې زه نور د خجند امیر نه یم، چې تاته د یو زړور او وفادار عسکر منصب درکړم ته وینې چې ټول له دښمن څخه په تښتې یو زه اوس لکه ته او نور سرتیرو پشان یوازې یو ساده عسکر یم او یوازینی آرمان مې دا دی چې خپل د وطن لپاره ووژل شم او دا به زما لپاره لوی ویاړ وی.

یو قوماندان چې د تیمور ملک ترڅنګ ناست و، وویل: تاسو لا هم زموږ لپاره د خجند امیر یاست او هر امر چې وکړئ موږ به یې په سر سترګو ومنو.
تیمور ملک خپل لاس د هغه پر اوږه کېښود په نرمه توګه یې فشار ورکړ او چوپ پاتې شو...

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کښتۍ چې د تیمور ملک تر مشرۍ لاندې وه او پاتې سرتېري پکې وو، د "بناکت" پر لور رواني وې څو هلته پر دښمن غلچکی بریدونه وکړی او تاوان ورته ورسوي، دا ټول هغه قرباني ته چمتو خلک وو چې له مرګه نه وېرېدل بلکې مرګ ته به یې په خلاصو لاسونو هرکلی ویل، دغه جنګیالیو د لارې د خنډونو سره جګړه وکړه او کله چې سحر شو له کښتیو راکښته شول او د بناکت ښار نه بهر د دښمن پر یوه کوچني کمپ یې برید وکړ، یوه سخته او وېرونکې جګړه پیل شوه.

مغولان چې ناڅاپي برید ورباندی شوی و تر دې چې ځانونه راټول کړي ډېرو کسانو ته یې مرګ ژوبله واوښته پاتې شوي مغولان تېښتې ته مجبور شول څو دا خبر خپل قومندان ته ورسوي چې د ښار دننه مېشت و. د تیمور ملک له سرتېرو څخه یوازې لږ کسان شهیدان شول.د هغه په امر د مغولو د پوځ پاتې وسایل یې د اسونو سره وتړل او بېرته د خجند او بارجلیغ خوا ته وخوځېدل، هغوی اوس داسې کسان ول چې نور د منظم پوځ غړي نه ول، بلکې د چریکي یا ګوریلایي جنګیالیو په بڼه، هر هغه ځای ته به تلل چې مغولو نیولی و بیا به یې ناڅاپه بریدونه کول او دښمن ته به یې د جګړې چانس نه ورکاوه.

یوه برخه مغولان به یې وژل، خېمې به یې سوځولې او خپله به ورکېدل، په خُجند کې مغولو د تیمور ملک او د هغه د ملګرو پلونه وموندل او تعقیب یې پیل کړ.تیمور ملک او سرتېري یې له اصلي لارې ځانونه واړول او د "دارجلیغ" خوا ته یې د بی‌راهې له لارې حرکت وکړ، خو مغولان لا هم پسې ول. د خجند جنګیالیو هڅه کوله چې د جګړې او تېښتې له لارې د دښمن حوصله ماته کړي، خو په هره نښته کې به د تیمور ملک ځیني کسان وژل کېدل. مغولان چې پر دې کوچني مقاومت کوونکي ډېلی عجیب کینه او غوسه راغلي وه هېڅکله له تعقیب څخه نه ستړې کېدل.

تیمور ملک نه یوازې دا چې خپل سرتېري یو په بل پسې له لاسه ورکول بلکې خپل د کوچني پوځ سامان او مهمات هم ورځخه پاتي کیدل، تر هغه ځایه ورسېدل چې یوازې درې کسان له هغه سره پاتې وو، ایلي، بالخاش، او د تیمور ملک یو وفادار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکی.هغوی د غرونو لار غوره کړه، او مغولان چې شمېر یې هم لږ شوی و لا هم د دوي پسې ول،په لاره کې یوې داسې تنګې درې ته ورسېدل چې دواړه خواوې یې د لویو ډبرو لهخوا نیول شوې وو، دا داسې تنګه لار وه چې یوازې یو آس به ډېر په زحمت پرې تېرېده.

تیمور ملک د ایلي او بالخاش خوا ته وکتل او ویې ویل: زه تاسې دواړو ته امر درکوم چې له موږ جدا شئ، بېځایه ځان مه وژنئ!
بالخاش او ایلي یو بل ته وکتل.
بالخاش وویل: موږ څنګه کولای شو خپل قومندان په داسې سخت وخت کې یوازې پرېږدو؟!

تیمور ملک په قهر وویل:
که زه قومندان یم نو ته باید زما امر ومنئ،مغولان نږدې شوي دي او زه نه غواړم تاسې دواړه ووژل شئ. ژر لاړ شئ، شهرستان ته ورشئ سلطان هلته دی که زه ژوندي پاتې شم نو هلته به د سلطان خدمت ته ورشم.
ایلي په کراره بالخاش ته وویل: موږ باید د تیمور ملک امر ومنو.
بالخاش لږ تم شو بیا یې تیمور ملک ته وکتل او ویې ویل: سلام دې وي پر تا ای د ماوراءالنهر اتل!

تیمور ملک هم په ځیر د هغه خوا ته وکتل او ویې ویل: ته یو بېساري او زړور سرتېری یې، زه ایلي تا ته سپارم پام ورباندی کوه.

بالخاش روان شو ایلي هم ورپسې روانه شوه لاره ډېره سخت او ناهمواره وه.

کله چې دواړه د تیمور ملک له نظره پناه شول نو تیمور ملک له اس ښکته شو او د یوې سترې ډبرې شاته یې کمین ونیو، د هغه وفادار ساتونکي هم د لارې بلې خوا ته پناه ونیول مغولان چې شمېر یې کم و د درې د سر نه راپورته کېدل.تیمور ملک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې څخه يو غشی تيار په ښې نيولی و او لومړي مغولي سرتېري راتګ ته په تمه و، څو په ښه يې کړي.

مغولان پنځه تنه وو تيمور ملک د هغوی درې تنه په لومړۍ ښه کې پرلپسې وويشتل هغه دوه نور مغولانو د تېښتې لاره نه لرله، د تيمور ملک ساتونکي له خپل ځای څخه راووت او په پاتې مغولانو يې حمله وکړه، خو مغولانو هغه وواهه په هماغه شېبه کې يو غشی راغی او د هغه مغولی په سينه کې ولګېد، تيمور ملک سمدستي څلورم مغولی هم وواژه او وروستي مغولی سرتيری ته يې وويل: ستا لپاره غوره دا ده چې بېرته وګرځې، ستا وژل زما لپاره اسانه ده، خو زه غواړم چې ته مغول خان  ته دا خبره ورسوی چې د هغه څو تنه سرتېري څنګه وژل شوي دي.

مغولي سرتېری چې له ويرې يې خبرې نشو کولای له اسه ښکته شو په سختۍ يې د اس مخ واړاوه او بې‌له دې چې څه ووايي شاته روان شو تر څو هغه څه چې پخپله ليدلي وو،خپل قوماندان ته ورسوي.کله چې تيمور ملک ځان يوازې وليد نو شاوخوا يې وکتل محافظ يې د يوې سترې ډبرې تر څنګ په وينه کې ډوب پروت و. تيمور ملک پر خپل اس سپور شو او په هماغه سخته ناهمواره غرني لار کې روان شو پر کوم چې بالخاش او ايلي تللي وو.

کله چې له غرونو راکښته شو نو بله لاره يې ونيوله هغه هم د "شهرستان" په لور روان و تر څو د سلطان محمد خدمت ته ورشي.

***

سلطان محمد ډېر وارخطا و،هغه حس کاوه چې د واکمنۍ وروستۍ شېبې يې را رسېدلې دي.د مغولو د پوځونو فتوحاتو او د خوارزم پر خاوره د هغوی پرلپسې يرغلونو هغه سخت انديښمن کړی و.مغولي بريدونو د سلطان په روحيه ډېر بد اغېز کړی و، تر ټولو زيات هغه د خپل ځان د ژوندي پاتې کېدو وېره لرله او نشو کولای په .يوه ځای کې ډېر وخت پاتې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ له "شهرستانه" څخه "نیشاپور" ته ولاړ، هلته یې هم توقف ونه کړ او بېرته "بسطام" ته ولاړ بیا له هغه ځایه "ری" ته روان شو.

په همدې وخت کې د چنګېز خان دوه پوځونه د سوباتای او چپه نویان په مشري د سلطان محمد تعقیب کاوه، بالخاش او ایلي د سلطان له ملګرو څخه وو، خو تیمور ملک په بسطام کې له سلطان سره خدای پاماني وکړه او د فرغانې په لور روان شو.

سلطان محمد له یو ښار څخه بل ښار ته په تښته وو او د خپل پوځ د مشرانو هغه وړاندیزونه یې نه منل کوم چې هغوی ویل باید سلطان خپل پوځ یوځای راټول کړي او د مغولو پر ضد جګړه وکړي، سلطان د یو عجیب وېرې او رعب لاندې راغلی و داسې چې یوازې خپل ځان یې ژغورې او تښتیدې د مقابلي کوم توان یې نه درلود.

د "ری" ښار څخه سلطان همدان ته وتښتېد، هلته یې واورېدل چې مغولو"ری" نیولی او خلک یې ټول قتل عام کړي دي.بل هېڅ ځواک نه و پاتې چې د مغولو د وحشتناکه یرغلونو مخې ته ودرېږي.کله چې مغولو جاسوسانو خبر تر لاسه کړ چې سلطان محمد له همدانه ګیلان ته روان دی، دا خبر یې د چټک قاصدانو په وسیله سوباتای او چپه نویان ته ورساوه، هغه دوه مغولي قوماندانان چې د مغولو د لویو پوځونو مشري یې کوله او په دوه مخالف اړخونو روان وه.

سوباتای ته چې کله دا خبر ورسید هغه په "ری" کې و چپه نویان هم ځان "ری" ته راورسوه او دواړو په ګډه یو لوی پوځ واخېست او د همدان په لور وخوځېدل. د ملایر په شاوخوا کې سخت جنګ ونښته له نیمایي څخه زیات د سلطان محمد سرتېري ووژل شول سلطان محمد ډېر په زحمت وکولی شول چې ځان ژوندي وژغوري.

هغه له یو څو ملګرو سره د قارون کلا ته وتښتېد او تر هغه مخکې چې مغولان هلته ورسېږي بېرته د سرچاهان کلا ته په ګیلان کې ولاړ.سوباتای او چپه نویان د سلطان له پل پیدا کولو عاجز شول ډېر وخت یې پسې وکتل خو کله چې نا امیده شول نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمې لارې بېرته راوګرځېدل او د هغه تعقیب یې پرېخود.بالخاش او ایلي چې ځانونه یې د سلطان فداییان بلل همدارنګه د هغه پسې روان ول،ایلي د نارینه‌وو کالي اغوستي وو تر څو څوک یې ونه پېژني،د سلطان دا پرله‌پسې تېښته له یو ښار څخه بل ته او د بل څخه بل ته دا ښکاره کوله چې سلطان څومره وارخطا او بې‌ثباته شوی و ...

حالت ډېر ګډوډ او خراب و او بالخاش ته هېڅ فرصت نه و چې د خان سلطان په اړه فکر وکړي. په دې خطرناکه وخت کې، چې مغولانو د سلطان محمد چاپېریال تېنګ کړی و، بالخاش خپل ټول پام د سلطان د ساتنی لپاره لګولی وو، د سرچاهان په کلا کې بالخاش او ایلي د سلطان پام ځانته راواړاوه، سلطان هغوی دواړه خپل حضور وروبلل او د هغوی د حال پوښتنه یې وکړل.

بالخاش د اترار ښار د سقوط کیسه بیا وکړه، خو د هغه ورځې چې د مغولو منځ ته تللی و هېڅ خبره یې ونه کړه حتی د خان سلطان په اړه یې هم څه ونه ویل پر ځای یې خبرې د خجند او تیمور ملک خوا ته واړول
سلطان چې د تیمور ملک نوم واورېده په ارامه توګه یې سر وخوځاوه او ویې ویل: تیمور ملک یو زړور سړی و ..

بالخاش ځان ته اجازه ورکړه چې ووایي: تیمور ملک اوس هم یو زړور سړی دی.
سلطان په داسې غږ سره چې غمژن ښکاریدی ویې ویل: تیمور ملک نور ژوندی نه دی چې زړور یې وګڼو، هغه د مغولو له خوا وژل شوی دی.

بالخاش او ایلي چې دا خبر واورېد نو سخت خفه شول، سلطان هغوی رخصت کړل.
د سلطان د حضور څخه د راتلو وروسته ایلي په تنهایي کې ژړل خو بالخاش په چوپتیا او غم کې ډوب و.

سلطان محمد چې د سرچاهان کلا د پاتې کېدو لپاره مناسب ځای نه ګڼله، د مازندران په لور د وتلو پریکړه وکړه، د مازندران ټول امیران د هغه مخې ته ورغلل خو «رکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

الدوله کبود جامه» چې یواځې ځان د مغولو سره سودا کړی وه پریکړه وکړه چې خپل د کاکا او د کاکا د زوی کوم چې د سلطان محمد په حکم وژل شوي وو انتقام واخلي. همدغه رکن الدوله و چې د سلطان مازندران ته د راتګ خبر یې مغولو ته ورکړ.

کله چې سوباتای ته خبر ورسید سلطان مازندران ته تللې نو خپل پوځیان یې راټول کړل او هغه خوا روان شو، سلطان محمد چې د مغولو د بې رحمۍ کیسې یې اوریدلې وې،پریکړه وکړه چې د جګړې څخه ځان وژغوري او د آبسکون په ټاپو کې پناه واخلي.سلطان خپلو ساتونکو ته وویل چې هغوی کولای شي د سلطان څخه جلا شی او پخپل لارې لاړ شي ځکه سلطان نور د هغوی مرستی ته اړتیا نه لری، ډېر کسان له سلطان څخه جلا شول، خو بالخاش او ایلي چې ژمنه کړې وه تر هغه وخته پورې چې سلطان ژوندی وي ورسره پاتې شي نو ورسره په کښتۍ کې کښیناستل او روان شول، د سلطان محمد د حرمسرا ښځې په بله کښتۍ کې کښیناستل او د هغه په تعقیب روان شول.

کله چې د سوباتای ځواکونه د رکن الدوله په لارښوونې لاندې ساحل ته ورسېدل نو هغه وخت د سلطان کښتۍ او د حرمسرا د ښځو کښتۍ د ساحل څخه لری شوی وه نو دوي وربانده غشی ویشتل پیل کړل، د مغولانو یو غشي د حرمسرای د یو ښځې په سینه کې ننوت او هغه بې تعادله شوه او سمندر ته ولوېدله.

بالخاش په تلوار ځان سمندر ته وغورځاوه تر څو هغه ښځه وژغوري، هغه په تلوار لامبو وواهله د هغې خوا ته ورغی، هغه یې په غیږ کې ونیول او د ښځو کښتۍ ته یې راوړله په کښتۍ کې یې د ښځې د سینې څخه غشۍ وویست چې په همدی وخت کې په کښتۍ کې ناست یوی ښځې د دی ټپي ښځې د مخ څخه نقاب لری کړو بالخاش د هغه ښځې پریدلی رنګ ته په کتو حیران پاتې شو هغه خان سلطان و چې د ژوند وروستي شپې تېرولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د غم او ژړا په انداز د هغې نوم پرلپسي واخيست بيا هملته يې زنګون وواهه او سر يې د هغې پر سيني کېښود او په زوره،زوره يې وژړل، ټول هغه کسان چې د دې صحنی شاهدان وه حيران شول، ځکه هغوی پوه نه شول چې ولی يو زړور جنګيالي داسي په يو ناشنا ښځې پسی ژاړی؟ خان سلطان لږ څه سترګې خلاصي کړې او بالخاش يې وپېژند، هغې خپل لاس کرار،کرار د بالخاش پر اوږه کېښود او يوازی دومره يې وکولاې شول چې د بالخاش نوم زمزمه کړی او بيا يې لاس د هغه د اوږی څخه لاندی وغورځيد هغه مړه شوی وه.

د کښتۍ ښځو بالخاش په ډېر سختی سره د خان سلطان د څنګ څخه لری کړو او د هغې په مخ يې نقاب واچو او بيا يې بالخاش ته دلداری ورکړل، خو بالخاش لا هم نظر د خان سلطان په مړی و او همغسي په زور،زوره يې ژړل، کله چې هغوی د ټاپو ساحل ته ورسېدل ايلي په تلوار سره د بالخاش خوا ته ورغله کله چې د هغه سترګي سری وليدل نو په حيرانتيا يې وپوښتل چې ولې د هغه په سترګو کې اوښکې راغلي دي؟

بالخاش په داسي حال کې چې نظر يې د يو نامعلوم نقطي پخوا و وويل: هغه وه، خو اوس ژوندی نه ده.
ايلي پوهه شوه چې د بالخاش مطلب د هغه وه څخه څوک وه! ايلي د بالخاش په داسي خواشينې ليدو سخت خفه شوه او هغه ته يې دلداری ورکړل.

څو ورځي وروسته کله چې دوی د ټاپو څخه بيرته راستنيدل، نور د هغوی په مخونو کې د غم کومه نښه نه وه پاتي، اوس په داسي حال کې چې هغوي يو دبل لاس په لاس کې نيولې و د فارس د يو کوچني ښار پخوا روان وه ترڅو د يو ارام او خوشحال ژوند پيل وکړی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناول پای لیکوال امیر عشیری.

ژباړن خواجه زي.

زموږ د داسي نور ښایسته ناولون،کیسو او کتابونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل یا هم د لیکوال د فسبوک ایډی ته راشي.

دا هم د خواجه زي صیب د فسبوک ایډی:

https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014

یا هم کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صاحب. نو ایډی به تاسو ته راشې.

دا هم زموږ د ټلګرام چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0

دا هم د مدیر ایډی: @shuhab09

او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غړیز ناولونه نشر کو..

چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

د لیکوال خو خبری:

اول خو تاسو ټولو ښخه نرۍ،نرۍ مننه کوم چې زما لیکل شوی او ژباړل شوی ناولونه وایست او ما تشویق کوی او بیا ستاسو ملګرو ښخه مې یو کوچني درخواست درلود زما زیاتر ناولونه نور کسان زما د اجازی بغیر په مجازی فضا کی نشر کوی او بیحد زیات هم فالور لری خو زه چې زحمت باسم او ناول لیکم یا ژباړم باور به ونکړی زما فالور د څلور زرو ښخه زیات نه دی په فسبوک کې خو بیخی زر نفر لا نه دی،یعني کله ناکله چې ګورم زحمت زه باسم او نور کسان په مفت خپل چینلونه مخکی وړی نو څه ناڅه نامید کیږم خو نن مې اراده وکړل چې دا لیکنه ولیکم ترڅو هغه کسان چې د ربښتیا هم زما د قلم او ناول مینوال دی زما ښخه یو مشخص آدرس ولری او هلته راشی او زما د لیکنو په اړه نظر ووایي بیا هم نرۍ مننه ستاسو ټولو ښخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

#خواجه_زی



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**